# افغانان او نړیوال اشغالګر

**چنګیز ـ تیمور لنګ ـ انګریز ـ شوروي ـ امریـــکااوناتو**

**( ۱۲۰۶مـــ ۲۰۲۱م) = (۵۸۵هـ شـــ ۱۴۰۰هـ ش)**




**مؤلف: نجیب الله عابد دننګرهار پوهنتون مرکزي کتابخانې عمومي مدیر**

**۵ / ۱۱ / ۱۳۹۷ هـ ش ـــ ۱۴۰۲/۱/۷ هـ ش**

# افغانان او نړیوال اشغالګر

**چنګیز ـ تیمور لنګ ـ انګریز ـ شوروي ـ امریـــکا او ناتو**

**( ۱۲۰۶م = ۵۸۵ هـ ش ) ـــ (۲۰۲۱م = ۱۴۰۰ هـ ش)**




**مؤلف : نجیب الله عابد دننګرهار پوهنتون مرکزي کتابخانې عمومي مدیر**

**۵ / ۱۱ / ۱۳۹۷ هـ ش ـ ۱۴۰۲/۱/۷ هـ ش**

# فهرست


| صفحه | عنوان |
| --- | --- |
| | دمؤلف سریزه |
| | اول فصل : افغانستان ـ هخامنشیان ـ سکندر مقدونې ـ موریان |
| | ایوتیدم یوناني پاچا ـ دفارس ساسانیان ـ سلطان محمود غزنوي |
| | دوهم فصل : په افغانستان دچنګیز حملې ـ دمیلونونو انسانانو قاتل |
| | په ماوراء النهر حمله ـ په تالقانو یاتخار حمله ـ ګرزیوان قلعه حمله |
| | دبامیانو ـ دبادغیس (قلعه نریمان) ـ فیواړ ـ(اشیار)قلعه حمله |
| | ولایت غور دتولک قلعه ـ سیفرود قلعه ـ او فیروزکوه ښار حمله |
| | په مرو ـ نیشاپور ـ هرات ـ په سیستان ـ پروان حمله |
| | دریم فصل : په افغانستان د (ګوډتیمور) حملې |
| | په خوارزم ـ قبچاق ـ کاشغر ـ ایران ـ شام ـ اسیایي صغیر حمله |
| | دعثماني خلافت له منځه وړلو ـ او په هندوستان حمله |
| | تیمور ګورګاني او دافغانستان مجاهد ملت ـ او دتیمور مرګ |
| | شاه رخ خان ـ مرویس نیکه ـ نادر افشار ـ احمدشاه بابا |
| | تیمورشاه ـ زمان شاه ـ شامحمود خان ـ امیر دوست محمد خان |
| | څلورم فصل : انګریزان ـ ( ایست انډیا ) کمپنی |
| | انګریز او مظلوم افغانان ـ دشاه شجاع سره دانګریزانو تړون |
| | دانګریز لمړې جګړه ـ هیواد کې پاڅونونه |
| | دانګریز دوهم جنګ ـ قندهار جبهه ـ دخیبر جبهه ـ دکورمې جبهه |
| | دګندمک تړون ـ دکابل پاڅون ـ دانګریزانو تازه حملې |
| | عمومي قیام ـ دمیوند غزوه ـ امیر عبدالرحمن خان |
| | امیر حبیب الله خان ـ امیر امان الله خان |
| | دانګریز سره دریمه جګړه ـ دامان الله خان ترقي او اصلاحات |
| | پارونکي کارونه ـ د پغمان جرګه ـ چادري او لنګوټه |
| | اروپایي جامه ـ د پاچا پرضد پاڅون ـ پردی الوتکي او جنګي قوه |
| | د جګړې زور او تلفات ـ وروستی تبصره |
| | محمد نادرخان ـ محمد ظاهرشاه |
| | پنځم فصل : دشورویانو ظالمانه یرغل ـ د سپی او ګرم شلغم قصه |
| | دافغانستان کمونستي نظام ـ کمونستان څوک دي |
| | دکمونستانو اهداف ـ د خصوصي ملکیتونو له منځه وړل |
| | د اجورې یا مزد له منځه تلل ـ ماتریالیزم(ماده پرستي ) |
| | دپورته دریم کمونستي اصل په ځواب کې ـ د ثابتو اخلاقو نه شتون |
| | د کمونیزم سیاست ـ دداروین نظریې |
| | د کمونستي نظامونو اختلافات ـ مارکسیزم ـ مائویزم |
| | سازمان رهایی افغانستان ـ سازمان ازادي بخش افغانستان |

# فهرست


| صفحه | عنوان |
| --- | --- |
| | د کمونستي جريانونو لنډ تاريخ ــ خلق او پرچم ــ ستم ملي |
| | د خلق او پرچم د ډلو فعاليتونه ــ دکمونستانو بنډلي فرمانونه |
| | مساوات ــ دمهر ټاکل ــ دلمونځ کونکو زنداني کول ــ |
| | دکنړ کراله ــ دخــاد جنايتکاره شبــکه ــ |
| | د خاد تفاوت داګسا او کام سره ــ قتل عامونه |
| | دافغانستان اسلامي نهضت يامجاهدين ــ دکمونستانو خلاف دجهاد |
| | دهرات ملي او جهادي پاځون ــ دکابل ولس جهادي پاځون |
| | دننګرهار حصارک غلجايي ، شيرزادو او خوګيانيو پاځون |
| | هجرت او مهاجرين ــ د يرغل موخې او لاملونه |
| | د خلق ګوند خپلمنځي ژور اختلافات |
| | پر حفيظ الله امين بې اعتمادي ــ بې تجربې دولتداري |
| | د مجاهدينو پر له پسې بريالیتوبونه ــ ايډيالوژيک تصور |
| | شوروپانو د اسلام نه ويره ــ لويديز لاس |
| | نړيوال غبرګون ــ د شوروي دننه غبرګون |
| | اسلامي حرکت ــ دشوروپانو ظلمونه ــ |
| | شوروي فوجيانو ته اوښتي تلفات |
| | د خلقي–پرچمي مشر تابه سپکه سټه ــ د ژنيو تړون |
| | شرمېدلې ماته |
| | دجدي شپــږمــه ۱۳۵۸ هــ ش کال ــ دشوروپانو تير وتنه |
| | دافغانستان اوه (۷) اسلامي تنظيمونه |
| | ديو وروسي پيلوټ قصه |
| | له کمونستانو سره د جهادي تنظيمونو د ائتلافونو جنايت |
| | د کمونيزم اوسنی حالت |
| | په جنګ کې کاره شوي ټانکونه او وسايط څه شول ؟ |
| | دمجاهدينو اختلافات ، انحرافات او ذوال |
| | شپږم فصل : دامريــکا او ناتــو يرغل |
| | امريکا ــ دناتوسازمان ــ حمله |
| | دسپتمبر يولسمه ۲۰۰۱م = ۱۳۸۱هــ ش |
| | ايا دسپتمبر ۱۱ حمله يا پلمه خپله امريکايانو طرح کړې وه ؟ |
| | په پنتاګان حمله ــ |
| | اسلامي امارت اوله دوره |
| | داسلامي امارت دوهمه دوره جهاد |
| | دشت ليليه ــ جنرال دوستم |
| | دامريکا او ناتو ظلمونه |

# فهرست


| صفحه | عنوان |
|---|---|
| | امريکايي زندانونه |
| | گـــوانـــتـــانامـــو زندان |
| | د گوانتاناموزندان ديو بندي ترخه قصه |
| | دگوانتانامو زندان دظلمونو باره کې غبرگونون |
| | د گوانتانامو د يو بل زنداني غم لړلې کيسه |
| | د جنرال رازق په شخصي زندان |
| | امريکا د سپتمبر د يولسمې نيټې څخه لاسته راوړنې |
| | مواد مخدر |
| | دامريکا او ناتو د زوال دلايل |
| | هغه ولسمشر چې د باگرام د ليدلو اجازه يې نه درلوده |
| | د اشغال پاتې شوني |
| | امريکا او ناتو اخر هم ناکام شوه |
| | امريکايي سناتورانو څه وويل |
| | له باگرام هوايي اډې هم امريکايان ووتل |
| | امريکايانو کابل هوايي ډگر کې د CIAدفتر په بمونووالوزولو |
| | امريکا خپل ډيپلوماټان او د سفارت مامورين له کابله وباسي |
| | بگرام کې دزندانيانو حال |
| | امريکايان د شش درک له نظامي مرکز څخه په پټه وتلي |
| | امريکايان يوازې د شلو کلونو ـــ تبصيره |
| | امريکا او ناتو الله تعالی ووهل که طالبانو |
| | اخر هم طالبان کامياب شول |
| | استخباراتي اټکل ـــ کابل هم ونيول شو ـــ اشرف غني يا افغان الاصله چنگيز |
| | موترسايکل د بي ۵۲ ډوله الوتکو سره څنگه مقابله وکړه ؟ |
| | په يوه پېړۍ کې د درېوو امپراطوريو ماته |
| | په افغانستان کې د امريکا شل کلن اشغال ته يوه کتنه |
| | د امريکايي اډو د تخريبولو راز ـــ افغانستان او څو مهم واقعات |
| | افغان جگړه امريکا ته په څه بيه تمامه شوه |
| | دومره ډيرې پيسې پر څه لگول شوې دي |
| | افغانستان کې د جگړې ځاني زيان څومره و؟ |
| | د امريکا د شل کلن اشغال پای |
| | موترسايکل د بي ۵۲ ډوله الوتکو سره څنگه مقابله وکړه ؟ |
| | په يوه پېړۍ کې د درېوو امپراطوريو ماته |
| | دکتاب دمؤلف توصيه ـــ مأخذونه |

# بسم الله الرحمن الرحيم

# دمؤلف سريزه

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم اما بعد:دټولو کائناتو دلويې رب په نامه شروع کوم چې هغه رحمن اوبې حده رحيم دی
۱ ـ دتاريخ دليکلوهدف داوي چې دتيرو خلکوله واقعاتو خبر اووروستني خلک ترې عبرت واخلي نو له دی وجه مې دا ليکنه وکړه ترڅو هر افغان په دې پوه او خبرشي چې دافغانستان دخلکو ددين اووطن دوشمنانو په کومه مکارانه ډول له چلونو ډکې ستراتيژياني کارولي چې دهغې په ذريعه يې مونږ او زمونږ نيکونه يو له بل سره جنګولي او په شهادت رسولي او دا سلسله لا تر دی دمه روانه ده خو متأسفانه زمونږ مشران لا هم پرې نه پوهيږي ملت په يو نوم اوبل نوم سره جنګوي يو اسلامي تنظيم په بل اسلامي تنظيم او يو مذهب په بل مذهب دکفر ټاپې لګوي وهل ټکول او بالاخره وژل او حلالول يې ځانته روا ګڼې دوښمن قرار دخير په غونډۍ ناست او سيلونه کوي اخره کې ټول تنظيمونه او ټول مذهبونه داسې پخپلو کې سره وخوري چې باد يې ووځي (فتفشلو ريحکم) شي يو هم بيا دځان دجوړيدو نه وي نو وطن به څه جوړ کړي ، زمونږخلکوانقلابونه کامياب کړي خو دومره بلند پروازه او جذبات مو راوپاريږي چې بيا نه خپل پيژنو او نه پردی چې داکار دالله دقهر او غضب سبب جوړشي . پنسلين يوه انتي بيوتيک (ضد مکروب) دوا ده کله کله مريض ورسره حساسيت ښيي تر دی چې مريض په څو ثانيو کې مړ کړي علت يې داوي چې پنسلين مړه مکروبونه دي کله چې دمريض بدن ته پيچکاري شي دمريض بدن اعلان وکړي چې ماته مکروبونه داخل شوه دويني سپين کرويات چې دبدن دساتلو وظيفه لري لکه وزارت دفاع چې اعلان وکړي هله پردی فوج راغلې داعسکري قوه په ډير شدت سره په دوښمن حمله کوي پنسلين چې مړه مکروبونه دي دا عسکر فکر کوي چې مونږ مره کړه او ناريه تکبير چغې شروع کړي او ټول بدن کې په دومره جذباتو وګرځي چې ددی له امله خپل بدن ووژني او نتجه داشي چې نه دين شي نه دونيا زمونږ افغانان هم همداسې دي په جهاد کې دومره جذباتي شو چې بيا نه خپل پيژنيو او نه پردی، تردی چې دواړه طرفونه له منځه لاړ شي دنړی غټ طاقتونه لکه روس ، امريکا ، چين او داسې نور کرار په خپلو مزو او چړچو کې ناست وي مونږ يې لکه چرګانوغونډې په جنګ اچولي وو
۲ ـ اکثره تاريخونوکې د افغانستان مسلمان ملت دجهاد په نامه قرباني ورکړې شهيدان شوي خو تاريخ ليکونکو ددوی قرباني جهاد او شهادت ته نه ده منصوب کړی په عوض ددی چې هغوی ته دمجاهدينو خطاب وکړي جنګيالي يې نومولي او کوم چې شهيدان شوي هغوی ته دمړو او وژل شويو خطاب کړی لکه دوي چې نه جهاد کړی وي او نه شهيدان شوي وي يو علت يې دادی چې تاريخ ليکونکي دانقلاب دکاميابيدو وروسته دپاتي شويو کسانو اعمالو ته په کتو يې زړه نه غواړي چې هغه القاب چې ورته لازم دي ورکړي
۳ ـ په دغه روانو څلورو لسيزوکې چې کومه سيناريو روانه وه او لا روانه ده دا دهماغه پلانونو تطبيق دی چې په يو نامه اوبل نامه يې اړوي را اړوي دوشمن په کمين کې ناست دی دخواخوږي او زړخوګي په نوم خپل دوشمنانه رول لوبوی مثال يې دادی: يوڅوک په کور کې دخرڅولو غويی لري قصاب ورته راولي چې دا وګوره خرڅوم يې کله چې قصاب غوايي ته راشي دپاسه پرې لاس ووهي تر څو معلومه کړي څومره غوښه پکې ده غوايي ګمان کوي څوک خواخوږی زړ خوګی مې راغلي ګورې مې چې داوږی دی که تکی ځکه لاس راباندې ووهي خو خبر نه دی چې سبا يې دقصابې په چاړه حلالوي بيا چې څومره رمباړې ووهي څه نتيجه نه لري چې په دادرې دورو کې

موږ شاهدان یو( انګریزانو ، شورویانواو امریکایانو ) یودوشمن ددوستۍ په نامه بل دوشمن دکور کالي ډوډۍ په نامه او بل دوشمن دجمهوریت او دیموکراسی په نامه چغې وهلې اوراغله ځینو دغوایي په شان پرې اعتبار وکړچې دا زموږ خواخوږي زړ خوګي دي  په انګریزانو شاه شجاع په شورویانو کمونستانو اوپه امریکایانو دیموکراتانودغویي په شان په قصابانو اعتماد وکړ او چې کله دی قصابانو دچړو لاندې کړل نو دغویي په شان یې ترې رمباړې وایستې چې بیا یې هیڅ فایده ورنکړه دټولو سره یې ددرواغو وعدې وکړې چې غم مکوه موږ درسره یو خو پښې یې دشپې شپې ترې سپکې کړې په تیاره کې وتښتیدل لکه امریکایان دبګرام له هوایي میدان څخه چې په لکونو فوجیان او په زرګونو طیارې او ټانګونه پکې موجود وه په ۱۴۰۰/۴/۱۱هـ ش تاریخ دشپې په یوه بجه وتښتیدل اشرف غني او پلویانو یې ډیرې رمباړې وکړې خو څه فایده یې ونکړه

۴ ـ  متأسفانه افغانستان کې چې هر حکومت راشي ځان په حقه ګڼي مخالف لوری ورته یاغي ، باغي سرکشه او شریر ښکاري دهغوی په ټکولو کې یې  ظلم دی حد ته ورسیږي چې ټول ملت له حکومته فاصله واخلي او بیا ترې په ټنډارو وتښتي دبل غلامي ورته له مرګه او سر پریکولو ښه ښکاره شي ځکه که نور څه نه وي نو ژوندی خوبه پاته شي ، په ۱۳۶۵ هـ ش کال زه دسعودي عربستان طایف سیل الصغیر شرکت دلې ترخڼک په یوه باغ کې اوسیدم په شرکت دله کې څه فلپینیان اوسیدل هغوی شادیان ساتلي وه یو وخت هغوی رخصت شول شادیان بې سرنوشته پاته شول ددی تر څنګ یو شرکت وه دشیخ زامل په نامه دهغه کور هم همدلته وه شادیان ورغله دهغه دکور انګور یې راشکول او دده یو ماشوم یې راګیر کړو چې له ستونې یې نیولی وه نژدی وه چې مړ یې کړي شیخ زامل ورپسې ټوپک راواخسته دامشر شادي یې مردار کړو نور وتښتیدل  یوه ورځ تصادفي شادیان زما څنګ ته راغلل ماورته لږ ګازرې ورکړې خوراک یې کولو چې یو دناڅاپه یې پوزه او سوږمې  کش کړې او په ریږدیدا یې شروع وکړه زه حیران شوم ګازرې یې هم وغورځولې منډې رامنډې یې شروع کړې چې ګورم دهغه شیخ موټر دمکې او طایف په سرک راروان وه چې دموټرو ګڼه ګوڼه هم بې حده زیاته وه خو دوي تقریباً دوه سوه مترې کې دبویي په ذریعه وپیژانده خوشیخ راغی او له کوره یې ټوپک راواخسته یو شادي خو وتښتیده او دا بل راغی زما پښو کې پریوته او رغړیدو مطلب یې داوه چې ما ترې خلاص کړه شیخ پرې ټوپک راواړه وه ماته وایي افغانیه لرې شه چې زه دا ولم ماورته ووېل ستا پلار یې هم نشي ویشتلی خبر یې افغاني ته یې پناه راوړي اول به ماولې بیا به شادي ولې هغه وخندل شادي اوس زمانه جدا کیدو نه پرې مې راواخسته غاړه کې مې ورواچولو او دیوې پایې پورې مې وتړلو مخکې له دی چې کله ما ګازرې ورکولی له لیرې به یې لاس راوړد کړو چې ومې نه نیسي اواوس دومره تابع شوچې په پړی مې وتړلو کوم خوا چې یې بیایم انکار نکوي لکه یوغلام غوندې زما سره اوسیده مقصد مې دادی چې زما په یاد دا ۴۵ کاله کیږي چې په موږ افغانانوباندې کوم حکومتونه حاکم کیږي خپل ملت دومره تر شکنجې لاندې ونیسي چې خلک مجبور شي دګاونډیو غلامي قبوله او له ملکه وتښتي او هغوی بیاورته دحکومت دنسکوریدو ټولې لارې چارې برابرې کړي خوحکومت دومره فکر نکوي چې دا زما ملت دی حکومت دپلار حیثیت لري ټول بچیان خو یوشانته نه وي  که دهر نظرخاوند وي هغې ته دی درناوی وکړي خپله غیږه دی ورته پراخه کړي تربیت دی وکړي ترڅو دبل داستعمال څخه وژغورل شي  او کنه نو نه به مو ملک جوړ شي او نه به مو حکومت جوړ شي

**مؤ لف : نجیب الله عابد**

# لومړی فصل

## افغانستان

دافغانستان تاریخ خو ډیر پراخه دی ما دلته دټولو بادشاهانو او امیرانو تر څنګ  په پنځو غټو یرغلګرو او اشغالګرو ډیر ترکیز کړی دی اول چنګیز دوهم تیمور لنګ دریم انګریز څلورم شوروي او پنځم امریکا او ناتو ده چې زمونږ په ملک کې یې څومره مظلوم افغانان له منځه وړي او کورونه یې وران کړي

افغانستان دنړۍ له پنځه براعظمونو څخه دااسیا په لوی براعظم کې موقعیت لري ۳۴ ولایته لري له شپږوملکونوسره ګاونډیتوب لري چې شرق او جنوب ته یې پاکستان غرب ته یې ایران شمال ته یې ترکمنستان ، ازبکستان ،تاجکستان اوشمال شرق ته یې چین موقعیت لري ، افغانستان یوه استراتیژیکه نقطه او داسیا دزړه په نامه شهرت لري دوربینمو دلارې په لرلو سره دټولی نړۍسره اړیکه نیولی شي ، شنه اوسرسبزه  په ونو، واورو پټ غرونه او درې لري هوایې معتد له او زړه راښکونکې ده




وګړي یې ټول مسلمانان او مجاهدین دي  ډیر غریب اوفقیر خو ډیر غیرتي ، مېلمه پاله، او په دین مېن خلک دي دپردیو تسلط په هیڅ صورت نه مني او دلویو امپراطورانو دزبرځواکې په مقابل کې په تش لاس جنګیدلي او هغوی ته یې داسې ماتې ورکړې چې بیا په خپل ملک کې هم نه دي راټینګ شوي دبرطانیې روسیې او اوسنۍ امریکا په خلاف چې درې واړه دوخت امپراطورۍ وې ړنګې کړې چې له ماتې خوړو ورووسته یو بل ته وایي چې ته کله افغانستان ته تللې نو زما نه خو به دې پوښتنه کړي وه چې دهرې امپراطورۍ په ړنګولو کې یې په لکونو او مېلونونوشازلمي شهیدان او له لاسه ورکړي. افغانستان یو بې جوړې منځنۍ-مرکزي سیمه ده چېرته چې اېروآسیایي تمدنونو د یو بل سره معاملې کړي او ډېر ځله یې د یو بل سره جنګونه کړي او د ډېر پخوا نه د

تاریخ یو مهم ځای پاتې شوی.داسلام نه مخکې داوسني افغانستان په شمال کې اریا یان اوسیدل چې دشرک په تورو تیارو کې ډوب وه چا داور عبادت کولو چا دبودا بت عبادت کولو او چا دستورو او لمر عبادت کولو مقصد داچې دهر کار داجراء لپاره یې ځانګړي خدایان نیولي وه اوهغې ته یې پرستش کولو لکه « اورنا »دا سمان خدای ـــ« اندراد »دجنګ خدای« سوریا»دلمر خدای او داسې نور.

**په۵۵۰ق م کې دافغانستان:** حکمراني دهخامنشیانو لاس کې وه چې سیروس یا کوروش یې مشر وه فارس او باختر سیمې لکه سیستان ،قندهار،هزارجات او دبلوچستان سیمې یې لاس کې وې



اودسکندر مقدوني معلم وه

**سکندر مقدونې ۳۳۶ق م:** کې چې د یونان مقدونې پاچا پلیپ زوی وه شل کلن وه چې له یونان څخه یې حرکت راوکړایران یې ونیو هرات یې وروسته له اوه میاشتو محاصرې ونیو بیا دفراه له لارې زرنج او هلمند دهخا منشیانو له امپراطورۍ څخه ونیولې - له دې وروسته سکندر کابل کاپیسا ، تګاب او لغمان ، درونټه او بیا دهندوکش دغرونو له لارې له اموسیند نه سغدیانه او باختر ونیول بیا یې هند ونیو چې ۱۲۰ زره پیاده ۱۵زره سواره او ۷۰ زره اریایي خلکو پکې ګډون کړی وه له هغه ځایه سیند او کراچۍ ونیوله بلوچستان او افغانستان له لارې فارس ته لاړه او د۳۲کلو په عمر دملاریا په مرض مړ شو




هغه په ننګرهار ، هرات،میمنه،اندخوي، شبرغان،سرپل،کاپیسا ، لغمان، کنړاو نورو ځایونو کې قلعه ګاني او څلي جوړ کړه چې په ننګرهاردرونټه کې دهغې نمونې اوس هم شته له ده وروسته




**په ۳۲۴ق م سنه کې دهند موریانو** کورنۍواک واخسته چې مشر یې چندراګوپتا وه له هند نه تر قندهار پورې واکمن وه چې دده دمړینې وروسته پاندو سارا پاچا شوتر۲۷ کاله پاچاهۍ وروسته مړ شو ځوی یې اشوکا دده پر ځای ۲۷۳ق م کې کېناست دایو ظالم انسان وه په بنګال او نورو ځایونو کې یې په لکونو خلک ووژل او بیا دا بودا یې مذهب ته واوښت چې (بودایزم) ته یې ډیر خدمت وکړو او افغانستان کې یې په لویه پیمانه خلک دعوت کړه او دملک شمال او جنوب بودایزم ونیولې چې دي مذهب تر ۱۰۰۰ کالو پورې دوام وکړ دبودا لوی بت او په ننګرهار کې دهډې لویه بت خانه او په شیرزادو کې دبلولې بتخانه او دطوطو دعقربه غنډۍبت خانه دلغمان قرغیو سیمه کې او داسې نورې پر ځای پرېښودې




**په ۲۲۷ ق م سنه کې ایوتیدم یوناني پاچا** دهندې واکمنانو څخه بیا دافغانستان تر هندوکش سیمو پورې او په ۲۰۰ق م سنه کې دمتریوس یوناني جنرال دهند له ټکسلا نه ترګنګا پورې سیمې ونیولې چې دغه وخت کې دیونان او باختري فتوحاتو ساحه دایران له دښتو تر ګنګا پورې اوله سیحون او جیحون څخه تر بخر پورې وې چې ددوی واکمني ۲۵۰ کاله اوږده شوه او ۳۶ پاچاهانو پکې حکومت وکړ.

**دفارس ساسانیانو** مؤسس ارتیشیر بابکان دکابل یعني لویدیز افغانستان سیمې یې لاس کې ونیولې

کوشانیانولمړنی پاچا کدفیزس په اریاناکې حکومت ونیولو بګرام یې دخپل حکومت مرکز وټاکه او خپل ځان ته یې داسمان دځوی یا شاهنشاه لقب کېښوده په۷۸م کال کې مړ شو دده ځوي یما

کدفیزس واکمني ونیوله چې نوموړي دپنجاب او هند دګنګا سیمې هم داریانا امپراطورۍ کې داخلې کړی دروم امپراطور ترجان سره يې خپلې ښې اړیکې ونیولې. کله چې داومې مېلادي پیړۍ په نیمایي کې عربو کې داسلام بېرغ ورپیده په افغانستان کې مختلف ادیان لکه زردشتي، بودايي، برهمني، شیوايي، لمر پرستي،مسیحي او منسطوري موجود وه او حکومتونه هم پکې ملک الطوایفي وه په کابل کې یو حکومت وه، بامیانو کې بل ، مزار کې بل حکومت خو دکابل شاهان پکې ډیر مشهور وه

**سلطان محمود غزنوي:** غزنویانو له ۹۷۶ م کال نه تر ۱۱۸۶م کال پورې چې ۲۱۰ کاله راځي حکمراني کړې چې مشهور يې سلطان محمود غزنوي وه چې په ۳۹۲هـ ق کال دخپل پلار سبکتګین له مړینې وروسته پاچا شو دده دوره دفتوحاتو نه ډکه وه ـ مهم جنګ يې دهندوانو سره جهاد وه او په ۲۴ کاله بادشاهۍ کې يې ۱۷ ځله په هند حمله کړې چې مهمه غزا يې دسومنات په نامه ده له درې لکو پوځیانو سره یوځای لاړه په ۴۱۶ هجري کال يې له هندوانو سره سخته جګړه وکړه او بالاخره دسومنات بوتخانه يې ورانه او ټول مالونه يې دځان سره غنیمت راوړه هماغه وه چې دبت شکن لقب يې وګاټه سلطان محمود سره درې سواله وه یو داچې زه به دسبکتګین ځوی یم کنه ؟ دوهم ماته به الله ببښنه وکړي کنه؟ دریم ددین علماء دانبیاؤ وارثان دي کنه؟یوه شپه سلطان محمود




غزنوي درعیت داحوال پرسۍ په خاطر ماسختن له درباره ووت وړاندې ګوري چې یو اهنګر اوسپنه ګرموي دی ورته ګوري چې یو څوک کله اهنګر ته نژ دې شي او کله وړاندې دی ورغلو او هغه يې راوغوښتو هغه چې یو زلمی طالب وه ورته يې وویل ولې کله اهنګر ته نژدې کیدې او کله لیرې کیدې هغه ورته وویل زه قران زده کوم کوم چې اهنګر اور تیز کړي رڼا شي زه هغه وخت ایاتونه دمخې ولولم بیايي زده کوم تر څو چې بیا اهنګر اور تیز کړي او رڼا شي سلطان حیران شو چې ستا په بادشاهی کې دیو طالب لپاره درڼا بندو بست نشته سلطان ورته دخپل خادم نه چې دسروزرو دیوه يې لاس کې وه ورکړه او ورته يې وویل له دی وروسته به تاته تیل هم حواله شي او ګوره چې دا ډیوه دسرو زرو ده چې څوک يې درڅخه غلا نه کړي نور راغی خپل دربار کې اوده شو خوب کې يې محمد الرسول الله ولیده او ورته يې وویل دسبکتګین ځویه الله دی ستا نه راضي شي تا زما دوارث خدمت وکړو چې کله سلطان محمود غزنوي راویښ شو شکر يې وایستو او وی ویل الحمد لله زما درې واړه سوالونه دنبي په وینا حل شول پلار مې معلوم شو چې سبکتګین دی دالله درضاء دعا راته پیغمبر وکړه دریم علماء دانبیاؤ ورثه ثابت شوه

سلطان محمود یو غلام دایاز په نامه لرلو ایاز ډیر زیرکه وودسلطان ډیر خوښ شو درباریانو يې ویل عجیبه خبره ده مونږ ټولو ته دومره اهمیت نه راکوي لکه دی غلام ته له دی خبرې سلطان خبر شو وايي سلطان یوه ورځ اعلان وکړ چې نن دبادشاهي ټول استعمال شوي اجناس لیلامیږي او چې چا څه شي باندې لاس کیښوده هغه دهمغه شو تر دی چې وزیران هم کولی شي څه شی واخلي ټول یو میدان ته راټل شول دامر له صادریدو هر سړي یو یو شی ونیوه ایاز دسلطان خواکې ولاړ وه ورته يې وویل ایازه ته يې ولې نه نیسې هغه ورته وویل زه خو غلام یم مات به يې چرته راکړې هغه ورته وویل نن هرچاته وعده ده چې په هر شي يې لاس کیښوده هغه دهمده شو ایاز وویل داسې به نه وي سلطان ورته وویل همداسې ده ایاز په سلطان لاس کیښوده وزیران راغلل ګوري ایاز په سلطان لاس ایښی دی سلطان ورته وویل اوس تاسو قضاوت وکړئ چې تاسو پوهه يې او که ایاز ؟ تاسو یو یو جنس ونیوه او ده ټوله بادشاهي ونیوله تبلیغ والا وايي عبادتونه خو ټول خلک کوي خو بهتر سړی هغه دی چې الله تعالی راضي کړي او هغه خوښ کړي

# دوهم فصل

## په افغانسان د وحشي چنګیز حملې او قتل عام(۱۲۰۲م ــ ۱۲۲۲م)

مخکې له دې چې د اوسنیو درې نړیوالو بدمعاشانو او ښکرورولکه انګریزانو، شورویانو، امریکا یانو پر امپراطورېو او بد معاشېو خبرې وکړم ښه داده چې لږ وراخوا تاریخ ته سر ورښکاره کړو چې ددې دریواړو عالمي ظالمانو څخه نورو هم د افغانستان په مظلوم ، غیرتي او مجاهد ولس کومې نخرې او ظلمونه کړي او که نه او افغان مجاهد اولس بالمقابل څه کړي دابه دتاریخ له پاڼو وپوښتو:

**چنګیز دمیلونونو انسانانو قاتل:** (افغانستان در مسیر تاریخ ج۱ـ ۱۹۱ص، میرغلام محمد غبار)

دچنګیز پلار یسوکا دبورجیقین قبیلې چې دمغلستان (منګولیا) مشر وو په ۱۱۷۵ م کې مړشودده یوزوې د تموچین(چنګیز) په نامه چې۱۳کلن وه پاتې شو، اونګ خان چې دکریت قبیلې مشر وو له تموچین سره اول ملګری شو بیا مخالف شو بیا یې سره جګړه راغله اونګ خان یې سره له ټولې کورنې په ډیره بې رحمانه ډول په ۱۲۰۲م وواژه او له دی وروسته یې مختلفې طائیفي یو له بل پسې لکه بور جیقین ، کریت ، نایمن ، اویرات ، ارلات ، برلاس ، جلایر اونوري ووهلې او په ۱۲۰۶ م ورته دچنګیز نوم کیښودل شو یعنې لویې شهنشاه









جنګیزچې دوخت ډیر ظالم انسان وه په دې بسنه ونکړه په ۱۲۰۷ م کې یې له چین سره جنګ شروع کړچې شمالي چین یې تر ۱۲۱۷ م پورې ونیو، هرڅه یې له منځه یوړل او بیایې مخه دکاشغرستان(اوسنی ایغور) په لور وګرځوله بالاخره بدخشان پامیر څوکه هم دده لاس ته پریوته . جنګیزدشمالي چین او شمالي ترکستان نه وروسته داسیایي میانه په طرف قصد نه درلوده ځکه هلته دخوارزمشاه قوي حکومت پروت وه چې له سیحون نه تر عراق پورې یې حکومت درلوده . دمغلو یا چنګیزحکومت دایران او عربو سره دتجارت لاره فقط په خوارزمشاهیانو درلوده بلې نه وه چنګیز خان ترې ډاریده نو دښو روابطو دجوړیدو لپاره یې یوسفیرمحمود یلواج د سروزرو له یوغټ امیل او هدایاو سره راولیږهاو ورته یې پیغام لیږلی وه چې زه دشرق او ته دغرب سلطان یې خوارزمشاه هم قبوله کړه چنګیز مطمئن شو

یوه غټه تجارتي قافله یې د۴۰۰ تجارانو دطلا او نقرې او نورو قیمتي مالونو په همدې لاره ورولیږله خوارزمشاه (دچنګیز ظلم ته په کتو)دوعدې خلاف دسیحون سره قافله لوټ او تجاران یې ووژل یو کس تجار وتښتیده او چنګیز ته یې خبر ورساوه هغه دتحقیق لپاره یو مسلمان او دوه تاتار(مغل) خوارزماشاه سلطان محمد ته دسفیرانو په حیث راولیږه سلطان محمد هغه درې واړه هم ووژل چنګیز په دې سخت ټکان وخواړه او سخت غوصه شو دچنګیز ظلم په خوټکیدو شو چې بالاخره میلونونو بې ګناه انسانانو ، حیواناتو ، ونو او بوټو دبربادی سبب شو.

**په ماوراء النهر حمله :**چنګيز په ۱۲۲۰ م کې دوه لکه تاتاري فوج سره په ماوراء النهر راروان شوسلطان محمد خوارزمشاه چې دخپلو فوجي افسرانو سره هم چندان جوړ نه وو دلېږ مقاومت نه وروسته دبلخ په طرف راوتښتیده بلخ کې امر صادر کړ چې سلطنتي کورنې ایران ته منتقله او که دوښمن دلته راغی ورته تسلیم شې چې د وراني مخه ونیول شي اوخپله ایران جزیره خزر کې پټ شو





چنګیز ته بهانه جوړه شوه منطقې ته راغي ایران ، عراق ورته تسلیم شول او دخوارزمشاه سلطان محمد او سلطان جلال الدین دسلطان محمد زوی او حتی ټوله سلطنتي کورنې یې ونیول شوه نارینه یې اعدام اوزنانه یې په چنګیزي فوجیانو تقسیم کړه

دافغانستان خلک چې دهمیشه لپاره دهمت او غیرته ډک خلک دي سخت مقاومت شروع کړ تر دې چې په نوبت نوبت یوه یوه قریه ښار او قبیله داسې وجنګیده چې سر ومال او سرپناه ییهم ختمه شوه خو تسلیم نشول دلته تاریخ یو څو نمونې راا خستي چې وایې مشت نمونه ای خروار :کله چې چنګیز خان بلخ ټول وران کړودجوزجان، فاریاب ، میمنې په طرف لاړچې دزرګونو دفاع کونکو انسانانو د مرو دپاسه تیر شوترڅو مرو الرود ( مرغاب ) ته ورسیده په داسې حال کې چې ددې ښارونو ټوله ابادي یې ورانه کړې وه

**په تالقانو( تخار)حمله :**تالقان چې یو صنعتي ښار وه مخه کړه هغه خلک چې خبر شول تابعه یې ورته ونیوله او دنصرت کوه په سر چې کوم بالاحصار قلعه وه ځانونه یې ځای پر ځای کړل او ټول مجاهدین دتالقانو په جامع مسجد کې سره راټول شول او قسم یې سره وکړو چې تر مرګه به دخپل دین وطن او ناموس دفاع کوو ټولو دخپل مرګ فاتحه په همدې جامع مسجد کې اعلان کړه او یو له بل سره یې وداع او خدای په اماني وکړه دقلعه او ښار دروازې یې بندې کړې وحشي چنګیزیان دروازو ته راورسیدل دتخار مجاهدینو ته یې دتسلیمیدو خبر ورکړ دتخلف په صورت کې یې سخت اخطار ورکړ قلعه او ښار یې محاصره کړل مجاهدین به دشپې راوتل او په چنګیزیانو به یې حملې کولې او وژل به یې مالونه یې تري غنیمت نیول









چنګیز دی وضعیت ډیر غوصه کړو د(۷) اوه میاشتو مقاومت وروسته دچنګیز دری زامن ( چغتای ، اوکتای او تولي خان ) هم د خپلو بي شماره لښکریانو سره دماوراء النهر او دافغانستان له شمال مغرب څخه دپلار کمک ته راغلل دا اول ځل وه چې دخپل قدرت په مقابل کې دسخت مقاومت سره اوه میاشتې دیوې کوچنې قلعه او ټولګي لخوا مخ شوه ځکه مخکیني ښارونه یې چې نیول ددوه یادرې هفتو نه زیات چا ورسره مقاومت نه دی کړې . په دغه وخت کې چنګیز ته خبر راغې چې سلطان غیاث الدین غزنې ته راغلې او مقابلې ته ځان چمتو کوي نو له دې سره سړی راګرم شو او امر یي وکړ چې خاورې تیګې او لرګي راجمع کړی دقلعه شاوخوا ته یې واچوې تر دې چې د نصرت کوه له قلعه سره برابر شول او په قلعه وروختل مجاهدینو لاس په لاس جنګ شروع کړ تر هغې له چنګیزي دوشمن سره وجنګیدل چې ټول په شهادت ورسیدل خویو هم تسلیم نشو.

اوپه ۱۲۲۲م کال یي تالقان هم ونیوه چنګیز نوموړي مقاومت دومره غصه کړ چې حکم یي وکړ یو زنده سر په افغانستان کې پرینږدي تر دې چې شهید به یي کتلو چې ژوندی خوبه نوي پاته شوی.

چنګیز غوښتل د سلطان غیاث الدین پسې غزني ته دبامیانو له لارې لاړ شي

**د فاریاب ولایت ګرزیوان قلعه:** دګرزیوان ولسوالی کې دګرزیوان قلعه یې محاصره کړه ددې ځای مجاهد اوغیرتي خلک دنورو ښارونو دتخریبیدو څخه ښه خبر شول خو بیاهم دکفارو د چنګیزي لښکروسره مقابلې ته تیار شول هغوې ورته دتسلیمیدو بلنه ورکړه دوی جواب په توره ورکړ







چنګیز فکر کاوه دا یوه وړه قلعه ده په دوه یا درې ورځو کې به یي ختمه کړم یوه میاشت شپه او ورځ ورسره جنګ روان وه بالاخره دډیرو تلفاتو ورکولو نه وروسته قلعه دکفارو لاسته پریوته دقلعه ټول نارینه او زنانه یي په ډیره بې رحمې شهیدان او قتل عام کړه (انا لله وانا الیه راجعون ) الله دې دټولو شهادت قبول کړي

**دبامیانوحمله:** چنګیز بامیانو ته مخه کړه اول یي دبامیانو خلکو ته دتسلیمي پیشکش وکړهغوې رد کړ او جنګ شروع شو دبامیانو مجاهدین دتالقانو او ګرزیوان په شان په ډیره میرانه جنګیده چنګیز دلته هم دسلطان غیاث الدین له فوجونو خبر شو چې پروان کې یي دمغلو قلعه نیولې او مغلي فوجیان یي تخار ته شړلي په ډیره بیره بیره جنګ ته شدت ورکړ په دی جنګ کې دچنګیز خان لمسې متوجن د چغتایي زوي ووژل شو چنګیز دډیرې غصې نه دسر خولې لرې کړه او دلښکر مخې ته روان شو نور نو دمغلو فوجیانوته دبامیانو یو شي هم اهمیت نه درلوده دلیونیانو په څیرد انسانانو په لغشونو دپاسه ورختل او دمړیانو په شان دښار په هردیوال وروختل ښار یي ونیوه چنګیزیانو وحشت چې دنړې په تاریخ کې سابقه نلري دلته هم تطبیق کړونارینه ، زنانه او ماشومان ټول یي ذبح او په شهادت ورسول دښځو خیټې یي څیرې کړې او کوم ماشوم به چې پکې وه هغه به یي دنیزې په سر کې وټومبه او له دې وروسته یي دښار سپي غوایان اوزي او پسونه ټول له تیغه تیر کړل او تر دې چې ونې دیوالونه یي هم ختم کړل بامیان یي یو طرف هوار میدان وګرځاوه ( انا لله وانا الیه راجعون )بامیان ۱۲۰۰ کاله دتمدن ځانګو وه دلته اول بودایي دین پرمختګ کړې وه بیا

چې کله داسلام مقدس دین راغې نوي او تازه ښارونه لکه شهر غلغله جوړ شو چې داسلامې تمدن مرکز وه هغه ټول کتابونه او مقدسات چنګیز ختم کړل .







بعضې خلک وایي هزاره قوم دچنګیز اولاده ده او هزاره ګان له دی تړاوه سخت بد مني او خفه کیږي .چنګیز دفوج تشکیلات زر زر نفري جوړ کړي وه چې هزار هزار به یي ورته ویل چې کله دبامیانو اصلي اوسیدونکي چنګیز ختمکړه نو دچنګیز له لښکریانو یو ټولي دلته واړول او میشته شول او نور بیا وایي دا دترکیې څخه راغلي یعنې ترک دي ځکه دتاتار قوم هلته شته او چنګیز هم په ترکي ژبه پوهیده  زما شخصي نظر دادی چې چنګیز یو ظالم او مستبد خونخوار انسان تیر شوی هزاره ګان دی دا بده نه ګڼي چې ددوی پلار داسې کړي .

**اول :**هزاره ګان تر خپل پلاره (چنګیز) نه کم نه دیدشوروویانوڅخه دازادی اخستلو په وخت کې چې کله کورنی جګړه شروع شوه هزاره قوم پکې ښه فعاله برخه واخسته دنورو قومونو خصوصاً پښتنو سره یي داسې رویه وکړه چې تر خپل پلاره یې هم یوقدم وړاندې لاړل چې کله به دوی دوه کسه افغانان ونیول یوبل ته به یې چړې یا پاکیګانې ورکړې او یو دبل پوستکی به یې په ژوندونې ایستلو، دښځو څخه به یې تیونه غوڅ کړل او نور به یې ورته وویل ځه ، په علي اباد شفاخانه کې یې دپښتنو دوژلو هډه جوړه کړې وه چې کله به یې سر له تنې ورغوڅ کړو بیا به یې سمدستي په غوڅ کړي ځای ګرم تیل یا غوړي ورواچول دمړي په بدن کې به وینه حصاره شوه ساه به یې زر نه وتله دوی به ورته سیل ته ناست وه او ویل به یې چې دمړو ډانس وګوری کله چې طالبان په اوله دوره کې کابل ته راغله زه هغه ځای ته لاړم کوم ځای چې دوی ورته دډانس خانه ی مرده ویل هغه وخت هم دوینو اثرات موجود وه او دهغه ځای خلکو دا ټوله صحنه راته وښودله دعلي اباد شفاخانې رئیس حسین دجلال اباد سراچې اوسیدونکی زما ملګری او هم صنفي هم وه هغه راسره وه او دا حکایات یې اوریدل  خوجرم یو شخصي عمل دې بل پرې نه نیول کیږي که هزاره قوم چنګیزیان وي دوی ته هیڅ مسؤلیت نشته په نصب څوک نه رټل کیږي او نه په نصب فخر کول پکار دي ځکه فخر کول شرک دې الله پاک هره ګناه بخښي شرک او قوم پرستي نه بخښي

**دوهم :**که چیرې هزاره قوم دهغه اولاده وي دهغه عمل دې نه تکراروي بلکه دبابر بادشاه په شان دی کار نامې وکړي چې هغه هم دچنګیز له قومه وه او په هندوستان کې یې لویې مسجد جوړ کړو چې اوس هندوانو پرې قبضه کړې دهغې دازادیدو فکر دی وکړي



**دریم :**(ان اکرمکم عندالله اتقاکم ) دالله پاک په نزد تقوا دار عزتمند دی نه کوم قوم او نصب والا ابو لهب دقوم له طرفه قریشي دنبي علیه السلام کاکا دخپل قوم سردار او په ښایست کې ورته لهب یعني داور دشغلې په شان روڼ مخ وه خوچې دقران او پیغمبریې ونه منله قراني کافر او لعنتي شو بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تور حبشي وه هیڅوک یې نه لرلو عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي هغه دې څمونږ سردار بلال راغی

**څلورم :**که هزاره قوم دچنگیز قوم نه وي او هماغه قوم وي چي په بامیانو کې ترمرگه ښه په میرانه اوشجاعت مقاومت کړې تردې چې ټول په شهادت ورسیدل ( نو سلام دې وي په بامیانو اود بامیانو په اوسیدونکو ) خوزما په یقین هلته دبامیانو اصلي اوسیدونکي څوک پاته نشول ، والله اعلم

**پنځم :**په غزني ولایت کې دچغتو یوه ولسوالي ده چې ټولاوسیدونکي یې هزاره ګان دي او چغتو د چنگیز زوی وه

**شپږم :** کله چې امریکا او ناتو په ۱۳۸۰ هـ ش =۲۰۰۱م کال په افغانستان داشغال حمله وکړه دطالبانو اسلامي امارت یې له منځه یوړو همدا هزاره ګان وه داسلامي امارت دجهاد په مقابل کې په کلکه له ناتو سره ودریده او تر اخره وجنگیده او حتی مشرانو یې دمقاومت ډندورې هم غږولې

**د بادغیس بالاحصار کالیون(قلعه نریمان) حمله :**کالیون قلعه چنگیزخان محاصره کړه او دهغې ځای غیرتي او باشهامته مجاهدینو یو کال اوڅلور میاشتې سخت مقاومت وکړ تر اخره سلګی پورې تسلیم نه شوه

**بادغیس ولایت قلعه فیوار حمله :**په قادس ولسوالی کې مجاهدینو دوه میاشتې مقامت وکړ تر دې چې اذوقه خلاصه شوه اوقلعه ددوشمن لاس ته پریوته ، منهاج السراج چې دچنګیز دعصر سړې دی لیکلي : دابوبکر دوه ځامن چې دسلطان محمد درباري پهلوانان او دقلعه کوتوالان وه دخوارزمشاه یو کس قوماندان اختیار الملک دولت یار طغرائي هم راغلې وه او دلته قلعه کې موجود وه دکفارو سره جهاد شروع کړو او ډیر زیات چنگیزیان یې ددوزخ کندې ته وروغوزول شپه او ورځ دکفارو سره په جهاد مشغول شول یو کال تیر شو په قلعه کې دخوراک وچه غوښه موجود وه خو دقلعه په مجاهدینو دوبا مرض راغلو او په قلعه کې داوبو اوه څاګانې هم وی خو ډیر شهیدان شول اخر دمحاصرې ۱۶ میاشتې تیرې شوې فقط




پنځوس نفره ژوندي پاته شول په قلعه کې چې څه قیمتي لوښي سره زر سپین زر موجود وه هغه ټول یې څاګانو کې وغورځول اخر یوکس دباندې ووته او هغوې له دې وضعیت نه خبر شول او سخته حمله یې شروع کړه مجاهدین تر هغې وجنګیدل چې ټول په شهادت ورسیدل ( انا لله وانا الیه راجعون

**غرجستان (اشيار) قلعه ( سرپل، کوهستانات ) حمله :**داشيار قلعه د کاليون قلعه په شان يو کال او درې مياشتې مجاهدين دچنګيزي لښکرو سره تر هغې وجنګيده چې قلعه په کلي طور منهدمه او ټول مجاهد جنګيالي په شهادت ورسيدل دقلعه مشري د امير محمد مرغزي پلاس کې وه
کله چې دچنګيز لښکر له تالقانو او ګرزيوان قلعه ګانوڅخه مخ په باميانو روان وه د اشيار قلعه مجاهدينو دهغوې په کاروانونو سختې حملې وکړې ډير زيات يي مردار او ډيرغنيمتونه يې ورڅخه ونيول چنګيز چې کله سند ونيوه نو خپل زوی تولي خان ته يې وظيفه ورکړه چې لاړ شه په افغانستان کې چې کوم ځای ابادي روغه پاته وی هغه ټولې ختمې کړه تولي خان لس زره منجنيق ويشتونکي (دهغه وخت توپونه ) داشيار قلعه طرف سوق کړل










چنګيزي کفارو چې څومره وسع وکړه غرجستاني مسلمانو مجاهدينو په نره جنګيده اوتسليم يې نکړل اخر يوکال او درې مياشتې تيرې شوې دمجاهدينو سره دخوراک هيڅ پاته نشول خلکو چې حيوانات ختم کړه دخپلو شهيدانو دجسدونو خوړلو ته مجبور شول کوم کس به چې شهيد شو دهغه غوښه به يې وچه کړه او لږ لږ به يې خوړه ترڅو ژوندې پاته شي خو کفارو ته تسليم نه شول (افغانستان درمسير تاريخ صفحه ۲۱۴ ج اول)
جوزجاني ليکلي : يوه ښځه چې مور او يوه وينځه يې لرله دخوراک دنشتوالي له وجه يې مور مړه شوه دهغې غوښه يې وچه کړه او غوښه يې په ډير لوړ قيمت خرڅه کړه او بيايې کنيزه يعنې وينځه مړه شوه دهغې سره يې هم داسې وکړل چې په دې ورته ۲۵۰ طلا په لاس ورغلې اخر خپله هم له لوږې مړه شوه پنځلس مياشتې دا حالت وه چې نور فقط امير محمد مرغزي او ورسره ۳۰ کسه ژوندي پاته شول دکفارو لخوا داشيار قلعه حصار مات او دوي يې هم له تيغه تير او په شهادت يې ورسول خو تر مرګه دوشمن ته تسليم نه شول ( انا لله وانا اليه راجعون)الله دې دټولو شهادت قبول کړې دې ته وايې ايمان او دالله پاک سره مينه او محبت چې دخپل دين او ناموس او وطن لپاره يې اخرې حد پورې قرباني ورکړه
**ولايت غور قلعه تولک اوقلعه سيفرودحمله :**تولک قلعه کې مجاهدين اته مياشتې له چنګيزي دوشمن سره وجنګيدل مغل پرې کامياب نه شول خو دقلعه په اطراف کې دوشمن لس زره ښځې په اسارت ونيولې او دسيفرود په قلعه کې داوبو دکموالي له وجه دمجاهدينو ۲۴ زره حيوانات له تندې مړه شوه خو دو ې مقاومت ته دوام ورکړ ملک قطب الدين دسيفرود قلعه حاکم امر وکړ دخلکو دخوراک لپاره کوم حيوانات چې ژوندې دی ټول حلال اوغوښې يې وچې کړې او کوم چې خپله مړه شوي له قلعه نه دباندې وغورځوی ، اوبه او غله يې روزانه په اندازه يعنې ديوې شپې ورځې هرمجاهد ته نيم من اوبه او يومن غله صرف ملک ته يومن اوبه حواله وې چې نيم من يې داوداسه اوهغه اوبه بيا آسته او نيمن يې دڅکلو وې اخر اوبه پنځوسمه ورځ ختمې شوې

منهاج االسراج لیکلي مازیگر لمانځه نه وروسته ملک خلک راجمع کړل او له خلکو سره یې مشوره وکړه چې خپلې ښځې اوماشومان به ووژنو اومونږ به سبا ته دوښمن له دروازې خلاصې کړو چې راننوتل تر هغې به ورسره وجنګیږو ترڅو چې ټول شهیدان شو






ټولو په یو اواز ورسره دزړه نه قبوله کړه او یو له بل سره یې وداع وکړه دالله پاک رحمت په جوش راغی او خپلو مجاهدواو فداکارو بنده ګانو ته یي مدد راولیږه ماښام لمونځ نه وه شوی چې باران او واوره وشوه اوبه پریمانه شوې یعني ددوه میاشتو اوبه نورې هم پیدا شوې دوشمن نا امیده شو او هم دژمي موسم دوې تنګ کړه دسیفرود قلعه محاصره یې موقتاً ترک کړه دژمي له تیریدو وروسته دوښمن بیا راغې خو داخل دقلعه مجاهدینو داوبو او خوراکي موادو زیرمې زیاتې کړې وي دوه میاشتې مسلسل وجنګیده خودا ځل دوښمن یوه **حیـــله** په کار واچوله صلحه یې وړاندې کړه مجاهدینو ته یې وعده ورکړه چې دباندې راوتلی شي او سودا او خریداري کولای شي

یو دوه ورځې همداسي وشول چې د مغلو او مجاهدینو ترمنځ داخستلو او خرڅولو بازار وچلیده خو په دریمه ورځ مغلو وعده ماته او په مجاهدینو یې حمله وکړه ډیر زیات یې شهیدا ن کړه او ۲۸۰ نفره یې بندیان کړه او قلع ته یې پیغام ولیږه چې دوی حاضر دي بندیان د نقدو پیسو په مقابل کې په قیمت ازاد کړي مجاهدینو خبره رد کړه او خپل ځانونه یې پټ کړل دقلعه دروازې یې خلاصې کړې دوشمن فکر وکړ هیڅوک نشته او قدم په قدم مخکې تلل چې ښه منځ ته شول یو دم یې دالله اکبر اواز راپورته او په مغلي لښکریانو یې داسې تاړاک جوړ کړ چې ماغزه یې ورته په سد کړه بالاخره مغلیان مجبور شول چې سیفرود او او دهغې شاوخوا سیمې پریږدي

**غور ولایت فیروز کوه ښارحمله :** فیروزکوه دهغه وخت افغانستان دغور ولایت مربوط وه مجاهدینو ۲۱ ورځې دشل زره چنګیزي لښکرو سره تر شهادته پورې جهاد وکړ خو متاسفانه چې دچنګیزي وحشت له وجه هلته صرف چپه شوې خاورې او وران بالا حصارونه په میراث پاته شول او نور هرڅه یې ختم کړل چنګیزیانو دافغانستان لوې لوې ښارونه چې د تمدن اواسلامي فرهنګ او دمرکزي اسیا دتجارت مرکزونه وه په څه حال کړه که هزاره قوم که ربښتیا هم دچنګیز له اولاده وي نو له شرمه دخپل پلارنه بیزاري او برات کوشش کوي او وایي چې مونږ دهغه اولاد نه یو دوي ګرم نه دي او پکار هم همداسي ده چې دداسي ظالم پلاراونیکه نه دبیزارۍ اعلان وشي

افغانان دالله مخلوق وه که دچنګیز مخلوق وه چې ټول یې قتل عام کول دا ظالم به انشاء الله دجهنم په اور کې سوځي چې ډیر بد ځای دورتګ دی که چیرې جهنمیانو ته وویل شي تاسوبه یو لک (۱۰۰۰۰۰)کاله وروسته له جهنم څخه ووځۍ هغوی به دخوشحالۍ اختر ولمانځي او له بلې خوا کوم انسانان چې دالله په لار کې په شهادت رسیدلي وي او جنت ته لاړ شي او بیا دوی ته وویل شي چې تاسو به یولک (۱۰۰۰۰۰) کاله وروسته له جنت څخه ووځۍ نو دوی به دغم ورځ ولمانځي واقعاً چې داخرت ژوند ډیر لویې او نه ختمیدونکی ژوند دی الله پاک دی زمونږ اوستاسو هغه لویه

زندګي نه خرابوي او الله تعالی دی دشهیدانو درجې اوچتې کړي او الله تعالی دی دهغوی شهادت په خپل دربار کې قبول کړي






**مرو قلعه :**چې اوسنی ترکمنستان هغه وختدافغانستان حصه وه   دمرو ښار لس اسلامي کتابخانې درلودې چې په هریوه کې یې ۱۲۰۰۰ کتابونه موجودوه او ټول دطالبانو ددیني علومو کتابونه وه متأسفانه دمرو په ساحه کې دمسلمانانو خپل منځي مذهبي اختلاف موجود وه چې شافعي مذهبي له حنفي مذهبوسره یوبل وژل او عوام خلک له دی وضعیت نه سخت تنګ وه چې له دې فرصت نه په استفادې تولي دچنګیز زویپه ۱۲۲۱م کال د اتیازره فوجیانو سره یوځای په مرو حمله وکړه دمرو خلک چې اکثره یې ترکمنان وه دښار نه دباندې وجنګیدل خو نتیجه یې مثبت نه وه مجیر الملک او نور دښار اشراف تولي ته تسلیم شول دسرمایدارانولست یې ترې واخسته او له ښاره یې ټول عسکر پرې ویستل او په اخره کې یې محبوسین  ټول له تیغه تیر کړل دتولي له تلو وروسته سید عزالدین نسابه سره دڅو کسانو دمړو دشمیر معلومولو په خاطر شروع شول او له ډیر تکلیف ۱۳ ورځې وروسته یې معلومه کړه چې په مرو کې یومیلون او دری سوه زره (۱۳۰۰۰۰۰) شهیدان شوي







څو ورځې وروسته  دکوچ نګین په نامه یو پهلوان را پیدا شواو دمغلو ضیاء الدین علي شحنه یې وواژه او په ۱۲۲۱م یوتعداد کسان سره راټول شول او دمرو اطراف کې یې دلته هلته مغل وژل شروع کړه . داخل دمغلو قراجه راغی او مرو یې داسې تخریب کړه چې نور دانسان داوسیدو څخه اووته او کوم انسانان چې هلته پاته وه ټول یې ونیول په ډیره بی رحمۍ یې اول بند په بند غوڅ  او بیایې په اور کې وسوځول

**دنیشاپور ښار( دهغه وخت افغانستان یو ښار وه ):**

کله چې خوارزمشاه ایران ته وتښتیده نیشاپور (مجیر الملک کافي رخي) (دمروي له مجیر الملک نه غیر ) ته وسپارل شو نیشاپور یوځل په۱۱۵۳م دغزانو لخوا وران شوی وو دا نوی ښار یوځل بیا د چنګیزیانو د خطر لاندې راغی دچنګیز زوم تغاجار دخپلو فوجیانو سره نیشاپور محاصره کړ مجاهدینو سخت مقاومت وکړ او دریمه ورځ تغاجار په خپله په غشي ولګیده او مردار شوسپاهیانو یې شاتګ وکړ او په سبزوار منطقه یې حمله وکړه دسبزوار مجاهدینو هم مقاومت وکړ خو وسع یې ونشوه او ناکام شول دمغلو فوجیانودسبزوار ټول نفوس چې اویا زرو ته رسیده په دسته جمعي ډول

په شهادت ورسول (تولي خان دچنګیز زوی) چې په تازه ګې سره یې مرو ښار ټول تباه کړی وه دټولو فوجیانو سره په ۱۲۲۱م نیشاپور ته راورسیده جنګ شروع شو ،







درې سوه منجنیق او درې زره نورو وسایلو دنیشاپور نه په دفاع کې سخت جنګ کاوه خو نیشاپور لا دمخه دقحط او دا ذوقې له قلت سره مخ وه خو سره له دومر تنګ دستې بیاهم مجاهدینو دنیشاپور نه دفاع کوله او له بلې خوا چنګیزیانو د غټ خان دزوم دانتقام عجله کوله هماغه وه چې دنیشاپور نه دوینو سیلاب روان شو دچنګیز لور خپله راغله او دخپل میره دانتقام لپاره یې امر وکړ چې دنیشاپور انسانان خو لاڅه کوې حیوانات یې هم پرینږدی څلورمه ورځ مغل دښار له هر طرفه په دیوالونو را واوښتل جنګ لاس په لاس دومره سخت شروع شه چې دښار یو ځای هم ترې پاتې نشونیشاپوري مجاهدینو په پوره ایمانداري جنګ وکړ خو له وسع یې تیره شوه سل زره مغلي فوج دچنګیز دلور له امر سره سم دنیشاپوري مسلملنانو په وژنه سر شول په نیشاپور کې یې هیڅ زنده سر پرینښوده ان تر دې چې په زراعتي زمکو یې اوبه را پریښودې چې ټوله خاوره یې په خرابه بدله شي او مجیر الملک یې هم ژوندی ونیوه او په شهادت یې ورساوه اوس نودافغانستان شمالي برخه تالقان ، بلخ ، غور ، مرو تر نیشاپوره دچنګیزي وحشت ، ظلم او استبداد په نتیجه کې مکمل تخریب او تسلط لاندې یېراغله او بیایې هرات ته مخه کړه

**د هرات په ښارحمله :**دهرات ښار زمونږدګران افغانستانیو له قدیمترینو اولرغونواو لویې ښارونو څخه دی داسلام له سپیڅلي دورې مخکې هم مشهور او موجود وه د ( مقدسي او ابن الحوقل )په وینا:هرات ښار دلسم میلادي قرن په اسلامي دوره کې څلور دروازې درلودې یوه یې ( باب سرای) دبلخ په طرف ، ( باب زیاد) نیشاپور په طرف ، ( باب فیروز ) دسیستان په طرف او ( باب کوشک) دغور په طرف









( نزهة القلوب حمدالله قزویني ) لیکلي : دچنګیزیانو تر حملې مخکې په یولسم او دولسم میلادي قرن کې دغوریانو دسلطنت په دوره کې هرات څلور سوه څلور څلویښت زره کورونه او دولس زره دوکانونه او( ۳۵۰ ) دیني مدرسې لرلې او دنړۍ په سطحه ثروت مند ښار وو. په ۱۲۲۱م دچنګیزیانو دحملې په وخت کې دهرات حکومت د ملک شمس الدین جوزجاني په لاس کې وه ځکه مخکینی حاکم امین الملک خوارزامي دسلطان جلال الدین ماما یو کال مخکې دمغلیانو دراتګ څخه تبتیدلی وه کله چې تولي خان دچنګیز زوی هرات ته راورسیده ملک شمس الدین جوزجاني ته یې خپل نماینده ولیږه تر څو تسلیم شي مجاهدینو چې چنګیزي لښکریانو ته دتسلیمې هوډ نه درلوده

دتولي نماينده اعدام كړ او جهاد يې عملاً اعلان كړ ښار محاصره شو جنګ په شدت سره شروع شه په اومه ورځ ملک شمس الدين چې دمجاهدينو په سر قطار كې جنګيده په شهادت ورسيده دده له منځه تګ نورو ته دتسليمي بهانه جوړه كړه دتولي سره خبره وشوه او هغه هم دامن وعده وركړه ښار ورته تسليم شو خو دولس زره مجاهدين چې دښار دفاع يې كړې وه ټول په شهادت ورسول خو تولي خان دښار دويجاړولو څخه تيرشو ځكه دهرات ښا يست دې ته وهڅاوه چې وران يې نكړي .
تولي خان نور نو په عجله كې وه ځكه پلار يې (چنګيزخان ) دتالقانو نصرت كوه قلعه محاصره كړې وه او نيولى يې نشوه د كمک لپاره تالقانو ته ورغى .
څه موده تيره شوه مجاهدينو بيا دملک مبارز الدين او ملک فخرالدين په مشرې پخپلو كې سره قسم اوتعهد وكړ چې تر اخرې سلګې به ددوشمن سره دخپلې دفاع په خاطر جنګيږو ، چنګيز خان چې دهرات له مجاهدينو خبر شو چې قيام يې كړى خپل زوى تولي خان يې سخت ورټه چې زما دقتل عام او مكمل تخريب له پيروى دې ولى سرغړونه او انحراف كړى په دغه وخت كې تولي خان د اتيازره فوجيانو او پنځوس زره حشري په اوسنى اصطلاح اربكيانو په ملتيا دهرات په طرف راغى او امر يې وكړ چې يو ژوندى شئ درڅخه پاته نشي مغوليانو دخپل خان دخبرې دتعميل لپاره له ټولو هڅو شپه او ورځ كار واخسته  او داسې جنګيده چې په هره حمله او ميدان جنګ كې به دمړو شمير پنځه زره كسانوته رسيده دې جنګ شپږ مياشتې او اولس ورځې  دوام وكړ مغولي فوج ته دڅلور طرفه ټول اكمالات كيدل او مجاهدينو ته ديو طرف هم خوراكي او نور څه نه رسيدل خو بياهم يې په پوره ميړانه او ايماندارې مقابله روانه وه تر دې چې نورنو ددوشمن دتيګو په ګذارونو دښار ديوالونه داسې سورې سورې شول لكه دمچيو جال او بالاخره ديو ديوال پنځوس متره وغورځيده چې دهغې لاندې څلورسوه چنګيزي لښكريان مړه شول . او دهرات په وړو تګومجاهدينو حملې نورې هم سختې شوې چې په ١٢٢١م د (ايلچكداي) عسكر دخاكسترې برج له لارې ښار ته ننوتل  او اوه ورځې او شپې دښار په داخل كې جنګ او وينه تويونه روانه وه تر دې چې نارينه زنانه او ماشومان ټول په شهادت ورسيدل او په ښار كې يو ساه اخستونكى پاته نشو.
قاضي جوزجاني ليكلي دې چې : په هرات ښاركې اوه سوه زره او دهرات ښار شاوخوا سيمو كې دوه ميلونه او څلورسوه زره انسانان دمغولو لخوا په شهادت رسيدلي وه ورورسته چنګيزيانو دهرات ښار دارايي  چور او دښار ابادي يې تخريب  او وسوځوله  ايلچيكداى خپل فوجيان دښار له ساحې څومنزله وړاندې بوتلل او له هغه ځايه يې دوه زره فوجيان بيا ښار طرف راوليږل ترڅو هغه كسان چې له دوى ژوندي پاته شوې وي ختم كړي كله چې د ښار كنډوالو ته راغلل رښتياهم درې زره كسان له خپلو پناګاو راوتلې وه او سره راټول شوي وه هغه يې هم ټول له تيغه تير او سرونه يې ورغوڅاو په شهادت يې ورسول .  ډيره موده وروسته  معلومه شوه چې دهرات له ښارهفقط شپاړس نفره ژوندي پاته شوي( انا لله وانا اليه راجعون ) دمجاهدينوټاټوبي هرات ته سلام

**په سيستان حمله :**سيستان دهغه وخت افغانستان يوه حصه وه چې بلوچستان يې تر څنګ دى كله چې تولي خان  دافغانستان دشمال مغربي حصواو ولايتونو لكه مرو، نيشاپوراو هرات  دانهدام او تخريب  نه فارغ شو يو څه فوج يې سيستان ته وليږه چې ددى ولايت مركز كې ملک نصرت الدين بن بهرامشاه دجنګ او محلي امير وه محاصره شو جنګ دوام وكړ ملک نصرت الدين شهيد شو مغلو نور فوجيان د(منكده چربي او سعدي چربي ) په مشرې راوليږل  دنصرت الدين پر ځاى يې ورورملک ركن الدين محمود دجنګ امير وه خو ناكام شو او دى هم سره له كورنې په شهادت ورسول شومغلو سيستان ښار ونيوه برجونه ديوالونه هرڅه يې منهدم اوتخريب كړه او دښار اكثره خلک يې په شهادت ورسول . قاضي منهاج السراج جوزجانيليكلي :كله چې مغل دسيستان ښار ته راورسيدل دسيستان مسلمانو مجاهدو خلكو نارينه ، زنانه او ماشومانو جنګ شروع كړ تر دې وجنګيده چې ټول شهيدان شول ( ٢ج طبقات ١٢٨ص)  يوڅه وخت وروسته  تاج الدين نيالتكين

خوارزمي دچنګيزيانو خلاف قيام او دجهاد اعلان يې وکړ دهغوي مقرر حکمران توله کورنې يې له منځه يوړه دسيستان ارګ يې له سره ترميم کړو خو په ۱۲۲۷م کال مغلو بيا په سيستان حمله وکړه سيستاني او غوري مسلمانو مجاهدينو په ډېرقوت او ميراني سره دکفارو يو کال او اوه مياشتې مقابله وکړه اخر نيالتګين زخمې او ونيول شو بيا اعدام کړی شو چنګيزي لښکر قلعه ونيوله او ټو ل مسلمانان يې په شهادت ورسول او دسيستان ابادي يې توله ورانه کړه

**په پروان حمله :**له يوې خوا په افغانستان د چنګيزي لښکرو سيلاب راروان وو او له بلې خوا په غزني او پښاور کې داخلي حکمرانانو لکه اختيار الدين محمد بن علي خرپوست غوري دپښاور والي چې په خلکو کې يې ښه شهرت لرلو ځکه دتالقانو قلعه نصرت کوه لس کاله دخوارزمشاهيانو دتسلط نه ازاده ساتلې وه يولک مجاهدينو سره له پښاوره غزني ته دمغلو مقابلې ته راغې شمس الملک اوصلاح الدين غوريان د امين ملک خوارزمشاهي په اشاره چې اختيارالدين يې دوشمن وه دمهمانې په بهانه په خائنانه ډول په شهادت ورساوه










سبا چې مجاهدين دخپل رهبرله شهادته خبر شول ټول تيت اوپرک واپس لاړل ځکه دوې نه غوښتل دشمس الملک او صلاح الدين تر مشرې لاندې پاته شي سلطان جلال الدين دهرات له لارې غزني ته راروان شو امين الملک شمس الملک په همدي تور(داختيار الدين په قتل) ونيول او دا بل صلاح الدين کوتوال يې دغزني والي مقرر کړو او خپله د تورزوی استقبال ته ووت په دغه وخت کې دملکانو او اميرانو په منځ کې ډېر مړي او له يوبله نفرت دخلکو په منځ کې بيخي زيات شوی وو خو په جلال الدين خلک راټول شول او يولک (۱۰۰۰۰۰) مجاهد فوج يې تيار کړ او دکابل له لارې پروان ته دمغلو مقابلې ته راغی هلته يې عسکر ځای پر ځای کړه اوخپله دغوربند ( دباميانو لاره)تعقيب کوله چې خبر شو مغلو د (واليان) قلعه محاصره کړې دهغوي پسې روان شوچې په دغه محاصره کې دمغلو يوټولی زر نفره وه ټول ختم کړه ( دچنګيز عسکري تشکيلات زر زر نفري وه يا هزار هزارنفري نوځکه هزاره قوم ته هزاره ويل کيږي چې دهماغه عسکري تشکيلاتو څخه پاته شوي او دلته هلته ميشت دي لکه چغتايي ولسوالی کې هزاره قوم پروت دی او چغتايي دچنګيز زوی وه ) باقي يې وتښتيدل او تخارستان ته دچنګيز خواته لاړل . چنګيز چې دجلال الدين له دې فتحې خبر شو له ډاره يې دتخار (ولخ قلعه )محاصره خوشې کړه او وتښتيده او پروان ته يې ۴۵۰۰۰ پنځه څلويښت زره فوج دجلال الدين مقابلې ته راوليږه جلال الدين ښه په نره دوه ورځې مقابله وکړه او چنګيزي لښکر يې ډېر زيات مړه او بنديان کړه تر ډېره ځايه ورپسې وه خو هغوې

دډیرو تلفاتو په ګاللو سره چنګیز ته ځان ورساوه په دی جنګ کې دمجاهدینو فتحه په ټول ملک کې خوره شوه او یوځل بیا په افغاني مجاهدینو کې دکامیابۍ ولوله راژوندی شوه
همدا علت وه چې دافغانستان په هر کنج او کنار کې دچنګیز ي لښکریانو خلاف کار روایي شروع شوه او هر ځای به چې د چنګیز فوجي لیدل کیده وژلو به یې خو متاسفانه دهمدې جنګ مشران جلال الدین ، سیف الدین چې د ۴۰۰۰۰ څلویښت زره فوج افسران وو ،اعظم الملک دننګرهار والي ، امین الملک دجلال الدین خسرپه خپلو کې د غنایمو تقسیمولو په سر په یوه اسپه داسې وران شول چې ټول قوت یې ختم شواو هر یو خپل ځای یعني پشاور ننګرهار او سند ته لاړل . چنګیز چې له دی بې اتفاقي خبر شو او په تازه ګې یې بامیان او تخار هم فتح کړې وه په ډیر سرعت سره حتی چې په لاره کې یې دخوراکي موادو پخولو ته هم اجازه نه ورکوله ځان غزني ته راورساوه هلته خبر شو چې جلال الدین سند ته تللی له غزني څخه دسند په طرف په حرکت کې شو او بالاخره دجلال الدین په قرارګاه ورپریوت سلطان جلال الدین نوره دتیښتې لاره نه درلوده داوه سوه سورو فوجیانو په منځ کې یې ځای ونیوه دسلطان ښي طرف امین ملک او اته کلن زوې یې فرمان صادره وه خو چنګیز محاصره له درې طرفونو وکړه او ښی طرف فوج یې ختم او زوی یې ورته دونیمه کړ امین ملک غوښتل پشاور طرف وتښتي دمغلو لاس ته پریوت او له تیغه تیر شوخو سلطان جلال الدین په ډیر جرات سره دزرګونو چنګیزي فوج سره جنګیده چنګیز ډیر حیران وه دجلال الدین مور او کورني یې سلطان ته پیغام ولیږه چې مونږ حاضر یو سیند کې ځانونه غرق کړو ځکه دچنګیر له بند او اسارت نه به خلاص شو خو دجنګ شغلو سلطان ته دا فرصت ورنکړ او کورني یې ټول بندیان او له تیغه تیر شول سلطان پخپله دځو فوجیانو سره دسیند نه پورې وتل او څه زیورات چې ورسره وه هغه یې ټول په سیندکې خطا کړل چنګیز بیا هغه راویستل چنګیز خپل زوی اوګتای دفوجسره یو ځای غزني ته ولیږه چې غزني ټول سره له خلکو مکمل ختم کړي او دوهم زوی چغتای یې هم دفوج سره یو ځای دسیند ولایات مکران زابلستان سره دانسانانو داسې تخریب کړې که سلطان جلال الدین راشي اوهیڅ ځای دناستې پیدا نکړي زامنو یې دپلار دوینانه لا زیاته بیرحمي وکړه چنګیزخان چې دافغانانو عمومي قیام څخه خبر شو وې ویل چې دا خو ما ټول مړه کړې وه بیا څنګه را ژوندې شول دا ځل دهر مړي سر له تني جدا کړی ځکه دا بیا را ژوندي کیږیدچنګیز ددې احکامو په اساس یې ټول افغانستان یوځل بیا قتل عام کړ او ابادیانې چې څه پاته وې هغه یې هم ختمې کړې (ج ۱ص۲۲۵ افغانستان در مسیر تاریخ ) چنګیز دجلال الدین په تعقیب د(توربای نقشي ) په مشری سیند ته فوج ولیږه هغه ډیر تپ او تلاش وکړ خو پلاس ورنغلوخو سند کې دې فوجیانو ډیر تاراج او بربادي وکړه او واپس نامیده چنګیز ته راغلل چنګیز نور نو دافغانستان جنګونو دومره ستړی کړی وه چې دهند نیولو ته اوزګار نه شو دغه ۶۸ کلن ظالم انسان په خپل ځان کې دضعف احساس وکړ چې نور نو بس دی هماغه وه چې حکم یې وکړ کوم کسان چې ورسره بندیان دي په هغوې دهر چنګیزي سپاهي لپاره څلور سوه منه وریجي پاکې کړي او بیایې ټول په یوه شپه اعدام کړه چنګیز دکرمان ( اوسنې کورمه پاړه چنار ) له لارې بامیان بغلان او بلخ ته ځان ورساوه هلته یې ولیده چې په بلخ کې څه خلک سره راټول شوي او خپل وران کورونه جوړي امر یې وکړ چې کورونه له سره تخریب او دوي دپسونو په شان حلال کړې او خپله ۱۲۲۲ م دجیهون له تیریدو سمر قند ته لاړه هلته خبر شو چې دچین خلکو طغیان کړی دهغوی دتابع کولو په خاطرتنکوت( دتبت شمال ) ته یې عسکر کشي وکړه او هلته یې دعمر په اخري ورځو کې دومره قتل عام وکړ چې دانسانانو وینې وبهیدلې او بیا پرې مرض غلبه وکړه او په ۷۲ کلنې کې په داسې حالت کې مړ شو چه دنړې ټول اسلامي تمدن او په میلونونه مسلمانان یې له منځه یوړه خو دافغانانو قربانیو شرقي نړې له دې وحشي انسان دظلم او بر بریت څخه بچ کړه

# دریم فصل

## په افغانستان دتیمور لنګ(ګوډ تیمور) حملې

### ۱۳۳۳م ــــ ۱۴۰۴م

دتیمورګورګاني ښکاره کیدو لامل دا وه چې دچغتاي (چنګیزي) حکومت اداره مخ په ضعف روانه وه هر خان په هر ځای کې چې حکمران وه په خلکو یې ظلم اوزیاتی کاوه دمغولو ملک الطوایفي خوره شوه او چغتایانو( چنګیزیانو )حکومت دوه برخې شو یو دماوراء النهر اخوا او بله دیخوا کاشغر ستان کې په دغه وخت کې یوداسې حکومت ته ضرورت وه چې توله علاقه بیا سره یوه کړي ددې کار لپاره یو غیر اشرافي امیر (قزغن) دسیاست میدان ته راغی دچغتایانو هر امیر به یې چه نه وه خوښ پر ځای به یې بل کښیناوه په خلکوکې دتاج ښښونکې په نامه مشهوروه.




تیمور هم دهمدې تغیراتو په لړ کې یو له هغه ځوانانو څخه وه چې دامیر قذغن دربارته راغی هغه هم داځوان منګباش (هزار باش یا دزرو نفرو) دلګۍ مشر مقرر کړو او دخپل خاندان څخه یې ورته یوه ښځه د ( الجای خاتون ) په نامه ورکړه امیر قذغن چې کله په هرات حمله کړې وه د هرات له کرت حکومت سره یې صلح وکړه چې په دی سره دده افسران مخالف شوه هغوی دیخوا په شان غوښته هرات ښار بیا تخریب کړیخو دا مخالفت زیات شو قذغن یې مړ کړ تیمور خپل ملګری له لاسه ورکړ او دخپل کاکا (حاجي برلاس ) چې دبرلاس ( تورک) قبیلې مشر وه سره یو ځای شو خو خپل ځان یې مستقل ګاڼه او ۲۵ کلن وه

تیمور د ( ترغای ) زوی چې پلار یې د ترک برلاس قبیلې دنظامي افسرانو څخه وه د ازبکستانشین ښار یاشهر سبز له ځایه وه مور یې ( مکنه خاتون) وه او تیمور په ۱۳۳۳ م کال پیدا شوی دقذغن له مرګه وروسته دتیمور پلار( ترغای) هم مړ شو تیمور په شنه ښارکې یواځې پاته شو ، تیمور په دري ژبه پوهیده ، مسلمان وه عالمانو ،پوهانواو مذهبي روحانیونو ته یې احترام او عقیده درلوده دشیخ شمس الدین کلار شین ښاري مرید وه خو متأسفانه چې دا وضعیت دده د بدواعمالو مانع نه وه بلکه ازاد وه لمونځ یې کاوه صدقه یې ورکوله خوشراب یې هم خواړه.

تیمور بې همته ، جنجالي ،دروغجن ، وینه تویونکی ، ظالم، سرسخته ، خود خواه او عجول انسان وه دخپلو مشاورینو مشورو ته یې هیڅ اعتناء نه کوله ښه شکارچي او غشی ویشتونکی وو ښه اسپ سواروه ډیر مزل یې په اسپ کاوه دقبچاق په نیولو کې یې ۱۸۰۰ میله مزل په څلورنیمو میاشتو کې کړی وه په اویا کلنۍ کې دڅمر قند نه تر استنبول پورې چې ۲۰۰۰ میله مسافه وه په اسپ ووهله۱۸ نکاح ګانې یې لرلی او دخپل لمسي ( محمد سلطان میرزا ) په مرګ کې یې داسي ژړل لکه ماشوم تیمور ډیر کلک زړی او خونخوار سړی وه تیمور په نړی نیونه کې دچنګیز په شان وه او ویل به یې چې چنګیز خان ددونیا غټ قهرمان او دپیروۍ لایق دی تیمور ترکي الاصله کوشش کاوه چې هغه مغلو ته ځان منسوب او نژدی معرفي کړي چې دتاریخ په تیریدو سره داریایي او اسیایي نژاد سره مخلوط شوي وه او ځان له یې ترکان ویل .

تیمور چې کله اسیای میانه کې شهنشاهي جوړه کړه درباریانو ته به یې ویل دونیا ورکوټې ځای دی ډیر بادشاهان پکې نه ځایږي تیمور دچنګیز پالیسي ، وژنه ، نړی نیونه او دښارونو تخریبول یې قدم په قدم تعقیباو هفقط دچنګیز سره یې دا تفاوت وه چې هغه به مدرسې ، جوماتونه ورانول او

ملايان يې وژل خو ده دا کار نه کولو او په اخره کې يې دساز اوسرود ټول الات مات او شرابو څکلو څخه يې توبه وکړه او دخپلو هغوقتلونو چې مسلمانان يې وژلي وه جبيره وکړي ځکه تردی وخته يې ټول مسلمانان وژلي وه په چين يې جهاد اعلان کړ

په هغو مناطقو چې تيمور حملې کړي او دانسانانو په شمول يې ټوله ابادي له منځه وړې په غير له افغانستانه يولنډ مرور کوم او بيا دافغانستان دمجاهد ملت مقاومت په باره کې لږ مفصل معلومات وړاندې کوم

**په خوارزم حمله:** په ١٣٧٢م ـ ١٣٧٥م ـ ١٣٧٩م ـ ١٣٨٧ م کلونو کې څلور ځل په خوارزم حملې وکړی حسين صوفي دخوارزم واکمن له ډېر مقاومت وروسته مړ شو او په ځای يې يوسف صوفي کيناسته او هغه ناکام شو تيمور دخوارزم ښار داسې وران کړ چې تر دری کلونو هلته يو زنده سر پاته نشو

چې کله ښه مطمئن شو چې دمغلو طرفداران نو ر ختم شوه بيا يې دښار دجوړولو امر ورکړ

**د قبچاق حمله :** توقتمش يو کس وه چې دقبچاق (مسکوته نژدې ) د مغلي بادشاه زوی يې وژلی ووا و پناه يې تيمور ته راوړې وه تيمور له ده کار واخسته فوج يې ورسره کړ او په ١٣٧٧م کې په قبچاق دحملې لپاره وليږه دقبچاق بادشاه مړ شوی وو او په ځای ناستي ته يې شکست ورکړ او بادشاهي يې ونيوله او په ١٣٨٧م کې يې په مسکو حمله وکړه دهغې ځای شهزاده ګان يې بنديان کړه او مسکو ښار ته يې اور واچاوه .






توقتمش مغل په ١٣٨٤م ـ ١٣٨٦م کلونو کې دوه ځله په ماوراء النهر او ايران حمله وکړه ښارونه يې چور کړه تيمور پوه شو چې دا زما حريف جوړشو نويې دله منځه وړلو کوشش شروع کړ تيموردير زيات دده په له منځه وړلو کې تکليف اوچت کړخو قبچاق، استراخان او والګا ښارونه يې ترې ونيول او مکمل يې تخريب کړه چې يو کور هم پاته نشو

**دکاشغر حمله :** تيمور دکاشغر چغتايي (چنګيزي) دولت دله منځه وړلو په خاطر يې خپل زوی جهانګير وليږه هغه کاشغر فتح کړ خو قمرالدين بادشاه وتښتيده او دجهانګير له راګرځيدو وروسته بيا قمر الدين راغی او کاشغر يې ونيوه توقتمش دقمرالدين سره يوځای شو دوه کاله وروسته تيمور دمغلستان دنيولو لپاره دوه ځلې لښکر وليږه ښارونه به يې لوټ کړه او بيرته به واپس شول

( قاشغرد چين د شينګ چيانګ دسېمي لرغونپوتاريخی ښار دی چې ډيری اوسيدونکي يې د ايغوري قوم له مسلمانانو څخه دي چې دچين کمونستي حکومت له پلوه په ميلونونو مسلمانان بنديان دي او خپل عبادت ته يې نه پريږدي او دفابريکو شاقه کارونه پرې کوي.

دا ښار د اته هېوادونو سره ګډي پولې لري چې د افغانستان په شمول قرغيستان، پاکستان او تاجکستان هم شامل دي.قاشغر د ستراتيژيک موقعيت له مخي د وريښمو د لاري خاص نښلوونکي

ښار دي چي چين ، منځني ختيځ او اروپايي هېوادونه سره نښلوي. قاشغر نه يوازي د اقتصاد له پلوه يو خاص موقعيت لرونکي ښار دی بلکه په چين کې د اسلامي تمدن او د چين دمسلمانانو يوه ښه بيلګه ده







.په قاشغر کې ډېری اوسيدونکي مسلمانان دي او دلته د اسلامي ښووني مرکزونه هم شته د لوي عيدګاه د جوماتونو تر څنګ ۱۵۰ لرغونی تاريخ لرونکي مسجدونه هم شته چی تر ټولو پخوانی او د لرغونو ابداتو په قطار کي خاص ځای لري.د اټغر په نوم د عيدګاه او لمانځه لوی جماعت ، دا عيدګاه په ۱۴۶۸م کال کې جوړه شوې ده چي شاوخوا ۵۰۰ کاله تاريخ لري)

**دايران حمله :**تيمور په ۱۳۸۳ م کې په ايران حمله وکړه ويې نيوه په ۱۳۸۵م کې يې اذربايجان ونيوه ، په ۱۳۹۴م مازندران ، عراقين او دياربکر ونيوه چې دانسانانو له سرونو څخه يې منارونه جوړ کړه بيا يې ګرجستان ونيوه او دهغې نه وروسته يې په اصفهان کې داسې قتل عام وکړ چې داويازرو انسانانو دککريو څخه يې يو منار جوړ کړو

**دشام او اسياي صغير(ارمنستان او ترکيه)حمله :**تيمورلنګ په ۱۴۰۰م کال دمشق ته لاړ هلته دمصري فوج سره مخ شو هغه يې مات کړو او دمشق ښار يې چور او بيايې ورته اور واچاوهتيمور له شام نه بيا عراق ته راغی دعراق بادشاه سلطان احمد جلاير دعثماني خلافت سلطان ته يې پناه وړی وه ونيوه او هلته يې ۹۰۰۰۰ نويزره کسانو قتل عام او د۱۲۰ سرونو منار يې جوړ کړ داسيا ی صغير تاسيواس په ښار کې يې ۴۰۰۰ ارمنيان ژوندي په اور کې وسوځول او زر کسه رومي عسکر يې ژوندي په قبرونو کې خښ کړه

**دعثماني خلافت له منځه وړلو حمله :**په عثماني خلافت اروپايانو دصليبي جنګونو په نامه سخت جنګ وکړ دعثماني خلافت خليفه سلطان يزيد يلدرم دهغوي سره وجنګيده او سخت شکست يې ورکړ تر دی چې دروم امپراتور جزيه ومنله قسطنطنيه کې مساجد او اذان او قاضيان يې ومنل خليفه غوښتل دقسطنطني دنيولو وروسته خپل خلافت دری طرفه اسيا اروپا او افريقا ته ورسوي






چې په دغه وخت کې تیمور ۱۴۰۲م کال د۱۶۰۰ زره فوج سره په خلافت حمله وکړه ددوی دجنګ یو علت دا ښودل شوی چې د ازربایجان او زنجان دایالتونو دمالیي دراټولولو په سراختلاف پیدا شواو بل یوکس دتیمور دوشمن عثماني خلافت ته پناه یوړه او خلافت دهغه ننګه وکړه چې دا تیمور بهانه دجنګ جوړه کړه خلیفه سلطان یلدرم دتیمور د۱۶۰۰ زره فوج مقابله کې ۱۲۰ زره فوج مقابلې ته ددفاع لپاره راویستل او په دغه فوج کې داسیای میانه تازه او نابلد سواریان هم وه هماغه وه چې خلیفه ناکام شو او سره له کورنۍ دتیمور ګورګاني لاس ته پریوت تیمور دخلیفه احترام وکړدده کورنۍ یې په عزت سره دخپل ځان سره روانه کړې وه خو دخلیفه یلدرم دا خفګان برداشت نشو کړای او په لاره ( آق ښار )کې یې ساه ورکړه تیمور بیاهم دخلیفه بچیانو ته مړی وسپاره او په عزت یې خښ کړ.

دعثماني خلافت دناکامۍ ډونډورې په ټوله نړۍ بالخصوص اروپا کې خورې شوې کفار ټول حیران او خوشحاله وه ( څلورم هانري ) دانګلستان بادشاه او (شپږم شارل ) دفرانسی بادشاهدتیموردربار ته تحایف او دخوشحالۍ پیغامونه راولیږلدمصر بادشاه ملک ناصر د مصر په خطبو کې دتیمور نوم ځای پر ځای کړ تیمور اضمیر داوسنې ترکې یو ښار هم ونیوه اوبیا ازربایجان ته راستون شو

**دهندو ستان حمله :**تیمور په ۱۳۹۷ م کال خپل یو لمسي ( پیر محمدمیرزا ) یې دهندوستان دنیولو لپاره ولیږه پیر محمد میرزا دیو پښتون سارنګ خان د ملتان حاکم سره څو میاشتې وجنګیده د۱۳۹۸م کال په اوایلو کې تیمور دسیند په طرف حرکت وکړ اول یې سیند لوټ کړ بیا دهندوستان سرحدي ښار دامن کوه بیا یې جمو اوچناب کې انسانان قتل عام او ښارونه یې چور او ابادیو ته یې اور واچاوه نور مخې ته لاړیو لک بندیان یې ونیوه او په ډهلي کې یې دټولو نه سرونه غوځ کړه او ډهلي یې هم ونیوه

# تیمورګورګاني او دافغانستان مجاهد ملت

تیمور دافغانستان سره ډیره مینه لرله څو څو ځله افغانستان ته راغلی وو او کله چې تیمور خپل امارت اعلانولو په افغانستان کې وه په بلخ کې یې دهندوانو قلعه له منځه یوړه په ۱۳۸۰م کال دسرخس حاکم ملک فخرالدین ورته تسلیم شو

او بیایي دهرات له فتحې وروسته دغور حکومت ورته وسپاره په ۱۳۸۱م کې تیمور په پوشنګ حمله وکړه دسخت مقاومت سره مخ شواو زخمي هم شو خو بیا یې هم ونیواو ټول پوشنګ یې تخریب او خلکو ته یې سخته سزا ورکړه

کله چې بیا هرات ته راوګرځیده ملک غیاث الدین دکرت حکومت بادشاه دښار دروازې وتړلې او څلور ورځې وروسته ددوي منځ کې صلح وشوه او تیمور ته یې باج ومانه خو تیمور امر وکړ چې دهرات ښار دیوالونه ټول ختم او دکرت بادشاهانو چې کومې لوحې ځوړندې وې هغه یې ټولې شین ښار ته انتقال کړې تیمور نیشاپور ته لاړه امیر علي موید ورته تسلیم شو












او بیا اسفراین ته لاړ داسفراین قلعه یې ختمه کړه ، بیا کلات ته لاړ دکلات حاکم علي بیګ ځخه یې کلات ونیوه بیا ترشیز ته لاړه هغه یې ونیوه اوبیا مازندران ایران ته لاړه









دهرات کرت حکومت ټول بندیان یې ثمرقند ته ولیږل ملک محمد کرت دغور حاکم ددې وضعیت نه خفه شو دغوریانو په ملتیا یې دتیمور خلاف قیام شروع کړ او عسکر یې هرات ته راولیږل هرات یې په زور سره ونیوه او دتیمور چې څومره عسکر وه هغه ټول یې ووژل میرانشاه دتیمور زوی چې په مرغاب کې یې قرارګاه نیولې وه سمدستي یې خپل فوج هرات ته راولیږه هرات چې دیوالونه یې پلار تخریب کړې وه په ډیره اسانۍ سره ښار ته ننوته دهرات ډیر خلک یې مړه کړه میرانشاه دخپل پلار په شان دخلکو سرونه غوڅ او یو لویې منار یې ترې جوړ کړو چې کله تیمور دهرات له قیامه خبر شو غیاث الدین کرت او ورور او زوي یې چې دده سره بندیان وه ټول اعدام کړه او پخپله هرات ته راغی او دښار دتخریب امر یې صادر کړ خو دمخورو خلکو په غوښتنه دباج په ورکولو ترې تیر شو






خو باج دومره زیات وه چې خلکو یې توان نه درلوده خو دده عسکرو په زور سره اخسته چې بالاخره دزور په مقابل کې به سړی مړ شو تر دې چې تاریخ ۱لیکلي دومره کسان مړه شوه چې کوڅې له مړو ډکې شوې یوپه بل به پراته وه .
په همدې وخت کې دداود په مشرۍ د ( اسفزار ) خلکو قیام وکړ تیمور په ډیره عجله ورغی او داسفزار قلعه یې ونیوله اوخلک یې دومره مړه کړه چې دهرات واقعه ترې هیره شوه انا لله وانا الیه راجعون









، تیمور امر وکړ چې دخاورو یویادګاري منارجوړ کړی چې ختة او ژوندی انسانان پکې ولګول شي هغه وه چې په دیمنار کې دوه زره ژوندي انسانان په ختو کې په مصرف ورسیده

تیمور دفراه په طرف لاړه دفراه حاکم ملک جلال الدین تسلیم او بیا د ( زره )خواته لاړه هلته ورسره مقاومت وشو او ډیر تلفات یي ورکړه بیا دسیستان ( جلال اباد ښار)ته لاړ

هلته اشراف زاده ګان لکه شاه شاهان سیستاني ، تاج قلعه کي او سراج دتیمور فوج ته تسلیم شوه خو دسیستان امیر قطب الدین دخلکو سره وه دفاع او مقاومت شروع شو څو ورځې دتیمور فوجیان یې له ښاره دباندې راحصار کړې وه او ډیر تلفات یې ورواړولبالاخره ملک قطب الدین تیمور ته تسلیم شو تیمور دګزمې په حالت کې وه چې دښار دروازې یو دم خلاصې شوې او په زرګونه خلک ترې راووتل او شدید جنګ شروع شو چې تیمور په ورانه کې ولګیده ځکه خو په تیمور لنګ یا ګوډ تیمور مشهور شو خو اخر هم ښار ددوشمن لاس ته پریوته تیمور اعلان وکړ چې دخلکو ټوله دارایي راټوله کړې بیا یې ټول ووژل او ښار یې هم ختم کړو امیر تیمور په ۱۳۸۳م کې درستم بند هم تخریب کړو

تیمور ګرمسیر ته راغی هلته یې ډیر ورانی وکړا بیا قندهار ته په زور لاړ او دقندهار حاکم یې په دار وځړاوه

په ۱۳۸۸م کې دطوس خلکو قیام وکړ تیمور خپل زوی میرانشاه ورپسې راولیږه لس زره کسان یې مړه او دطوس ښار یې ختم کړو




په ۱۳۹۱م دکابل نه تر زابل او سند پورې دحکومت واګې دتیمور لمسي پیرمحمد میرزاپلاس کې وي او په ۱۳۹۶ م کې شاهرخ میرزا چې دلایق ترینو فرزندانو دتیمور څخه وه دافغانستان واک او حکومت پلاس کې ورکړ

**د تیمورمړګ :**تیمور مسلمان وه خو داسلام بنیاد یې وویسته په ټولو جنګونو کې یې په لکونو او میلونونو مسلمانان حتي عثماني خلافت یې هم ختم کړو غوښتل یې د ژوند په ا خر کې جهاد وکړي دچین کفارو ته یې تصمیم ونیوه چې پرې حمله وکړي امر یې صادر کړ چې دوه سوه زره فوج تیار کړئ په داسې حال کې چې ژمی او یخني وه څوزره اوښانې یې دشدواو تغذیې لپاره دفوج سره واخستې دجدي میاشت وه سیحون ته ورسیده تیمور سخت مریض شو قاریان یې وغوښتل تر څو دهغه نژدی دقرأن تلاوت وکړي او خپل حکومت واګې یې خپل لمسي پیرمحمد جهانګیر ( دکابل او زابل ) حاکم ته وسپارلې او په شعبان د۸۰۷ هـ ق یا ۱۴۰۴ م کې مړ شو







او چین له دی بلا څخه خلاص شو ( پورته څومره لیکنه چې شوې افغانستان در مسیر تاریخ مؤلف غلام محمد غبار له کتابه چې یو معتمد کتاب دی لیکل شوي )

**شاه رخ خان:** چې دهرات نائب الحکومه وه دده پرځای کېناسته او پایتخت یې هرات وټاکه دالمرنی سړئ وه چې دافغانستان ډېره یې کېښوده او علم دوسته انسان وه ډیري مدرسې او خانقاوې یې جوړي کړئ ۴۳کاله واکمنی وروسته په ۸۵۰هـ کې مړشو

**مرویس نیکه :** په ۱۶۷۳م=۱۰۸۴هـ ق کال زیږیدلئ دی پلار یې ښالم خان او دهوتکو دقوم مشر وه مور یې نازو انا ده چې په خوب کې ورته ښېټ نیکه ویلي وه لورې ! دمېرویس ښه پالنه کوه دده په اوږو ډېر غټ بار پرېوځي او دده په اولاد کې به نیکان شاهان پیدا شي چې ښا هغې به کله هم ده ته شدې ورکولې نو اودس به یې وکړو او تئ به یې ورکړو-



مرویس خان پښتو،عربي او فارسي دادیبانو په شان یاده وه ده لمړئ تجارت کولو چې تجارتي مالونه یې دخراسان نه هندوستان ته وړل ښا کله چې ایران کئ شاه حسین صفوي ۱۶۹۴م=۱۱۰۶هـ ق کال کې کامیاب شو نو ګرګین یې دخپلو ګرجستا نیانو سره یو ځای چې نوي مسلمانان شوي وه دخپل حکومت په استازیتوب کندهار ته راولیږل ګورګین چې ډېر ظالم انسان وه ډېر افغانان او دهغوی مشران یې قتل کړل خلک مرویس خان ته ورغلل دهغه څخه یې غوښتنه وکړه دګورګین خلاف زمونږ مشري وکړي هغه سودا ګري پرېښوده او دقوم خبره یې ومنله .
هغه اول دخپلو قومونو اتحاد رامنځته کړ ښا یې ګورګین ته ځان نژدې کړو خو هغه پرې اعتبار ونکړو دیو لیک سره یې اصفهان کې شاه حسین ته ولیږه چې ورته یې لیکلي وه چې مېرویس درغلو بندي یې کړه هغه تر نظارت لاندې ونیوه خوده پخپله پوهه وکولې شوه ځان ازاد کړي او ښا شاه حسین دیو رسمي فرمان په اساس ګرګین ته د مشاور په حیث راولیږه ګرګین له وارخطایی ترې وغوښتل چې زما ځوي ته لور راکړه مېرویس نیکه دخلکو په مشوره خپله یوه وینځه دخپلې لور په نامه هغه ته ورکړه خو مېرویس نیکه خپل قومي پاځون ته تیارئ نیولو دبلوڅو ،ترینو او کاکړو خانان یې وهڅول چې ګرګین ته مالیه مه ورکوئ ګورګین شېږزره پوځ سره دبلوڅو مقابلې ته ژوب ته لاړه او مېرویس خان ته یې هم وویل چې ته هم زما کمک ته راروان شه چې مېرویس خان داوه زره پښتنو عسکرو سره یو ځای ورپسې شو دشپې یې په ګورګین حمله وکړه هغه یې سره له لښکره ټول ووژل دهغوی لباسونه یې خپلو عسکرو ته واغوستله او کله چې دقندهار ښار دروازو کې خپل عسکر په راتلو ولېدل دروازې یې ورته خلاصې کړې ټول ښار ته ننوتل ښار یې ونیولو او دایراني فوځ په وژلو یې لاس پورې کړ ښا مرویس خان لویه جرګه جوړه کړه او ۱۱۱۹هـ ق =۱۷۰۹م کال یې خپل ځان باچا وټاکلو شاه حسین دخسرو خان چې دګورګین وراره

وه په مشرئ يې ديرش زره عسکر دمرويس خان دله منځه وړلو لپاره راوليږل خسرو دقندهار ښار محاصره کړ مېرويس خان دبلوڅو څخه کمک وغوښته هغوی هم دخسرو مقابلې ته راغلل خسرو يې ووژه او لښکر يې هرات ته وتښتيده دوه کاله وروسته صفوي شاه حسين درستم په مشرئ يو بل لښکر بېا قندهار ته راوليږه خو مېرويس خان هغه ته هم په ۱۱۲۶هـ ق کال ماتي ورکړه مېرويس خان نيکه په ۱۱۲۷هـ ق=۱۷۱۵م کال له دونېا سترګې پټې کړې هغه به ويل که تاسو سره يو نه شی نو دپرديو جغ له خپلو اوږو نه شئ لري کولئ

**نادر افشار :** په اصل ترک او درضا قلي زوی وه په ۱۷۳۴م کال سپه سالار مقرر شو دايرا ن له




حاکم څخه يې سترګې وايستې او په تخت يې کېناسته اوبېا يې دافغانستان د نېولو هڅې شروع کړې چې دهرات په شاوخوا کې ابدالي پښتنو ورسره مقاومت وکړو خوماتي يې ورنکړه چې بېا ابدالي پښتانه ورسره يو ځای شوه او قندهار چې دغه وخت غلزاي(غلجي) کورنئ پکې حاکمه وه ونېوه بېا په ۱۷۳۸م کال يې کابل ونېولواو ۱۷۳۹م کال يې ډيلی ونېولو او خلک يې قتل عام کړه دا ډير ظالم سړئ وه چې دخپلو شاهي محافظينو لخوا دشپې ترې سر پرې کړی شو احمدخان سدوزوي چې دنادر افشار دپوځ افسروه ټوله شپه د۳۰۰۰ فوجيانو سره يو ځای ويښه تيره کړه سبا افشاري او قزلباشي اله ګوله کونکو سره په جنګ بوخت شو چې په پاي کئ ۱۷۴۷م کال احمد خان(احمد شاه بابا) کامياب شو

**احمدشاه بابا ــ ۱۷۴۷م :** احمد شاه بابا دنادر افشار ټوله بادشاهي او تخت او مالونه يې قندهار ته رانقل کړه احمد خان چې پلرونه يې له کلونوکلونو مشران پاته شوي وه چې په شير سرخ کې يې لويه جرګه راټوله کړه احمدخان يې پاچا وټاکه په ۱۷۴۸م کال يې دکابل په طرف حرکت وکړغزنئ، پيښور او داباسيند تر غاړو ورسيده دهند امپراطور ديو لک پوځ سره مخي ته راووت خو جنګ ونه شوپه ۱۷۴۹م کال هرات ته بېا دشمال ټول ولايتونه تر مشهده ونېول په ۱۷۵۰م کال دده دامپراطورئ سرحد له اباسيند څخه تر بحيره عرب او امو څخه تر ايران دښتو پورې وغزيده په ۱۷۵۲م کال پنجاب کشمېراو ملتان هم ورشاملې شوې په ۱۷۵۳م کال يې دهلئ



احمد شاه بابا ۱۷۴۸ م

ونېولو بيايه۱۷۶۱م کال ډهلي بغاوت وکړ او احمدشاه بابا پرې ورغئ دپاني پت په مېدان کې د۳۰۰۰ زره مرهټيانو سره وجنګيده کامياب شو دده لښکر پدغه وخت کې۶۰زره کسه وه ۲۲بنديان ۵۰۰پيلان ۵۰ زره اسونه ۲لکه غواګاني او څوزره اوښان دغنيمت په توګه له هند څخه راوړل ۱۷۶۹م کال خراسان کې بغاوت وشو احمدشاه بابا پسې ورغلو هغويې تابع کړل خو دی مريض وه چې دايې اخري سفرشو داحمد شاه بابا دامپراطورئ حدود په ختيځ کې هندپه لويديځ کې مشهد شمال ته امو سيند جنوب ته دعرب سمندرګي پورې وې او په۱۷۷۳م کال کې مړ شو دده ځوی



اعلیحضرت تیمورشاه غازی شہنشاه افغان (۱۱۸۷ هـ ق)
S. M. Timour Chah Empereur Afghan (1773)

**تيمورشاه :** په تخت کېناسته دده له زماني څخه د داودخان تر پادشاهئ پورې ټول واکمنان چې ورونه او تره ځامن وه په خپلوکې لکه ماران او لړمانان يوبل سره خوړلي چې دده زمانه کې هم سختې قومي شخړې راپورته شوې او له قندهار څخه يې پايتخت کابل ته رانقل کړ خو دپلار امپراطوري يې په خپل ژوند کې ساتلې وه

او په ۱۷۹۳م =۱۲۰۷هـ ق کال مړ شو  دتیمورشاه ۱۰ ښځۍ وي چې یوه یې دهند دعالمګیرثاني پاچا لور وه کله چې احمد شابابا مرهټیانو ته ماتي ورکړه نو دعالمګیر لور یې خپل زوی ته وکړه او له تیمورشخه۲۴ ځامن پاته شوه هرېوه یې دبادشاهۍ دعوه کوله او په دې کشمکش کې یې یو دبل سترګې وایستلې مهم یې دا وه : همایون ،محمود،زمان،فیروز الدین او شجاع چې بیا وروسته په شاه شجاع بدل شو دتیمور تر مرګ وروسته

**زمان (شاه زمان)** باچا شو دده ورو دقندهار والي همایون یاغي شو خوبغاوت یې مات او



سترګې یې ترې وایستې په ده پسې یې بل ورومحمود دهرات والي بغاوت وکړچې پخپل بغاوت کې کامیاب او دشاه زمان سترګې یې وایستې فیروزالدین هم یووخت دې لوبې ته راودانګل خو دا ډیر ډارن سړی وه او دایرانیانو غلام وه شجاع چې دشاه زمان سکنۍ ورور وه هم یو وخت باچاهي ونیوله خو مات شو او په ۱۸۱۴م کال لودهیانه کې تر ۲۰ یا ۲۲ کلونو پورې دانګریزانواوسکهانوچې مشر یې رنجیت سنګهـ وه په تنخواه اوسیده چې بیا وروسته دانګریزانو او سکانو په زور دامیر دوست محمد خان په خلاف واک ته ورسیده . کله چې

**شامحمود خان** دزمان خان نه قدرت پلاس کې واخسته خپل وزیر یې فتح خان چې د محمد زیو







څخه وو وټاکه چې نوموړی سمدستي خپل ټول ورونه دهرات ،قندهار ،غزني ،پیښور ،سیند،کشمیر،پنجاب فراه ،کلات او نورو مهمو ځایونو والیان مقرر کړه او امیردوست محمد خان یې له ځان سره مرکز کې وساته  بالاخره وزیر فتح خان شاه محمود خان او زوي یې کامران ووژل اوباچاهي یې دسدوزیو څخه ومحمدزیو ته نقل کړه

**امیر دوست محمد خان** باچا شو په ۱۸۳۴م کال شاه شجاع چې سدوزي وه او درنجیت سنګ



سره په لودهیانه کې اوسیده دسکهانو په تحریک دامیر دوست محمد خان په خلاف په قندهار حمله وکړه خو ناکام شوبیا سکهانوته وتښتیده لیکن سکهانو له دې فرصت نه په استفاده پیښور ونیوه
امیر دوست محمد خان دپیښور دبیا نیولو لپاره  جهاد اعلان کړ او له بل پلوه یې له تزاري روسیې څخه دکمک غوښتلو یو لیک روسیې ته ولیږه چې په دي لیک لیږلو انګریزان او سکهان سخت وارخطا کړل چې امیر دوست محمد خان روسان دې منطقې ته راولي دا ډندوره یې غبروله     انګریزانوله لندن نه خپل سیاسي کارپوه مېکناټن ددې موضوع لپاره راوغوښت ( ادینه ګر ) کې یې له رنجیت سنګهـ سره وکتل او ورته یې وویل یو وخت تاسو غوښتل شاه شجاع کابل ته بوځۍ او حاکم یې کړئ نو دا ښه موقع نه ده چې مونږ او تاسو دواړه ورسره همکاري وکړو رنجیت مکناټن ته وویل داخو داسې شوه لکه قند چې په شدو ورګډ کړې–

# څلورم فصل

## په افغانستان د بین المللي بدمعاش انګریز حملې

مخکې له دې چې دانګریزانو په افغانستان خونړۍ حملې او بدمعاشي وڅیړوباید انګریزان وپیژنواو له دې هم خبر شو چې په کومه دوکه او چل دلته راغلي وه .

### انګریز یا دبرطانیې امپراتوريBritish Empire:

د لوی برطانیا ترتاثیر لاندې مستعمره مناطق د۱۶ـ ۱۷ م څخه تر ۲۰ م قرن پورې رسیږي دبرطانیې امپراتوري په تاریخ کې یوه لویه امپراتوري یادیږي چې یوقرن ( ۱۰۰کاله) خومطلق دنړۍ یو لوی بادشاهي طاقت وه په ۱۹۲۲ میلادي کال دیوی سروې له مخې برتانیا ۳۳ میلونه کیلو متره مربع او نفوس یې ۴۵۰ میلونو کسانو ته رسیده چې دزمکې په وچه دیو پر څلورمه او دنفوسو هم یو پر څلورمه تسلط لرلو ددوی دتسلط لاندې سیمې تیت او پراګنده پرتې وې ویل کیده چې ددوي په امپراتورۍ کې لمر غروب نه کاوه .

خوچې کله یې دافغانستان پاکې خاورې ته مخه کړه چې دا هم تر خپل تسلط لاندې راولي دالله پاک په مرسته او ددی قهرمان او مجاهد ملت په بې ساري سربښندنه او فدا کارۍ ددې مکار اوچلناک دشمن ټوله امپراتوري ورختمه شوه او افغانستان ورته په قبرستان بدل شو چې په دغه وخت کې دانګریزانو امپراتوره ملکه ویکتوریا وه

**دشرق الهند ( ایست انډیا ) کمپنۍ:**نوموړې تجارتي کمپنۍ ددی منطقې دنیولو دام یا لومه وه

چې انګریزانو په کار اچولې وه ، په ۱۵۸۸ م کی د بریطانیې له خوا د هسپانیې بحري ځواک ته د ماتې ورکولونه وروسته د لندن د تجارانو یوې ډلې د هغه وخت ملیکې لوموړۍ الزابت نه په بحر هند کی د بیړیود وړلواجازه تر لاسه کړه

او په ۱۵۹۱ م کی د انګلستان درې بیړۍ په عرب سمندرکی ورداخلې شوې .په دوي کی یوه بیړۍ بیرته راغله او دوه نورې ډوبې شوې .په ۱۵۹۶ کی درې نورې بیړۍ ختیځ ته روانې شوې خو درې واړه په لاره ورکی شوې.

دوه کاله وروسته د تجارانو یوه بله ډله په لندن کی راټوله شوه، څه د پاسه دیرش زره پونډه یې راټولې کړې او یوکارپوریشن ( شرکت) یې جوړکړو .دوي د حکومت له خواد بیړیو د اوړلواجازه نه لرله خو ملکې ورته په خله (زباني (اجازه ورکړه نو دوي یوه بیړۍ واخسته او تجارت یې پیل کړو.

په یوکال کې دوي دومره ګټه وکړه چې اصل سرمایه یې د اتو شپیتو زرو پونډو نه هم زیاته کړه.په دی بریالیتوب په ۱۶۰۰ م کی ملکې دې شرکت ته سرکاري اجازه ورکړه چې د ختیځ د ملکونو سره تجارت کولې شي. دا شاهي قانون ( چارټر (په ختیځ انډیز ( شرق الهند ) کی د لندن د تجارانود کمپنۍ مشر په نوم جاري شوچې (۲۱۶) دوه سوه شپاړس غړي یې لرل.

زیات پکی د لوړې طبقې شته من خلک و .تر پینځلسوکالو پورې په تجارت کی دا یواځینې شرکت و او بل څوک یې نه پریښودل، په پیل کی دی کمپنۍ د مسالو د تجارت لپاره لاس او پښې وهلې ځکه د هالینډ ختیځ هندي شرکت له وړاندې دا بازار نیولي و. انګریز شرکت تر شلو کالوپورې یواځې د تورو مرچکو تجارت کولو. ددی لپاره د اوسني اندونیشیا په "بنتم " نومي ساحلي ښار کې یې یوه کارخانه هم لګولې وه. په هغه زمانه کی ددوي بیړۍ جاوا ته په لاره د هند د سورت په بندر هم ایساریدل.

په ۱۶۰۶ م کی ددوي لپاره دا يو ترانزت ( تيريدو) لاره وه. خو دوه کاله وروسته د پرتګال په شان دوي هم په خليج بنګال کی د کورو منډل په ساحل خپله لومړۍ کارخانه جوړه کړه.








د پيل راهيسي دی شرکت دومره ګټه وکړه چې په انګلستان کې د تجارانو خولې وازې شوې .د هغه وخت باچا لومړي جيمز مجبوره شو چې د انګلستان نورو شرکتونو ته هم د تجارت اجازه ورکړي .
خو په ۱۶۰۹ م کی ايست انډيا شرکت د خپلواړيکو په کارولود تجارت لپاره دايمي اجازه واخسته. خو په هغې کی يې دا شرط هم وليکلو چې که پرله پسې درې کاله دوي په کاروبار کی ګټه ونکړه نو دا اجازه به يې منسوخ شي.
دا شرکت اوس دومره پراخه شو چې ۲۴څلورويشت رئيسان ( د بورد ډايريکټران) يې لرل او لسو کميټيو به ورته د خپلو ګټو او د تاوانونو په اړه راپورونه وړاندې کول. ددې رئيسانوانتخاب به د کمپنۍ ونډه والو له خوا کيدو .د انګريز تجارانو سيالي د هالينډ او دپرتګال د تجارانو سره وه او ددوي تر منځ د هند په ساحلونو څو وارې جنګونه هم شوي و. انګريزانو غوښتل چې د خپل مال د خرڅولو لپاره دهند په خاوره کی دننه ځان له نوي بازارونه ولټوي خوددی نه وړاندې يې غوښتل چې په سرکاري توګه د هالينډ او د پرتګال د تجارانو مخه ونيسي چې هغوي داسې ونکړي .ددی لپاره هغوي خپل حکومت ته خواست وکړو چې د هند مغل واکمن ته خپل سفارتي ډله وروليږي.
د هندپه شاهي تخت هغه وخت مغل باچا جهانګير ناست و.







د جيمز له خوا د ( سر توما س رو) په مشرۍ يو سفارتي ډله د هغه دربار ته وروليږل شوه .هلته د جهانګير په دربار کی دوي باچا ته د اروپا داسې سوغاتونه وړاندې کړل چې پخواچا نه و ليدلي. په دی کی دوه الماس تيکې ،چيني لوښي، د سپينو ( نقرۍ) چاقو،قاشوغې او پنجې، هنداره او ټوپکې شاملې وې .روايت دا دې چې د جهانګير يوه لور هغه وخت ناروغه وه او د انګريز داکټر د علاج سره ښه شوه نو باچا په دی ډير خوشاله شو او دوي نه يې پوښتنه وکړه چې په انعام کې څه غواړي.
سفير ترينه د سورت نه علاوه په نورو سيمو کی هم د کارخانو د جوړولواو هلته د اوسيدو اجازه وغوښته .د مغل باچاهانو لپاره هغه سمندري ساحل ډير لرې ونوهغه ددې اجازه ورکړه اويو ليک يې

هم جیمز باچا ته ورواستوو. په دی لیک کی هغه انګریز تجارانو ته په هند کې هر چیرې چې دوي غوښتل د اوسیدو اجازه ورکړي وه او دا چې پرتګال او د هالینډ کسان به اجازه نه لري چې په هندکی تجارت وکړي .په دې لیک کی تر ټولو په زړه پورې خبره دا لیکلې وه چې انګریز تجاران هر څه چې غواړي پخپلو بیړیو کی هند تهراوړې شي

کمپنۍ ددې شاهي فرمان نه په پوره ګټه اخستو خپل کاروبار دومره پراخه کړو چې دپرتګال کاروباري مرکزونه ورته هیڅ نه و. پرتګالیانود هند د ګوا، چټاګانګ او بمبۍ په ساحلونوخپلې مستعمرې جوړې کړې وې .وروسته یوه پرتګالي شهزادګۍ چې د انګلستان د باچا سره واده شوه نو انګریزانو بمبۍ د هغې د جهیز یا پسول په توګه د پرتګال نه واخستو. کمپنۍ د کارخانو سره سره په مدراس، بمبۍ او کلکته کی خپلې تجارتي اډې جوړې کړې .تر ۱۶۴۷ م ددوي درویشتو ( ۲۳) داسې کارخانود یو مشر یا ګورنر تر څارنې لاندې کارکوو. دوي هغه وخت په هند کی نوي کارکوونکي په کار وګومارل .

تر ټولو لوې کارخانې یې د کلا ګانو په شکل په بنګال کی، " فورټ ولیم" په مدراس کی "فورټ سینټ جارج" او په بمبۍ کی د" بمبۍ مانۍ" په نوم جوړې کړې.

په ۱۶۳۴ م کی مغل باچا ( شاهجهان) انګریزانو ته خپله لمنه دومره پراخه کړه چې د بنګال په ټوله سیمه کی یې ورله د تجارت اجازه ورکړه .مغل پخپله د یو داسې سیمې نه هند ته ورغلي و چې هلته سمندر نه و. دوي فکر کوو چې پوځي جنګونه یواځې په زمکه کیږي او د اوبولاره یې بې دفاع پریښوده.

د کمپنۍ لوې تجارت هغه وخت فلفل( تور مرچ )، کتان، وریښم، نیل، ډبرینه مالګه او چاې و.په راتلونکو کلونو کې د انګلستان هر یو واکمن دی کمپنۍ ته د تجارت قانون غزوو، ان چې په ۱۶۷۰م کی دویم چارلس باچا ورته د پینځونورو امتیازاتو په ورکولودې تجارتي بنه واړوله.که دوي وغواړي نو زمکه هم تر لاسه کولې شي، خپله سیکه ضربولې شي، د سیمې د وړوواکمنوسره اعتلاف جوړولې شي، د جنګ او د روغې لپاره د پوځ او د کلا ګانو مشري کولې شي او کومې سیمې چې ددوي په لاس کی وي هلته د خپل قانون نافذولې شي

.په ۱۷۱۱ م کی دې شرکت د چین په ګوانژو کی هم یوه تجارتي اډه جوړه کړه چې د چایو په بدل کی به یې وربانډې نقره خرڅوله.

په ۱۷۱۷ م کی مغل باچافرخ سیر د انګریزانو په تجارت د مالیې او د ګمرک بندیز لیرې کړو. په دې کار شرکت نور هم غوړ شو او ددې افسران کله چې د هند نه بیرته خپل وطن ته تلل نو دومره ګټه به یې کړې وه چې هلته به یې ځان له ښایسته کورونه جوړکړل. دوي لکه د نوابانوژوند کوواو په سیاست کی ورداخل شول .د شرکت دې کار کوونکو په پارلمان کی دومره زور وموندلوچې په ۱۶۹۴ م کی یې یو نوې قانون وومنلو.

ددی تر مخه د بریطانیې نورو شرکتونو کولې شوچې د هند سره تجارت وکړي .په دی توګه د سلو کالو هغه پخواني قانون فسخ شوچې یواځې ایست انډیا شرکت لپاره و.

په ۱۶۹۸ م کی د یوبل قانون تر مخې یو متوازي ایسټ انډیا شرکت جوړ کړې شو چې د انګلستان حکومت ورته دوه میلونه پونډه د پانګې په توګه ورکړل. اوس دا دواړه شرکتونه په انګلستان او په هند کی د یو بل سره په سیالۍ شوې. د پخواني شرکت ونډه والو زرترزره په نوي شرکت کی سرمایه ګزاري وکړه او ددې د برلاسي لپاره په منډو شول. خوورته دا جوته شوه چې په عمل کی د پخواني شرکت په سیالي کی هیڅوک پاتې نه و .په ۱۷۰۸ م کی دواړه شرکتونه مدغم شول او حکومت ته یې په راتلونکو دریوکالو کی د امتیازاتو په بدل کی د څه کم درې نیم میلین پونډود پور ورکولوژمنه وکړه.

حکومت ورته وویل چې د نورو امتیازاتو لپاره به وروسته د حالاتوحاج اخلي . ددی نوي شرکت نوم داسې و، "په ختیځ هند کې د انګلستان د تجارانوګډشرکت ."په راتلونکوکلونو کی د شرکت او د پارلیمان تر منځ نانډرۍ رواني وې. شرکت خپلواکي غوښتله او پارلیمان ورله اجازه نه ورکوله، ان تر دې چې حکومت ددی د ګټو نه هم لاس واخستو. په ۱۷۱۲ کی حکومت له دی شرکت اخستل شوې پور ورته بیرته ورکړواو په یو نوي قانون کې یې د شرکت حیثیت نوې کړو. په ۱۷۲۰ م کی بریطانیې ته د هند نه ۱۵ فی صده توکي ټول د شرکت د لارې راتلل .هم دا وه چې شرکت په حکومت خپل زور برقراره وساتلو .په ۱۷۶۶ م او ۱۷۳۰ م کی دوه وارې بیا ددوي جواز ( لائسنس ) اجراکړې شو. په دی وخت کې بریطانیه او فرانسې تر منځ رقابت پیل شو.
د خپلو مستعمروپه شته مني ددوي تر منځ واړه واړه جنګونه وشول .په ۱۷۴۲ م کی د فرانسې سره د یواوږد جنګ له ویرې، د شرکت جواز تر ۱۷۸۳ م پورې وغزول شوچې په بدل کی شرکت خپل حکومت ته یومیلون پونډ پورورکړو .د ۱۷۵۶ م نه تر ۱۷۶۳م پورې انګلستان په اروپا اوشمالي امریکا کی د خپلو مستعمرو د ساتنې په غم کی شو. د فرانسوي عسکرو سره په جنګ و .د صنعتي انقلاب سره بریطانیه د خپلو اروپاي رقیبانو نه وړاندې شوه. دجنګ پر وخت دپوځ د ساتنې اونور لګښت لپاره د هند د توکو، خامو موادو اود تولیداتو اړتیا زیاته هم شوه. د انګرېزانو د ژوند معیار لوړ شواو د تولید دغوښتنې په اصولوپه بهرنې تجارتونو کی زور پیدا شو.
په نړیوال بازارکی د بریطانیې له خوادې شرکت د یو لوې لوبغاړي دنده په غاړه اخستې وه ان تر دی کچ ورسیدو چې حکومت په سیاسي فیصلو کی ترینه مشوره غوښته .انګلستان پخپلو مستعمرو کی د فرانسې سره د وو کالو جنګ ددې شرکت پر مټ وګټلو .په هند کی فرانسوي جنرال جوزف فرانسوه دوپلې د انګریز ګورنر جنرل لارډ کلایو نه ماتې وخوړه او"فورټ سینټ جارج" یې بیرته د فرانسویانو نه تر لاسه کړ.
په ۱۷۶۳ م کی د صلح د تړون تر مخې فرانسویانو ته په څو ساحلي سیمو کی د خپلو کلاګانو د ساتلو اجازه ورکړې شوه. په دی کی پانډې چرې، ماهي، کاریکال، یانام، او چندرنګر شامل و خوفرانس د پوځیانو د ساتلو اجازه نه لرله .که څه هم په راتلونکو دوو سووکالو کی دا سیمې د فرانسې سره پاته وې، خو د دوي لاسونه وتړل شول او د شرکت لپاره د یو لوې سیال خطر لیرې شو .ددی په پرتله شرکت چې اوس برې موندلې او په شا یې یو غښتلې او باتجربه پوځ ولاړو، دمدراس، بنګال او کلکتې نه وړاندې د کرناټیکا سیمې ته مخه کړه چې ددوي مخه اوس بل هیڅ یو قوت نشو نیولې.
په هند کې ددی شرکت د پراخیدو په لارکی د ځاي واکمنوخنډونه اودرول او په ځینو سیمو کی یې ورسره سخت جنګونه وکړل. خو انګریز د خپلو تجارتي منډیو د ساتنې لپاره تر هغه وخت ښه غښتلې پوځ هند ته ورلیږلې و. دوي په نویو وسلو سمبال و، ټوپکې او توپې ورسره وې اوتر ټولو مهمه خبره دا وه چې دوي د ځاي خلکو په روزنه نوي پوځي دستې جوړې کړې وې چې ښه معاش به یې ورله ورکولو .د بنګال ، بهاراود اړیسه د نواب سراج الدوله پر ضد لارډ کلایو پوځي حمله وکړه .په ۱۷۵۷ م کی د پلاسي په جنګ کی د بنګال وروستی نواب یې ووژلواو ټول بنګال د کمپنی لاس ته ورغلو. نواب د مغلو باج ګزار و او ددی جنګ نه وروسته مغلوټکان وخوړو چې انګریزانو د خپلو ګټولپاره د هیڅ اخلاق یا د اصولو پرواه ونه ساتله. هم هغه وخت ددوي تر منځ تاو تریخوالی پیدا شو.
د اورنګ زیب له مړینې سره هند په ځوبرخو وویشل شو او ددی سلطنت زوال چټک شو .لارډ کلایو د انګریز حکومت له خوا لومړی ګورنر جنرال په توګه د بنګال حاکم شو. خو په میسور کی حیدر علي او دده زوې ټیپو سلطان د انګریز په مقابل کی ودریدل او ددی لپاره یې له فرانسویانو مرسته وغوښته.

میسور د خپلواکۍ لپاره دایسټ انډیا کمپنۍ د پوځ سره څلور جنګونه وکړل او اخر په ۱۷۹۹ م کی د ټیپو سلطان د شهادت سره انګریزانو میسور هم ونیولو .مرهټه چې په ۱۷۶۱ م کی د پاني پت په جنګ کی د افغانانو له خوا زیږل شوي و، یو واری بیا خپل ځان راټول کړی واود انګریز پوځ سره د بمبۍ شاو خوا په مبارزه اخته و .په دریو لویو جنګونو کی چې مشري یې آرتهر ویلزلي ( وروسته ډیوک اف ویلنګټن ) کوله مرهټه مات شول.






دی شرکت وروورو په لویدیځو برخو کی هم خپل اغیز زیات کړواو هر ځای چې یونواب یا راجه د بل سره په جنګ و، دوي به پکې غښتلي ته د مرستو ژمنه وکړه او سیمې به یې رالاندی کړی. دا چې ولې ځاي واکمن یو بل سره لاسونه یونه کړل چې له پرنګي یې ځان خلاص کړی وی .نو په دی کی به د شرکت استاځوخپل رول لوبوو .کله دډالیوپه ورکولو، کله د نالیدلي خطر اوکله د حملې او د جنګ د تاوان یا د ګټې په حال کې د نورومالونو د تر لاسه کولو په تمه دوي یې له یو بل جلا ساتل.
د پلاسي په جنګ کې د بریالیتوب نه وروسته دی شرکت لکه د یوحکومت چلن کولو.
انګریزي کمپنۍ چې دځو غټو غټو ځایونو مالکه شوه نو یې په قلاره قلاره ددولت په کارونو کې مداخله شروع کړه.
په ۱۶۸۹م کې دهند دولت په کمپنۍ پوه شو چې زمونږ په داخلي او حکومتي کارونو کې مداخله کوي حمله یې پرې وکړه څه کسان یې ترې مړه او څه یې ژوندي ونیول (سورت) ونیول شو او بمبۍ محاصره شو کمپنۍ تعهد وکړ چې دهند په کارونو کې به مداخله نه کوي فقط خپل تجارت سره به کار لري یو کال وروسته کمپنۍ په کلکته کې دسنټ ویلیا م قلعه اباده کړه په بنګال کې هم دتجارت کلنۍ اجاره حکومت ته تحویلوله .
دانګریزانو تر څنګ هالیند او فرانسې هم تجارتي مراکز لرل چې دوی هم هریو خپل ګورنران لرل او یو دبل سره په رقابت کې وه کله چې په ۱۷۴۴م کې دفرانسې او انګلسان تر منځ په اروپا کې جنګ وشو نو په هند کې مدراس فرانسویانو ونیوه خو بیا دڅه مصالحې له وجه بیرته انګریزانو ته مسترد شو او دی رقابت کې بالاخره انګریزان غالب شوه.
نوموړې کمپمنې ۲۱۳ کاله هند کې تجارت کار مخکې وړه تر دې چې یواخې ساحه همدوی ته پاته شوه نو یې خیال بدل شو یعنې دتجارت له کالبد څخه دباندې دمنطقې دنیولو او حتی جهانګیرې فکر ورسره پید ا شو.
دهند حکومت هم په دی وخت کې فاسد او منطقه ټوله ګډه وډه وه مثلاً ( پنجاب ، ملتان او کشمیر ) دافغانستان پلاس کې پریوتي راجپوت دراجپوتانه شهزاده ګانو په لاس کې ، (اوده )دشجاع الدوله لاس کې ، بهار او بنګال دنواب علي وردي پلاس کې وې .

انګریزانو دهند دی وضعیت ته په کتو او دهند دسروزرو پلاس جوړ شوي معبودان (بتان) په سترګو لیدل نو زړه یې ورته ویلې ویلې کیده خو دوی ته دبسته اوښ په بډه وهل هم سخت کار وه نو هماغه وه چې اوښ یې ټوټه ټوټه کړو او بیایې وخوړو .یعنې څه معنا وایي ( نفاق واچوه حکومت وکړه ) فرمول په انګلستان کې تر کار لاندې ونیول شو او په قانون کې یې داخبره ځای کړه (په ملکونو کې دګډوډی او خانه جنګی راپیدا کول ) ددی پالیسی مصرف دتورې چلولو له مصرف څخه کم او هم په سترګو نه لیدل کیږي چې ویې کولای شوه ۴۰میلونه انګریزان په ۴۰۰میلونه انسانانو سرداران جوړ کړي چې دزمکې په شرقي حصه کې ددی پالیسی جوړونکی( پالمرستون ) وه

## دانګریزانو مکارانه دسیسې اوخطرناکه طرحې

( دافغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه ۴۹ ص محمد ابراهیم عطایي)

دانګریز له هغو خطرناکو پالیسیو څخه چې دافغانستان سیاسي او اجتماعي جوړښت یې دشکل او محتوا له پلوه سخت زیانمن کړ هغه دتجرید پالیسي وه

کله چې انګریزانو دهند شمالي ، په خاصه توګه پنجاب ته لاسونه راوغزول نو دزمان شاه څخه یې ډیره سترګه سوځیده(شاه زمان سدوزی (د تیمور شاه زوی ، د احمد شاه بابا لمسی وو ، چې په ۱۷۷۰م کال کې زیږیدلې دی . اوپه۱۷۹۳م کال کې د خپل پلار تیمور شاه له مړینې وروسته د افغانستان پاچا شو دده ورور ( شاه محمود) بیاونیوه او سترګې یې ترې وایستې )




چې هغه پر پنجاب رانشي نو دهغه دمخنیوي لپاره یې دوه پالیسۍ تر کار لاندې ونیولې چې یوه عاجله او بله داوږدې مودې وه په عاجله کې داوه چې شاه زمان دورونو سره په جګړه مصروف کړي تر څو له هند څخه یې مخه وګرځي

داوږدې مودې پالیسي یې داوه چې دافغانستان واکمنان دیوی اوږدې مودې په کرښه راوچتیږي باید له خارج څخه تجرید اولرې پاته شي ددې دواړو طرحو طراح یا جوړونکی دبنګال حکمران ( لارد مار ینګتن ) وه او دتطبیق پیل یې یو بل انګریز ( جان مالکم ) په وسیله سرته ورسیده هغه اول دایران قاجار حکمران ( فتح علي شاه ) دربار ته راواستول شو او هغه له دغه ځایه شاه زمان ته لویې ستونځې او مشکلات جوړ کړه تر دې چې دا ورونه یې یو پر بل وټکول او له افغانستان څخه یې داوربتې جوړ کړه

( لارد مار ینګتن )له ۱۷۹۸م څخه تر ۱۸۰۵م پورې په هند وستان کې وه دسیمې وضع یې په دقیقه توګه مطالعه کوله دا هغه مهال وو چې دهند تودو اوبو ته درسیدو طرحه دروسیې دامپراتورۍ لوی پترلخوا دافغانستان له لارې جوړه او بل خوا دفرانسې امپراتور ( یونا پارت ناپلیون )دایران اوافغانستان له لارې په هند وروخیژیاو انګریز به له هغه ځایه وشړي چې په دی باره کې خطونه دایران بادشاه فتح علي شاه قاجار، دمیسور حاکم ټیپو سلطان او دافغانستان باچا شاه زمان ته هم رسیدلي وه په دغه دریواړو کې دوو ټیپو سلطان او شاه زمان په صداقت سره غوښتل انګریز ختم شي خو دایران طماع اوځان غوښتونکي فتح علي شاه قاجار نه غوښتل انګریز دی له منځه یوړل شي ځکه ده ته یې بډې او خرچه ورکوله او سترګې یې پرې ړندې کړې وې

انګریزانو دهمدغې وضع په فهم او دهغو دعواقبو څخه په تشویش دا طرحه منځته راوړله چې پر افغانستان دانزوا او تجرید پالیسي وچلوي دا لویه او خطرناکه لوبه دافغانسان وپښنو ته

ولويده‌او دنولسمې پيړۍ له پيل څخه چې سرجان مالکم دسفير په توګه دايران دربار ته ورسيده بيا دشلمې پيړۍ تر دوهمې لسيزې پورې چې امير امان الله خان دافغانستان خپلواکي اعلان کړه دغه دتجريد سياست زندۍ دافغانستان غاړه کې پرته وه او دنولسمې پيړۍ له دوهمې نيمايي څخه چې د( پطر ) سياست له دغه تجريد سره ضميمه شو نو دافغانستان دپرمختيا او پراختيا په وړاندې يې ډيرې ستونځې راپيدا کړې

دمارينګتن مالکم طرح دزمان شاه دتضعيف په باب داسې وه چې دايرا ن شاه ته غټ رشوت ورکړي څو هغه دې ته حاضر کړي که دافغانستان باچا په هندو ستان حمله وکړي نو دايران باچا به په افغانستان لښکر کشي کوي تر څو له هند څخه يې مخه راوګرځوي نو همدا وه چې دنولسمې پيړۍ په لمړي کال يو دغتو تجربو خاوند انګريز سر جان مالکم دايران دربار ته وليږل شو هغه دوه دانې دالماس غمي چې قيمت يې دوه نيم سوه زرو روپو ته رسيده فتح علي شاه قاجار ته ورکړل همدارنګه يې درې ميلونه روپۍ دقاجاريانو خزانې ته ديرش زره ټوپکه شل توپه يې دايران اردو ته وبخښل او په دې ترڅ کې يې دافغانستان څخه دخراسان ولايت دبيلولو او ايران ته دبخښلو وعده ورکړه نو له دې وجه فتح علي شاه دې ته حاضر شو چې دانګريز هر فرمايش قبول کړي او د۱۸۰۱م کال دجنوري په لسمه يې پر ايران داتړون لاس ليک کړ په هغې کې داهم وه که افغانستان يا فرانسه په ايران حمله وکړي نو انګريز به دايران مرسته کوي هماغه وه چې سرجان مالکم دايران باچا فتح علي شاه دې ته وهڅاوه چې دشازمان دتضعيف لپاره په هرات حمله وکړي .

په عمومي توګه دانګريز ددې سياست په نتيجه کې دسدوزي ورونو تر منځ سختې شخړې راوچتې شوې اوهغوی دقدرت طلبی په جګړه کې ميدان پر محمدزو بايلوده او بيا دمحمدزو سردارانو په خپل نوبت يو دبل ټکولو ته ملا وتړله چې دغه ټوله بد بختي دانګريز دپټ او ښکاره دسايسو نتيجه وه .

په نتيجه کې هيواد ټوټه ټوټه ، خلک ټول وحشي او دتمدن څخه په څټ پورې ووهل شول له همدې وجه انګريز دغه دعزت او برم خاوند مجاهدملت نړۍ ته وحشي ، درواغجن او دبشريت دوښمن معرفي کړ او په دې توګه يې دنړيوالو په ذهن کې دا واچوله چې دوی دنړۍ څخه ددغه وحشيانو دشړلو په لار کې لوی خدمت کوي .دلارد مارينګتن طرح عملي شوه تقريباً يوسل او شل کاله افغانستان د نړۍ څخه تجريد يا وشړل شو چې وروسته بيا نړۍ هير کړی هم وه همدارنګه د سرجان مالکم طرح هم ددی باعث شوه چې حتی په افغاني کلتور کې ورور وژنه او دايمي جګړې ځای ونيوه چې اثرات يې تر شلمې پيړی پورې روښانه ليدل کيږي

# انګريز او مظلوم افغانان

انګريزانو په افغانستان کې دچلبازۍ او دوکه مارۍ سياست او استراتيجياني وخت په وخت بدلولې ظاهر کې به يو څه وه او پټ به بل څه روان وه څوک به پرې نه پوهيدههندوستان چې دسرو زرو په کندو مشهور وه دشرق الهند تجارتي کمپنۍ په ( لومه ) کې يې راګير کړ او ددی کندو دساتلو لپاره پنځه دروازې وی درې يې بحري او څلورمه يې دهند شمال ته دهماليا لوړ غرونه او پنځمه يې دهند شمال غرب ته افغانستان وه بحري درې دروازې يې دخپلو دوښمنانو په مخ ښې مظبوطې تړلې وی اودوچې په دروازو کې شمال ته دهماليا‌غرونه وه چې له دې څخه هم دوښمن عبور نشو کولای خو پنځمه لار دهند شمال غرب ته افغانستان پروت وو ددې لپاره چې دا دروازه هم دځلورو نورودروازو په څير وتړل شي انګريزانو ته څه کول پکار وه نو په دی خاطر يې دلته هم دلومې يا دام مزي وغزول







انګریزانوچې په (۱۷۶۱م کال) پاني پت کې دافغاني مجاهدوغازیانو جګړه په خپلو سترګو ولیده هغه داچې :(دهغه ځای مرهټه هندوانو په مسلمانانوظلمونه کول او په مغولي حکمرانانو یې حملې وکړې تر سیند پورې یې ځانونه راورسول نومغولي حکمرانانو او ځینې نوابانواو مذهبي مشر شاه ولی الله دهلوي او نورو مسلمانانو داحمدشاه بابا څخه دکمک غوښتنه وکړه مجاهداحمدشاه باباد شپیته زره (۶۰۰۰۰)افغان مجاهدینو په مټ ددرې لکه ۳۰۰۰۰۰ کفارو مرهټي هندوانو سره مقابله وکړه او په نتیجه کې هندوانو سخت شکست وخوړ لس زره مجاهدین هم شهیدان شول او ډېر زیات غنایم مجاهدینوته پلاس ورغلل چې ۵۰۰ پیلان ۵۰ زره اسونه ۲ لکه غواګاني او څو زره اوښان شامل وه )نو دا یې احساس کړه چې دافغانستان نظامي او معنوي نفوذ اوتأثیر په ټول هندوستان موجود دی نو یې ځکه دافغانستان اهمیت  ته په کتو انګلیس ټول قوت افغانستان ته متوجه کړو اول یې تدافعي سیاست او بیا یې په تعرضي سیاست بدل کړ .

انګریزانو په افغانستان کې خپل سیاست داسې عیار کړ که په جنګ کېږي  یا د اولس سره په ارتباط یا دتجزیې او تقسیم  له لارې کېږي چې دافغانستان حکومت ټوټه ټوټه ، ضعیف او ددونیاوالو سره ددوي ارتباط قطع او ملت په نفاق او کورني جنګ کې ساتل او دخلکو تنفر له خپل حکومت سره پیدا کړي تر څو دوی یعني انګریزانو ته اخر مراجعه وکړي   او افغاني حکومت دونیاوالو ته دخپلو تبلیغاتو په ذریعه وحشي ،غل او دروغجن معرفي کړي  ترڅو افغانانو ته یوتاریخي افتخار پاتې نشي چې پرې وویاړي او تر ټولو مخربترینه پالیسي لا داوه چې  دافغانستان ملک به یې  دافغاني  زر خریده امیرانو په ذریعه کنترولولو ځکه خلکو خارجي  مشرانو سره حساسیت درلوده او مستقیماً یې نشوه کولای حکومت اشغال او دوام ورکړي نو ځکه یې دداخلي نقاب او پردې  لاندې حکمراني چلوله چې دا پالیسي یې دزمان شاه له دورې څخه  ددوهم جهاني جنګ  تر ختمه پورې سل کاله وچلیده .

انګریزانو دسرجان مالکم په واسطه  دایران قاجاري دربار  حریص فتح علي شاه ته ددوه دانو الماسو چې دوه نیم سوه زرو روپیو قیمت یې درلوده او درې میلونه  روپۍ نقدې ورکړې او ۳۰۰۰۰ دیرش زره ټوپک  او شل توپونه دایران اردو ته ورکړې او دا وعده یې هم ورسره وکړه چې  دافغانستان خراسان ولایت به هم ایران ته ورکوي هغوی سمدستي  دفرانسي له جنرال کاردان سره معاهده لغوه کړه

اودانګریزانو ۳۰ معلمین او انجینران  یې د ایران اردو کې قبول کړه تر څو داروپا دټولو هیوادونو راتلونکې خلک دایران له لارې بند کړي چې هند ته لاړ نشي







انګریزانوپه افغانستان کې دداخلي جاسوسانو په ذریعه شهزاده محمود جذب او دزمان شاه خلاف یې دا یران له لارې مکرراً جنګ ته راولیږلو چې په نتیجه کې  زمان شاه بندي بیا ړوند اومرکزي دولت دمحمود او وزیرفتح خان لاس ته پریوته داخلي جنګونو زور واخسته او ایران

قاجاري حکومت خراسان دانګريزانو دوعدې موافق تر لاسه کړ پشاور بنو پنجاب او کشمير هم له لاسه ووته

سرجان کی ( sir john kay ) په دی باره کې وايي :بې اتفاقيو او کورني جنګونو دافغانستان امپراتوري ټوټه ټوټه کړه او دانګليس حکومت په شرق کې سلامت پاته شو (قاضي عطاؤ الله ج۱ ص ۲۰۳ ) دانګريزانو ددې فعاليت اخري نتيجه دا شوه چې بايد دافغانستان کار يو طرفه کړي

له دغې موقع نه په استفاده دانګريزانو صدراعظم (لارد پالمرستون ) دهند حکومت ته ليک راواستاوه چې اوس ددې وخت رارسيدلی دی چې افغانستان کې مستقيماً مداخله



لرد پالمرستون

وشي او دروسانو دنفوذ مخه دايران او افغانستان په قلمرو کې ديو مضبوط ديوال په توګه تشکيل شي لرد پالمرستون دلندن په پارلمان کې وينا کوله ويې ويل ( زما شحصي عقيده داده که چيري مونږ دافغانستان نه خپل لاسونه رالنډ کړو نو دا به مو دانګلستان ټول مصلحتونه او ګټې تباه او برباد کړې وي او که اوس مو افغانستان ترک کړو نو بيا به مجبوراً په ډيرو لوړومالي او جاني تلفاتو افغانستان رانيسو دهند انګريز حاکم هم وويل چې مونږ بايد په هرقيمت چې وي دافغانستان له لارې دخارجيانو دنفوذ مخه ونيسو او په افغانستان کې بايد زمونږ يوه دستګاه موجود وي چې پرهند دخارجيانو حملې منع کړي او مونږ بايد داسې يو دايمي ديوال جوړ کړو چې زمونږ شمالي ( روس)او مغربي ( عرب مسلمانان ) دوشمنان پر مونږ دحملو ممانعت وکړي .

پس انګريزانو په هند کې دسکهانودحکومت سره په اتفاق دشاه شجاع تر نقاب او پردې لاندې په ۱۸۳۹م کال د ۴۵ زره عسکرو او منظمه توپخانه ورسره په افغانستان حمله وکړه

**دشاه شجاع سره دانګريزانو تړون:**کله چې دفتح علي شاه اوناپليون ترمنځ په ۱۸۳۷م کال



شاه شجاع دتيمورشاه زوی ۱۸۳۹م

تړون وشوهغه داوو چې ناپليون دفرانسې دانقلاب مؤسس چې کله مصر ونيوه غوښتل يې پر هند حمله وکړې اوله هغه ځايه انګريزان ورک کړي ځکه ناپليون دانګريزانو سر سخته دوشمن وه خو انګريزانو دمصر په ابو الخير سمندر کې د ( ادميرال نلسن ) تر مشرۍ لاندې فوج دفرانسې بحري قوه دسخت جنګ نه وروسته تار ومار کړه ناپليون پوه شو چې له دې لارې هند ته نشي تللی نو يې دايران او افغانستان له لارې قصد وکړ اول يې دايران بادشاه فتح علي شاه ته ليک راوليږه هغه ته يې وليکل : که ته روزل شوي عسکر او د وسلو جوړولو صنايع ولرې نو نه يوازې دخپل ملک ازادي به وساتې بلکه ته به دنړې له باقدرته هيوادونو په قطار کې حساب شې نو فلهذ ا فرانسه افتخار کوي چې ديو داسې شريف ملت سره ددوستۍ لاس ورکوي او فرانسې



مونت ستيوارت الفنستن

ورته وعده وکړه ګرجستان او قفقاز به له روسانو اخلي او ايران ته به يې ورکوي او ايران به افغانستان مجبوروي چې فرانسويانو ته لاره ورکړي تر څو هند ته لاړ شي چې ددې پروژې دعملي کولو لپاره ناپليون خپل يو غټ صاحب منصب جنرال ګاردان ايران ته راوليږه روسانو ګرجستان او قفقاز پرينښوده او ناپليون ته په اروپا کې نور مشکلات هم جوړ شوه او دا پروژه عملي نشوه

خو انګريزان چې له فرانسويانو سخت ډاريده ددی لپاره چې په اينده کې هم داسې يو عمل ونه شي دمخنيوي لپاره يې دافغانستان رابيلولو او ځانته تمايلولو طرح باندې کار شروع کړ انګريزانو د (مونت ستيوارت الفنستن )په مشرى دمختلفو فونونو لکه انجنيران ، ملکي مامورين ، دسروې متخصصان او نظامي صاحب منصبان پکې وه د يوې قافلې سره چې تعداد يې ۴۰۰ تنو ته رسيده په ۱۸۳۹ م کال دسند له لارې پيښور ته دشاه شجاع دربار ته راغله ، تر کتنو تشريفاتو او ميلمستيا وروسته دهمدغه کال مارچ په ۱۵ تاريخ له شاه شجاع سره په دربار کې وکتل چې دالفنستن او شجاع تر منځ يو درى فقريز تړون لاسليک وشو انګريز په دغه وخت کې يوه خبره وکړه چې ګويا

په افغانستان ایران او فرانسه حمله کوي او انګریزان ستاسو سره کمک کوي دشاه شجاع داغته اشتباه وه چي داسي فکر یې کاوه . ددوی ترمنځ دتړون ترجمه ډیره سخته ده ځکه هغه کلمات سم نه معلومیږي خو بیا هم څه ترې راخستل شوي :
از انجا که به سبب ظهور تمهیدات عنوان موافقت ومرافقت ازطرف قوم فرنسیس با بادشاه ایران به اراده یورش اوردن بر ممالک سرکار عظمت مدار پادشاه درد ران وبعد از ان در مالک سرکار دولت انکلیس متعلقه کشور هند جناب شهادت وبسالت مرتب نبالت وایالت منزلت امیر الامر العظام فراست وکیاست ارتسام مستر الفنستن بهادر به جهت این معنی مامور امده که به اتفاق واستیصواب کارگزاران حضور باهر النور اعلیحضرت فلک رفعت قهر طلعت، ناهید جهت ، عطارد فطنت ، خورشید متبت، بهرام صولت، برجیش سعادت ، کیوان منزلت ، سکندر حشم، جمشید خدم ،قان دربان، قیصر پاسبان، ظل ظلیل ، کردگار ، حامي مراسم معدلت وماحی اثار بدعت بتائیدات الله بادشاه سپهر بارگاه کابل (داکتر محمود افشار افغان نامه ۲ جلد ایران چاپ ۶۴۰ مخ )( غبار افغانستان در مسیرتاریخ کابلچاپ ۲۹۸مخ )
دغه تړون د۱۸۳۹م کال جون میاشت کې لاسلیک شواو دا لاندې درې مادې یې درلودی :
۱ ـ که دایران اوفرانسي عسکر په هند راځي دافغانستان له لارې به یې شاه شجاع مخه نیسي
۲ ـ که فرانسه یا ایران په افغانستان حمله کوي انګریزان به دافغانستان هرډول مرسته کوي
۳ ـ دا یو ددوستۍ تړون دی او دافغانستان باچا به یوفرانسوي هم په خپلملک کې نه پریږدي

# دانګریز لمړې جګړه

## او دافغانانو عکس العمل۱۸۳۹م ـــ ۱۸۴۲م

دانګریز هغه لښکر چې شاه شجاع یې افغانستان ته راورساوه مجموعاً (۵۴۱۵۰ ) نفرو ته رسیده چي (۱۲۰۰۰)دلوازمو کار کونکي یې درلودل او سامانونه یې پر بود ګانو رانقلیدل دا یو لوی خارجي لښکر و چې زمونږ خلکو تر اوسه په خپله خاوره کې نه وه لیدلی







ویلیم حي میکناټن ۱۸۴۱م

دغه لښکر شاه شجاع چې تر شل کاله زیات دفرنګیانو سره اوسیدلی وه کابل ته راورساوه او هغه دخپلي کورنۍ (۸۵۰) نارینه ښځې ماشومان او نوکران دکابل په بالا حصار کې ځای پر ځای کړل او دانګریز شکر یې ویوست .دده ددربار او حتی دکورنۍ دچارو واګې انګریزانو په لاس کې ونیولې ، هر څوک چې به ده ته ورتلل ، نولومړی به یو انګریز مؤظف کتل او بیا به یې که لازمه ګڼله نو اجازه به یې ورکوله . دکار ټول اختیار دمکناټن په لاس کې وه او دښار ټولې غونډۍ او دغرو لمنې دانګریز په لښکرو ډکې وې ، د اولس مشران په مکرره توګه دانګریز افسرانو لخوا تحقیر او تهدیدل انګریز مکناټن شاه شجاع ته ولیکل چې امین الله خان لوګری ، عبدالله خان اڅکزیاو دامیر دوست محمد خان وراره سردار شمس الدین خان وهند ته تبعید کړه ، شاه شجاع هم هغوی را وغوښتل او دمکناټن غوښتنه یې ورته وویله ، دوی ځواب ورکړ چې مونږ مکناټن نه

پیژنو او دانګریزانو امر نه منو  دا موږ ؤ چې تاته مو دراتګ موافقه درکړه ، ولی تا انګریز پر مونږ حاکم کړ  پس ته مسؤل یې ، وایي شاه شجاع ( اه ) وکیښ وی ویل : زه دانګریز په لاس کې یو بندي یم ، هیڅ نشم کولای ، ده خپله توره دوی ته کیښوله او وې ویل  داداسلام توره ده واخلې هرڅوک چې یې ښه چلولی شی هغه ته یې ورکړی، زه ستاسې سره یم خو حال به نه وایاست .




دا مشران چې راغله ملا مؤمن ، ګل محمد خان ، عبدالعزیز خان ،محمدشاه خان ، سکندر خان او عبدالسلام خان یې خبر کړل او په دې توګه دقیام ترتیبات ونیول شوه .
په همدغه وخت کې امیر دوست محمد خان چې بخارا ته فراري شوی ؤ او هلته دبخارا دامیر تر نظارت لاندې ژوند کاوه چې زامن یې محمد اعظم خان او شیرعلي خان دبخارا دامیر په اجازه تاشقرغان ته راغلي وه بیا دنواب عبدالجبار خان په واسطه چې دانګریز داکتر (لارد) سره خبرې وشوې دتولې کورنۍ سره کابل بیا غزني ته دشهزاده غلام حیدر خان دفامیل سره یو ځای تر څارنې لاندې وه









امیر دوست محمد خان او شهزاده محمد افضل خان له بخارا امیر څخه راوتښتیدل دتاشقرغان والي چې دانګریزانو سره جوړ نه ؤ یوځای شو دکندوز او بلخ څخه یې خلک راوغوښتل دبامیانو په لور یې حرکت وکړ بیا کوهستاناتو ته راغی دمجاهدینو مشر میر مسجدي خان او سلطان محمد خان نجرابي(متاسفانه چې عکس یې ونه موندل شو) دده ډیر تود هرکلی وکړاو خپل ځان او خپل ټول قوم یې دده وخدمت ته  وړاندې کړ






مکناټن چې خبر شو سمدستي یې داګست ۳۰نیټه ۱۸۴۰م یا ۱۲۵۶ هـ ق دهندوکش قوماندان کپتان ( تیري) ته امر وکړ چې مقابلې ته تیار شیکپتان تیري له پنځه سوه سورو سره دشهزاده محمد افضل خان مقابلې ته راغی چې شکست یې وخوړ  بیا بامیانو ته وتښتیده مکناټن یو بل قوماندان ( کلنل دینای) مرستې ته ورولیږه هغه هم دا جرات نه درلوده چې مخامخ مقابله وکړي خو دومره یې

وکړل چې دشهزاده مخه یې ډپ کړې وه په دی وخت کې انګریزان ډیر وارخطا وه او له بل پلوه دامیر دوست محمدخان طرفداران مخ په ډیریدو وه حتی چې مکناتن دکابل په غم کې شو له لاسه یې ونه وځي یودناڅاپه دامیر په فکر تبدیلي راغله دشپې دخپلو زرګونو لښکرو له منځه په یواځې ځان کابل ته راغی او دمکناتن دربار ته لاړ دمکناتن دربارچي مکناتن ته وویل امیر تا غواړي موهن لال تاریخ لیکونکی لیکي مکناتن ولړزیده او ورته یې وویل امیر ما غواړي ؟ چیرته ؟ هغه ورته وویل دباندې هک حیران شو چې امیر دوست محمد خان او دلته راتګ !!امیر تسلیم شو او مکناتن خپلو ماتې خوړلو فوجیانو ته دهغه دتسلیمی لیک واستاوه هغوي تر ډیره نه قبلولو چې امیر دې سره له دومره قوت بیاهم ځان تسلیم کړي ؟




سراج التواریخ لیکونکي اونور په دې باور دي چې امیر دخپل زوي دبري نه لا خبر نه وو او هم دانګریزانو دماتې او پاشلو نه هم خبرنه وو چې داد پیغور ډک تصمیم یې ونیولواو دټولو مجاهدینو زړونه یې مات او دانګریزانو سره جګړه یې یوکال نوره هم اوږده کړه او هغه سمدستي دکورنۍ سره کلکتې ته ولیږه

## په ټول هیواد کې پاڅونونه شروع شوه: ( افغانستان په نولسمه پیړۍ کې سید قاسم رشتیا ۹۳ص – ۲۳۴ص)

۱۸۴۱م مطابق ۱۲۵۸ هـ ق کال چې داخل شودعقل خاوندان له هوا او فضا اخر وپوهیدل چې طوفان راتلونکی دی دملت شور او زوړ به له شدید انفجار سره راڅرګند شي چې دسنبلې میاشتې دوعدې( ژمنې ) او تړون څخه وروسته ، پټ او ښکاره مجالس مخ په زیاتیدو شوه .
دحکومت په وړاندې دخلکو کرکه ورځ په ورځ زیاتیدله ، ظلم ، فشار ، دملي احساساتو ځپل او په ځانګړې توګه دمشرانو زنداني کول او له هیواد څخه شړل دانګریزانو په هدایت دنظام الدوله محمد عثمان خان پلاس مخ په زیاتیدو وه لکه څنګه چېپه ورستنیو ورځو کې عبدالله خان اڅکزي او محمد عطاخان بن سمندر خان بامیزي او دمحمد اکرم خان امین الملک (دشاه محمود دوخت وزیر )زوی عبدالمنان خان او غلام احمد خان بن شیر محمد خان مختار الد وله د نظام الدوله له طرفه دشړلو امر تر لاسه کړخو غاړې یې ټیټې نه کړې او پریکړه یې توری ته پریښوده .







له بل طرفه محمد شاه خان بابکرخیل هم له خپل ورور او دخپل قوم دنورو مشرانو په شمول دمجاهدینو سره یوځای شول او دهغوی ځواک یې پیاوړې کړ دغوندو په اخر کې پریکړه وشوه تر څو دبارکزیو کورنیو مشران چې دشاه شجاع مخالف وه او دانګریزانو تر ملاتړ لاندې په کابل کې اوسیدل خپل ملګرې کړي او ددوی له ټولیڅخه دخپلو اقداماتو لپاره یوتن وټاکي چې دټولو د ډاډ او باور وړ وي . چې دامین الله خان لوګري په منځګړیتوب ـ چې په دی مهال کې دنظام الدوله لخوا نیغ په نیغه ګواښل شوی وو۔ دنواب اسد خان زوی محمد زمان خان او دنواب عبدالصمد خان زوی محمد عثمان خان او شجاع الدوله خان نواب محمد زمان خان زوی هم دمجاهدینو سره خپل ملاتړ اعلان کړ او ملي غونډې په یوه خوله نواب محمد زمان خان دخپل مشر په توګه وټاکلو او پریکړه وشوه چې دروژې مبارکې اومه ۷ ورځچې ډیره مبارکه ورځ ده خپلو عملیاتو دپیل ورځ وټاکله چې بیا یوه ورځ مخکې دشب نامو له لارې دکابل اوسیدونکو ته دعملیاتو دپیل په اړه خبر ورکړل شو . موهن لال لیکي چې نائب محمد شریف خان او تاج محمد خان او میرزا خان جوانشیر دا راپور ماته راکړ او ویې ویل چې سبابه برید پیلیږي نو ما هغه ژر (برنس ) ته ورساوه هغه په ځواب کې وویل ډار ښودل ناسم دي باید بارکونو ته ولاړ شو وګورو چې چمتوالی نیولی شو . دایې وویل او قشلې په طرف ولاړ او دلارې په اوږدو کې یو بل لیک چې په فارسي ژبه لیکل شوی ؤهم ورته ورسیده چې دغه اطلاع یې هغه ته رسولهاو په دی لیک کې چې دبرنس په نوم په پټه لاسلیک شوی ؤ لاندې

جملې ليکلې وې ( اوس هغه وخت رارسيدلی چې دا هيواد پرېږدې ) له بل پلوه نظام الدوله هم چې جاسوسان يې هر طرف ته تلل راتلل په همدې شپه له پيښو خبر شوخو داچې ولې دهغوی له لورې يو اقدام هم ونشو داسې اسرار دي چې څرګندول يې ناشوني دي خو کولای شو ووايو دملي پاڅون ريښتونولي او الهي نصرت دانګريزانو او دانګريزغوړه مالانولاسونه او ژبې فلج او ګونګی او عقل او اراده يې له منځه وړې وه

۱۸۴۱م کال دروژې ۱۷ دنومبر۲ ټاکل شوې وه چې سهار وختي ټول ملت له هر لورې ټاکل شوي ځای ته چې بالا حصار ته څيرمه دانګريزانو داستازواو صاحب منصبانو داوسيدنې ځای لور ته لکه دسيل دڅپو په څير راغلل دملي مشرانو دلارښوني له مخې تر ټولو وړاندې د ( سر الکزندر برنس ) کور ته چې تر بالا حصار لاندې داوسني خرابات په خواکې واقع ؤ هجوم وکړ .








موهن لال چې ددې پيښو کتونکی ؤداسې ليکي : زه ويده ووم چې خدمتګار دروازه په زوره زوره ووهله چغه يې کړهتاسو لاهم ويده يې او ښار په بل مخ اوښتی . زه دباندې راووتلم ګورم چې هر لورې ته منډې رامنډې دي برنس ته مې پيغام وليږلو خو هغه لا وړاندې خبر شوی ؤ په دې وخت کې نائب محمد شريف يوتن راوليږه چې دچندول سيمې ته چې يوه محفوظه سيمه ده پناه يوسو ـ خو برنس ونه منل نظام الدوله هم برنس ته وصيت وکړ تر څو هغه سره بالا حصار ته ولاړ شي برنس دا هم ونه منل دا ځکه چې هغه ډاډ درلوده چې دبرطانيې فوځيان به هغه له دی کړاو څخه خلاص کړي

لنډه داچه کله برنس دخلکو دا څپې وليدې او عبدالله خان اڅکزی امين الله خان لوګری، سکندر خان او عبدالسلام ددې ملت ستر مشران دخلکو په څنګ دي يو تن يې هغوی ته وليږه تر څو دخلکو دازدحام علت څرګند کړي او دوی ته ډاډ ورکړي چې خبره به يې واوريدل شي او غوښتنو ته به يې دخواخوږۍ په سترګو وګوري ـ خو سکندر خان چې غوصه او غضب يې په دی ورځ لمبې کولې تر نورو وړاندې ؤاو دبرنس استازي ته يې دخبرو دبشپړيدو وخت ورنکړ او سر يې دتورې په يو شرنګ له تنه بيل کړ او امر يې وکړ تر څو دبرنس په کور وروخيژي ، خلک ټول دهغه په کور وروختل برنس دخپل کور دوهم پوړ دکوټې له برنډې څخه خلکو ته وينا پيل کړه هغوی يې کرارۍ ته راوبلل او دپيسو ژمنه يې ورسره وکړه خو خلک پيسو ته نه وه راغلي بلکه راپاريدل ملي اساس دلته راوستي وه .

دانګريز په دی سپکې خبرې خلک نور هم راوپاريدل په ډير شدت يې دبرنس بڼ ته دننه هجوم يوړ، برنس دډزو امر وکړ مجاهدين نور هم په احساساتو شول او څو تنه انګريزان چې مقابلې ته راوتلې وه په ډزو وويشتل او په زمکه يې راچپه کړه چې په هغوی کې کپتان ( براډفوټ) هم ګډون درلوده او لفتننت چارلس برنس دالکساندر برنس ورور چې ځوان او وينه يې ګرمه وه ددی حالاتو په ليدلوتوان له لاسه ورکړ ځان يې انګړ ته راواچاوه او په مجاهدينو يې بريد وکړ او څو تنه يې ټپيان او شهيدان کړه تر دې چې په خپله هم دمجاهدينو لخوا ټوټې ټوټې شو.

هغه مهال خلکو دبرنس دکور دروازې ته اور واچاوه او دګوليو په باران کې په ډيره ميرانه کور ته ورننوتل او برنس يې له کوره راويسته او ټوټې ټوټې يې کړو او دهغه په وژلو کې دغلام احمد خان

اڅکزي وراره او هزار خان کوتوال چې په خپله دهغه لخوا تحقير شوی ؤ ډير لاس درلوده په دی وخت کې ټول هغه افسران او انگريز کار کونکې چې دبرنس په کور کې وه دمجاهدينو په لاس ووژل شوه او دبرنس خزانه چې دافغانانو په منځ کې دنفاق دتخم دکرلو او دهغوی دخپلواکې روح دوژلو په موخه زيرمه شوې وه ، دسيل په خبره ۱۷ زره پونډه او سراج التواريخ دليکوال په قول يو لک او پنځلس زره روپۍ يې اټکل کيده دغازيانو لاس ته ورغلې ـ غازيانو دنورو انگريز افسرانو او چاړواکو په کورونو بريد وکړ دامير دوست محمد خان د ژوند په نامه دکتاب ليکونکې موهن لال چې دبرنس کور ته څيرمه اوسيدو دشرين خان په ذريعه دغازيانو له لاسه نجات وموندده وروسته له دې چې څو ورځې دنواب محمد زمان تر ساتنې لاندې وه بيا چندول ته ورسول شواو دناکراريو تر پايه هلته ؤاوړ دځينو وطن پلورونکولکه نائب محمد شريف خان او خان شرين خان په مرسته يې له مکناټن سره اړيکې جوړې او دملي نهضت دناکامۍ وسايل او قومي مشرانو ترمنځ ددرز جوړولو او حتی دځينو ياد شويو مشرانو دوژلو وسايل يې رامنځ ته کول خو په خپلوناوړه  موخو کې بريالي نشول ـ برنس چې کله دمجاهدينو تر بريد لاندې راغی نو له بالا حصار څخه يې مرسته غوښتې وه چې دا مرسته دشاهي گارد قوماندان جنرال کيمپبل لخوا يو غونډ فوجيان راوليږل شوه خو دبرنس تغر ورټول شوی ؤ او دا غونډ هم په لاره کې دمجاهدينو تر بريدلاندې راغی او ټول يې تباه کړو او توپونه او وسلې يې دمجاهدينو لاس ته پريوتې  ديوې خوا دانگريز فشار زيات شو ، له بلې خوا د ملت عکس العمل په شدت سره راپورته شو ، په لومړي سرکې يوې او بلې خواته لوی او کوچنۍ چاپې او داړې لويدلې ، خو د۱۸۴۱م کال په نوامبر کې دانگريز يو غُنډ عسکر په کوهستان کې نيست او نابود شو او په دی وخت کې معروف مبارز مير مسجدي خان هم راپورته شوی ؤ. (افغانستان په نولسمه پيړۍ کې  صفحه ۱۹۷ ) په هر حال دپاڅون په دی تاريخي ورځ شاه شجاع په بالاحصار اومکناټن په فوجي بارک کې وه او ښار يې له لاسه ووته ، په دوهه ورځ مجاهدينو په هغو کلاگانو چې انگريزان دښار دننه په کې ميشت وه لکه نشان خان کلا او وزير کلابريد وکړنشان خان کلا چې دښار او دهې افغانانو تر منځ پرته وه دانگريزانو داذوقې گدام وه او دکپتان مکنيزي لخوا ساتل کيده ددوو ورځو دمقاومت وروسته تسليم شوه همدا راز وزير قلعه چې چارباغ کې پرته وه چې دسلطانجان دبرج په نامه يادېږي دانگريزانو داداري تم ځای وه او قوماندان يې کپتان تربور وه دمجاهدينو دورتگ سره سم تسليم شوه خونومړې قوماندان دځينو اندرابي وطن خرڅونکو په مرسته فوځي بارک ته ورسول شوچې په دې توگه دکابل اداري او نظامي واک په بشپړه توگه دانگريزانو له لاسه ووت او دمجاهدينو لاس ته پريوته شاشجاع خپل زوی فتح دانگريزانو په غوښتنه له بالا حصاره بهر جنگ ته وليږل شومجاهدينو دهغه ۷۰۰ فوجيان مړه اودی بالاحصارته په تيښته مجبورشو



۱۸۴۱م نومبر ۴اودروژي ۱۹تاريخ دافغانستان مجاهد ملت دانگريزانو خلاف جهاد کې شريک شوي مجاهدين رحمهم الله

ددی پیښو په ترڅ کې چې په کابل کې رامنځ ته شوی دښار ځیرمه سیمو ته دجهاد غږ خپور شو اودسیمو خلک په دی مقدس جهاد کې د ګډون په منظور دکابل په لور راوخوځیدل نواب عبدالجبار خان چې دښار څخه بهر خلک دانګریزانو خلاف راپاڅول دکوهستان کاه درې خلک او دلوګر او میدان وردګو اوسیدونکو په ډیره بیړه له مجاهدینو سره یوځای شول او په وردګو کې یې لفتننت (ماول) او لفننت (ویلر ) دځپلو لاس لاندې سرتیرو لخوا ووژل شول ، غزني کې ملک موسی خان سلیمانخیل دانګریزانو یوې قوې ته چې مشري یې کپتان پالمر کوله ماته ورکړه او په ښار کې پټ شول چې څو ورځې وروسته کپتان ودیرن د۱۳۰ فوجیانو په مرسته دکابل غزني دلارې دخلاصون په خاطر ولیږل شوه داګروپ دوردګو باتورو مجاهدینو لخو ټول ووژل شول

همدا راز دملي پاڅون په دریمه ورځ ۱۸۴۱م کال دنومبر۴ دروژې ۱۹ تاریخ مجاهدینو دپاچا په بڼ او دشریف په کلا برید تر سره کړچې د چاونۍ او کمیساری یعنې فوجیانوته د رش رسولو ادارې تر منځ ارتباط وشکیده چې دګدام او زیرمو دلاس څخه دوتلو له کبله انګریز فوځیان


ویلیم جي مېکناټن ۱۸۴۱م

برته له خوراکي توکو په چونیو کې پاته شول دروژې مبارکې تر ۲۴ تاریخ هغه ټولې کلاګانې چې دبالا حصار او چاونۍ ترمنځ ( دعسکرو اوسنی کلوپ ) دیو په بل پسې دملي مجاهدینو پلاس کې پریوته شاه شجاع په بالا حصار او انګریزان په چاونۍ کې مطلق بند پاتې شول او مجاهدینو د انګریزانو په قشلې هم بریدونه شروع کړل مقابله روانه وه چې دشمال لخوا دوه ستوري چې په بخارا کې نظربند وه محمد اکبر خان رحمه الله او دهغه دتره زوی سلطان احمد خان راښکاره شول لمړی تاشقرغان او بیا بامیانو ته او له هغه ځایه چاریکارو ته راورسیدل په چاریکارو کې دانګریزانو لخوا لږ ځنډ شول خو دهغوې وسع ونه شوه چې مخه یې ونیسي چې دانګریزانو دوه افسران ( میجر پاټنجر) او لفتننت ( هافتن) دهغه ځایه په تیښته بریالي کابل قشلې ته راورسیدل او نور فوځیان پنجابیان تسلیم او ګورکه ووژل شول کله چې دواړه سرداران محمداکبرخان رحمه الله او سلطان احمد خان کابل ته راورسیدل دروژی مبارکې ۲۵ دنومبر ۸ تاریخ وه پاڅون کونکو مجاهدینو په یوغږ د ډلیزې حملې تیاری نیولی وه او مشر یې نواب محمد زمان خان ټاکلی وه هغه سمدستي خپله مشري سردار محمد اکبر خان ته وسپارله اوبریکړه وشوه چې دانګریزانو دبشپړې تباهۍ پورې به خپل جهاد ته ادامه ورکوي .مکناټن چې دسردار محمد اکبر خان دراتګ څخه خبر شو نو ډیر ناکراره شواو ویې ویل چې دسیاست له لارې ونه شي په جنګ نه کیږي

نو خپل انګریز ي چل یې وړاندې کړ اول داچې ځیني وطن فروشانو ته یې دپیسو په بدل کې د مجاهدینودمشرانو دوژلو وظیفه ورکړه چې یو یې عبدالعزیز اوبل یې محمدالله وه چې بیا همداسي وشول عبدالله خان اڅکزی یې شهید کړو دوهم یې یو لیک مجاهدینو ته ولیږه چې هغې کې لیکل شوي وه چې مونږ نور له افغانستانه وځو امیر دوست محمد خان درته روغ رمټ رالیږو او شاه شجاع له دندې لرې کوو او مونږ سره تر وتلو پورې یو قومي او مخور مشر دلارې ملګری کړی تر څو مونږ ته په لاره کې څه خطر پیښ نه شي .

په ځواب کې مجاهدینو داسې ورته ولیکل:

۱ ـ په درې ورځو کې به افغانستان څخه ټول انګریزان وځي

۲ ـ شاه شجاع به له ځانه سره وړي ،

۳ ـ انګریزان به بل ځل افغانستان ته پرته د حکومت له غوښتني نه داخلیږي ۴ ـ دوه اړخیزه تجارت به ددواړو په خوښه اجرا ء کیږي ،

۵ ـ که روسانو او یانورو په افغانستان حمله کوله دکمک لپاره به انګریز صرف نقدې روپۍ او تجهیزات ورکوي نه عسکر ،




۶ ـ اوس مهال به اړين خوراکي توکي دنقدي پيسو په بدل کې يعنې خرچه به په بيعه اخلي له افغانستانه به وځي
مکناټن ددسمبر په ۱۱ دشوال لسم دانګريزانو په فوځي بارک کې دا تړون لاس ليک کړ او سلطان محمد خان دپنځه زره مجاهدينو په مټ دنورو قهريدلو مجاهدينو له منځه په ډير تکليف راويستل
کله چې مکناټن چاونۍ ته ننوت او دغزني له لارې دکمک رارسيدو څخه خبرشو په بل فکر کې شودا دګيدړ ورور وه ځان سره يې ددوکې بل تلسم په کار واچوه چې سردار محمد اکبرخان ته چې دواک غوښتونکی دی وعده ورکړه چې بادشاهي به تاته درکړو او ورسره به نقدې روپۍ هم وي او داسی نوردمکناټن دا طرح اکبرخان ته ورسيده هغه ددې لپاره چې دمکناټن څخه ليکلی سند تر لاسه کړي او مجاهدينو ته يې وښايي چې دا مکار دوشمن دوتلو تکل نلري بلکه خپل وخت اړوي ، هماغه وه چې مکناټن ته يې دسلطان محمدخان ورور محمد صادق خان ورولیږه مکناټن ماده وار جواب وليکلو:
۱ ـ دافغانستان واک دشاه شجاع څخه اخلي او محمد اکبر خان ته يې سپاري .
۲ ـ  دوست محمد خان روغ رمټ راليږي .
۳ ـ انګريزان به نوره لاس وهنه نه کوي.
۴ ـ اوس به ۱۲لکه افغانۍ اکبرخان ته ورکوي او دوه لکه داستمرار په توګه وروسته ورکوي
۵ ـ فعلاً دی اکبرخان عبدالله خان لوګری ونيسی او هغه دی مونږ ته وسپاري .
مجاهد وزير محمد اکبرخان داسند تر لاسه کړ او ټولو مجاهدينو ته يې دمکناټن دوه مخي وروښودله او له بلې خوا هغه درې ورځې ضرب الاجل دوتلو هم پوره شو مجاهدين چې کله پوه شول زمونږ دمشرانو په منځ کې نفاق اچوي او له پخواني تړون څخه يې سر غړونه وکړه نو سترمجاهد سردارمحمد اکبر خان(مشهور په وزير اکبرخان) ته يې واک ورکړ چې ته څه وايې هغه مونږ عملي کوو هغه هم دالله له طرفه دتدبير خاوند شخص وه وويل مکناټن اوس پخپل جوړ شوي دام کې رانيول پکار دي : ددسمبر ۲۲مه ۱۸۴۱م = شوال ۲۱مه ۱۲۵۸ هـ ق نيټه يې مکناټن ته پيغام ولیږه چې زه چمتو يم خو دتړون دتعديل لپاره يوه لويه غونډه پکار ده جوړه شي چې په هغې کې ټول قومي مشران موجود ويچې په هغې خبرې وشي اوبيا لاسليک شي مکناټن ومنله او سبا دچاونۍ په حدودو کې غونډه ترتيب شوه موهن لال تاريخ ليکونکی او دانګريزانو سره نږدې ملګری وه وايي انګريزي افسرانو مکنزي، لارنس اوتربورمکناټن ته وويل چې ته خپله غونډه کې شرکت مکوه چې تاته خطر دی هغه په ځواب کې وويل که خطر هم دی ولې که کامياب شوو نو دټولو خطرونو څخه به خلاص شو.
مکناټن په ټاکلي وخت دهمدغو درې واړو افسرانو سره يوځای راغلل او دوه انګريزي عسکري غونډونه تيارسۍ ودريدل او مکناټن وويل که کار جوړ شو نو دا غونډونه به عبدالله خان اڅکزی ونيسي او که کار خراب شو نو زمونږ حفاظت به وکړي .
دمجاهدينو له طرفه غونډه کې سترمجاهد محمد اکبر خان رحمه الله ،سلطان احمد خان رحمه الله ، محمد شاه خان بابکر خيل رحمه الله او ورور يې دوست محمدخان ، غلام محی الدين خان او خدای بخش خان رحمهم الله موجود وه غونډه دانګريزانو دچاونۍ څخه ۵۰۰ ګامه وړاندې دکابل سيند تر غاړې پر افغاني قالينو په خلاص چاپيريال کې او يا داکبر خان رحمه الله پر څادر جوړه شوه ، دمجاهدينو مشرانو لا له مخکې سره ويلې وه چې اول مکناټن بنه ملامتووبيايې ژوندی نيسو تر څو چې دوست محمد خان صحي سلامت رانه شي دا به زمونږ سره وي محمد شاه خان بابکرخيل اکبرخان ته وويل که مکناټن ونه نيول شي او انګريزان ددوست محمد خان په زجر او زورونه شروع وکړي بيا به څه کوو اکبر خان ورته وويل پردی(اجنبي) زمونږ په پاکه او اسلامي خاوره

دکفر حاکمیت چلوي او داسلام سپکاوی کوي دامیر اسارت او زجر خو لاځه کوی چې ویني تویول تري شرف لري .کله چې غونډه پرانستلی شوه دانګریزانو لخوا مکناتن ، تربور او مکنزی ناست وه دمکناتن تر شا لارنس تفنګچه پلاس ولاړ وه او دهغه تر شا دوه نور کسان ولاړ وه او بیا شپاړس قدمه وړاندې لس کسه په اسپ سواره ولاړ وه

او دافغاني مجاهدینو لخوا محمد اکبرخان، سلطان احمد خان اومحمد شاه خان بابکرخیل ناست وه تر شا یې دوست محمد خان، محی الدین خان او خدابخش خان رحمهم الله ولاړ وه .

په شروع کې محمد اکبرخان خبرې پیل کړې مکناتن یې دهغه ددوه مخېزه لوبې په کولو ښه پر کړ او هغه اسناد چې ورسره وه ولوستل ټولو غونډه والو واوریدل تر ۱۵ دقیقو خبر وروسته په پښتو ژبه هغه ته اشاره وکړه چې خبرې بس دي او ددی سره اکبرخان او سلطان احمد خان په مکناتن حمله وکړه چې هغه په اسپ سپور او ښار طرف ته یې یوسي خو هغه مقاومت وکړ او محمد اکبرخان هغه تفنګچه راوویستله چې څو ورځې مخکې مکناتن ورته هدیه کړې وه مکناتن یې پرې وواژه .

محمد شاه خان،دوست محمد خان،غلام محی الدین خان او خدابخش خان بیا مکنزی، تربوراولارنس باندې حمله وکړه درې واړه یې اسونو ته وخیژول.خو په لاره کې تربور دنورو مجاهدینو په منځ کې ولویده هغوي سمدستي په تورو ټوټه ټوټه کړاو دانوردواړه یې محمود خان کلا کې اسیران کړل سلطان احمد خان وروسته دهغو لسواسپ سورو سره مقابله شروع کړه چې دری یې مړه او باقي یې چاونۍ ته وتښتیدل دچاونۍ دننه انګریزمشرپاتنجر چې دمکناتن ځای ناستی وه خبرو ته حاضرشوچې تاسو څه وایې لیکلي راولیږی سردارمحمد اکبر خان ورته داشرایط وړاندې کړل او هغه هم لاس لیک کړه :

۱ ـ ژر تر ژره دافغانستان پریښودل .

۲ ـ ټوله توپخانه پرته له ۶ توپوافغان مجاهدینو ته پریښودل .

۳ ـ یو شمیر انګریز مشران دخپلو بچو سره یرغمل نیول تر امیر دوست محمد خان له هنده ازاد او راورسیږي.

۴ ـ ۱۴ لکه روپۍ چې مکناتن یې ژمنه کړی وه مجاهدینو ته ورکول .

۵ ـ او ټوله جبه خانه او درانه وسایط مجاهدینو ته پریښودل .

دلاسلیک مطابق دکپتان ولش ، کپتان درو موند او کپتان ترومپ سره له خپلو بچیانو دمجاهدینو لاس ته او بیا نواب محمد زمان خان چې پاځون په اوله کېدلو ټولو مجاهدینو مشر وه خو دسردار محمد اکبر خان په راتګ مشري یې هغه ته وشپارله په کور کې چې لا تر مخه نور انګریزان لکه کانولي هندی ، دیورنډ او الکساندر هم وه بندیان او یر غمل ونیول شول انګریزان په (۶جنوری ۱۸۴۲م )=( ۶ذوالقعده ۱۲۵۸هـ ق )له کابل څخه دالفنستن په مشری روان شول چې تر جلال اباد پورې یې درسولو لپاره سردار محمد اکبر خان ،سلطان احمد خان او محمد شاه خان ورسره شول خو انګریزانو دتوافق نامې خلاف توپونه زیات روان کړي وه نو په لاره کې هغوی ورته وویل چې څه درپیښ شول کار مو خپل دی هماغه وه چې خورد کابل او بتخاک ته چې انګریزان ورسیدل او مجاهدین هم خبر شول چې انګریزانو بیا خلاف ورزي کړی نو شروع یې پرې ښه کړه اول یې توپونه ترې واخستل بیا دغلجیو او خوګیانیو مجاهدینو راحصار کړه دوی څخه فقط څلوېښت کسه سپاره انګریزان تر سرخروده راورسیدل سرخرودي مجاهدینو څخه فقط ۱۲ پاته شو چې هغه بیا دجلال اباد خلکو ینه پرې یخه کړه او بالاخره ۱۳ جنوري ۱۸۴۲م کال= ۱۳ذوالقعده ۱۲۵۸هـ ق کالیو کس دډاکتر برایډن په نامه ژوندی جلال اباد ته راورسیده

نور له ۱۵ازره څخه تر ۲۰ زرو انګریز فو جیان دهلاکت کندې ته وروغورځول شوه .






لفننت هنري ديورند انګريز تاريخ ليکونکي ليکلي چې : دالفنستن په مشرۍ انګريزي لښکرې دکابل جلال اباد په منځ دخوګيانيو او حصارک غلجايي په ساحه کې درې پلې لښکرې درې ګروپه غشي ويشتونکي يوه دله اروپايي توپچيان ، يو سواره نظام لښکر او ۴۰ سپاره لښکرې پرته له نظام او ۱۲ زره سرتيري ۱۲کروړه چې يو کروړ سل لکه روپۍ وي ټول دمجاهدينو لخوا په تلف ورسيدل .
ددی خبر دخوريدو سره سمملي پاځون کونکي مجاهدين هره خوا راځرګند شول اول يې هغه داخلي ګوډا ګيان چې دانګريزانو اجيره خواره وه ټول له تيغه تير کړل په وردګو او چاريکارو کې ټول انګريزان مړه يا ژوندي ونيول شوه غزني کې شمس الدين خان دسردار اميرمحمدخان زوی دانګريزانو هغه افسر(پالمر) ژوندی ونيوه چې دکابل قندهار دلارې ساتلو لپاره توظيف شوی ؤ
مجاهد سردار محمد اکبر خان جلال اباد ته درارسيدو سره سم په انګريزانو ۱۸ذوالقعده ۱۲۵۸هـ ق تاريخ سختې حملي شروع کړې خوانګريزان په قلعه ننوتل محاصره اوږده شوه اوسلطان احمد خان هم په لاس زخمي شو په کابل کې خلکو نواب محمد زمان خان په پاچاهي ومنلوپه داسې حال کې چې شاه شجاع په بالاحصار کې محاصره پروت وه امين الله خان لوګری چې ډير زيرکه اوچلناک او دشاه شجاع پخوانی ملګری وه فکر وکړ چې دنواب محمد زمان خان يوځه مخالفت امکان شته ښه به داوي شاه شجاع چې تر دې دمه دجهاد او ملت خلاف وه دې ته تيار کړي چې دمجاهدينو سره يوځای دانګريزانو خلاف جهاد اعلان او عملاً شريک شي اوسردار محمد  اکبرخان دخپل وزير په صفت ومني او ترې ښېنه وغواړي  شاه شجاع دامين اله خان لوګري خبره په ظاهر کې ومنله خو دزړه نه راضي نه وواودجلال اباد انګريزانومشر مکريګر ته يې پټ احوال ولېږه چې جلال اباد ټينګ کړه او له پيښوره کمک راوغواړه اوخپله دمجاهدينو سره روان شو په يوه ورځ کې ايله سياسنګ ته راورسيده چې دوه کيلو متره لاره نه ده هلته يې واړول مقصد داچې ده وخت اړولو تر څو يو خو ژمی تير شي او بل به انګريزانو ته له پيښوره کمک راورسيږي دشاه شجاع سره په دې لشکر کې دبارکزيو مشران چې دی ترې ډير ويريدلو هم موجود وه لکه محمد عثمان خان او دنواب محمد زمان خان زوی شجاع الدوله چې دوی دده په سست حرکت پوه شول او له بلې خوا سلطان محمد خان دنواب محمد زمان خان کاکا خپل وراره نواب محمد زمان خان ته له لاهوره يو ليک راليږلی وه چې په هغې کې يې ورته ليکلي وه که دغيرت پګړی مو په سر وي نو وړوکی (لات) يعنې مکناټن ددوست محمد خان زوی اکبرخان وواژه تاسو غټ (لات) يعنې شاه شجاع ووژنی.
ددی ليک په اوريدو دبارکزيو ځوانانو لکه محمدعثمان خان او شجاع الدوله وينې په جوش راغلې ( قصه خو غټه ده ټوله ليکل به دلوستونکو لپاره تکليف شي نوځکه يې په لنډه توګه ليکم ) شاه شجاع څخه په بالا حصار کې دخپلو جواهراتو کڅوړه پاته وه دسياسنګ څخه بالا حصار ته لاړه لس کسان بارکزيو ځوانانو ټوله شپه ورته په لار کې تيره کړه اخر سهار وختي شاه شجاع په هغه جپان( تخت) کې سور راغی چې څلورو کسانو په اوږو نيولی وه دنواب محمد زمان خان زوی شجاع الدوله پرې نښه برابره کړه زخمي شو له جپان (تخت يا ځانګو) څخه وغورځيده په منډه يو ژور ځای کې پټ شو خو دتلاش څخه وروسته يې پيدا کړو دوژنې په وخت کې يې زارې کولې چې (سردار سرکار

څه ګناه کړې ؟ ) دنواب محمد زمان خان زوی شجاع الدوله ځوان مجاهد ورته ځواب کې ویل ( دسر کار ګناه دملت او اسلام په وړاندې خیانت او دکفارو ملاتړ دی ) دسرکار وژنه ۳ اپریل ۱۸۴۲م = ۳ صفر ۱۲۵۸هـ ق کال وه او مړی یې دخپل پلار تیمور شاه سره په یوه هدیره کې خښ کړی شو .






دشاه شجاع دمړینې وروسته شهزاده شا پور دشاه شجاع زوی چې خپل پلار دجلال اباد تر روانیدو مخکې ځای ناستی ټاکلی وه اودامین الله خان لوګري زوی نصرالله خان یې مرستیال وه اوبل زوی یې فتح جنګ چې دمجاهدینو سره په سیاسنګ کې وه او بیا وتښتیده امین الله خان لوګري بالا حصار ته ورساوه او بالاخره دامین الله خان لوګري لخوا په چل او فریب سره له دې چې ټول مجاهدین یې مخالف وه بیا یې یو زوی فتح جنګ په تخت کیناوه.
نواب محمد زمان ورسره بیعت ونکړ او وی ویل دا هم دپلار په شان دانګریز ګوډاګیان او دملت دوښمنان دي خو لوګري ونه منله چې داهم ورسره یوځای په بالا حصار کې دمجاهدینو لخوا محاصره شو.
ددی اختلافه جلال اباد کې محمد اکبر خان رحمه الله خبر شو هغه په ډیره چالاکي دسلطان احمدخان سره یوځای کابل ته ځان راورسوه امین الله خان لوګري ته یې ووې ددی ګوډاګیانو ملګرتیا پریږده دخالصو مجاهدینو ملګری شه چې انګریزان بیا یرغل ته تیاری نیسي دده خبره یې ومنله او بیا دمجاهدینو سره شوخودامین الله لوګري مزاج دا وه چې دواړه طرفه یا دوه مخي یې چلوله هم دمنافقینو ملګرتیا او هم یې دمجاهدینو ملګرتیا کوله چې په اخر کې یې هماغه فتح جنګ په محمد اکبر خان دپاچا په صفت ومنلوخو وزیر یې محمد اکبر خان شو. (صفحه ۲۲۲ افغانستان په نولسمې پیړۍ کې)
انګریزانو دانتقام په منظورله پیښوره دجنرال پالک په مشرۍ ۲۰ شل زره انګریزي فوج سره جلال اباد ته راغې دشاشجاع زوی فتح جنګ ورته ډیر خوشحاله شو او کابل ته یې دراتګ دعوت ورکړ خو جنرال پالک دمکناټن،برنس او الفنستنځخه په عبرت کابل ته زړه ښه نه کړ.
ستر مجاهد وزیرمحمد اکبر خان رحمه الله دجنرال پالک مقابلې ته ځان جمتو کړو اول یې مجاهد سلطان احمد خان رحمه الله راولیږه چې هغه په خیبر کې حملې شروع کړې او بیا پخپله هم جلال اباد ته راغی او په انګریزانو یې سختې حملې وکړې خودقواو تعادل ډیر نامتوازنه وه او دتیزین لوړې ته دنور چمتوالي لپاره شا شول .انګریزان په دې پوه شول چې کابل ته په زور نه شو داخلیدی نو یې طلسم په کار واچولوهغه داچې امیر دوست محمد خان چې ددوی سره په هند کې نظر بندوه دبیا پاچاهې ورکولو خواست وړاندې کړ هغه چې تر دی دمه دافغانستان دحالاتو بالکل ناخبره پاته شوی وه چې مجاهدینو اوزوي مې څه کړي انګریزانو سره یې خبره ومنله اوانګریزانو ورته وویل چې ددی کار مخنیوی ستا زوی اکبرخان او نور ځنی مشران کوي ته هغوی ته ولیکه چې خمونږ ددې پلان دتطبیق مخه ونه نیسي او خپل قوتونه په شاکړي.
هغه دزوی محمداکبرخان په نامه یو خط ولیکه او په نښه کې یې ورته عینکې(چشمې)اودنصواروډبلی ترې واخسته او راوویې لیږل محمد اکبر خان چې داخط ولوسته حیران شو خو اخر پلار وه خط یې ومنلو خپله بامیانو ته لاړه او جنرال پالک، جنرال سیل کابل ته

دفتح جنګ په بدرګه مکریکراو موهن لال هم ورسره وه بالاحصار ته دتوپونو په ډزو بدرګه ننوتل .
انا لله وانا الیه راجعون
جنرال پالک له دی موقع نه په استفاده په کابل او په کابلیانو بنه زړه یخ کړانګریزان هرې خواته لکه شکارچي سپي دمجاهدینو پسې ګرځیدل چې ځیني وتښتیدل او ځیني یې ونیول ۸ اته میاشتې داغوبل روان وه اخر یې امیر دوست محمد خان تر دری کاله او څلور میاشتو تبعید وروسته راوسته او کنډواله حکومت یې ورته وسپاره او خپله یې ترې رمضان المبارک میاشت ۱۲۵۷هـ ق = نومبر۱۸۴۲م کال پښې سپکې کړې چې نورمو افغانان نه پرېږدي لاړل






# ب : دانګریز دوهم جنګ : نوامبر ۱۸۷۸م ـــــ اګست ۱۸۸۰م

دانګریزانواو افغاني مجاهدینو دوهم ځل جهاد او جنګ دهماغه اول جنګ په سلسله کې چې فقط ۳۵ کاله متارکه یې شوی وه بیا شروع شواو دانګریزانو په سیاست کې هیڅ تغیر نه وه راغلی فقط دوسلواو وسائطو تغیر وه چې تر افغانستان هغوې ډیرمخکې شوي وه اوبل داچې اول ځل انګلیسانو او افغانانو ترمنځ دسکهانو حکومت موجود وه چې ۴۰۰ میله پیاده او په اسپونوسواره راتلل او هم دریل ګاډي او موترو انتظام نه وه خو اوس دا دواړه موجود وه او دا ځل دسکهانو حکومت ختم او براه راست دافغانانو سره لاس پلاس جنګ وه ،انګریزانو په عوض ددې چې له تفکر او داول جنګ څخه عبرت اخستی وای دی وسایلو ته په کتو په افغانستان بیا تجربه شروع کړه.
بل خوا افغانستان د۳۵ کالو په موده کې په عوض ددې چې مقابلې ته ځان اماده کړي هماغه چقماق او بې پټاقیو توپکونه لرل چاسره تبر چا سره توره او چړې وی بس نور څه نه وه دانګلیس له امپراتورۍ سره په جنګ کې مخ شول
او همدارنګه دا وخت دانګریزانو په لاس وهنه دافغاني پاچاهانو او شهزادګانوپه منځ کې ټول په بې اتفاقیو او اخ وډب تیر شوی وه پلرونو زامن وهل او زامنو پلرونه وهل ورونه له ورونو سره نښتې وه قومونه له قومونو سره نښتي وه ټولو شهزاد ګانو یو دبل پښې وهلې اوهر یوه غوښتل پادشاهي ته ورسیږي. پدغه وخت کې چې انګریزانو دوهم ځل بیا حمله کوله امیر شیرعلي خان دوهم ځل پاچاشوی وو
دده حریف عبدالرحمن خان په بخارا کې وه روسانو عبدالرحمن خان ته وویل په افغانستان حمله وکړه مونږ دی حمایت کووپه همدې وخت کې روسانو خیوا ونیوله عبدالرحمن خان داخبرهونه منله خوبیا هم په افغانستان باندې د روس دیرغل اوازه هرې خوا خپره شوه امیرشیرعلي خان خپل وزیر نورمحمد شاه په ۱۸۷۸م کال دجنورۍ په ۳۰ پیښورته ولیږه








وزیر په خپل تېرشوي ترونونو تېنګار کاوه خو انګریزي استازي دا ترون دافغانستان دامیر په خوښه نه غوښت په ۱۸۷۸م کال هند ته دروسانو دتیري اوازه ورسیده سره له دې چې دبرلین ترون دروس اوانګریزترمنځ دجګړې خطر له منځه وړی ؤ خو بیا هم لاردلیتن د وړاندې تګ سیاست دعملي کولو غوښتونکی وه په امیر باندې یې فشار واچوه اوله بلې لورې نه دامیرشیرعلي خان غوښتنې هم دانګریزانو له لورې ونه منل شوې نوامیردروس سره دملګرتیا ترون دلاندې شرایطو له مخې لاسلیک کړو.

دامیرشیرعلي خان اوروسانو ترمنځ د ترون لاسلیک

۱ ـ دروس د دولت لښکرې به د افغانستان له لارې هند ته تیرېږي نو د افغانستان دولت به د تیریدو له اجازې سره دهغوی ساتنه هم کوي.

۲ ـ د اوسپنې درې کرښې به دافغانستان څخه دهند ترسرحداتو په لور کښل کیږي دافغانستان دولت به له دې څخه منع نه راوړي.

۳ ـ دروس سره به یوځای دافغانستان خلک دانګریزانو پرضد جنګیږي دافغاني فوځ مصرف به دجګړې له پیل څخه دروس پرغاړه وي اووسله به ورکوي ، دروسانو دلښکرو او څارویو خوراکي توکي به دهغوی سره په بارونو کې موجود وي.

۴ ـ دهند نیولو وروسته به کومې سیمې چې په ختیځو او سویلي برخه کې په احمدشاهي امپراطوری شهنشاهي دولت پورې تړلی شوی وې افغانستان ته پرېږدي په قطبي برخه کې به داموسیند سرحدي پولي جوړوي

کله چې انګریزان له پورته ترون څخه خبرېږي چې دامیرشیرعلي خان اودروسي جنرال کوفمان ترمنځ لاسلیک شوی دجګړې اعلان مکتوب یې سرنونیل چمبرلین په واسطه چې سیاسي پلاوی وه راولیږه ، نېټه یې ورته معلومه کړه او اولتیماتوم یعنې ضرب الاجل یې ورته ورکړ چې ترمعلومې نېټې پورې ځواب راونه رسیږې او امیر له خپلې نوی ملګرتیا څخه مونږ ته ډاډ رانه کړي نو د کندهار، کرُمې او خیبردرې له لارې به افغانستان په لور روان او افغانستان به د روس د مخنیوي لپاره ونیسي خو په دې وخت کې ولیعهد سردارعبدالله جان د امیرشیرعلي خان زوی مړ شو امیرپه غم کې ډوب تللې وه د زوی مړینې په مراسمو کې بوخت وؤ د انګریزانو سیاسي نماینده سره یې لیدنه ونه شوه نو ترمعلومې نېټې پورې انګریزانو ته دلیک یا مکتوب ځواب ونه رسیدو نو ځکه یې له دریو لارو څخه پر افغانستان یرغل وکړو.

امیرشیرعلي خان دخپل رب ( الله پاک ) او خپل سر ښندونکي مجاهد ملت څخه طمع قطع کړه او دروسانو دکړې ژمنې مرستې په هیله مزارشریف ته لاړو. په ترکستان کې روسي ګورنر جنرال کافمن ورته بهانې اوپلمې په مخ کې واچولې یوه پلمه یې داوه چې مونږ دافغانستان دپښو ولویدلو قواوؤ د تقویه کولو لپاره دهندوکش له لارې دموادو د لیږدولو لپاره ترانسپورتي ستونزې لرو.

انګریزانو چې پرافغانستان یرغل وکړو نو یرغل کول خو پرافغانستان آسانه دي خو په خپل واک کې ساتل ډیر ستونزمن دي انګریزانو ته دافغانستان په لومړۍجګړه کې داحقیقت ثابت شویوو خو دوهم ځل یې بیا دا تجربه تکرار کړه چې په نتیجه کې افغان مجاهد ملت ورته غاښن ماتونکی ځواب ورکړ
کله چې دامیرشیرعلي خانروسانو څخه دکمک طمع وشلیده په ۲۱ فبرورۍ ۱۸۷۹م کال مزارشریف کې یې له ژور خفګانه زړه وچاودیدو اومړشو.
خلکو دهغه له مړینې وروسته دهغه مشر زوی محمد یعقوب خان د۸ کالو بند څخه راویست او د کابل پرتخت یې کیښناوه.
امیرمحمدیعقوب خان دشیرعلي خان زوی دامیردوست محمد خان لمسی وه د ډیرقوت په درلودلو سره نوموړی د خلکو په منځ کې د زمري زوی(شیربچه)په نوم شهرت درلودو، دامیرشیرعلي خان په لومړي ځل سلطنت کې دهرات والي په حیث ټاکل شوی وۀ کله چې شیرعلي خان د عبدالرحمن خان اومحمداعظم خان دلاسه ماتې وخوړه نوشیرعلي خان خپل زوی یعقوب خان ته چې په هرات کې وۀ پناه یوړه، نوموړي خپل عسکرله شیرعلي خان سره یوځای کړل کندهاریي له محمد سرور دمحمداعظم خان زوی څخه ونیولوامیرشیرعلي خان دیعقوب خان په مرسته کابل ونیولواودوهم ځل لپاره دافغانستان د پاچا په توګه وټاکلو
کله چې شیرعلي خان پاچا شو نو د خپلې میرمنې عائشې په هڅو سره چې له دې سره یې ډیره مینه درلوده زوی یې عبدالله جان خپل ولیعهد وټاکه یعقوب خان چې پدې وخت کې ۲۵ کاله عمردرلود د خپل پلار ددې اقدام څخه خفه شو او له کابل نه وتښتیده هرات ته لاړو، فتح خان یې ووژلو وروسته پښېمان شو خو شیرعلي خان په تدبیر سره کابل ته راوبللو اوبندي یې کړو د امیرشیرعلي خان د مړیني نه وروسته دهغه مشر زوی محمد یعقوب خان د محبس نه ترخلاصیدو وروسته په روحي اوعصبي ناروغۍ اخته شوی وه.
امیرمحمد یعقوب خان په زندان کې وهل شوی وه او دباندې له حالاتو هم ناخبره وه او نه پوهیده څه وکړي ، انګریزانو ونیوه او ګندُمک ته چې د ننګرهار دشیرزادو په ولسوالۍ کې موقیعت لري هلته یې بوتلو دافغانستان په تاریخ کې یې پرې شوم تړون لاسلیک کړو چې وروسته په تفصیل سره د نوموړي تړون د موادو ذکرراغلی دی.






لنډه داچې انګریزانو د افغانستان د نیولو لپاره عملاً لاس په کارشو او د افغانستان خلکو یو پاچا یا مشر ته اړتیا درلوده ترڅو پرهغه راټول او د انګریز د یرغلونو مخه ونیسي ځکه نو امیرمحمدیعقوب خان په ۱۸۷۹م کال دمارچ په میاشت کې واک ته ورسیدو. ده غوښتل چې دانګریزانو غوښتنې ومني څو هغوې خپلې قواوې له افغانستان څخه وباسي داکار دده هیله وه خوپه عمل کې ممکنه نه وه، یعقوب خان په لومړي سرکي بعضي کسان مقرر کړل خوهغه شکمن خلک وه دمثال په توګه دده خُسر یحیی خان چې دامیرشیرعلي خان په وخت کې په بریتانوي هند کې وۀ د کابل والي مقررشو همدارنګه سردارشیرعلي خان دسردارمهردل خان زوی چې د انګریزانو یو نماینده وۀ د کندهار والي یې مقررکړو او داسې نورهم مقرر کړل، یعقوب خان پر۱۸۷۹م کال دمارچ

په لومړيو کې دهند وايسرای ته د پلار د مرګ او د خپلې پاچاهۍ خبر ورکړو.خو په اسلام او وطن مين،قهرمان ، مجاهد ملت يوار بيا حيرت انګيزه کارنامه چې دچا په تصور کې هم نشوه راتلای وښودله .

يو تاريخ ليکي چې دوه فرقې عسکرپېښور کې ،يوه فرقه په کورمه کې ،دوه فرقې په کويټه کې او ددوی تر شا ۱۰۰۰۰۰ يو لک نفرياردو پرته وه چې دهرې فرقې ۱۵۰۰عسکر ۳۵۰۰۰ بار وړونکي حيوانات تخصيصورکړل شوی وو دبارتو او وسلو اومرميو جوړولو فا بريکې او دوه داوسپنې پټلې دريل ګاډي لپاره ددوی خدمت کې وی

(افغانستان درمسير تاريخ مؤلف غلام محمد غبارجلد اول ۶۱۵ ــ ۶۳۹ صفحه بيا ليکي)

انګريزانوچې دامير شيرعلي خان لخوا کوم التوماتوم (ضرب الاجل) ورنکړای شو دافغاني سرحداتو له دريو محاذونو څخه رامخې ته شول دقندهار ،کورمې او خيبر له جبهاتو

اوله جبهه انګريزلښکر دقندهار دديره غازي خان ،بولان ،کويټه وچمن او کوژک له لارې قندهار ته راتلل ـ او دوهم لښکر دکورمې کوهاټ ،ټل، پيواړ ،ځاځيو ميدان خوست او لوګر له لارې کابل ته ننوتل وه ـ دريم لښکر دپېښور ، جمرود ، علي مسجد او ډکې له لارې جلال اباد ته راتلل . چې په مجموع کې ددريواړو د مقصد ځای کابل وه

**قندهار جبهه :**دانګريزانو لمړي لښکردوه فرقې ۱۲۹۰۰ دولس زره نهه سوه عسکر ۹۰ توپونه

او يوه فرقه يې احتياطي د۶۶۰۰ عسکرو او ۱۸ توپونه لرونکي يې تر شا لرلپه مجموع کې ۱۹۵۰۰يرغلګرعسکراو ۱۰۸ توپونه دجنرال ( ډونالد مارتن ستيوارت) او جنرال مکائيل اس ای بيد ولف تر مشرۍ لاندې قندهار ته په ۲۱ نومبر دکوژک ، کويټه له لارې حمله وکړه .


دانګريزانو او سکهانو يرغلګر عسکر دقندهار په طرف ۱۸۷۸م


ډونالد مارتن ستيوارت۱۸۷۸م

دقندهار حاکم سردار امير افضل خان دخپل فوج سره دامير شير علي دفرمان په اساس دګرشک او فراه له لارې هرات ته حرکت وکړکه دغه دامير فرمان دشاتګ نه وای صادر شوی نوامير افضل خان په پشين او کويټه حمله کوله چې ټولو پښتنواو بلوڅو ورسره ملاتړ کاوه جنرال صفدر خان دا پيشنهاد امير شيرعلي خان ته کړی وو خو هغه ونه منلو ، په هر حال مجاهدينو په تخته پل کې دانګريزانو سره سخته جګړه وکړه ډېرحيوانات ، نقليه وسايط او عسکر يې له منځه لاړل خو لاره يې خلاصه او انګريز لښکر قندهار ته ورسيدل چې دلته بيا تيت او پراګنده چريکي حملې پرې شروع شوې ، يو ځوان قندهاري موچي په يو انګريز افسر (سينټ جان ) حمله وکړه نواب غلام حسين هندي او نورو عسکروافسر ترې خلاص کړو او هغه هلک يې په عام محضر کې اعدام کړو ، بله ورځ يو ځوان ديوه چاقو سره په يوه ډله انګريزانو حمله وکړه چې يوتوپچي لفننتاودری عسکر يې ووژل چې دا ځوان هم دهغوی لخوا ټوټه ټوټه شو ، پنځه کسه دمدرسې طالبانو دانګريز عسکرو په نظامي تمرين ځای حمله وکړه چې څو تنه يې پکې ووژل ، بله ورځ يو غلجايي کوچي دخپلو دوو ځامنو سره يوځای په انګريزانو سترګې ولګيدلې زامنو ته يې وويل اوښان پريږدې او په هغوی يې حمله وکړه اوه نفره عسکر يې ووژل او څلور يې زخميان کړل تر څو چې خپله هم شهيدان شول .






ستیوارت دقندهار حکومت نواب غلام حسین ته اوسیاسي چارې یې سینټ (جان ) ته وسپارلې او خپله دیوې فرقې سره دقلات بې دفاع ښار نیولو ته لاړ
قندهاري مجاهدو ښاریانو اسلحې ته لاس کړ یو دناڅاپه یې په انګریز لښکر او توپخانه سخته حمله وکړه چې دوشمن یې سرسامه کړو او توپخانه یې داسې ډزوله چې ټول خپل ملګري یې په خاورو او وینو ولړل او په دغه وخت کې جنرال بید ولف دیوې فرقې سره دګرشک نیولو ته لاړ وه او ځای یې بلې فرقې چې تازه له کویټې ځخه راغلې وه ونیوه ، خو چې دواړه ستیوارت او بید ولف دقندهاریانو له دغې سختې حملې خبر شول بیرته واپس دخپلو فرقو سره دقندهار دساتلو په منظور راغلل چې په لاره کې دواړه لښکرو د ډېرو مالي او ځاني تلفاتو په ګاللو سره قندهار ته راورسیدلدری  فرقې په قندهار کې دديوالونو منځ کې شپږ میاشتې دګندومک تر تړون پورې حصار پاته شوې چې په نتیجه کې دحیواناتو اوښان واښه خلاص شول ډېر زیات یې مړه او تلف شول چې شاوخواسیمي او کلي ددوی له بویې ځخه تنګ شول
**دخیبر جبهه :**انګریز یرغلګر لښکر دخیبر له لارې دجنرال (سر ساموېل براون) اوجنرال ( ماد)
په مشرۍ دوه فرقو عسکرو دخیبر افغاني قلعه علي مسجد حمله وکړه دقلعه داخلي مجاهدینو سخته دفاع وکړه چې براون یې مات کړو خوبیا له دوه طرفونو نور عسکر راغلل او قلعه یې ونیوله او مجاهدینو عقب نشیني وکړه .

افریدي قوم دشپې لخوا دپشاور او علي مسجد په لاره چریکي حملې شروع کړې جنرال ماد دلارې دخلاص ساتلو په منظور ۶۰۰۰ عسکر تعین کړل خو افریدیو او مهمندوقومونو ددوی نقلیه وسایط او حیوانات چور کول او له منځه یې یوړل تر دې چې په خیبر کې دانګریزانو ټول اوښان او نورحیوانات تباه شول جنرال براون دجلال اباد بې دفاع ښار په طرف حرکت وکړ او جلال اباد یې ونیولو او فوراً یې دمهمندو او شنوارو په تصفیه شروع وکړه خو بل خوا دسوات او بونیر عالمانو




دجهاد اعلان وکړ براون شپږ میاشتې په جلال اباد کې محاصره تر ګندومک تړون پورې تیرې کړې او شاوخوایي افریدیانو ، مهمندیانو، ذخه خیلو، خوګیانیوالواود شینوارومجاهدینو پرې حملې کولې چې لغمانیانو د عصمت الله خان په مشرۍ دسرخرود فتح اباد ته خپل مجاهدین راوستل انګریزانوباندې نور هم ځای سور اور شو تر دې چې  دخپلې توپخانې په واسطه یې دمجاهدینو ګروپونه سره متفرق کړه خو هلته دمهمندو مجاهدینو په علي مسجد خپلې حملې سختې کړې چې دوشمن یې په ډېر تلفاتو اړولو وارخطا کړ.

علماء ، نوابان او نور مشران دحکومت په انتظار وه چې دمجاهدینو به مددکوي متاسفانه حکومت خلکو ته ددې وعده وروکوله چې دمذاکراتو له لارې انګریزان وباسو انګریزانو لږ لږ سا اخسته او دپاته کیدو طمع یې زیاتیده

**دکورمې جبهه :**دانګریزانو لښکردکورمې کوهاټ ،ټل، پیواړ ،څاځیو میدان خوست او لوګر له لارې کابل ته دجنرال فریدریک رابرتس په مشرۍ ۲۱نومبر۱۸۷۸م راغلل ، ټل چې د امیر شیرعلي خان په امر لاله وړاندې تخلیه شوی وه خو په پیواړ کې دمجاهدینو دسخت مقاومت سره مخ شوه چې مشري یې غونډ مشر کریم خان غونډ مشر ګل محمد خان او کنډک مشر عبدالعلي خان کوله چې د رابرتس لښکر زیاد وه نو یې پیواړ ونیوه او مجاهدینو عقب نشیني وکړه رابرتس یوه اعلامیه





جنرال فریدریک رابرټس ۱۸۷۸م

خوره کړه چې په هغې کې لیکلي وه دټل او ګردن شتر ترمنځ چې څومره علاقه ده دا دانګلیس پورې وتړل شوه او خلکو ته یې ډاډ ورکړ چې له مذهب سره کار نلرو خو مذهبي علماء په سیاسي کارونو کې دمداخلې حق نلري ، په دی وخت کې محمد اکرم خان دخوست حاکم چې دانګریزانو حامي او له ملي او دیني خائنینو څخه وه خپله او دخوست تسلیمي یې رابرتس ته اظهار کړه چې په دی سره رابرتس ډیر زړور شو له پیواړه تر خوسته ټوله علاقه پغیر له جنګ څخه ورته پلاس ورغله خو دمنګلو، وزیرو، ځدرانو، مسعودواو علي خیلو زړورو او مجاهدو خلکو ۱۷ جنورۍ ۱۸۷۹ د سیلاب په شان له غرونو په دوشمن ورپریوتل چې ډیر زیات انګریزان یې دجهنم کندې ته وروغورځول خو همیشه انګریزانو خپل مړي پټول تر اخره یې حال نه ویلورابرتسدخوست یولس کلي په پوره توګه منهدم (ویجاړ )کړل چې په دی سره به دخلکو دغوسې جوش کیني خودځاځیو ، منګلو او خوست دین پرسته مجاهدو خلکو تند مقاومت نور هم زیات شو او بالاخره رابرتس یې له خوسته تیښتې ته مجبور او کورمې ته واپس لاړو، دکفارو همیشه دا عادت وي چې کوم ځای پرېږدي هلته خپل یو جیره خور او غلام دحاکم په حیث پرېږدي نو ځکه یې خوست کې دوتلو په وخت شهزاده سلطانجان سدوزی حاکم په حیث وټاکلو خو مجاهدینو په ده هم حملې جاري وساتلې څه موده وروسته رابرتس دده کمک ته بیا راودانګل خو داځل دمجاهد ولس حملې دومره سختې شوې چې رابرتس دټول فوځ سره دله منځه تللو خطر احساس کړ نو یې خوراکي مواد څه چې یې وړلی شو واخسته او نورو ته یې په داخل دقلعه کې اور واچولواو بیا کورمې ته وتښتیدو او له شر نه یې خوست نجات پیدا کړو مجاهدین ورپسې شول څلورزره توپک لرونکو وزیر او مسعودو مجاهدینوداسې ویرونکي حملې پرې وکړې لکه په خیبر کې چې دبراون او ماد په لښکرو شوې وې او ټول حیوانات او نور وسایل یې ورته ختم کړي وهدلته هم داسې وشول ، خوپه کوهات کې انګریزانو د۶۰۰۰ شپږ زره تازه دم عسکرو په ذریعه دمجاهدینو حملې له خپل ځانه دفع او لیرې کړې .ددری واړو جبهو سرنوشت ته په کتو انګریزانو ته افغان زړوراو مجاهد ملت وښوده چې دکفارو خارجي اوداخلي غلامان نشي کولای په نظامي زور افغانستان تسخیر او د خپل واک لاندې یې راولي نو په دی لحاظ لیتن او نورو افسرانو یې په عوض ددی چې هندوکش ته درسیدو په پلان کار وکړي دخپل ځان له جلال اباد او قندهارڅخه دایستلو په فکر کې شول .او بیا یې کیوناری وټاکلو تر څو دامیر سره دصلح خبره شروع کړي هغه وه چې دیرغلګرو انګریزي قواو لا شپږ میاشتې نه وی پوره امیر په خپله دکیوناري په هڅو کندومک ته راغی او خلکوهم نه غوښتل کیوناری کابل ته راشي اوپه ۲۶می ۱۸۷۹م ګندومک تړون امضاء شو

**دګندمک تړون :**دغه تړون چې د افغانستان په تاریخ کې یودشرم نه ډکتړون بلل کیږي په لاندنیو شرطونو باندې دهند بریتانوي حکومت اودافغانستان امیر محمدیعقوب خان او اړوندو ملحقاتو ترمنځ دسولې اودوستۍ داړیکو جوړولو د پاره په اتفاق سره وشوو چې شرطونه یې عبارت دي.




۱ ـ له کومې ورځې نه چې دواړه ډلې په دې تړون باندې مهر تصدیق ولګوي نو دهغې ورځې نه به یولور ته دهند برتانوي حکومت اوبل لور ته دافغانستان امیر اوملحقات اودهغه ځای ناستو ترمنځ به همیشنۍ سوله اوملګرتیا وي.
۲ ـ دافغانستان حضرت والا امیر او ملحقات دا اقرار کوي چې هرکله دواړه ډلې په دې تړون باندې مهر تصدیق ولګوي نو هغه به پوره او مکمل د سر سلامتۍ یو اعلان د خپل رعیت دهغه ټولو کسانو په هکله خپروي اودهغوي به باالکل زمه واري کوي چې چا ددې جنګ په دوران کې انګریزي فوځونو سره راشه درشه ساتلې ده او په هره درجه چې وي هغوي به ټول دهرډول سزا او زیان نه لرې ساتي.
۳ ـ دافغانستان امیر او ملحقات دا اقرار کوي چې هغوې به خپلې اړیکې پردو حکومتونو سره دحکومت بریتانیا په صلاح مشوره ساتي ، دافغانستان امیر به هیڅ پردي حکومت سره تړون نه کوي اونه به د یو پردي حکومت پرخلاف وسله را اخلي ترڅو پورې چې حکومت بریتانیا په دې متفق نه وي
په دې شرطونو به حکومت بریتانیا د روپیو، وسلو یا دفوځونوپه ذریعه دټولو بیروني یرغلونو برخلاف مرسته کوي دامرستندویه فوځونه به په داسې طریقه استعمالیږي چې څرنګه حکومت بریتانیا ته ددې مرام حاصلولو دپاره مناسب ښکاره کیږي ، هرچېرته چې انګریزي فوځونه په افغانستان کې دباندني یرغلونو ددفع کولو دپاره دننه شي نوڅه وخت چې هغه مدعا چې دکوم دپاره هغوي داخل شوي وي سرته ورسوي نو هغوي به سمدستي انګریزي سیمو ته خپل خپل ځایونو ته واپس کیږي.
ددې مرام دپاره چې حکومت بریتانیا اوامیرمحمد یعقوب خان په منځ کې هغه نژدې او بلاواسطه اړیکې چې کوم اوس قایم شوي دي په عمل جاري پاتې شي اوددې دپاره چې دامیر دمقبوضاتو دسرحدونو په ښه طریقه حفاظت وشي دواړه ډلې دا اقرار کوي چې په کابل کې به یوانګریزي نماینده اوسیږي چې دهغه ددرجې اووقار سره مناسب وي داخبره هم دواړه ډلې منظوروي چې هرکله یوه غټه باندنۍ معامله پیښه شي نو حکومت بریتانیا ته به داحق حاصل وي چې هغوې دافغانستان سرحدونو ته انګریزي نماینده ګان سره دمناسب ساتونکو ډلو ولیږي خو چې هرکله دا امرحکومت بریتانیا ته ددواړو حکومتونو دګټولپاره اړین ښکاره شي، دافغانستان حضرت والا امیر به هم خپل یو نماینده دهندوستان دګورنر جنرال په دربار کې اوسیدو دپاره مقررولی شي اودهندوستان په هغې نورو مقاماتو کې هم چې په کوم باندې دواړه ډلې خوښمن شي

۵ ـ دافغانستان حضرت والا امیر اوملحقات په خپل ملک کې دانګریزي نماینده ګانو دذات دسلامتی اود دروند سلوک زمه واري اخلي اوحکومت بریتانیا له خپل طرف نه دا اقرارکوي چې دهغوي نماینده ګان به په هیڅ وجه دامیر والا د ملک په داخلي انتظام کې لاسوهنه نه کوي.

۶ ـ دافغانستان امیر او ملحقات دخپل ځان او دخپلو ځای ناستو دطرف نه دا اقرار کوي چې هغوې به په خپل ملک کې دننه دانګریزي رعایاؤ په لاره کې هیڅ ستونزې نه پیداکوي چې دهغوې په سیمو کې په امن سره تجارت وکړي ترڅو پورې چې هغوي ته د حکومت بریتانیا د طرف نه په دې اړه اجازت حاصل وي.
۷ ـ ددې موخې لپاره چې د بریتانیا حکومت او د افغانستان حضرت والا امیر د سرسیمو ترمنځ د تجارت تګ راتګ مسلسل او جاري وي نو امیر دا اقرار کوي چې زه به دسوداګرو خلکو د حفاظت دپاره خپل غوره وس نه کاراخلم او د افغانستان په عامو او مشهورو لارو باندې به د تجارت مال د تیریدو او راتیریدو دپاره اسانتیا پیداکوم او د حضرت والا امیر په ملحقاتو کې چې کوم تجارت کیږي دهغه دپرمختګ او دحفاظت دپاره عام انتظام وغیره به په یوجداتجارتي تړون کې ذکر کیږي چې هغه به دملک دنورو حالاتو مدنظر په یوکال کې دننه دننه ددواړو ترمنځ کیږي.
۸ ـ ددې دواړو حکومتونو په منځ کې دتجارتي اړیکو اوتګ راتګ دپرمختګ اومرستې دپاره دواړه لورې دا اقرار کوي چې دکرُمې نه تر کابل پورې به دبرقي تار یو تار بریتانوي حکومت په خپل خرچ جوړوي اوافغانستان امیربه ددې تاردحفاظت انتظام په خپله زمه اخلي.
۹ ـ په دې خاطر چې د دواړو حکومتونو ترمنځ د دوستۍ اړیکې اوس بیا د سره قایمې شوې چې ددې تړون تیرشوي شرطونه یې تصدیق کوي او مضبوطوي یې له دې کبله بریتانوي حکومت اود جلال آباد ښارونه سره دهغې ټولو سیمو چې دا وخت دانګریزي فوځونو په واک کې دي واپس ورکوي غیرد کرُمې، پشین او د سیبي د سیمو نه د افغانستان حضرت والاامیر اوملحقات د خپل لورې نه داقول کوي چې دکرُمې ، پشین اوسیبي سیمه به په مطابق دهغې حدودو چې کوم په مشموله نقشه اوجدول کې درج دحکومت بریتانیا دحفاظت اود انتظامي تسلط لاندې وې خودغه تسلط دایمي نه دی اوددې سیمو مالیې هرکال دافغانستان حضرت والا امیر ته ورکوي دبریتانیا حکومت به دمیچنۍ او دخیبر ددرو انتظام چې دپیښور او جلال آباد ترمنځ پرتې دي په خپل لاس کې ساتي اوکوم آزاد قبایل چې دې درو سره بلاواسطه اړیکې لري هغوی سره به هم دتګ راتګ انتظام پخپله کوي
۱۰ ـ ددې غرض لپاره چې بریتانیا حکومت دامیرسره دخپلو حقه اختیاراتوپه حاصلولو کې نوره مرسته وکړي او هم ددې تړون دقبول شوو شرطونو په مقابل کې اقرار کوي چې دکال به شپږلکه روپۍ دافغانستان حضرت والا امیر ته ورکوي.
دغه تړون دګندُمک په سیمه کې په ۲۶ دمئ ۱۸۷۹م کال کې ترسره شو.









دامیرمحمدیعقوب خان لاسلیک ـ این کیو جنرل میجر سیاسي افسر کار خاص لاسلیک ـ او لارډ لیټن لاسلیک
همدارنګه دا تړون دهندوستان دهزایکسي لنسي وایسرای او ګورنرجنرال دجمعې په ورځ په ۳۰ تاریخ دمئ په ۱۸۷۹م کال کې دشملې په سیمه کې تصدیق کړو.

**دکابل پاڅون ۳ سپتمبر۱۸۷۹م کال :**دانګلیس سفیر سرلوئي کیویکناری چې دکابل خلکو کې په کمناري یا کیو ناري مشهوروه دګندومک دتړون دځلورمې مادې مطابق ۲۴جولائی ۱۸۷۹م دمنشي (جنکنز)اویو مخصوص طبیب او۵۶۰ کسیز محافظتي ګارد چې مشري یې لفننت هملتن کولهسره یو ځای په داسې حال کې کابل ته راغی چې یعقوب خان ورته یوه عسکري قطعه استقبال ته ودرولې وه بالا حصارکي دامیر محمد اعظم خان په عالي امارت کې ورته ځای ورکړل شو

دلې وخت په تیریدو سره کیوناري دمکناتېن په شان دتړون دپنځمې مادې خلاف ددولت په داخلي کارونو کي داوامرو او نواهیو اصدار او دعلني غونډو تشکیل مداخله شروع کړه خو ډیر زر پوه شو چې افغان مجاهد ملت دخارجیانو اداري سلطه نه مني او دده په خلاف یې په ښار کې ځای ځای غونډې شروع کړې .

کیو ناري له دې وضعیت څخه دهند وایسرای ته دتلګراف په ذریعه اطلاع ورکړه .او په بالاحصار کې دمجاهدینو یوه غټه غونده چې درې قطعې نظامیان او په زرګونو ښاریان پکې شامل وه جوړه شوه چې په ښکاره ډول خارجیان او دامیرلخوا دخارجیانو حمایت تحریک امیزه وغندل شو.

کیوناري سمدستي له امیر څخه کمک وغوښته چې غونده تیت کړي امیر داود شاه خان سپهسالار ورولیږلو هغه چې دزړه نه دمجاهدینودقیام سره وه خو بیا هم یې له اسپه راوغورځولو او ښه یې ووهلو.







کیوناري بیا امیر ته خواست وکړ چې دقیام چاره وکړي امیر بیا خپل خسرسردار یحیی خان او خپل ولیعهد محمد موسی خان او نور مشران ورولیږل چې دمجاهدینو دا اسلامي او دکفر ضد جذبات دقران په پیش کیدو خاموش کړي خو نتیجه یې ورنکړه

مجاهدینو دانګریزانو دسفارت په لور د کفر لړزونکي الله اکبر په ویلو حرکت شروع کړو، کیوناري سکرتر جینکنز دسفارت یومستخدم تیمور دمجاهدینو مشر کریم الله خان ته ولیږلو چې قیام کونکي تیت کړي اومونږ به هر قیام کونکي ته دشپږ شپږ میاشتو معاش ورکړو خو دقیام مخه ونه نیول شوه

کله چې سفارت ته نژدې شول د کیوناري سره د۶۰۰ انګریزي ګارد لخوا تر اور لاندې ونیول شوه خوبیاهم قیام کونکو مجاهدینو وکولای شول په سفارت وروخیژي.

کیوناری اودهغه ۶۰۰ کسیز ګارد او دانګریزانو بیرغ ته یې اور واچولواو ټول یې په سر دونیا جهنم ته ورګذار کړل چې اجساد یې په ایرو بدل شوه.ماشاء الله

بل روایت داسې دی چې کله یعقوب خان کابل ته راورسیدو نو ایوب خان یې د هرات والي وټاکلو او له هغه یې غوښتنه وکړه ترڅو یوه ډله عسکر کابل ته راولیږي نوموړي هم یو تعداد عسکردداود شاه خان په مشرۍ یعقوب خان ته راولیږل او په هرات کې عسکرو ته ویل شوي وه چې تنخوا به په کابلکې درکړل شي دغه عسکر چې کله کابل ته ورسیدل له خپل سر لښکر داؤد شاه خان څخه یې د تنخوا غوښتنه وکړه چې تنخوا ورکړي هغه ورته وویل ستاسوغوښتنه پرحق ده خو اوس ټول

صلاحیتونه دکیوناري په لاس کې دي هغه ته ورشی اوخپله تنخوا ورځخه وغواړی ، عسکر چې کله دکیوناري منزل ته چې په بالاحصار کې یې موقعیت لرلو ورسیدل، کیوناري ګمان وکړلو چې ملت په پاڅون لاس پورې کړی دی اودغه عسکرغواړي چې پرمونږ یرغل وکړي نوخپلو ساتونکو ته یې امر وکړو چې پرهغوی باندې د مرمیو ګذارونه وکړي، دغه عسکر چې د خپلې تنخوا غوښتنې په خاطر د کیوناري منزل په لوري په حرکت وه دوی هم دمرمیو باران پرمقابل لورې باندې پیل کړلو چې پدې وخت کې یعقوب خان ډیرې هڅې وکړې چې خپل عسکر منع کړي خو چا یې غوښتنې ته پاملرنه ونه کړه ددغې سرګرمۍ په پایله کې دسرکیوناري په شمول ۱۲۳ تنه دانګریزسفارت کارکوونکي او۶۰۰ سرتیرې یې ژوندي په اور وسوځول شوه

## دانګریزانودوباره تازه حملې شروع کیدل:

کله چې دکیوناري په مشرۍ دبرطانیې (انګریزانو) سفارت په کابل کې تباه شو نو امیر محمد یعقوب خان سمدستي جنرال فریدریک رابرتس ته اطلاع ورکړه چې په کابل کې عمومي انقلاب دی او زه په شاهي قصر کې محصور یم او له دی واقعې له پیښندو ډیر خفه یم ، انګریزانو ته ددی خبر په رسیدو دبرطانیې په سیاسي او نظامي دوائروکې لکه تندرچې پریوځي او لیتن په هند کې دبرطانیې سر قوماندان سمدستي خپلو قوماندانانو ته دانتقام اخستلو امر ورکړ جنرال ستیوارت بیا په قندهار حمله وکړه دقندهار حاکم سردار شیرعلي خان پغیر له مقابلې دهغوی غلامي ومنله او قندهار یې ورته تسلیم کړاولیتن غوښتل قندهار دانګلیس قلمرو او هرات ایران ته ورکړي ترڅو افغانستان تجزیه کړای شي خو ایران دانګلیس دا پیشنهاد ونه منلو رابرتسدلوګر له لارې راروان شو امیر محمد یعقوب خان ته یې خط راولیږلو چې مونږ ستا دسلطنت ساتلو په منظور درځو اودکیوناري قاتلین نیسو بس نور څه نه کوو ولي محمدخان لاتې یې مخې ته ورولیږلو چې که تاسو راشی خلک به بیا قیام وکړي خو هغوی خبره ونه منله لوګر ته راورسیدل یعقوب خان چې پوه شو انګریزان حتمي راځي داسې نه چې دکیوناري په قتل کې ما ونه نیسي لوګر خوشي ته ورغی هغوی سمدستي ونیولو او دیوبندي په طور یې له ځان سره کابل ته راوستلو.

درابرتس د فوجونو مقابله دازادۍ اوپه دین مینو مجاهدینو په چهاراسیاب کې وکړه او بیا یې په سیاسنګ کې او بیا یې په بیني حصار کې وکړه چې دوشمن ته یې ډیر زیات تلفات واړول خو دفع نه شول اوکابل ته ۶ اکتوبر۱۸۷۹م انګریزان بیا راورسیدل رابرتس شیږ ورځې حیواناتو ته دخوراکي موادو په راټولولو تیرې کړې

او بیا یې دلیتن دقوماندې مطابق دبالا حصار په ورانولو ټول حکومتي خزائن ضبط او دفحشاو خوریدل او دتوپکو خریداري چې له افغانانو راټول شي شروع وکړه.



جنرال فریدریک رابرتس ۱۸۷۸م



او دکیوناري دقاتلینو په نامه یې ټول مجاهدین او قیام کونکي د۷۵ کالدارو په انعام ورکولو رانیول.

مالیات یې تر خپل کنترول لاندې راوستل دحکومت ټول وظایف انګریزانو ته ورکړل شو او خپل بیرغ یې په بالاحصار زوړند کړو.

دښارخلک یې راټول کړه رابرتس ورته دجنرالي په لباس کې راووته او خپل دریځیې ورته اعلان کړ خلک چپ چاپ ناستوه چې کله خلک له بالاحصاره راووتل نو خپلو کې یې وویل : کمناري ( کیوناری ) ته موشپږ هفتې مهلت ورکړ اودی رابرتګل (رابرتس) ته لږ زیات وخت پکار دی ځکه ده سره عسکر ډیر دي چې له منځه لاړ شي .

له دی وروسته یې دخلکو دویرولواو ځان ښودلو په منظور یو رسم ګذشت ترتیب کړوبله ورځ یې بالا حصار ته اور واچولو. او دري مشهور دمجاهدینو مشران جنرال خسرو نورستانی، محمد اسلم

خان کوتوال اوسردار سلطان عزیز خان دنواب محمد زمان خان زوی چې دکیوناري په قتل کې شامل هم نه وه اعدام کړه .
لږ ورځو کې ورته دتل کوهات نه یو تازه دم فرقه راورسیده چې کابل کې دانګلیس عسکرو تعداد ۲۰ زرو ته ورسیده له قندهار څخه یې هم یوه فرقه راوغوښته چې هغه په غزني شاه جوی کې د غلجایي او ترکو له مجاهدینو دسخت مقاومت سره مخ شوه چې صاحب خان د ۲۰۰ مجاهدینو سره یو ځای شهید شو او پیرمحمد ۱۳ ځایه زحمي او یو لاس یې پرې شو چې ددوی ددی قربانۍ له وجه انګریز لښکر مجبور شو واپس قندهار ته ناکام لاړه
رابرتس خپل فوجونه شیر پور ته راټول کړه او یو لوی دیوال اوه متره ارتفاع لرونکی یې ترې تاو کړواو هم یې دبی بی مهرو په غونډۍ لاندې ساحه کې برجونه جوړ او نظامي ساحه یې ترې جوړه کړه او سیم خاردار یې تر تاو کړو او دېنځه میاشتو دحیواناتواو انسانانو اذوقه یې پکې ذخیره کړه په بالا حصاراو سیاسنګ کې یې هم د نظامي ودانیو جوړولو کار شروع کړو رابرتس په برطانیه کې ډیر مشهور شو لیتن ورته دلیفننت جنرال رتبه ورکړه او خپل ځانته یې دافغانستان نائب السلطنه لقب ورکړواو برطانوي ملکې ورته مبارکي راولیږله رابرتس دنوامبر په اخر کې سردار یعقوب خان سره له خسریې سردار یحیی خان او سردار زکریا خانیې هندوستان ته تبعید کړه او سپهسالار داود شاه او مستوفي حبیب الله صدراعظم ورسره په محبس کې پاته شول .
رابرتس نور نو دافغانستان شمال ته مخه کړه او سردار ولي محمد خان یې دشمال والي مقرر کړو چې بدخشان ، قطغن، بلخ او میمنه به ورته سپاریخو دی کار ته د الله په مرسته د افغانستان مجاهدو شازلمو نر او ښځو فرصت ورنکړاو دسمبر میاشت کې عمومي قیام شروع شو.
**عمومي قیام دسمبر ۱۸۷۹م :** دانګریزانودتجاوز ۵۵ ورځې تیرې شوی وی چې په دی ورځو کې دافغانستان لیرې او نژدې مجاهدو خلکو تیاری نیولو بالاخر دانګریزانو دټکولو په منظور دکابل شاوخوا ته راټول شول ژمی وه خلک له کارونو هم اوزګار وه او دانګریزانو ریاکاري او دوشمني خلکو ته ښه په ډاګه شوه.
دکوهستان مجاهد خلک دمحمد کریم خان، غلام حیدر خان کابلي ، میربچه مشهور کوهدامني ، میر غلام قادر خان اوپیاني او پرویز شاه خان پغماني په مشری په تګاب او نجراب کې دمحمد عثمان خان صافي او ورور یې محمد شاه خان په مشری ـ لوګر کې دغلام حیدر خان څرخي (چې بیا سپهسالارشو) ،سمندر خان او محمدحسن خان لوګري په مشری ــ په میدان وردګو کې جنرال محمد جانخان وردګي په مشری ـ غزني او زابل کې د ملا دین محمد خان اندړي چې مشهور په ملا مشک عالم وه ، عبدالقادر خان غزنوي ، ملا عبدالغفور خان لنګري او ګل محمدخان اندړي په مشری ــ هرات کې نائب سپهسالار حفیظ الله خان او سردار محمد ایوب خان په مشری ـ په ننګرهار کې عصمت الله خان جبارخیل او نورو لسګونو مشرانو په رهبرۍ اجتماعات او غونډې شروع شوی په غزني کې ملا مشک عالم جهاد اعلان کړو دمجاهدینو ګروپونه جوړ او دکابل په طرف حرکت کې شوه دا بې توپه اوبې سورلۍالهي فوجیان چې دڅا سره توپک وه او دڅاسره پلاس کې توره او چاړه وه راروان شول .
پروګرام داسې وه چې دکوه دامن مجاهدین به کاریز میر اوخیرخانه کوتل او شمال طرف دکابل نیسي دپغمان مجاهدین او ارغندي مجاهدین به دکاریز میر له مجاهدینو سره یوځای کیږي دلوګر اوپکتیا مجاهدین به بیني حصار ، شیر دروازه او تخت شاه جنوب غرب کابل ټولې حاکمې نقطې نیسي دتره خیلو ، بتخاک او بګرامیو مجاهدین به دیک لنګه ، سیاسنګ او دکابل شرقي حصه نیسي دمیدان وردګو او غزني مجاهدین به دګذرګاه له تنګي راساً تیردکابل ښار دشیر پور په قشله به حمله کوي چې په دی ترتیب به ددوشمن څلور طرفه دتیښتې لارې بندې وي او ددوشمن ټول قوت به له منځه وړي .

متاسفانه سردار ولي محمد لاتي له دی نقشې خبرېږي او رابرتس ته خبر ورکوي جنرال رابرتس سمدستي يو لښکر انګريزان د بريګيډر ميکفرسن او دامير دوست محمد خان زوی محمد حسن خان په مشری دشمال خوا کاريز مير ته ليږي ، بل لښکر دبريګيډر بيکر او دسردار سلطان احمد خان زوی سردار عبدالله خان په مشری غرب طرف ارغندي ته ليږي چې دشمال او جنوب مجاهدين سره يوځای نشي او خپله رابرتس په شير پور کې داکمالاتو لپاره پاته شو او په افشارو کې هم يوه قطعه پرته وه ، په کاريز مير کېجنګ ونښته ساحه يې له انګريزانو ونيوله دجنرال محمد جانخان مجاهدين




قلعه قاضي ته راورسيدل او په چهار اسيا کې هم دانګريزانو لښکر تر سخت ضرباتو لاندې وه رابرتس پخپله دمحمد جانخان مقابلې ته قلعه قاضي ته ورغلو يو ځوان پرې حمله وکړه خو له مرګه بچ شودلته جنګ داسي سخت شو چې لاس پلاس مجاهدين او انګريزان سره نښتي وه .

جنرال رابرتس چې کله داجنګ وليده امر يې وکړ چې ټولې قواوي دی شير پور ته عقب نشيني وکړي او يو لښکر دی ګذر ګاه کې لنګر واچوي تر څو دهغې طرف نه مجاهدين رانه شي او پخپله له قلعه قاضي نه دمارغه په شانوتښتيدو چې دده اسپ دانګريزانو دمړودلاشونو دپاسه روان وه چې له دی لښکر څخه فقط ۴۰ کسه انګريزان درابرتس سره شير پور ته په تيښته ژوندي ووتل .

سردار ولي محمد خان لاتی دانګريزانو لخوا دبلخ والي ده مزنګ ته دګذرګاه دساتلو لپاره راوليږل شو په کليوالو کورونو کې يې واړول خو چې کله مجاهدين پرې راورسيدل ټول مالونه يې ترې واخستل او خپله دمجاهدينو سره يوځای شو، ټول انګريزان چې ژوندي پاته وه شير پور ته راجمع شول او په شيرپور کې محاصره شول

جنرال رابرتس ته ۳۶کاله وړاندې د مکناټن او الفنستن واقعه ورياد شوه!!! خو رابرتس دګندومک څخه دجنرال چارلس فرقه او له بت خاک څخه بله فرقه شير پور ته راوسته او هم يې له هندوستان څخه دوه فرقې عسکر تازه دم راوغوښته چې هغه هم په لغمان کې مجاهدينو له سختو ګذارونو اوتلفاتو زغملو وروسته کابل ته راورسيده

دشير پور دقلعه هر کنج يې يو يو جنرال ته وسپارلولکه ( بريګيډر ميکفرسن ، بريګيډر جنرال هيوج ګف ، ميجر جنرال هلزو کلنل جنکنز ته وسپارل او مرکزي قوماندانې يې جنرال ميسي ته ورکړه او داحتياط قوماندان يې جنرال بيکر شو .

رابرتس په شير پور کې لا دمخه دپنځه مياشتو انساني او حيواني اذوقه اچولې وه او دقلعه ديوالونه هم ډير جيګ او لوړ وه نو ښه متيقنوه چې په دې قلعه مجاهدين نهشي ورختلی او خپله لکه ليوه چې په قفس کې واچوې پروت او دانګلستان دکمک په طمع يې شپې سبا کولې .دکابل ښار دملا مشک عالم او جنرال محمد جانخان په لاس کې وه په ۱۳ د دسمبر دجنرال رابرتس په شير پور کې طاقت ونه شو او خپلې قواوې او توپخانه يې تر بيني حصار پورې ورسولې د تخت شاه مجاهدين محاصره شول څلور ساعته مقاومت وروسته ټول شهيدان شول بيايې سياسنګ غونډۍ ونيوله او بيايې اسمايي غر ونيوه چې سبا ددسمبر ۱۴ تاريخ د محمد عثمانخان او ورور يې محمد شاه خان په مشرۍ دتګاب او نجراب مجاهدين کابل تهراورسيدل په اسمائي غره يې حمله وکړه دومره انګريزان مړه شوه تا به ويل توږې تيکې پرتې دي غر يې ونيولو رابرتس نوې قوه او توپخانه وروليږله بيا سخت جنګ وشو محمد عثمان خان دمجاهدينو په اول قطار کې په تو پخانه ورو‌خوت ان تر دې چې شهيد شو(انا لله وانا اليه راجعون)

جنګ نور هم زور واخسته او بالاخره مجاهدينو له انګريزانو توپخانه ونيوله چې په دې وخت کې دشمال مجاهدين هم راورسيدل سياسنګ غر يې بيا ونيولو دادوهم ځل وه چې دکابل ټول غرونه دمجاهدينو لاس ته پريوتل

دکابل ښځو مجاهدینو ته دخوراک څښاک رسولو وظیفه په غاړه واخسته او لکه دغره هوسی به په غرونو ختلي او مجاهدینو ته به يې خوراک او اوبه رسولي چې په دی جنګ کې ۴۰۰ څلور سوه ښځو برخه اخستي وه اوبيا له دغو څخه ۸۳ ښځې داسمائي غره په جنګ کې شهیداني هم شوې انا لله وانا الیه راجعون

عبدالله يو ځوان وه چې له خپلې نامزد بي بي سره يې په ۱۳ ددسمبرنکاح وشوهمور يې ورته دنکاه ګوته په ګوته کړه عبدالله خپلې مور ته وويل :دکلي ( عاشقان او عارفان ) خلک به دفرنګیانو جنګ ته تللي وي اوزه به دلته دخپلې ښځې سره يم دواده له تخته پاڅيده خپله تفنګچه او توره يې واخسته او خپلې ښځې زهرا ته يې وويل له دی ګوتې سره به مې په بله دونیا کې بیا ووینې !!! .

عبدالله دجنګ میدان ته لاړه او په غره وروخاته سبا چې دانګریزانو مړي تر شير پور پورې پراته او له سیمې لکه په جارو چې ټول شي ورک کړه .

خو دکلي خلکو دعبدالله ځوان شهید مړی په خپلو اوږو کور ته راوړو او دخپلې زړې مور ومخې ته يې کیښنودهزهرا راغله او دشهيد عبدالله دلاس ګوته چې په نکریزواو وینو سره وه مچې کړه او دعبدالله شهید مور ته يې وويل مورې مه ژاړه ترڅو زه ژوندی يم ستا فرزند يم ربښتيا هم زهرا دعبدالله په نامه تر مرګه دخوانبې په کور کې شپې او ورځې تیرې کړې چې تراوسه پورې ددی دواړو دژوند او مرګ قيصه دکابل خلکو کې مشهوره ده (عاشقان اوعارفان ) او خلک ورته ډير احترام لري .

دی جنګ جنرال رابرتس په دی متيقن کړو چې دافغانستان ساتل ډير سخت دي او کومو انګریزي تاريخ ليکونکوچې مکناتن او الفنستن د ماتې خوړلو ګنهګار ګڼلي وه ګنهګار نه دي ځکه چې دداسې ملت په مقابله کې مخامخ وه چې هرفرد يې ددين ، وطن او ازادی فدايان دي

په هر حال انګريزانو په شيږ ورځو کې خپل مړي خښ کړه په ۲۳ دسمبر مجاهدینو هم ديوې لويې حملې تیاری نیولی وه چې په اسمائي غره يې ډير زيات اور بل کړو چې له ډير ليرې ځایه معلومیده چې دا اور ټولو مجاهدینو ته دتیاری نیولو خبر وو.




سردار ولي محمد خان(مشهور په لاټي) دامير دوست محمد خان زوی چې مجاهدینو ته تسلیم شوی وو خو دزړه نه دانګريزانو سره ملګری وو دمجاهدینو دحملې ټوله نقشه يې پټه ورولیږله.

هغوی خپله دفاع ونیوله مجاهدين لکه دسيلاب په شان دشير پور په طرف روان شول شير پور کې انګریزانو چې لا دمخه د دفاع لپاره تیارینیولی وه سخته توپخانه دمجاهدینو په لښکر وچلوله چې ددسمبر د۲۳ شپې نه شروع وه او د۲۴ دسمبر تر ماښام پورې يې دوام وکړ.

مجاهدینو چې ډير تلفات او شهيدان يې ورکړه يو دبل دمړو په سر ورتيريدل تر دی چې دشير پور قلعه ديوالونو اوتير کشونه ته ورسيدل خو متاسفانه چې عمومي قيام کامياب نه شو.

انګريزانو ته له قندهاره جنرال ستيوارت يوه فرقه او هندوستان څخه دميجر جنرال( سر جان راس ) په مشری تازه دم قوې راورسيدې خو جنرال رابرتس نور جنګ ته پر صلح او له افغانستان څخه دخپلو عسکرو دسالم وتلو په لټه کې شو او خپل ځان يې دافغانستان له تسخير څخه عاجز وګڼلو.



او په ۱۸۸۰م کال جنوري مياشت کې يې سراحتاً اعلاميه خپره کړه چې مونږ نور نه غواړو له افغانانو سره وجنګيږو مونږله افغانستان څخه و ځو اوافغانانو چې هر څوک پاچا تعين کړو مونږ هغه په رسميت پيژنو ټول مجاهدين خپلو کورو ته ستانه شول او دی ته انتظار کيناستل چې پادشاه به څوک شي.

رابرتس له دی وخته ډيره استفاده پورته کړه ليتن سره يې مشوره شريکه کړه که چيري داسي پاچا چې زمونږ حمايت کوي تعين شي ښه به وي .

دافغانستان خلک دپادشاه په تعین کې زر ترزره کامیاب نشول ځکه هوا سړه وه دولایاتو نه خلک نشوه رارسیدلی خودومره وشول غزني کې ملا مشک عالم او جنرال محمد جانخان د۱۸۹ کسانو غونډه جوړه کړه او فیصله یې وکړه چې دبادشاهې حقداردامیر شیرعلي خان وارثانو یو له سردارانو




څخه دی (همیشه چاچې افغانستان کې خپل مال اوسر ددین او ملت نه قربان کړی دبادشاهۍ دنیولو غوښتنه یې نه ده کړې کنه نو دادواړه مشران ملا مشک عالم او جنرال محمد جانخان دبادشاهۍ لایق وه ) چې سردار محمد یعقوب خان دامیر شیرعلي خان زوی هندوستان کې دانګریزانو سره بندي دی دامیر دوست محمد خان په شان باید راخلاص کړی شي.

چې دې وخت کې خلک درې ګروپه شول یو ګروپ دیعقوب خان غوښتونکي بل دهرات فراه او قندهار خلکو سردار ایوب خان دامیر شیرعلي خان دوهم زوی چې دهرات حکمران وه غوښته او دریم ګروپ کابل ، لوګر ، کوهدامن او کوهستان خلکو بیا دایوهم نه غوښتل انګریزانو دبادشاه په انتخاب کې دافغانانو دقومونو تر منځ داور بلولو رول ولوبولو تاجک یې له هزاره سره او پښتون یې له نورو قومونو سره په جنګ واچول خو ښه وه د مشرانولخوا دا اور مړ کړی شو



جنرال رابرتس چې خلک ولیده دبادشاه په مقرریدو بوخت دي نو ویې غوښتل خپل ځان قوي کړي تر څو له افغانستان څخه سالم او روغ ووځي هماغه وه چې جنرال ستیوارت یې له قندهاره راوغوښت په ۲۲ اپریل هغه ته په لاره کې دغزني او قلات مجاهدین راپاڅیدل داسی درس یې ورکړ چې کله یې هم نه وه لیدلی تر څو چې ستیوارتچهار اسیاب ته رارسیدورابرتس ورته میکفرسن او جنکنز په مشری یوه قطعه سواره او زر کسه پیاده کمک ورولیږلوپه ۲۵ اپریلچهار اسیاب کې مجاهدینو دمحمد حسن خان لوګري په مشرۍپه انګریزانو زوروري حملې وکړی او دا کمکي قطعات یې تقریباً له منځه یوړل خو میکفرسن خپله جنرال ستیوارت له هغه ځایه دتوپخانې په زور ۵ می راویسته او شیر پور ته یې را ورسولو .

انګریزانو په دی جنګونو کې چې نور نودمتارکې او تیښتې په حال کې وه ډیر تلفات وګالل او په انګلستان کې هم سیاسي اوضاع تغیر کړی وواو له بلې خوا امیر عبدالرحمن خان دروسیې څخه راغی او دجهاد ښکاره اعلان یې وکړعوامو خلکو هم همداسې یو مشر غوښته سردار محمد ایوب خان دهرات حاکم ورسره خپل ملاتړدیو مکتوب په ذریعه اعلان کړو.

عبدالرحمن خان دمکتوب په ځواب کې ولیکل له انګریزانو سره یواځې دوشمنې دافغانانو په ګټه نه ده بلکه دمصالحې لاره نیول هم پکار دي دامکتوب یې دکابل په لاره ایوب خان ته ولیږه چې انګریزانو ته هم ورسیږي ترڅو دهغوی میلان عبدالرحمن خان ته واوړي !!!!! ایوب خان چې په قندهار دحملې لپاره تیاری نیولی وو غلې شواو انګریزانو دعبدالرحمن خان په راتګ عجله شروع کړه .




مستوفي حبیب الله صدراعظم چې دانګریزانو سره بندي وه له دی راز خبر شو او دبلخ سپه سالار غلام حیدر خان او ملامشک عالم او جنرال محمد جانخان تهیې خط ولیږلو چې امیر عبدالرحمن خان دانګریزانو سره سازش کړی سپهسالار غلام حیدر خان ته خط ورسیده او باقي دوو ته ونه رسیده دعبدالرحمن خان په دی پالیسي نیوکې وکړې او په ضد یې قیام وکړسردار سرور خان یې ووژلو اونور سرداران چې دعبدالرحمن خان سره یو ځای وه میمنې ته وشړل خو خلکو دسردار عبدالرحمن خان دجهاد طرفدارې شروع کړه او غلام حیدر خان یې روسیې ته فرارکړو عبدالرحمن خان چې چاریکارو ته رارسیدونو یولک فوج ورسره وو.




دهرات نه هم قیام کونکي مجاهدین دقندهار په طرف راروان شول انګریزان سخت په لړزه کې شوه لیتن لری شو درابرتس پر ځای ستیوارت مقرر شو دعبدالرحمن خان سره دهغې دخور( شاه ببو جان)په ذریعه رابطه ونیول شوه خط یې وروليږلو امیر له خلکو سره مشوره وکړه چې څه ولیکی دریمه ورځ سل خطونه ولیکل شوه چې یو یې داسې وه : انګریزانو! باید له افغانستان څخه زرترزره واوځی، او کنه مونږ به مو وباسو، په دی کار له خپل سر نه تیر یو، نورو یې لیکلي وه چې مخکې تر دې چې مذاکراتو ته کینو باید هغه تاوانونه چې مو افغانستان ته اړولي ټول له جرمانې سره یوځای راکړی او سل کروړه روپۍ به دقلعه ګانو دویراني راوړئ او کنه نو یو انګریز عسکر به له مونږ څخه ژوندی پښنورته ونه ووځي لکه مخکې موچې داسې کړي.

خو داامیر خپل خط لږ نرم وه څو چې ددوی ترمنځ خبرې لاندې باندې کیدي دهرات زمریانو دجهاد بیرق قندهار ته راورسولو او دمیوند غزوه شروع شوه(پورته لیکل شوو تاریخي کرښو کې البته ډیرې نورې خبرې هم شته خو دحجم له پلوه مې لنډیز ترې را اخستی )

**دمیوند غزوه جولای ۱۸۸۰م :**کله چې دهرات خلک دانګلیس له دی یرغل او دیعقوب خان له تبعید څخه خبر شول دمجاهد ملت جهادي ولولې په جوش راغلې دهرات مشرانو درهبرئ واګې پلاس کې ونیولې خو سردار محمد ایوب خان چې دهرات حکمران وه دکابل واقعاتو ته منتظر وه عجله یې ونه منله .

دهرات مجاهدینو دوه میاشتې په انتظار تیرې کړې او اصرار یې کاوه چې ځو ، په مارچ ۱۸۸۰م کې دامیر عبدالرحمن خان تخارستان ته راتلل او دانګریزانو خلاف جهاد اعلانولو څخه خبر راغی دخلکو احساسات بیا په جوش راغلل خو سردار ایوب خان عبدالرحمن خان ته دیو لیک په ذریعه خبر ورکړ چې مونږ له دی طرفه او تاسو له هغې طرفه په دوشمن حرکت راوکړې چې په دی کې دوه میاشتې نورې هم تیرې شوې .





ایوب خان وکتل چې دسردار شیرعلي خان لخوا دقندهار حاکم د انګریزانو سره ملحق شوی وو او دعبدالرحمن خان نه هم په شک او تردید کې وه نو یې یواځې ددغو مجاهدینو په قوت دانګریزانود مقابلې توان نه درلوده نو ځکه دامیر عبدالرحمن خان دسرنوشت په انتظار وه.

خو قیام کونکو مجاهدینو دتګ غوښتنه کوله ایوب خان جنرال فقیر احمد خان وروليږلو تر څو په یوه اوبله بهانه یې معطل کړي خو دخلکو دومره جهادي جذبه راوچته شوې وه چې جنرال یې ووژلو او پخپل سر یې دجهاد بیرق راوتړلو نائب سالار حفیظ الله خان چې دا جذبات ولیده دمجاهدینو رهبري یې پخپل لاس کې ونیوله او دجهاد اعلان یې وکړ.

ایوب خان له میمونې څخه جنرال فیض محمدخان دهرات دساتلو په منظور راوغوښته او خپلو عسکرو ته یې وعده ورکړه چې زر به قندهار ته حرکت وکړي چې دجون ۱۸۸۰م یې له دولس زره ۱۲۰۰۰ عسکري قواواو ۳۲توپونو سره له هراته حرکت وکړ قیام کونکي مجاهدین لا له ښاره

وتلي نه وه چې فيض محمد خان هرات ته راورسيده . خلكو ګمان وكړ چې دابه هم دفقير محمد خان په شان خلک له جهاده منع كوي بيرته ورپسې راوګرځيدل او هغه يې پسې واخسته او ورک شو او عسكر يې له مجاهدينو سره ملګري شول لكه بلخ كي چې غلام حيدرخان باندې هم داسې وشوه. سردار محمد ايوب خان دخپلو فوجيانو سره په لاره دګرشک او فراه دخلكو لخوا تعزيز كيده دقندهار په طرف روان وه ۲۰ جولائي كله چې دميوند ساحې ته ورسيدل نو دسيند غاړه لا دمخه انګريزانو او دهغوی ملګري شيرعلي خان سره له درى كنډكه فوجيانواو توپخانې نيولې وه كله چې دشير علي خان كنډكونو دازادۍ هراتي مجاهدين وليده ټولو انګريزان پر ځای پريښودل او دهرات له مجاهدينو سره يوځای شول ۶۰۰۰ شېرزره مجاهدينو سمدستي ديو تخريب شوي كاريز په تازه كولو مصروف شول اوبه راووتلې ټول له اوبو ماړه شول ، دوشمن ورته كتل خو دحملې كولو جرات يې نه درلوده شپږ ورځې دواړه طرفينو له ليرې يوبل ته كتل غلام حيدرخان افشاري او عبدالكريم خان كوهستاني لږ لږ حملې شروع كړې چې په اومه ورځ انګريزانو توپخانه چلول شروع كړه مجاهدين چې په هوار ميدان پراته وه ډير شهيدان كړه چې دسهار نه تر مازديګر پورې ۵۰۰ شهيدان او ۸۵۰ زخميان شول چې دمجاهدينو زړور قوماندانان لكه عبدالغفور خان غندمشر هراتى ، محمد حيدرخان قندهارى ، محمد زمان باركزى او قادرخان په شهادت ورسيدل (انا لله وانا اليه راجعون). نائب سالار حفيظ الله خان چې دا وضعيت وليده دپروت امريې وكړ او سردار محمد ايوب خان دتاكتيک له مخې خپلو ۴۵۰۰ سواره منظم او غير منظم هراتيو ته امر وكړ چې درې ګروپه شي له ميدان څخه درې خواو ته ليرې ولاړ شي چې معلوم نشي دوشمن چې وليده مجاهدين دتيښتې په حال كي دي ميدان ته راغلل مجاهدينو ته امر وشو چې له درې واړو خواو څخه په دوشمن راشى همداسې وشوه انګريزان ټول محاصره شول او دافغانانو دتورو لاندې راغلل تر مازديګره پورې فقط ۲۵ كسه انګريزان دشيرعلي خان سره چې افغاني لباسونه يې اغوستي وه روغ له ميدانه قندهار ته وتښتيدل او جنرال ( پرايمرز) ته يې دټولې انګريزي قوې له منځه تللو خبر وركړ .













دميوند دا مشهوره غزا په هند كي دانګليس حكومت ولړزاوه ، په دى جنګ كي افغاني باتورو ښځو هم برخه اخستې وه چې يوه يې هم ملالى نوميده كله چې دمجاهدينو بيرقچي شهيد شو دى پيغلې دهغه بيرق اوچت كړو او په لوړ اواز يې دا شعر زم زمه كړو :

خال به ديار له وينو كــــيږ دم ـــــ چه شنكي باغ كي ګل ګلاب وشرموينه
كه په ميوند كي شهيـــد نشوى ـــــ خدايګو لاليـــه بې ننګى ته دې ساتينه

دمیوند غزا داسې وخت رامنځته شوې وه چې یوه ورځ مخکې امیر عبدالرحمن خان دیو لک مجاندینو سره کابل ته راغلی او په تخت ناست وه

سردار محمد ایوب خان دشهیدانو او انګریزانو په خښولولس ورځې تیرې کړې او بیا قندهار ښار ته راغلو جنرال پرایمرز دخپلو فوجیانو او حیواناتولپاره خوراکي توکي پوره کړي وه محاصره شروع شوه.

**امیر عبدالرحمن خان:** جنرال ستیوارت جنرال رابرتس ته امر وکړ چې له کابله دجنرال پرایمرز




دنجات لپاره یوه فرقه عسکر ورسوي او بیا له هغه ځایه کویټې ته خودا څه اسانه کار نه وهنویې په امیر عبدالرحمن خان باندې عجله وکړه چې دهغه تر سیوري لاندې دمصالحې په نامه داکار تر سره کړي !!! افسوس افسوس چې امیر عبدالرحمن خان ددوي دضعف او کمزورتیا نه هیڅ استفاده ونکړه !!!!

امیر عبدالرحمن خان شیر پور ته ورغی او له ګریفن سره یې لیدنه وکړه او دهغوی شرایط یې چې دګندومک دتړون شرایطو لنډیز وه ومنل په دی تړون کې ویل شوي وه : دافغانستان واکمن به دانګریزانو څخه پرته له هیڅ حکومت سره سیاسي اړیکې نلري او په دی توګه افغانستان استقلال له لاسه ورکړ.






امیر ته یې ۳۰ ارابې توپونه ، یومیلون او۹۰۰ زره دخزانې روپۍ دجنرال ستېوارت او جنرال رابرتس له لوري ورکړل شوی .









امیر عبدالرحمن خان په څو میاشتو کې خپل ټول مخالفین له منځه یوړل څه یې مړه او څه یې بندیان او څه یې له وطنه وشړل انګریزانو وپیژانده چې دی سړی دکار دی نو یې ۱۸۸۰م کال نورې مرستې هم ورکړې چې پنځه لکه روپۍ څو سوه توپونه او څو زره توپکان ورکړه او هرکال یې د۱۸۰۰۰ پونډه کمک وعده هم وکړه.
درابرتس سره یې موافقه وکړه اوتر قندهار پورې یې انګریز لښکرورساوه .
کله چې قندهار ته ورسیده خلکو ته یې وویل امیر عبدالرحمن پاچا شو او دهغه حامیانو ته قندهار تصفیه کوو هماغه وه چې دسردار محمد ایوب خان په مجاهدینو یې حملې شروع کړې او هغوی

مجبور کړه قندهار خوشې کړي اوقندهار يې دامير عبدالرحمن خان ملګرو ته وسپارلو، جنرال رابرتس په ۸ اګست ۱۸۸۰م کال   قندهار تخليه کړو او دوه ورځې وروسته ۱۰ داګست ۱۸۸۰م جنرال ستيوارت له کابله دپيښور په لور حرکت وکړ او له افغانستانه ووته چې په لاره کې  بدرګه کسان ورسره  دامير عبدالرحمن خان لخوا ګمارل شوي وه .

امير عبدالرحمن په کافرستان حمله وکړه خلک يې اسلام کې داخل کړه او نوم ورته نورستان کيښوده چې ډيرې زړه خوشحالونکې منظرې لري ځکه خو دافغانستان عمومي پارک نوم ورته کيښودل شواو سرشاره سيندونه لري چې دهغې له جملې يې دبرګمټال ولسوالی سيند دی که چيرې په دی سيند دبرق ستيشنونه جوړ شي نو دټول افغانستان برق پوره کولی شي او هم اعلی درجه جنغوزي هم لري او دپيروک په معدن کې ډيرې قيمتي ډبرې هم لري







امير عبدالرحمن خان په ۱۸۹۳م = ۱۳۱۱هـ  دانګريزانو سره دډيورنډ معاهده امضاء کړه چې له دی سره دافغانستان جنوبي حصې لکه پيښور، وزيرستان ، چمن ، کوژک ان تر کوټې پورې له لاسه ورکړې .












امير عبدالرحمن چې دشورويانو په لاس کې ستر شوی وه دافغانستان شمال ته يې خيوه ، مرو (ماري) او پنجده له لاسه ورکړه او له بل پلوه دانګريزغلامي يې قبوله کړه دافغانستان جنوب کې دا منطقې له لاسه ورکړې امير ديارلس ودونه کړي وه چې دولس زامن او څلور لورګاني يې درلودی چې وروسته له ۲۱ کاله حکومت کولو څخه د۷۱ کلنۍ په عمر ۱۹۰۱م کال کې مړ شو او پر ځای يې زوی حبيب الله خان کيناسته  .

**امير حبيب الله خان :** ۱۱ميزان/ ۱۲۸۰ هـ شحبيب الله خان له پاچا کيدو سره سم هندي وايسرای ته پيغام وليږه هغه ورته مبارکي وويله او دورتګ دعوت يې ورکړخوبيا وروسته ورغې او په ۱۹۰۵ مارچ ۲۱ = ۱۳۲۳هـ محرم الحرام يې دانګريزانو سره دپلار شوی معاهده امضاء کړه چې دی سره دانګريزانو دغلامی رسی دده په غاړه کې هم ولويده ده دطرقی ډير کارونه وکړل

دسراج التواريخ ليکونکی ملا فيض محمد کاتب ليکلي چې امير اته ښځې چې څلور يې طلاقې کړې او ۳۰۰ وينځې لرلې ښه تنومند او شوقي سړی وه دده اخري شپه دژوند وه درباريانو يې د کمپ ټوله ساحه اب پاشي کړی وه لږ ځای پاته وه ده چې وليده نو يې وويل داولې پاته دی هغوی وويل هسې نو يې امر وکړچې داهم اب پاش کړی يوه شپه دې وي خوښه دې وي ( يو نورستاني راته وويل دحبيب الله خان تر وخته هم ځينې خلک نورستان کې نه وه مسلمان شوي دهغوی څخه به يې

په زور سره جنګي د وینځو په نامه راوستې بعضې خلکو به خپلې لونې چې ښایسته به وی مخونه به یې ورته په چاقو څیرې څیرې کړه چې بدرنګه شي تر څو دبادشاه لښکریې خوښې نکړي )









بیا دده په وخت کې دازادۍ نهضت جوړ شو چې مشر یې مولوي محمد سرور واصف وه ددی نهضت موخه داوه چې انګریزان له افغانستان څخه ووځي او هیواد پخپله اتکا ومخ ته لاړشي امیر ددی نهضت مشر مولوي محمد سرور واصف او دده ورور سعدالله یې په توپ والوزول او نور ډیر یې په زندانونو کې دتورو تمبو شاته واچول خو نهضت غلی نشو ان تر دی چې دده ځوان زوی امان الله خان هم ددی نهضت غړیتوب ته داخل شو دحبیب الله خان مخالفت ورځ تر بلې زیاتیده چې بیا د لغمان کله ګوش په تفریحي کیمپ کې دخپلو بادي ګاردانو لخوا وویشتل شو

**امیر امان الله خان:** چې دحبیب الله خان زوي دعبد الرحمن خان لمسۍ دامیر افضل خان

کړوسۍ او دامیر دوست محمد خان کودی وه په تخت کښاسته چې دازادۍ دنهضت غړی وه خلکو



ته دانګریزانو څخه دازادۍ اخستلو دعوت ورکړ او خپل استقلال یې له انګریزانو څخه اعلان کړ خو انګریزانو پرې غوږ ونه ښوراوه نو مجبوراً یې دجهاد اعلان وکړ انګریزانو ددې لپاره چې ښکاره ماتې یې نه وي خوړلې دصلحې په نامه وړاندیز وکړ چې په دې سره یې وکولې شول دمجاهدینو دپرمختګ مخه ونیسي چې په ۱۳۰۰هـ ق=۱۹۲۱م کال یې معاهده وکړه امان الله خان ددې اعلان په ذریعه په خلکو کې ډیر محبوب شو او لس کاله پاچاهي یې وکړه دده په دور کې انګریزانو اماني لیسه .غازي لیسه او المانیانو دنجات لیسه جوړې کړې ډیر عمراني کارونه یې سرته ورسول دولایاتو تر منځ یې سرکونه جوړ کړه خوغازي امان الله خان یو خارجي سفرتر سره کړ چې له هند څخه شروع فرانسه مصر ،سویس،بلجیم،جرمني،برتانیا،پولېنډ او ترکېې څخه لیدنه وکړه او په روسیه کې هم ډیر وخت پاته شو هغه داروپایانو څوتحفې له ځان سره راوړې یو داچې دجمعې ورځې رخصتي یې په یکشنبه او تاریخ یې په عیسوي یا مېلادي بدل کړ جامې یې په دریشیګانو بدلې کړې دسلام اچولو پر عوض یې دخولۍ پورته کول او ځني افغاني پیغلې یې خارجي ملکونه ته دتحصیل لپاره ولېږلې او ځپله ښځه ملکه ثریا دمحمود طرزي لوریې نیمه بربنده کړه او ګرځوله به یې او امیر امان الله خان غوښتل اروپایانو په شان دیموکراسي چې هغوی سل کاله مزل کړې وه په یو کال کې عملي کړي

په دې کې شک نشته چې امان الله خان دا توره وکړه چې د علماو او ولسي متنفذینو دا غوښتنه یې ومنله چې د خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره به جهاد کوي، د ده په واکمنۍ کې د مجاهدینو وسلوال جهاد بریالی شو، افغانستان خپلواکي ترلاسه کړه، خو وروسته چې یې له افغان ولس په ځانګړې توګه له دغه جهادي قشر سره څه وکړل؛ د ډېر افسوس وړ دي:دلته د لیکني په دې برخه کې موږ د هغه په اړه د بیلابیلو ناپییلو مؤرخینو ځیني لیکلي تأثرات درسره شریکوو، نور یې قضاوت لوستونکو ته پریږدو:










# دانګریز سره دریمه جګړه: ۱۹۱۹م

د ۱۹۱۹میلادي کال د اوړي په لومړیو کې په دریو څلورو محاذونو کې د انګریزي یرغلګرو پرضد علماء کرامو او مجاهدینولخوا جګړې پیل شوي، چې زیاتره تمرکز یې د پکتیا په طرف کې وو، انګریزانو په ډېرو ځایونو کې غوڅ شکست وخوړ، انګریزانو ته په دی جنګ کې ۱۶میلونه پونډ تاوان ورسیده او ۲۰۰۰ نظامیان یې له منځه لاړل له همدې کبله یې د مصالحې لاره غوره کړه، مجاهدینو ته یې وړاندیز وکړ چې د افغانانو هري غوښتني منلو ته تیار دي، چې بلاخره د ۱۲۹۸هـ لمریز کال د اسد د میاشتې پر ۲۸ نیټه یې د افغانستان خپلواکي په رسمیت ومنله او خپلي لښکري یې د تل لپاره له افغانستانه وایستلي. چې همدا نن یې ویاړلې سلمه کلیزه ده، افغان ولس ته دې مبارک وي.

## دامان الله خان ترقي او اصلاحات: جهاني وایی په افغانستان کی د روشن فکری، اصلاحاتو

او پرمختګ ټکي زیاتره وخت د امان الله خان له نامه سره یادیږي، ځکه چې ویل کیږي نوموړي په لومړي ځل افغانستان ته روشنفکري راوړي، غربي لباس یې په افغانستان خصوصاً په حکومتي دستګاه کې حتمي وګرځاوه، اصلاحات یې راوستي، د فساد په وجه یې خلک وهلي ټکولي، د رشوت په تور یې د هرات له امنیه قومندان نه د خلکو په مخکې پخپل لاس جامې وایستلي. او لوڅ لېږ یې ودراوه.

تعمیراتي پروژې یې پیل کړي، د سړکونو جوړول یې بنا کړل، آساسی دستور یې جوړ کړ، پارلمان یې رامنځ ته کړ، تعلیم ته یې توجه وکړه، انساني بیګار یی منع کړ، تنها د سړک جوړوني لپاره



بیګار حتمي شو، د مالیاتو ټول سیستم یی له سره تنظیم کړ، اضافي مالیات یی، لکه د ملکې د سرغوړي، لغو اعلان کړل، کلنی بودیجه یی رواج کړه، د مرکزي او ولایتی شوراګانو سیستم یې رامنځ ته کړ، د قبایلی خانانو، درباریانو، او د شاهي کورنۍ د لیري خپلوانو او سردارانو ځانګړي امتیازات او معاشات یی ختم کړل، د مخابراتو او ټلګراف خدمات یی پراخ کړل، افغانستان یې د پوستې د بین المللی ټولني غړی کړ، مطبوعاتو ته یې وده ورکړه، په هر لوی ښار کې یې یوه یوه جریده چاپیدل پیل کړل، پلونه یی اباد کړل او داسي نور کارونه... که څه هم دا ټول خدمات حکومتونه او بلکي ټولي انساني ټولني په طبعي شکل ترسره کوي ځکه چې دا یوه طبعي حیاتي اړتیا وي، د وخت په تیریدو سره یې ترسره کول عادي چاره ګڼله کیږي، نه فوق العاده ترقي. په هرصورت په تاریخ کې دا د نوموړي ښه اقدامات بلل شوي.

**پارونکي کارونه يې څه وو؟**: امان الله خان له ابتدائي اصلاحاتو وروسته په ۱۹۲۷میلادي، دسمبر ۱۵مه د يو ۳۰کسيز پلاوي په ملتيا د اروپا په اوږده سفر روان شو، چې د ۱۹۲۸م کال تر جولای پورې په سفر و.
کله چې بيرته راستون شو، له ځان سره يې د نويو اصلاحاتو بلا طرحې را کتار کړي وې، لومړی ځل يې په کندهار کې د خلکو يوې غونډې ته احساساتي وينا وکړه او ويې ويل :زما نصيحت ته غوږ شئ او هيڅ وخت خرافات پرستي مه کوئ. ځيني ناخبره ملايانو تاسي ته د مذهب ځنځيرونه اچولي، دوی تاسي ته د مذهب په باره کی غلط معلومات درکړي، تاسي يی غولولي ياست. تاسي ته چې زه څه وايم هغه د خدای او د هغه د پيغمبر خبري دي.
ده وويل: زه اروپا ته د سات تيري او ماشينونو د ليدلو لپاره نه وم تللی. بلکه غوښتل مي چي د ريښتوني ترقی لاري وپلټم. حتي په هغو ميلمستياوو او ميلو کي چي زما په افتخار به کيدلې ما د لويديځو هيوادونو له لويو مشرانو سره د ترقی د لارو چارو به باره کي خبري کولې. ما چي څه زده کړي دي هغه به ډير ژر ستاسی مخي ته کښيږدم.
نوموړي زياته کړه، « آيا دا د شرم ځای نه دی چي د اروپا ښځي د افغانستان تر نارينه وو ډير کار وکړي؟ ما په خپلو سترګو وليدل چي د اروپا ښځي له نارينه وو سره اوږه پر اوږه کار کوي او په تجارتي، اجتماعي، سياسی کارونو او دفترونو، کارخانو او سياسی کړيو کي به هغوی وګوری چي له ميړونو سره مساوي کارونه کوي. خو د






افغانستان ښځي يوازي په دې پوهيږي چي څرنګه په کورونو کی بيکاره کښيني او بل هيڅ نه کوي. ولي به دغه راز يو هيواد وروسته پاته نه وي. په داسي حال کي چي نور هيوادونو چي ښځي يې له نارينه وو سره اوږه پراوږه کار کوي سمسور دي«.
امان الله خان دا ډول خبري په هرات او فراه کي هم له خلکو سره په مجلسو کې کړي وې، او کله چې کابل ته ورسيدی، نو د اګست پر ۲۹مه يې زرکسيزه لويه جرګه را وبلله، همغه د کندهار په شان احساساتي وينا يې ورته وکړه، د ډيلي ميل خبريال رانلډ وايلډ، چي د دغي لويی جرګې په وخت کي حاضر و؛ د افغانستان د ليري پرتو سيمو او کليو څخه راغليو وکيلانو باندي د اروپايی لباس او خوليو د تحميليدلو او د هغوی د وارخطايی او خندونکي حالت په باب پرله پسې رپوټونه خپاره کړل. د جرګې په جريان کي سفير فرانسيس همفريس ورته ويلي وه چي هغه بايد ډير ژر د کابل څخه ووزي. په کابل کي ښايی ډير ژر حالات خراب سي او که ده ته څه ورپيښه سي نو سفارت يې مسوليت پر غاړه نه سي اخيستلای. (وايلډ ص ۱۸٤)
**د پغمان په جرګه کې يې څه وکړل؟**نوموړي د پغمان په دريمه لويه جرګه کي، چي تقريباً ۱۰۰۰ تنه وکيلان پکي راټول وو؛ د صنعت او تعليم پر موضوعاتو برسيره يې يوځل بيا د ښځو د ازادی مسلي ته ډير زيات زور ورکړ. د جرګې په جريان کي يې د خپلي ميرمني ثريا او خپلي کشرۍ خور نورالسراج مخونه لوڅ کړل او په دې توګه يې وښودله چي د ښځو د لوڅ مخی په مسئله کي پر خپله خبره ټينګ ولاړ دی.
هغه ښځو ته په يوې وينا کي وويل چي ستاسي ميرونه تاسي په بنديخانو کي ساتي او تاسي په ژوندوني ښخوي. زه وايم د حجاب په برخه کي د خپلو ميرونو پر خبرو غوږ مه نيسئ. او که چيري

ستاسي ميرونه تاسي په زور د حجاب اغوستلو ته مجبوري کړي او يا مو د سات تيري او تفريح ځايونو ته نه پرېږدي خپل ميرونه وولئ، زه دې ته حاضر يم چي ښځو ته وسلې ورکړم. (سټيوارټ ص ۳۷۷)

د ستمبر پر ۵مه د لويی جرګې غونډي پای ته ورسيدلې. د جرګې غړو د امان الله خان ځيني پيشنهادونه په مات زړه ومنل، خو د هغه دا پيشنهاد چي ويل يې حجاب دې له منځه ولاړ شي، دغه راز د نجونو لپاره په داخل او خارج کي په غربي ښه عصري تعليم؛ په کلکه رد کړل.

مګر د خلکو له شديد مخالفت سره سره امان الله خان يو شمېر ښېغلی نجوني انتخاب کړي، د مشرقي له لاري يې د شينوارو په سيمه کې په لاريو موټرونو کې د پيښور خوا ته تيري کړي، او د تحصيل په موخه يې ترکيې ته واستولې، او په دې توګه يې لګېدلی اور نور هم تازه کړ. — (ګريګوريان ص۲۶)

**چادري او لنګوټه** ويل کيږي چې امان الله خان پرخپلو هغو کارونو د جنون ترحده اصرار کاوه؛ کوم چې ده اصلاحات بلل. خو په حقيقت کې د خلکو پر ارزښتونو ملنډي وهل و. په دې لړ کې نوموړي له چادرۍ سره سخت مخالفت درلود.

سټيوارټ پخپل کتاب کې ليکي چې يوه ورځ امان الله خان په کابل کي په باغ عمومي کي يوه ښځه په چادري کي وليدله. په زوره يې ورباندي چيغه کړه چي د دې چادرۍ سره دلته څه کوې. پخپله ورغی له ښځي نه يې چادري ليري کړه او اور يې ورته واچاوه. ښځه مجبوره شوه چي لوڅ مخ خپل کورته ولاړه شي. بله ورځ يې يو بل سړی وليده چي پګړۍ يې تړلې وه او اوږدې ماتي(څنې) يې پرې ايښي وه، هغه يې پخپله ونيوی، د سلماني دوکان ته يې بوت، ماتي يې ورته وخريلې او رخصت يې کړ. (سټيوارټ ص ۳۷۸)

**اروپايي جامه څنګه د فساد سبب شوه؟** عبدالباري جهاني ليکلي وايي: په دې اړه به بده نه وي چي د مؤرخ پروفيسر محمد علي، چي هر څه يې د سر په سترګو ليدلي؛ د کتاب يوه برخه را نقل کړو"... د دغو اصلاحاتو، چي د پردې يا حجاب ليری کيدل هم پکښې شامل وو؛ يوه مستقيمه نتجه دا شوه چي فساد او رشوت خوري ورسره زياته شوه. د حکومت يو متوسط مامور، چي مياشتنی تنخوا يې ايله پنځوسو روپيو ته، چي تقريبا ديرش شيلينګه کيدل؛ رسيدله، مجبور وو چي خپل ځان، ميرمني او اولادونو ته اروپايی جامې واخلي. څرنګه چي د حلالي تنخوا څخه يې دا شيان برابرولای نه شوای نو بيا مجبور وو چي هغه په ناروا وسايلو ترلاسه کړي. په حکومتي مامورينو کی رشوت، اختلاس او غلا عام شول او د دې نويو اصلاحاتو له طرح کيدلو سره د خلکو کړاو زيات شو.

عجيب و غريب امرونه به صادريدل، عادي کسبګر، نانوايان، اشپزان، سکاره والا، اوبن والا او خرکاران ټول مجبور وه چي اروپايی جامې واغوندي او چا چي سرغړونه کوله هغه ته سخته سزا ورکول کيدله پوليسو ته امر شوی و چي هغه کسان جريمه کړي چي اروپايی جامې يې نه وي اغوستي او له عمومي پارکونو او باغونو او ښار څخه يې وشړي.

پوليسو به هر ځای ښځي او نارينه تعقيبول او جريمه کول به يې. يوځل خو يوه سړي په يوه ورځ کي ديرش ځله جريمه ورکړې وه. ډير خلک له دغه امله د کابل څخه ووتل او ځينو خو بيخی وطن پريښود.

**د پاچا پرضد پاڅون، او د ده ناوړه عکس العمل:** د هيواد په لر او بر کې د امان الله خان د اصلاحاتو په نوم د فساد خبرونه ګرځيدل راګرځيدل، خلک يې ټول په غصه کړي وو، تر دې چې په کال ۱۹۲۸ کي يو لوی ملي قيام عملاً پيل شو، چي همدا بلاخره د سلطنت د سقوط لامل هم شو، د خوست، پکتيا، شينوارو او نورو سيمو کې خلک د حکومت پرضد راپاڅيدل د باچا د يادو کارونو مخالفت يې وکړ، باچا يې هم پرضد ګام واخيست د هغوی د وژلو، نيولو او ځپلو امر يې صادر کړ،

پوځ، د پاڅون کوونکو په سلګونو کسان ونیول، څوک یې زندان ته واچول، څوک یې له خاورې تبعید کړل، او په لسګونو تنه مهم مشران چې زیاتره یې دیني عالمان ول؛ اعدام کړل. خو پاڅون یې بیا هم خاموش نکړای شو، ان تر لوګر او غزني پورې د پاڅون لمن پراخه شوه.
لنډه دا چې په دغو جګړو کې په زرګونو سرونه ورغړېدل، په زرګونو کورونه تباه شول، ښارونه او کلي لوټ شول او هغه په سل هاوزره روپۍ چې باید د اصلاحاتو د پروګرام په عملي کېدلو لګېدلې وای؛ امان الله خان د خپل ولس په ځپلو او وژلو ولګولې. ـــ (حقیقت التواریخ ص ۳۹۹ )
**پردۍ الوتکې او جنګي قوه:** بل خوا شینوارو، خوګیانو، مهمندو او نورو قومونو پر جلال آباد برید وکړ، هغه یې ولکه کړ، د بریتانیې قونسلګرې یې چور او وسوځوله. ـــ (محمد علي ص ۱۸-۱۷). امان الله خان یې د ځپلو په موخه له کابل څخه ډېره لویه قوه سره له الوتکو ور ولېږله، پر ولسونو یې بمبارۍ وکړې، چې ګټه یې ونکړه خو خلک یې نور هم په قهر کړل.




بله خبره لا دا چې امان الله خان د پاڅون په ځپلو کې د جرمني او برتانیې له هوایي قواوو څخه مرسته وغوښته چې هغوی ورسره پوره همکاري وکړه، دې کار هم د هغه په مقابل کې د ولس کرکه څو چنده زیاته کړه او هم د علماؤ هغه خبره یې په خپله په اثبات ورسوله چې دا سړی په پټه د کفارو انګریزانو لپاره خدمت کوي، ځکه چې د خپل ولس پرضد له هغوی څخه د الوتکو مرسته غواړي او هغوی یې د ملاتړ لپاره جنګي الوتکې ورکړې.
**دجګړې زور او تلفات یې:** که څه هم په اوس عصر کې د امان الله خان په ستاینه کې ځیني خلک داسې ادعا کوي چې ګویا هغه شکست نه دی خوړلی، په وطن کې یې جګړه نه غوښته، د ولس په خاطر تر قدرت تیر شو او بهرته یې ځان تبعید کړ، خو حقیقت داسې نه بریښي، ځکه ناپییلي مؤرخین ټول متفق دي چې امان الله د ولس پرضد خونړۍ جګړې وکړې. او تفصیلات یې په دې ډول بیانوي چې په دغه جنګ کې ولس او حکومت دواړو ته ډیر درانه ځاني او مالي تلفات واوښتل.
نژدې ۳۵۰۰ کورونه بمبارې او وسوځول شول. ۱۵۷۵ تنه پاڅون کوونکي شهیدان او ټپیان شول، شاوخوا څلور سوه ښځې او ماشومان د لوږې او یخنۍ له امله مړه شول. حکومتي اړخ ته هم پراخ تلفات واوښتل. څه باندې پنځه میلیونه پونډه؛ چې د حکومت دوه کلن عایدات کېدل؛ ولګېدل. په دې

وجه د ولس له زړونو نه د امان الله خان حیثیت په کلي ډول ختم او بې اعتباره شو...(ګریګوریان ص۲۵۵)
له دغو احصائیو نه څرګندیږي چې امان الله خان څومره په قوت سره د ولس پرضد دومره اوږده جګړه کړي او څومره درانه تلفات یې هم حکومت او هم ولس ته رسولي دي. خو ځیني خلک بیا هم قصداً په پټو سترګو پر پاڅون کوونکو باندي تهمت لګوي چې ګویا د انګریزانو لاس ورسره وو. په داسي حال کې چې د تاریخي اسنادو پر بنسټ خبره بالعکس بریښي.
**وروستۍ تبصره:** د اسدپه ۲۸ مه له انګریزي ښکیلاکه د هیواد د ازادۍ اخیستلو کیسه اګست ۱۹, ۲۰۱۵قاري حبیب ) د پنځلسمي او شپاړسمي پیړۍ په ترځ کې داندلس سقوط،په افریقا کې داسلامي واکمنیو تدریجي ضعف او د عثماني امپراطورۍ مخ په ځوړ حالت دمنځنیو پیړیو له درانه خوبه راویښنو شویو اروپایانو ته دا فرصت ورکړ ترڅو له مسلمانانو سره د پیړیو حسابونه سپین او د څو قرنه برلاسۍ او واکمنۍ انتقام ترې واخلي.
اروپایانو د درستي نړۍ داستعمار او ځبیښناک لپاره متې رابډوهلې، په دوی کې هغه چې داستعمار لومړني مبتکرین بلل کیږي، پرتګالیان او هسپانویان وو، دوی او نورو اروپایانو له اروپا بهر د ځمکو دلاندې کولو او اولسونو د استثمار لوبې پیل کړې، لومړۍ یې دافریقا او اسیا په ساحلي سیمو کې رخنه ګري شروع کړه، د بحر اطلس ، بحرهند او بحرالکاهل ټاپوګان یې اشغال کړل، وروسته دامریکا وچې ته ورسیدل، د بومي سورپوستو امریکایانو په وژلو او ډلییز قتل عام یې لاس پورې کړ، د ملاریا، وبا،نشه یي توکو او ډول ډول ناروغیو په انتقال او خپرولو سره یې د ددې سیمو ځایي اوسیدونکي په سخته بي رحمۍ ووژل ، کرنیزې ځمکې، ساحلي سیمې ، معدنونه ، ځنګلونو او نور باارزښته ممتلکات یې ترې قبضه کړل،د پرتګالیانو او هسپانویانو له هڅو وروسته نورو اروپایانو لکه انګلیس ، فرانسې، ایتالیا، جرمنی،هالنډ،روسیې، اتریش او نورو هم دنړۍ د مختلفو سیمو په استعمار لاس پورې کړ، دوی دنړۍ تر لراوبر ورسیدل،په هرځای کې یې د لویو وچو او جزیرو ځایي اوسیدونکي د زر ، زور او تزویر په وسیله دې ته اړ کړل ، چې دوی ته خپلې ځمکې او شتمنۍ ورنیمې کړي، او په دې توګه داروپایانو داستعمار لوبې په درست جهان کې یو بوږنوونکي حالت رامنځته کړ او نړۍ یوځل بیا د جاهلیت او غلامۍ دوران ته ستنه کړه.
افغانستان د هند دنیمې وچې، منځني ختیځ او منځنۍ اسیا ترمنځ د وریښمو د لارې په څلور لاري پروت دی، اروپایي استعمارګرو د ۱۷ میلادي پیړۍ له پیله په هند کې مداخله شروع کړې وه، دوی په پیل کې د هند له مغولي واکمنو سره تجارتي اړیکي پاللې خو اصلي موخه یې ددې زرخیزه سیمې لاندې کول او دخپلو مستعمراتو په لست کې اضافه کول وو، پرتګالیان، هالنډیان،انګریزان او فرانسویان د هند په مختلفو ساحلي سیمو کې پیاده شول او داستعمار هڅې یې پیل کړي، څرنګه چې دوی ترخپل منځ هم ژورې تربګنۍ لرلې تر خپل منځ یې سختې سیالۍ ترسره کړې خو په پای کې انګریز وتوانید چې په هند او بنګال کې خپل سیالان له میدان وباسي او دمغولي سلطنت له ضعف نه په استفاده په دې زرخیزه ځمکه خپلې استعماري پنجې ټینګې کړي.
انګریز چې هند یې په ډیره اسانۍ ونیو په افغانستان کې یې سترګې ښخې کړې، دا هیواد که څه هم د زراعت او شتمنیو له اړخه د هند سیال نه وو، خود درستي منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا او ایران د متاثره کولو لپاره یو مهم سنګر وو، انګریزانو په داسې مهال په افغانستان کې مداخله پیل کړه چې دا هیواد د سدوزیو او محمدزیو واکمنانو دخپل منځي جګړو او اختلافونو له امله له سخت بدحالت سره مخامخ و، داحمدشاه بابا افغانستان خپل پخوانی نوم اونښان بایللی وو، او اوسنیو واکمنانو یې هر یوه یوازې دا هڅه کوله چې ځان د واکمنۍ تخت ته ورسوي .
دا مهال چې واک له سدوزیو څخه محمدزیو حاکمانو نیولی وو، د محمدزیو یوه فراري شهزاده شجاع الملک چې بیاپه شاشجاع سره مشهور شو د پنجاب له حاکم رنجیت سنګ اود هندله انګریز

ګورنر جنرل موافقه لاسلیک کړه، چې د افغانستان د پاچاهي په نیولو کې به ورسره همکاري کوي، انګریزان په ۱۸۹۳م کال کې د خپل ګوډاګي شاشجاع لپاره د پاچاهۍ ګټلو په موخه په افغانستان راتویې شول . کابل ، کندهار او نور ستربښارونه یي ونیول، انګریزانو ځانونه مرستندوی ځواکونه بلل چې غوښتل یي د مخلوع پاچا شاشجاع لپاره واکمني وګټي خو په حقیقت کې دوی دافغانستان اشغال ته تینګه اراده کړې وه، افغانان چې طبعا له بهرنیو اشغالګرو څخه نفرت لري، دانګریزانو په خلاف یي جهادي احساسات په غورځنګ شول،په ۱۸۴۰ م کال کې په کابل کې د میرمسجدي خان په مشرۍ د انګریز په خلاف پاڅون وشو، په وړپسې کال وزیراکبرخان د انګریزانو سفیر مکناټن وواژه ،جهادي پاڅون زور ونیو، دانګریزانو مشر برنس هم په کې سر وخوړ او کله چې انګریزانو غوښتل خپله ۱۷ زره کسیزه قوه د لته بند له لارې جلال اباد او له هغه ځای هند ته ستنه کړي ، په لته بند کې افغان غازیانو وربانديې سخت برید وکړ چې په ترڅ کې یي ټول لښکر قتل عام او یوازې د ډاکټر برایډن په نوم یو تن په کې ژوندی سر جلال اباد ته ورسید.

له دې شکست وروسته انګریزان د څو لسیزو لپاره له افغانستان څخه کرار کیناستل، دوی په کابل کې هغه واکمنان وزغمل چې له انګریز سره یي د متقابل احترام په پایه ولاړې اړیکې درلودې، دغه مهال دانګریز او روس ترمنځ په پټو موافقو کې افغانستان د انګریز د نفوذ ساحه بلل شوې وه او انګریزانو هم افغان حاکمانو ته دا فهمولې وه، چې ددوی له خوښې پرته به له روسانویا نورو قوتونو سره اړیکي نه پالي .

په ۱۸۷۸ م کال کې د افغانستان حاکمانو دانګریز د خوښې خلاف له روسانو سره اړیکي اوج ته ورسولې، په همدې کال د روس سفیر افغانستان ته راغی په داسې حال کې چې په کابل کې انګریزي استازي نه وو او په ځای یي هندي توکمه استازو وظیفه اجراء کوله، دا او دامیرشیرعلي خان ځیني نورو کړنو انګریزان په غوسه کړل او په ۱۸۷۹م کال یي په افغانستان دوهم برید وکړ .

افغانانو دانګریزانو له دوهم یرغل سره هم همداسې مقابله وکړه لکه له اول سره یي چې کړې وه ،په دوهمه جګړه کې دمیوند تاریخي حماسه رامنځته شوه، دانګریز لوړپوړی چارواکی کیوناري په کابل کې ووژل شو او انګریز یوځل بیا سخت شکست وخوړ، انګریز له افغانستان په تیښته لاړ، خو دافغانستان له سیاسي اشغال څخه لاس په سر نه شو او دا ځل یي د پوځي اشغال په ځای نامرئي سیاسي اشغال په کار واچاوو، د افغانستان په تخت له ناستو حاکمانو سره یي د ډیورنډ لاین موافقت نامه امضاء کړه او په دې توګه یي د افغانستان نیمایي خاوره تر سلو کلونو پورې رسما تر خپل اشغال لاندې راوسته ، دافغانستان د بهرني سیاست او اړیکو په اړه یي هم په افغانستان درانه شرطونه کیښودل، چې ټول د انګریز په ګټه و، په دې توګه افغانستان که څه هم ظاهرا په کې انګریزي لښکرو شتون نه درلود خو په حقیقت کې د بې همته واکمنانو د پټومعاهدو له مخې اشغال او له سیاسي خپلواکۍ څخه بې برخې و.

دا مهال د بشپړې سیاسي خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره د وطن اصیلو بچیانو او دحق دلارې مجاهدینو درنې قربانۍ ورکړې، د محمدجان خان غازي غوندې ستر غازیان دهمدې بشپړې خپلواکۍ په لاره کې قربان او داسې ورک شول چې تراوسه یي قبر نه دی معلوم،د هیواد دروڼ اندو علماء ،لیکوالانو او دردمنو اشخاصو لخوا د مشروطیت غورځنګ پیل شو، چې هغه هم سخت په بې رحمۍ وځپل شو، دانګریز همدې نامرئي اشغال تر ۱۹۱۹م کال پورې دوام وکړ، په همدې کال استقلال طلبه کسانو د وخت انګریز مزاجه امیر حبیب الله خان دلغمان په کله ګوش کې وواژه ، او دنوموړي خپلواک مزاجه زوی امان الله خان یي دشاهۍ په تخت کیناوو.

امان الله خان چې د مشروطیت لارویانو په سیوري کې رالوی شوی اودملي خپلواکۍ په اهمیت پوهیده له واکمنیدو وروسته سمدستي یي د انګریز له پټ اشغال څخه د بشپړې ازادۍ اعلان وکړ، نوموړی دکابل په عیدګاه کې دهیواد د مخورو علماء په فتوا د انګریز په خلاف د جهاد اعلان وکړ

او دبشپړ استقلال د استرداد یا بیرته راګرځولو هوډ یي وکړ.د جهاد دا اعلان د هغه وخت شرایطو ته په پام سره ډیر هیښوونکی وو، ځکه انګریز په ډیر پیاوړی دریځ او افغانستان په ډیر کمزوري حالت کې وه، انګریز لومړی نړیواله جګړه ګټلې وه، هند او ایران یي بشپړ اشغال کړی و، حتی د بخارا او منځنۍ اسیا له حاکمانو سره یي اړیکي ټینګې کړې او په اعتماد کې یي اخیستي و، انګریز په شمال کې دتزاري روسیې غوندې پیاوړی غلیم هم نور نه درلود، چې په افغانستان کې دمداخلې له جهته یي سترګه ترې سوزیدلي وای، ځکه ترې دې دوه کاله وړاندې تزاري واکمنۍ د کمونیستي انقلاب په نتیجه کې نسکوره شوې وه او کمونیستانو تردې مهال په نړیوالو چارو کې ځان بې غرضه باله .
خو له دې حالت سره سره افغانانو په ډیر جرأت دانګریز په خلاف دجهاد توره پورته کړه، دکندهار، پکتیا، ننګرهار او چترال په جبهو کې څلور ځایه افغانان مجاهدینو په انګریزانو بریدونه پیل کړل، په ټولو جبهاتو کې انګریزانو ته تلفات ورسیدل او ځیني سیمې یي پریښودې، خو افغان مجاهدینو تاریخي پرمختګ د پکتیا او خوست په جبهه کې وکړ، په دې جبهه کې د حکومتی قواوو مشر سپهسالار نادرخان وو او قبایلي ځواکونه د لوی صوفي حضرت نورالمشائخ مجددي په قومنده جهاد ته راوتلي وو، دې لښکر د پیواړ په سیمه کې انګریزي لښکرو ته کلک شکست ورکړ، انګریزان یي په کورمه کې له پخوا قرارګاوو څخه پسې واخیستل، د ټل بالاحصار او یوځی چاونۍ یي فتحه کړه، په شمالي او جنوبي وزیرستان او نورو سرحدي ساحو کې یي انګریزانو ته سخت شکست ورکړ، تردې چې انګریزان په کوهاټ او په نورو سیمو کې په خپلو پخو قرارګاوو وویریدل نوځکه یي سمدستي د ډزبندۍ اعلان وکړ ، او دمذاکراتو په پایله کې یي دافغانستان بشپړه خپلواکي چې اتیا کاله یي په رسمیت نه پیژندله د اسد دمیاشتي په ۲۸ نیټه په رسمیت وپیژندله .
په دې ډول د انګریزانو لخوا د افغانستان غصب شوې خپلواکي چې دترلاسه کولو لپاره ۸ لسیزې ډیرې قربانۍ ورکړل شوې وې بالاخره ترلاسه شوه، افغانستان داسې مهال مستقل اوخپلواک شو، چې په همدې وخت کې په اسلامي نړۍ کې هیڅوک خپلواک او مستقل هیواد شتون نه درلود،ځکه د لومړنۍ نړیوالې جګړې په مهال انګریزانو اونورو متحدینو عربي نړۍ ، ترکیه ، ایران او ټولې د مسلمانانو سیمې اشغال کړې وې.
له انګریزي ښکیلاکه دهیواد دازادۍ سخته او اوږده مبارزه موږ ته راښیي چې ازادي د الله تعالی ډیر لوی نعمت دی او لوی نعمتونه په لویو قربانیو ترلاسه کیدلای شي، زموږ نیکونو دانګریزانو په خلاف د ازادۍ لپاره اتیا کاله مبارزه وکړه، په دې اوږده مبارزه کې یي دهیڅ ستومانۍ احساس ونه کړ،په داسې حال کې چې دښمن په پرمختللیو وسلو سمبال وو او دازادۍ په وروستي جنګ یي د ننګرهار او خوست په جبهو کې جنګي الوتکې وکارولې او بمبارونه یي وکړل، افغانان یوازې په خودساخته کچه ټوپکو، تورو، برچو او چاړو باندې مسلح وو، خو له دې نابرابرۍ سره سره یي دایمان په زور کفر ته شکست ورکړ او خپله خپلواکي یي ترلاسه کړه .
اوس چې موږ یوځل بیا له هماغو اروپایي اشغالګرو سره په جګړه بوخت یو، راځئ دخپلو نیکونو له ویاړمن تاریخ څخه یي زده کړو، دحالاتو سختوالی او د امکاناتو نشتوالی باید له ذهنه وباسو، یوازې د شهادت اوبریا په تمه د جهاد ډګر ته ورووزو ، او دخپلې غصب شوې او په وینو پالل شوي خپلواکۍ دترلاسه کولو لپاره مبارزې ته دوام ورکړو .
په هرصورت امان الله خان د خپل قدرت په اوایلو کې د افغان ولس د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په منظور د پیل کړي جهاد ننګه وکړه، مجاهدین یي سپوټ کړل ترڅو چې جهاد بریا ته ورسیده ، او د افغانستان استقلال یې پس له اوږدو لسیزو په باوري او رسمي ډول ترلاسه کړ.
نن، یو سل او یو کال وروسته موږ او تاسو د همغو غازیانو د تاریخي قربانیو په برکت د ترلاسه کړي استقلال ستاییني او یادوني په داسي حال کې کوو؛ چې هیواد مو یوځل بیا په همغه شکل د همغو

انګریزانو او امریکایانو په ګډون د ناټو د نظامي ترون لخوا مستعمره دی او بې چاره ولس مو په تش لاس ورسره لاس او ګریوان دی.
په ځانونو پسی بمونه تړي او د دښمن قطعات له منځه وړي، او یرغلګر یې د شکست کندې ته دومره نژدې کړی چې اوس یې د همغو اسلافو په څیر د ځان ایستلو په خاطر د مصالحې لاره را اخیستې. الله تعالی ته ډېر امید دی چې داځل به استقلال ترلاسه کول او اسلامي حاکمیت رامنځ ته کول؛ د پخوانیو په پرتله څو چنده له برم اوعظمت څخه ډک وي. ان شاءالله. وماذلک علی الله بعزیز.
خو متاسفانه چې ځیني ناصالح افغانانو بیا هم له تاریخه هیڅ زده نکړل د ګوډاګیتوب له منحوسې ناروغۍ نه یې ځان ونه ساته، د یرغلګرو ترڅنګ ودریدل او د خپل ولس پرضد یې د یرغلګرو ټوپک اوږې ته کړ او تراوسه پورې د شرم او ذلت دا چاره مخ ته وړي، دوی دې په دې پوه شي چې بالاخره به یې په نژدې راتلونکې کې د ذلت پښیماني په برخه وي.اخځ: ځیني تاریخي کتابونه، او د عبدالباري جهاني د تحقیقي مقالې په ګډون، د یو شمېر نورو مقالاتو صوتي او ویډیویي صحنو غورچاڼ.
انګریز سروالنتین پخپل تاریخ کې لیکلي :چې افغانان مونږ سره د۱۸۴۲م نه تر ۱۸۸۰م پورې په ډېره میرانه وجنګیدل له هرچا یې مونږ ښه پیژنو چې دوی دخپل دین وطن او عزت څخه په څومره فداکارۍ دفاع کوي په داسې حال کې چې تر شا یې هیچا رش نه رسولو په سخته لوږه اوتنده او لوږو او سختو غرونو ختلو یې څومره صبر کولواو مونږ ته یې څومره مالي او ځاني تلفات راواړول چې هیڅ حد او شمار نلري
افسوس چې زمونږ نیکونو په څومره تلفاتو او سختیو ګاللو سره دا دګیدړ ځامن څومره ځغلولي وه خو مونږ لمسیانو یې یوځل بیا رامیدان ته کړه اوبیایې دوکه کړو. په اخره کې یو لنډه شانته قصه کوم چې ماپه خپلو سترګو لیدلی حال دی زما یو ترور زی دی فضل الخالق نومیږي دخوګیانو مرکخیلو اوسیدونکی دی هغه ماته وویل زه مریض یم خوری مي حکیم دی ورځم ما ویل صحیح ده دواړه لاړو دحکیم شمس الرحمن دواخانې ته ، تروزي مي ورته وویل چې خوریه مریض یم دوا راکړه خو چې دهغه بل ځل په شان مې دوکه نکړې چې ځای لری دی بیا نشم راتلای هغه ورته وویل ښه ده ماما یوکپسول یې ورکړ له دوا ډک وه هغه یې هملته پری وخوړ نور کپسولونه چې خالي وه ورته یې پاکټ کې واچول چې کله کورته راغلو ماسختن یې دوا راواخسته کپسولونه ټول سپک مک وه دوا پکې نه وه نو خپل خوریي ته یې بد رد وویل او وی ویل هغه بل ځل هم دوایې راکړه چې دلته راغلم ګورم چې په کاغذ کې یې پټاسې تاو کړې وې او په دوهم ځل خالي کپسول ـ ځیني رادیوګانې وایي : رپوټ مونږ درکوو قضاوت پخپله وکړئ

**محمد نادرخان:** دیوسف خان زوي دیحیی خان لمسئ دسلطان محمد



کړوسئ او دپاینده خان کودی وه دنادرخان نیکه یحیي خان دیعقوب خان نه وروسته هند کې دانګریزانو په پناه کې اوسیده نادرخان هملته پیدا شو تحصیلات یې په اردو او انګلیسي ژبه کړي وه امېر عبدا الرحمن خان راوغوښتل او دهغه نه وروسته امېر حبیب الله خان هم ورته ډېره توجه وکړه تردې چې دنادرخان خور یې په نکاح کړه نادر چې عسکري زده کړې یې کړې وې په ۱۹۰۸م کال کې دجنرالۍ چوکۍ ته ورسیده بیا یې دمنګلو پاڅون غلئ کړ سپه سالار(وزیر دفاع) مقرر شو دامان الله خان وخت کې چې دانګریزانو څخه یې استقلال اعلان کړ نادرخان پکې مهم سرئ وه چې په جنوبي جبهه کې یې جګړه وکړه او له انګریزانو څخه یې دټل قلعه ونیوله په ۱۳۰۳هـ ل کال په فرانسه کې سفیر مقرر شو او بیا یې

همهلته دنیس په ښارکې له استعفی وروسته ژوند کاوه کله چې امان الله خان ته مشکلات پیدا شول او حبیب الله کلکانۍ راغۍ نو دی له فرانسې نه افغانستان ته راستون او یولښکر یې برابر کړاو دلوګر په ولایت کې یې له کلکاني سره جګړه وکړه ا و دپکتیا له لارې یې کابل محاصره کړ او دکلکاني حکومت یې له منځه یوړ او په ۱۹۲۹م کال کې پاچا شو حبیب الله کلکانۍ چې جبل السراج ته تېښتیدلی وه نادرخان ورسره په قرأن ژمنه وکړه چې څه به درته نه وایم خو د راتګ سره سم یې دوعدې خلاف په ۱۳۰۸هـ ش کال اعدام کړو

نادر خان په ۱۳۱۱هـ ش کال دکابل پوهنتون او طب پوهنځي ډېره کېښوده او ملي بانک یې جوړ کړ دجبل السراج درختونو فابریکه او نور صنعتي شیانو فابریکې جوړې شوېچې په ۱۳۱۲هـ ش کال کې یې دنجات لیسې فارغینو ته شها دتنامې تقسیمولې چې دیومتعلم عبدالخالق لخوا په تفنګچې وویشتل شوه چې بیا صدراعظم محمد هاشم خان نوموړۍ متعلم له تره ماماو داکا زوي او یو انډیوال سره یو ځای اعدام کړه

روسانو له دې وروسته خپل جاسوسان او تخریبي شبکې افغانستان ته رالیږلې تر څو ددې ځای معلوماتونه هلته ولیږي چې یو یې دبېنه په نامه چې کلونه کلونه ژوند یې افغانستان




کې کړی وه ونېول شو چې څلور داخلي همکاران یې درلوده او یوبل دپیر کفن پوش په نامه چې شاه دوشمشیره کې ځای نیولی وه او دخپلې سپینې چپنې لاندې یې استخباراتي سامان ځای پر ځای کړې وه ونېول شو چې په زندان کې یې خودکشي وکړه

په ۱۳۰۹ هـ ش کال سپه سالارعبدالرحیم خان لخوا داتفاق اسلام مدیر روسیې ته دځنې لوازمو دخریدارۍ لپاره ولیږلو تر یوي نیمې مباشتې وخت تیریدو وروسته راستون شو هغه دکمونېستی نظریاتو تبلیغ شروع کړو چې دبخارا بادشاه یې ظالم او روسیې په کټه یې خبرې کولې چې دده په مقابل کې علماؤو سخت عکس العمل وښوده حمله پرې وشوه دی زخمي شو او دوه نور ملګري یې ووژل شوه عبدالرحیم خان حکم وکړچې داتفاق اسلام مدیر په لاس له روسیې څخه دې راوړې صندقونه تالاشي کړی شي ګوري چې داسلام په ضد او کمونستي مفکورې کتابونه پکې دي صدراعظم محمدهاشم خان نوموړي په پنځه کاله بند محکوم کړ دجاسوسانو دا سلسله روانه وه تردې چې یو تعداد ځوانان په دې مفکوره تربېه شول او نوره جاسوسي هم ازاده شوه چې په کمونستي رژیم کې ترټولو ښه کار جاسوسي او ریا کاري کڼل کېده دغې دورې چې ۴۰ کاله یې دوام وکړ روسانو ته ښه فرصت ورکړو چې استعماري اهداف پرله پسې ډول پغیر له کوم مشکل څخه عملي کړي صدراعظم محمد هاشم خان دمریضی دتداوۍ په بهانه په ۱۹۳۷م کال لمړۍ هند ته او بیا اروپایي ملکونو ته سفر وکړ او دامریکاي کمپنیو سره یې دتیلو داستخراج پروتوکول امضاء کړو چې دافغانستان په څلورو حوزوکې به دشپږ مباشتوپه موده کې دتیلو رایستلو کار شروع کوي او دکال ۶۰۰۰۰۰۰۰ شپیته میلونه ټنه تیل به راوباسي چې دنړیوال دوهم جنګ له کبله هغوی ونشوه کړای نوموړې پروژه تطبیق کړي او له افغانستان څخه په ۱۹۳۸م کال وواته دتیلو دسروي ټول معلوماتونه یې چې په شمال کې دډیرو نفتو خبراو معلومات پکې وه دولت ته وسپارل چې نوموړي اسناد روسانو دوزارت خارجه څخه دځني لاسپوځو په ذریعه تر لاسه کړل

**محمد ظاهرشاه:** په ۱۲۹۳هـ ش =۱۹۱۴م کال کې زیږیدلی او په ۱۹۳۱م کال یې دسردار احمدشاه لور حمېرا سره واده وکړ دحبیبیې اواستقلال په لیسو کې یې زده کړې کړي او په ۱۳۰۲هـ کې دخپل پلار نادرخان سره فرانسي ته لاړ دواپس راتلو نه وروسته یې خپل تعلیماتو ته په عسکري کې دوام ورکړ چې بیا ددفاع دوزارت دوکېل په حیث او بیا تعلیم اوتربیې دوزارت وکېل شو دپلار تر مړیني وروسته په ۱۳۱۲هـ ش کال په ۱۸ کلنۍ کې پاچا شو



ده دځان لپاره المتوکل علی الله لقب غوره کړ څرنګه چې ظاهرشاه وړوکۍ وه نودحکومت چارې ورته دده تره محمد هاشم خان پر مخ وړې چې د ۱۹۳۳م ــــتر ۱۹۴۶م کال پورې صدراعظم وه تر ده وروسته یې ورور سردار شاه محمود خان صدراعظم شو چې دډېموکراسۍ په پلار مشهور وه نادر خان چې کوم کسان بندیان کړي وه هغه یې خوشې کړه سیاسي ګوندونو ته یې ازادي ورکړه مطبوعات یې ازاد کړه دده پسې سردار محمد داود خان صدراعظم شو دده په وخت کې اقتصادي پرمختګ لپاره دجرمني ،جاپان او ایتالیې سره قراردادونه وشول او دپاکستان سره یې دپښتونستان او ډیورندکرښې مسئله راوچته کړه پاکستان پرې دطورخم لاره بنده کړه چې له دې سره ډېر مشکلات پیښ شول امریکا ته یې لاس ورکړ خو هغوی پرې پروا رانه وړه نو مجبوراً یې روسیې سره تړون امضاء کړ۱۳۴۱هـ ش کال ډاکټریوسف صدراعظم شو او بیا سمدستي محمد هاشم مېوندوال مقرر شو او ده نه وروسته نوراحمد اعتمادي او بیا ډاکتر عبدالظاهر صدراعظم شو او بیا موسی شفیق مقرر شو . دظاهرشاه په دوره کې سیاسي ګوندونه لکه خدام القرأن،جمعیت علمایې محمدي،مسلمان ځوانان،خلق دیموکراتیک ،جمعیت عوام،افغان ملت،ستم ملي،اتحاد ملي،شعله جاویداو مساوات جوړ شول په ۱۳۴۳ هـ ش کال یې اساسي قانون جوړ کړ په ۱۳۵۲هـ ش کال دسرطان په ۲۶ نیټه داود خان په داسې حال کې چې دی په ایتالیا کې وه کودتا پرې وکړه او دحامد کرزي په دوره کې بیا افغانستان ته راستون شو او په ۱۳۸۶هـ ش کال کابل کې مړ شو

# پنځم فصل

## دشورويانو ظالمانه يرغل ۱۳۵۷ـ ۱۳۷۱ هــ ش

کله چې دملاريا غوماشه له کوم ځايه خپله تغذيه کول غواړي خپل خرطوم يا نيش داخل کړي بيا هلته خپل زهر ورخوشي کړي ترڅو هغه ځای بی حسه اوبيا ترې وينه وخوري دغه شان دالويې نړيوال اشغالگر قدرتونه هم کوي لمړی دخپلو پلويانو يو نيش يوې خاورې اوملک ته داخلوي بيا هلته زهري عقيده خوشې کړي او بياترې استفاده کوي .چې شورويانوهمداسې وکړل لمړی يې نيشونه (خلق او پرچم ) داخل او بيايې ذهري عقيده(کمونيزم) خوشې کړه اوبيا يې لويه حمله وکړه خو!!!.

**د سپی او ګرم شلغم قصه :** يو وخت زمونږ ديو کليوال خان الرحمن کاکا له سپي څخه خلک په تنګ شوه په لاره به ترې څوک نشوه تللی ، زما دکاکا ځوی حاجي صاحب رفيع الله چې هغه وخت شپږم صنف کې وه دشلغم يوه دانه په اور ګرمه کړه او بيا يې سپی پرې وويشتو دهغه سپي عادت داوه چې په هرڅه به دی وويشتو په هغه شي به يې خوله لګوله کله چې ګرم شلغم باندې يې خوله ولګوله شلغم يې غاښونو کې کلک ونښته هغه چې ګرم وه نو غاښونه يې پاخه شول په سبايې بيا هم همداسې وکړل سپي داځل هم هغسې وکړل دسپي غريب ټول غاښونه په شلغم کې ووتل بيا به سپی غپيده خو خوراک به يې نشو کولی نوافغانستان يو ګرم شلغم دی نړيوال اشغالګر چې دلته راشي دسپي په شان خوله پرې ولګوي او په نتيجه کې يې غاښونه ووځي بيا غريبانان دسپي پشان غپيدای شي خو خوراک نشي کولی

شورويانو چې کله دمرکزي اسيا ملکونه تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، قرغزستان يا په مجموع کې ثمرقند او بخارا ونيول مست شول نو يې دافغانستان خواته مخه کړه اود انګريزانو په شان يې په دی ګرم شلغم غاښونه خښ کړل لکه څنګه چې دانګريزانو غاښونه پکې وتلې وه او خوړلې ملکونه تري ازاد شول ددی غريبانو هم غاښونه ووتل او خوړلي ملکونه ترې ټول ازاد شول ،خو افسوس چې دغه ازاد شوي ملکونه دګرم شلغم(افغانستان ) هيڅ احسان نه مني اوس راځو خپل بحث ته :

**اول ــ** داميرشير علي خان په وخت کې افغانستان ته شورويانو يو هيئت چې مشري يې جنرال (ستوليتوف ) کوله دوه جنرالان يو طبيب او پنځوس سواره دامير دربار ته په داسې حالت کې چې دانګريزانو لخوا هم يو هيئت چې موخه يې دافغانستان داوردو جوړول او سياسي مذاکرات وه دامير په دربار کې ناست وهراغله او دوی هم له دغه ګرم ارتباط نه پټ خبر شوي وه چې افغانستان له شوروي سره روان کړي وه ځکه تر شورويانو مخکې راغلل

امير شيرعلي خان چې يو خوش باوره شخص وه دستوليتوف په غورو اوپرزو يې باور وکړ او دا نګريز هيئت يې لا جوابه رخصت کړو، ستوليتوف او دهغه داکتر ( ياروسکي) ليکلي چې: دافغانستان دوهمه جګړه دانګريز سره زمونږ ددغه سفر زيږنده وه امير شيرعلي خان دروسانو دهيئت په غورو او پرزو وغوليده اوپوره اعتماد يې پرې وکړچې مونږ درسره په هر حالت کې ولاړ يو او انګريزانو چې دروس له دغه دخالت نه په ويره کې وه جګړې ته را ودانګل تر څوافغانستان دروسانو له مداخلې نه مخکې په خپله ولکه کې وساتي هغه وه چې دانګريز سره دوهمه جګړه ونښته

امیرشیرعلي خان دخپل رب ( الله پاک ) او خپل سر ښندونکي مجاهد ملت څخه طمع قطع کړه او دروسانو دکړي ژمني مرستي په هیله مزارشریف ته لاړو.
په ترکستان کي روسي ګورنر جنرال کافمن ورته بهاني اوپلمي په مخ کي واچولي یوه پلمه یې داوه چې مونږ دافغانستان دپښتو لویدلو قواوؤ د تقویه کولو لپاره دهندوکش له لارې دموادو د لیږدولو لپاره ترانسپورتي ستونزې لرو.










انګریزانو چې پرافغانستان یرغل وکړو نو یرغل کول خو پرافغانستان آسانه دي خو په خپل واک کي یې ساتل ډیر ستونزمن دي انګریزانو ته دافغانستان په لومړۍجګړه کي داحقیقت ثابت شوی وو خو دوهم ځل یې بیا دا تجربه تکرار کړه چې په نتیجه کې افغان مجاهد ملت ورته هم غاښن ماتونکی ځواب ورکړ
کله چې دامیرشیرعلي خانروسانو څخه دکمک طمع وشلیده په ۲۱ فبرورۍ ۱۸۷۹م کال مزارشریف کې یې له ژور خفګانه زړه وچاودیدو اومړشو.
**دوهم ــ** شورویانو دامیر محمد یعقوب خان په وخت کي ۱۴فبروري ۱۸۷۹دافغانستان یو سر سبزه منطقه او ښار دمرو پهنامه چې په اوسني ترکمنستان کې پروت دی ونیوه






امیر محمد یعقوب خان چې په داخلي شخړو کې ډوب وه او انګریزانو هم دی ته پرینښوده چې دمرو ښار غم وکړي همداسي پټه خوله پاته شو تر دی چې انګریزانو هندوستان ته تبعید او هلته مړ شو.
**دریم ــ**دامیر عبدالرحمن خان په وخت کې سره له دی چې امیر په سمر قند کې دروسانو تر تاثیر لاندې ډیر ژوند تیر کړی وه او دهغوی په هر مکراو فریب پوهیده او چې کله امیر شو ډیر یې ځان ترې ساته خوبیا هم هغوی په ۱۸۸۵م کال کې دجنرال (کماروف) په واسطه چې ۳۰۰۰ روسي عسکر ورسره وه دافغانستان بل ښار پنجده ونیوله افغانانو مقابله وکړه ۱۰۰۰ کسه روسي عسکر یې مړه کړه او ۳۰۰ مجاهدین هم شهیدان شول خو پنجده دهغوی لاس ته پریوته دپنجدې په نیولو لر اوبرسیند ، پنجاب ،پیښور، سمرقند . بخارا ،خیوه او نور ټول مسلمانان سره یو شول او دیولویي قیام او جهاد اعلان یې وکړ خو متاسفانه امیر عبدالرحمن خان دقدرت وګی تګی او یو ډارن شخص وه دقیام مخالف شو او دمجاهدینو ولولی یې په سیند لاهو کړېکنه نو دا داسی قیام وه چې ډیره

علاقه به له روس څخه خلاصه شوی وه او مرو به لاس ته راغلی وه او روسانو به داسې درس اخستی وه چې بیا به یې دیخوا ته راکتل هم نه خو متاسفانه چې امیر لویه تیر وتنه وکړه!!!!اوبیایې ورپسې ذوالفقار ونیوه










امیر انګریزانو ته وویل تر منځ شي چې ذوالفقار واپس راکړي بیا هماغسې وشول . خو روسانو لا هم مداخلې کولې چې په پامیر یې حمله وکړه لویې پامیر یې ونیوه او کوچنی پامیر مونږ ته پاته شو چې بیا افغانستان داموسیند شمال سیمې ټولې خوشې کړې او سرحدات تعین شول.دروسي دریم الکساندر (تزاري روسی) جنرال (بیچوفسکي) دماموریت په اساس سردار محمداسحاق خان چې دبلخ والي وه دامیر عبدالرحمن خان په مقابل کې راپورته کړولس زره ۱۰۰۰۰ روسي ټوپک ، یومیلون کارتوس او ۱۰۰۰۰۰ یولک نقدې روپۍ یې ورکړې خو هغه د مزار او ایبک (سمنګان) ترمنځ ساحه غزني ګک کې ماته وخوړه دروسانو پلان مات شو. لنډه داچې دامیر عبدالرحمن خان په وخت کې زمونږ دګران هیواد افغانستان ډیره خاوره روسانو نیولې .

**خلورم ـ** امان الله خان چې راغی هغه دایټالیا هیواد په دعوت په ۱۹۲۷م کال یوکلن سفر درلوده چې له هند څخه شروع او بیا فرانسې ، مصر ، سویس ، بلجیم ، جرمني ، برتانیا ، پولینډ اوترکیې هیوادونو ته لاړه او په روسیه کې ډیر وخت پاته شو هلته یې دکفارو تمدن ولیده تر سخت تاثیر لاندې راغلی وه ښځه یې ملکه ثرایا نیمه بربنده میدان ته راوویسته دسلام پر ځای یې دخولی جګول او دجمعې رخصتی په عوض یې دیکشنبې ورځ او دهجري سنې په عوض یې میلادي سنه رایج کړه او افغاني پیغلې یې دتعلیم لپاره خارجته ولیږلی دافغانستان ملت چې یو مسلمان ملت دی دا نادوده تغیرات یې دخپل مقدس دین اسلام سره په ټکر کې ولیده او بد یې وګڼل هماغه وه چې دملت هر طرف قیامونه دده پر ضد شروع شوه ده غوښتل هغه تمدن چې اروپایانو په سلو کالو کې لاس ته راوړی وه په یوکال کې پلی کړي.






دقیام کونکوڅخه ډیر وګړي سره له ډیرو علمایکرامو په شهادت ورسیده خو بالاخره تیښتې ته مجبور شو قندهار ته یې ځان ورساوه اوبیا هغه چاته لاړه چې ورڅخه یې ازادې اخستې وه روسانو دده کمک ته دغلام نبي خان چې د سپه سالارغلام حیدر خان ځرخي زوی وه په مشری یو لښکر افغانستان ته داخل کړه سره له دی چې امان الله خان ددوی کمک رد کړی وه خوبیاهم راغلل چې دا افغانستان ته دمداخلې یوه ښه بهانه وه غلام نبي خان مزار شریف ونیوه روسانو سمدستي مزار شریف ،حیات اباد، ایبک






او تاشقرغان بمبار کړل خو دمدرسو طالبانو او علماءکرامو پرې دجهاد اعلان وکړ ددوی مشري

میرزا محمد قاسم خان ، خلیل الله خلیلي او جنرال شیر علي کوهدامني او نورو علماؤ کولهحبیب الله کلکانی چې ارګ یې نیولی وه دمقابلې لپاره یې ابراهیم بیګ او سید حسن دډېر مجاهدینو سره یو ځای وروليږل خو چې غلام نبي خان خبر شو له مزاره وتښتیده ابراهیم بیک په دره صوف کې دروسانو پسې لاړه هغه یې ختم کړل او پرې کامیاب شو نو له دی معلومه شوه چې روسانو ۱۰۰ کاله مخکې هم په افغانستان یرغل کړی وه خو کامیاب نشوه .

روسان پوه شول چې نورنو په زور نه کیږي زیر زمیني کار یې شروع کړپه ۱۹۳۷م کال صدراعظم محمد هاشم خان په وخت کې دوزیر خارجه پلاس په ۱۳۱۶هـ ش کال دتیلو ایستلوامریکایي کمپنۍ سره پرتوکول وشو ترڅو سروی وکړي او دکال ۶۰۰۰۰۰۰ شپیته میلونه ټنه تیل راوکاږي هغوی خپله سروی شروع کړه کار دی ته ورسیده چې عملي شي خو دوهم جنګ جهاني امریکا دی کار ته پرینښوده اودسروی ټول اسناد یې دافغانستان حکومت ته وسپارل ترڅو پخپله یې راوکاږي او دوی په ۱۹۳۸م کال له افغانستانه ووتل دا اسناد روسانو دخپلو داخلي جاسوسانو په ذریعه ترلاسه کړل او دافغانستان حکومت  ته یې وویل چې مونږ یې درته راباسو روسانو ته د داخلي جاسوسی شبکې دپیاوړتیا ښه بهانه جوړه شوه دهمدې په بهانه یې دکمونیست ګوند غړي تربیه کول روسانو داهم غوښتل چې داسی پروژه پلاس راوړي چې سروکار یې له دهقانانو او زارعینو سره وي چې دروس یو هیئت دزراعتي افاتو په ضد دافغانستان سره یو قرار داد امضاء کړ له بل پلوه دافغانستان حکومت غوښتل دټولو ملکونو سره ښه روابط ولري چې په دی لړ کې دچین ، ترکیي او امریکا ترمنځ تړونونه وشول او افغاني محصلین دغو ملکونو ته ولیږل هماغه وه چې روسان دی ته اړ شول خپله زیر زمیني مبارزه چټکه کړي تر څو هغوی په دی هدف کې تری مخکې نشي او خپل جاسوسان یې په وزارت معارف او مطبوعاتو کې ځای پر ځای او فعال کړه.

دظاهرشاه دحکومت په دوره کې یې ماهیپر، نغلو(۱۹۴۰م) او درونټې(۱۳۴۳ش) بندونه  او د جلال اباد کانال او فارمونو جوړولوپروژې ونیولي چې دماهیپرداوبو تونل یې قصداً  په غره وربرابر کړ اته کیلومتره غر یې سوری کړولاندې یې ورته دبرق تولید دستګاه ولږوله دجلال اباد کانال یې دڅمر خیلو په غره وربرابرکړو ۹ نهه کیلومتره یې غر سوری کړی داددی لپاره چې ډېر وخت ونیسي او خپلو کمونیستي ملګرو ته دتربیې لپاره ښه تریننګونه ورکړي او تعداد یې زیات شي




دسردار داود خان صدارت او دده ورو محمد نعیم خان وزیر خارجه په ۱۳۳۸ هـ ش کال ځني سفرونه لکه لندن ترکیه او جاپان ته وکړل ددې لپاره چې نړۍ ته وښایي افغانستان یو ازاد او خپلواک هیواد دی له بل پلوه په همدغه کال  دروسیې په دعوت یو پارلماني هیئت مسکوته حرکت وکړ هغوی ته یې مډالونه ورکړل او دافغانستان او مسکو تر منځ ددولتي انجمن په نامه دفترونه جوړ شول دمحمد نعیم خان سفرونو روسان سخت په تشویش کې واچول هماغه وه چې دپاکستان سره یې د پښتونستان مسأله او دایران سره یې دهلمند داوبو مسأله رامنځ ته کړه دپلپاره چې اوبه خړې کړي او ماهیان پکې ونیسي اودي موضوع ته یې دومره زور ورکړ چې دداودخان ټول عمر پکې مصرف شو او افغانستان یې دنړۍ سره دري طرفه  محاصره وساته .

 خروشچف او وزیر خارجه ګرو مېکر او دروس سفیر کپتات لمړی هند ته اوبیا افغانستان ته راغلل تر څو دداود خان سره دروس او افغانستان دوستۍ معاهده امضاء کړي هغه معاهده چې دحبیب الله کلکاني په خلاف کسانو دروس نه دکمک غوښتلو په وخت کې دي کسانو ته پیش کړای شوی وه خو

هغوی ونه منله ځکه په هغې کې دافغانستان ذلت احساس کېده خو داود خان ورسره ومنله په ۱۸۳۸م کال دکابل ننداري دجوړیدو قرارداد هم وشو پداسې حال کې چې افغانان له لوړې په مازدیګر ځملاسته او دځښلو اوبه یې نه درلودې خودوی ورته ننداړتون او سینما ګاني جوړې کړې دې لپاره چې اسلامې دودونه یې په غیر اسلامې دودونو بدل شي دافغانستان په تاریخ کې لمړی ځل وه چې لوڅې ښځې په تیاترونو کې راښکاره شوی او په همدې کال دداودخان لخوا یو فرمان صادر شو چې دمکتب جنکۍ به په حجاب کې نه راځي بلکې هغه لباس به اغوندي کوم چې حکومت ورته توصیه کړی وي او ځنې محفلونه لکه جشن اونور یې دشپې لمانځل او ښځې نارینه به په ګډه شریکدل چې دې وضعیت په لنډه موده پر ښځو دومره تاثیر واچولو چې لباس یې له اروپایانو هم ورمخ ته شو چې دې حالاتو په افغانانو بد تاثیر وکړاو دا حالت یې برداشت نشو کړای دتل په شان دقندهار اتل اومجاهد ولس قیام وکړ اودداودخان حکومت له دې خوا پرې دټانګونو ډزې وکړې چې دروسیې ټانکونوپه واسطه دغه وحشیانه وژنو داودخان دې ته مجبور کړ چې له روسانو څخه نور ټانګونه هم واخلي او کابل هواي مېدان دجوړولو قرارداد او دارنګه په ۱۹۴۰م داګست په اتمه دنغلو دبند جوړیدو قرارداد له روسیې سره وشو چې روسانو وکولی شول دپراګنده پروژو دعملي کولو په ترڅ کې له عوامو سره اړیکې ولري په ۱۹۶۰م کال دافغانستان او روس تر مابین پنځه کلن کلتوري تړون لاس لیک شواو پارلمان تصویب کړو چې ددې تړون په اساس افغان زده کونکې دشپږم صنف څخه ترماسترۍ او دکتورا پورې هلته تربیه کېده او ماغزه به یې ورته له اسلامې عقیدې څخه پاک ومینځل اوداسلام ضد مفکوره (کمونېزم ) به یې ورزده کاوه او بیا به یې افغانستان ته رالیږل چې دلته یې دخلق او پرچم په نامه دوه ګوندونه ورته جوړ کړي وه چې پرچمیان زیات اشراف زاده ګان وه لکه درئسانو او مالدارو ځامن او دخلق ګوندکې بیا دغریبانو کارګره طبقه وه ځای پر ځای کول داود خان په ۱۹۷۷م = ۱۳۵۶ هـ ش کال یوسفر مسکو ته تر سره کړ چې صمد غوث او حسن شرق ورسره ملګري وه غوښتل یې مسکو د پنځه کلن انکشافي پلان په تطبیق کې ورسره همکاري وکړي دمرحوم پوهاند صاحب زیور له خولې چې ویل یې : د مسکوهوایې مېدان ته مونږ څو تنه محصلین دداودخان هرکلي ته ورغلو هغه چې مونږ په افغاني لباس کې ولیدو ډیر خوشحاله شو له سترې مشې وروسته یې سمدستي زمونږ سره دملاقات وخت وټاکه مونږدشپې په تلویزون کې دبرژنیف او داود خان غونډه لیده داود خان برژنیف ته دپنځه کلن انکشافي پلان کاغذونه ومخې ته کیښودل له لږ ځنډ وروسته برژنیف نوموړي کاغذونه په ګوته ووهل او داود خان ته یې ورتیله کړل او ورته یې وویل ما فکر کاوه چې ته به ډیر پوه سړی وې خو ته ډیر احمق یې ځکه دا پلان په روس غوندې مترقي هیواد کې نه تطبیق کیږي او ته دافغانستان غوندې فقیر او پس پاتې ملک کې دا تطبیقوې داودخان چې خپله توره کرکولې یې په مېز ایښي وه په سر کړه اوکاغذونه یې په بکسه کې کیښودل او ودریده برژنیف ته یې وویل ته احمق یې ستا پلار احمق دی ستا ټول ملک احمق دی له دې سره ترې راروان شو کمره ورپسې وه تردې چې له هغو کوټو څخه راووت برژنیف په خندا ورپسې شو او درخواست یې وکړ چې تا غوښتل زما سره خصوصي ملاقات وکړئ زه تیار یم داود خان ورته وویل نورو ملاقاتونو ته ضرورت نشته هغه وه چې بیا داود خان مصر،لیبیا اوسعودي عربستان ته لاړ دامریکا سفارت ته یې ددې پلان دتطبیق او همکارئ غوښتنه وکړه خو هغوی افغانستان دروس یوه سپوږمکۍ ګڼله درخواست یې ونه مانه خو دامریکا رئیس جمهور جیمې کارترداود خان ته بلنه ورکړه چې امریکا ته راشي بیا ایران ته لاړهغوی ورسره ومانه او په کل کې یې ورته دوه ملیارده ډالر ومنل دایران نه واپس هرات کې کوز شو اوهلته یې په یوه ویناکې په پرچمیانوسخت ګذارونه وکړل دولتي تصفیه یې له پرچمیانو وکړه چې ډیر چارواکې یې له دندو لرې کړل او په وطن ورانولو یې محکوم کړل روسانو او پرچمیانو په ګډه دداود خان دحکومت دله منځه وړلوپلان جوړاو کوشش یې ګړندی کړو دمسکو څخه دداودخان له راتګ درې مېاشتې وروسته

دخلق او پرچم ګوند تر منځ اتحاد راووست چې ددوی په مرسته يې درې سوه روسي مشاورين ددې پلان دتطبيق لپاره په اردو کې وردننه کړل داودخان نور په دې پوهېده چې روسان دده دله منځه وړلو له هيڅ عمل نه دريغ نکوي خودی بېاهم په نابلده لار روان وه تردې چې له ګړنګ نه يې خطاکړو.
دسردار داود خان دصدارت په وخت کې روسانو او کمونستانو ته ښه فرصت پلاس ورغی داود خان غوښتل دتولی نړۍ سره ښه روابط ولري دواړو ورونو ( داود خان او نعيم خان ) خارجي سفرونه پيل کړه روسان سخت په ويره کې شول نو سمدستي يې دپښتو نستان مسئله منځ ته راواچوله او ښه يې ګرمه کړه تر څو دپاکستان او افغانستان تر منځ اختلاف دی حد ته ورسيږي چې دنورې نړۍ سره يې روابط وشليږي ددی مقصد دترلاسه کولو لپاره (خروشچف) او خارجه چارو وزير ( ګروميکر) او دروسيې سفير (کپتات) لمړی هندوستان ته او بيا افغانستان ته راغلل له داود خان سره يې ليده کاته وکړل او بيا يې دروس او افغان دوستۍ يوه ګډه اعلاميه خپره کړه او له بل پلوه دروسانو راديوګانو او تلويزونونو دپښتونستان موضوع ته ډنډوره غږوله اګر که دلته يې په ظاهر کې ډيره نه يادوله خو هلته يې ورته خوله خلاصه کړې وه تر څو دپاکستان حساسيت راوپاروي او دافغانستان اوضاع ورسره خرابه کړي او افغانان خپل ازاد او ارام ژوند ته پاته نشي خرشچوف خپل هدف ته ورسيده داود خان يې دومره راپه غوصه کړ چې دپاکستان سره يې اړيکې ورخرابې کړې او داود خان ټوله دوره دصدراعظمۍ دايران سره دهلمند په اوبو او دپاکستان سره د پښتونستان په مسئله تيرې کړې او په راديوګانو کې به ترانې غږيدلې : دازاړه ټيمان زمونږ ـ پراته دې په ډيران زمونږ ـ داپښتونستان زمونږ. په ترانو نه کيږي عمل غواړي







پنجده ، خيوه ،لويې پاميراو مرو چې روسانو نيولی وه چا په خوله نه يادول
ددونيا نور ملکونه چې کار کوي په خوله هيڅ نه وايي په پټه خوله لګيادي زمونږ ملک يې راټوټه ټوټه کړو صرف په چغو خو نه کيږي زه يقين لرم که داخبره حکومت ربښتيا غواړي چې اجرات وکړي يواځې زمونږ دخوږيانيو ولسوالۍ ته دې دپښتونستان نيولو اجازه ورکړي چې سر يې زمونږ او مال يې ستاسو ماته دخپل قوم شجاعت او زړورتيا معلومه ده حديث شريف کې راځي چاچې په جهاد کې څوک ووژلو دهغه مال دده دی (عن عبدالله بن ابي بکرقال: حدثت عن ابي قتادة الانصاري : انه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من قتل قتيلاً فله سلبه (المصنف لابي ابن شيبة کتاب السير باب ۹۳ )
روسانو په ۱۹۷۰م کال دافغانستان دمطبوعاتو سره يو قرارداد وکړ او دکابل ننداري په نامه يې يو ننداررتون جوړ کړ سره له دی چې په دغه وخت کې سخته وچکالي وه خلکو دڅښاک اوبه نلرلی دخوراک حتی جواروډوډۍ نه پيدا کيدلهسختو مشکلاتو کې راګير وه خو دوی دننداررتون لپاره نيم ميليون روبل ورکړه داددی لپاره چې دافغانستان خلک دعياشۍ وخواته راکاږي اخلاقي او ديني ارزښتونه تر پښو لاندې کړي نو ځکه يې صحنې او تياترونه جوړ کړه په کال ۱۹۷۰م=۱۳۵۰هـ ش داود خان يو فرمان صادر کړ چې ټولې نجونې او ښځې بايد خپل حجابونه له ځانه لرې کړي او هغه لباسونه واغوندي کوم چې حکومت ورته ښودلي دي او جنکۍ به دشپې ځينو محفلونو ته ورلـ کيدې او دحجاب حالت دغربي نړۍ وخواته لاړه او مينو ژوب لباس اغوستل شروع شوه لاندې تصويرونو کې وګورۍ.
















ښي طرف نه فیروزه کاظمي ،نجیبه شریفي او معصومه کاظمي دطب پوهنځي شاګرداني۲ ۱۹۶
م کال ظاهرشاه وخت کي عکس اخستل شوی او المان شترن مجلې ۲۰۱۴م کال کي خپورکړی

دافغانستان په خلکو داد اسلام سره دوشمني بده ولګیده خصوصاً دقندهار په اتلو خلکو چې هغوی دتل په شان په پوره میړانه او شهامت دداود خان ددی اعمالو په ضد پاڅون وکړ داود خان د روسي ټانکونو په ذریعه ددوی دوژلو حکم ورکړ چې په دی سره روسان نور هم خوشحاله شول او بیا روسانو نور ټانګونه هم ورکړل .

په ۱۹۶۰م = ۱۳۳۹هـ ش کال دروسانو او افغاني حکومت تر منځ یو فرهنګي او کلتوري ۷ اوه ماده ای تړون لاس لیک شودملي شوری لخوا تصویب شو ددی تړون له مخې افغان زده کونکي مسکو ته وړل کیده هلته به دکمونیزم او اسلام ضد فلسفه پری لوستل کیده ماغزه به یې ورته ښه ومینځل او بیابه یې راولیږل تر دی چې ویل کیده دشپږم ټولګي هلکان هلته وړل کیده او بیابه دماستر او دکتور په نامه رالیږل کیده داټول روسانو داقتصادي ، فرهنګي او سیاسي فعالیتونو برخه وه ددوی پلاس تربیه شوي ځوانان په دولت کې په ښه ښه ځایونو مقرر شول اکثره امنیتي

سکتورونه ددوی لاس ته پریوتل تروررونه یې شروع کړل ددولت دمخالف په نامه به داسلامي عقیدې ځوانان نیول کیده تر سختو شکنجو او ربړونو وروسته به په شهادت ورسیده حتی دداودخان په وخت کې به په همدی نامه چې دحکومت مخالف دی تیل داغ به ورکول کیدو او نوکان به یې ترې په امبور ویستل ددی ټولو کارونو تر شاه دروسانو یو منظم او پلان شوی لاس وه تر څو خپلو مستقیمو همکارانو ته قدرت پلاس ورکړي.
نوموړو همکارانو ته یې دکمونیزم دو شاخه حزب چې یو یې دخلق په نامه اوبل یې دپرچم په نامه جوړ کړوچې پرچمیان زیات فارسي وانان او اشراف زاده ګانوه لکه درئیسانو ، مالداروزامن او دخلق شاخه کې بیا پښتانه او دغریبانو کاریګره طبقه وه ځای پرځای کړل .




داود خان مسکو ته په ۱۹۷۷م = ۱۳۵۶هـ ش کال یوسفر درلوده چې صمد غوث او حسن شرق ورسره ملګري وه غوښتل یې مسکو ورسره دپنځه کلن انکشافي پلان په تطبیق کې کمک وکړي
دمرحوم پوهاند صاحب زیورالدین زیورله خولې چې ماته یې دا قصه پخپله وکړه وی ویل:په۱۳۵۶هـ ش کال دمسکو هوایي میدان ته مونږ څو تنه محصلین دداود خان هرکلي ته ورغلو هغه چې مونږ په افغاني لباس کې ولیدو ډیر خوشحاله شو له ستړی مشي وروسته یې سمدستي زمونږ سره دملاقات وخت وټاکه مونږ دشپې په تلویزون کې دبرژنیف او داودخان غونډه لیده داودخان دپنځه کلن انکشافي پلان کاغذونه دبرژنیف ومخی ته کیښوده له لږ ځنډ وروسته برژنیف نوموړي کاغذونه په ګوته ووهل او داود خان ته یې ورتیله کړل او ورته یې وویل ما فکر کاوه چې ته به ډیر پوه سړی وی خو ته ډیر احمق یې داپلان دروس غونډې مترقي هیواد کې نه تطبق کیږي




او ته دافغانستان غوندی فقیر اوپس پاتې ملک کې دا تطبیقوي داود خان چې خپله توره کره قل په میز ایښې وه په سر کړه او خپل کاغذونه یې په بکسه کې کیښودل او ودریده برژنیف ته یې وویل ته احمق یې ستا پلار احمق دی ستا ټول ملک احمق دی او ترې روان شو کمره ورپسې وه تردې چې له دغې کوټې ووت برژنیف په خندا ورپسې روان شودرخواست یې وکړ تا غوښتل ماسره خصوصي ملاقات وکړې زه تیار یم داود خان ورته وویل نور ملاقاتونو ته ضرورت نشته .
هغه وه چې بیا داود خان مصر لیبیا اوسعودي عربستان ته لاړه دامریکا سفارت ته یې ددی پلان دتطبیق او همکاری غوښتنه وکړه خو هغوی افغانستان دروس یوه سپوږمکۍ ګڼله درخواست یې ونه مانه خو دامریکا رئیس جمهور جمي کارترداود خان ته بلنه ورکړه چې امریکا ته راشي بیا ایران ته لاړه هغوی ورسره ومنله او په کل کې یې ورته دوه ملیارده ډالرومنل دایران واپسۍ کې هرات کې کوز شو هلته یې په یوه وینا کې په پرچمیانو سخت ګذارونه وکړل( دتل په شان مونږ افغانان دزړه خبره پټه نشو ساتلی څه مو چې په زړه کې وي هغه په خوله او عمل کې هم کوونو دداود خان صبر ونشو تر څو یې دا کار په حکمت کړی وای او له بل پلوه متاسفانه څوک یې چې راز داره وه هغه هم ورته په کمین کې ناست وه لکه حسن شرق چې دده قلم مخصوص وزیر وه )دولتي تصفیه یې له پرچمیانو وکړه چې ډیر چاړواکي یې له دندو لری کړل او په وطن ورانولو یې محکوم کړل روسانو او پرچمیانو په ګډه دداودخان دله منځه وړلو پلان جوړ او کوشش یې ګړندی کړوله مسکو څخه دداود خان له راتګ دری میاشتې وروسته دخلق او پرچم ګوند تر منځ اتحاد راوست چې ددوی په مرسته یې دری سوه روسي مشاورین ددی پلان دتطبیق لپاره په اردو کې وردننه کړل داود خان نور په دی پوهیده چې دده دله منځه وړلو له هیڅ عمل څخه دریغ نکوي خودی بیا هم په نابلده

لار روان وه ـ داود خان دهیواد په انکشاف کې ډیر ښه رول درلوده ډیر څه یې وکړل او لا کول یې که پاته شوی وه نو افغانستان به یې په یو ښکلي هیواد بدل کړی وو خو دانسانیت دوشمنانو (کمونستانو) کار ته پرېنښوده تر دی چې دده دکورنۍ ۷۰ اویا کسانو سره یوځای یې له ګړنګه خطا او په ډیره بې رحمانه ډول یې له منځه یوړو او حکومت کمونستانو (خلق او پرچم ګوند) ونیوه.

# دافغانستان کمونستي نظام

## کمونستان (خلقیان او پرچمیان) څوک دي ؟

د کمونیسم اصطلاح د لاتیني د (Communism)څخه اخیستل شوې چې معنی یې مشترک او اشتراکیت دی ، په اصطلاح کې هغې فکري ، سیاسي ، علمي او اقتصادي خوځښت او نظریې ته ویل کیږي چې په نولسمه میلادی پیړۍ کې د کارل مارکس د نظریو په اساس ، د انګلس، هیګل او داروین د نظریاتو په ملاتړ ، را منځ ته شوې او په روسیه کې عملاً د لینن په واسطه تطبیق شوه




کارل مارکس خپلې نظریې ته د کارګرو د غورځنګ نوم ورکړ ، او په دې عقیده ؤ چې دا یوه ایډیولوژي(په دین عقیده) نه ده ، بلکه دا یو عمومي اوښتون دی چې د کارګرو د طبقو واک ته رسول به یې موخه وي.

کارل مارکس څوک ؤ او ولې یې دا نظریه رامنځ ته کړه؟ کارل مارکس په ختِه یهودي ؤ چې په ۱۸۱۸ میلادي کال په آلمان کې تولد شو او په ۱۸۸۳ کال په انګلستان کې مړ شو، نوموړي خپل کمونستي نظریات په ۱۸۴۷ کال ښکاره او د یوه فکر او ایدیولوژی په بڼه یې ټولنې ته وړاندې کړل.

دا چې څه لامل ؤ تر څو کمونیستي فلسفه رامنځ ته کړي؟ تر ډیره د نوموړي تر شخصي ژوند پورې تړاو درلوده ، مارکس په خپل ژوند کې د امپریالیزم یا سرمایه دارۍ نظام د واکمنو (سرمایه دارانو) له لاسه ډیرې ستونزې ولیدې، هغه د یوه سرمایه دارې کورنۍ له یوې نجلی سره کوژده وکړه، کله چې هغوی پوه شول چې مارکس له غریبې کورنۍ څخه دی، نو دا واده یې فسخ کړ.

همدا شان نوموړي د شمشیر زني په یوه سیالی کې د یوه سرمایه دار څخه ماته وخوړه او تندی یې ټپی شو، د تندي دې ټپ یې په زړه داغ جوړ کړ او عُقده یې ورسره زیاته شوه، له بل لوري، کارل مارکس په یوه بی وزله کورنۍ کې لوی شو چې ډیرې ستونزې یې له سرمایه دارانو ولیدې، د لویدیخ سرمایه دارۍ نظام چې هر څه به د خان، او سرمایه دار په لاس کې ؤ له پیړیو پیړیو همدې خانانو په خوارانو او مزدورانو حکومت درلود ، خوار او کارګر د پیړیو را پدې خوا محکوم او مظلوم ؤ، د خپل واک او حق څخه محروم ؤ، دې حالت هم په مارکس منفي اغیزه وکړه تر څو د کمونیزم مفکوره رامنځته کړي، همدا شان د اروپایي کلیسا کړنې هم د دین او مذهب څخه د مارکس د تیښتې لامل شوې، د هغې زماني کلیسا چې د قیصر او پاچا په خدمت کې وه، خلکو ته یې دا تلقین کاوه چې دا قیاصر(بادشاهان) د خدای له لوری د خلکو نمایندګان دی، دوی چې هر څه کوي او هر څه وایي باید په پټو سترګو ومنل شي ، د کلیسا پاپ ، او د سلطنت تخت د عوامو او غریبو په خلاف

لاس سره یو کړی ؤ ، هر څه یې چې زړه غوښتل هغه یې د قانون په توګه په خلکو منل ، ځکه کلیسا هم داسې کوم دیني قانون نه درلود چې د الله تعالی له لوری نازل شوی وي ، بس د دوی د ګیډې قوانین د الله قوانیین بلل کیدل او په خلکو د تورې او متروکي په زور منل کیدل .. همدا لاملونه ؤ چې مارکس او ورسره وروسته ملګری یې انګلس ، هیګل .. داسې یو نظام ته وهڅول چې د سرمایه داری، او دین په سر یې پریکنده ګزار وکړ نو موږ ویلای شو چې د مارکس نظریه د امپریالیزم په وړاندې یو تغیري عکس العمل ؤ.

**دکمونستانو اهداف :** سره ددې چې د کارل مارکس نظریات په تاریخ ، فرهنګ ، ټولنپوهنه ، فلسفه ، اقتصاد کې ډیر پراخه بحثونه راپارولي او ځینې خو داسې کلیات دي چې خپله کمونستان یې هم په تفسیر کې سره ویشلي او هره ډله ترې خپل تعبیر لري، خو کوم چې په نړۍ کې د کمونیزم د نظامونو اساسي بنستونه جوړ شول ، او وروسته عملا کمونیستي نظامونو عمل پرې وکړموږ به په هغو رڼا واچوو

**اول ـــد خصوصي ملکیتونو له منځه وړل:**د مارکس د نظریاتو له مخې ثروت او مال د ټولو خلکو مشترک مال دی، باید هیڅوک شخصي ملکیت ونلري، له همدې امله ددې غورځنک اساسي موخه او هدف د خصوصي ملکیتونو له منځه وړل ، له سرمایه دارانو د مال او جایدادونو ضبطول او عملاً د حکومت تر واک لاندې راوستل وه ، او د کارګري انقلاب په واسطه د ټولو ټولنیزو طبقو مساوات ؤ ، هغوی غوښتل ټولې ټولنیزې طبقې له منځه ویسي او ددوی په آند ټول خلک سره مساوي او برابر کړي چې عملا په پخواني شوروي اتحاد او چین کې یې ټول ملکیتونه ضبط او د خلکوترمنځ وویشل ، ټولې طبقې یې له منځه یوړې، البته دا د مارکس تصور او تفکر وه چې د هغه په ژوند کي تطبیق نه شو.

د مارکس په آند کله چې یوه ټولنه د سرمایه داری نظام څخه کمونیزم ته را اوړي، دا کار یوې اوږدې پروسې ته اړتیا لري او دې پروسې ته یې د پرولتاریا د دکتاتورۍ او یا د کارګرو انقلاب ووایه. سره ددې چې له مارکس وروسته دا نظریه په پخوانی شوروي اتحاد ، چین ، کیوبا او ځینو نورو هیوادونو کې د کودتاګانو، عسکري انقلابونو او یا چریکي جګړو په ترڅ کې تطبیق شوه، خو دوی هیڅکله هغه موخه چې مارکس درلوده عملی نه کړه، بلکه له دیکتاتورۍ څخه یې هغه دکتاتوري عملی کړه چې د مطلق ازادۍ حق یې هم له خلکو واخیست، او داسې استخباراتي شبکه یې رامنځ ته کړه چې د انسانانو ژبې ، خولې، او عقلونه یې هم وروتړل ، چې د ستالیني دوران (۱۰) میلیونه انسانانو وژنه او په چین کې د مائوئ د څو میلیونه انسانانو وژل یې ښه بیلګه ده ترڅو چې د ستالین له قوله حکایت شوی او هغه وایی (د نړی د نفوسو دوه په درې برخه خلک د همدې نظریې لپاره که له منځه لاړ شي هم پروا یې نشته).





دکمونیزم دتطبیق په خاطر ۱۰۰ میلیونه انسانانو قاتلین: ستالین، مائو، لینن

چې په نتیجه کې په ټوله نړۍ کې تر ۱۰۰ میلونو انسانان ددی نظریې دتطبیق په لاره کې ووژل شوه دا نظریه چې په لومړی سر کې څومره د کارګرو د انقلاب او کارګرو د واکمنۍ په نوم رامنځ ته شوه په عمل کې کارګر یوازې د یوې خدمتګارې وسیلې په توګه چې پرته له کار څخه یې هیڅ

ارزښت نه درلود و کارول شوه ، نه کوم کارګر واک ته پکښې ورسيد او نه هم د هغوی نظر اوريدل کيده او هر څه د کمونستي ملګرو په لاس کې وُ.

**دوهم ـ د اجورې يا مزد له منځه تلل:** ددې ايديولوژي دوهم تصور د کارګرۍ اجورې يا مزد له منځه تلل وُ، د دوی په اند ، د کمونستي ټولنې خلک او کارګر چې څومره توان لري بايد هغومره کار وکړي ، او د هغه د کار په اندازه بايد په لومړي قدم کې اجوره ورکول شي ، او په دوهمه مرحله کي بايد هر څوک د توان په اندازه کار وکړي او د ضرورت په اندازه مزد واخلي، خو دا تصور هم په عملي کمونيستي نظامونو کې د کارګرو د مطلق بردګۍ او د د دوی د تنبلۍ او کسالت باعث شو، ځکه کله چې يو چاته ددوی د کار په اندازه معاش ورنکړل شي ، نو د کسالت خواته ميلان پيدا کوي ، عملا په کمونيستي نظامونو کي کاريګر د کمونستو واکمنو له لوري تر شکنجو لاندې وه ، او دوی به د کار په جبري کمپونو کې مړه کيدل.

**دريم : ماترياليزم(ماده پرستي ) او ديالکتيک (تغير او تحول ) :** د کارل مارکس په فلسفه کې د منطقي ماديت او د ديالکتيک نظريې را منځ ته شوي دا نظريې د هيګل او انګلس له نظريو سره يو ځای شوې او د کمونيزم اساس يې کيښود ددې نظريو په اساس ، هر څه په دنيا کې ماده ده او له مادې څخه سرچينه اخلي اوپرته له مادې بل څه نشته ، اودوهم دا چې هر څه په تغيراو تحول کې دي ، په نړۍ کې هيڅ شی ثابت نشته ، تل ماده تحول او تغير کوي . او دا نظريه انسان له الله تعالی او آخرت څخه انکار ته هڅوي او دوی هم په زغرده د الله تعالی له وجود څخه انکار وکړ ، او دا چې د دوی په عقيده کې هيڅ شی ثابت نشته او هر څه تغير کيدونکي دي ، نو د دوی په اند کومه ثابته عقيده او تصور هم نشته ، او هر څه مادي بڼه لري ، ټول موجودات او شته شيان ماده ده ، او ماده تغير کوي او ماده هغه شی دی چې په پنځو حواسو محسوس کيدای شي ، مارکس وايی نعوذ بالله ( الله نشته او ژوند يوه ماده ده ) بل ځای وايي : (دين د ملتونو مخدر دی .د همدې نظريی په اساس لينن په (۱۹۱۳م) کال په خپل بيان کي وويل : دا سمه نده چې نړۍ د الله له خوا رامنځ ته شوې ، بلکه سمه داده چې د الله د وجود عقيده يوه خرافاتی عقيده ده چې خپله انسان رامنځ ته کړې، له همدي امله هر څوک چې د الله د فکر څخه دفاع کوي هغه يو جاهل انسان دی.

همدا شان لينن په (۱۹۲۰م) کال د ځوانانو غونډې ته وويل : لازمه ده چې زموږ ځوانان په کمونستي اخلاقو سنبال شي ، او دا هم بايد واوري چې دا اخلاق له کومو الهي سرچينو ندي ترلاسه شوي ځکه موږ په الله باور نه لرو د پرودا ورځپاڼې په (۱۹۵۴م ) کال وليکل : د الله د وجود تصور يو پخوانی جاهلي تصور دی ( نعوذ بالله ).

دا او داسي نورچې ډير دلايل شته چې دا په ګوته کوي چې د کمونيزم مفکوره يوه الحادي او په الله تعالی د نه باور مفکوره ده او پيروان يې کافراو دهريان دي



په توله نړۍ کې دکمونيزم عقيدې مؤسيسين مارکس ،انګلس،هيګل،داروين،لينن،ستالين، مائو

**دېپورته دريم کمونستي اصل په ځواب کې :**

**اول دليل :** دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه ديو دهري (کمونست) سره مناظره شوه وخت يې وټاکلو چې سبا به په دغه وخت ماوتا سره په پلاني ځای کي کښينو او مناظره به کووسبا چې کله دهري

هغه ځای ته راغلو امام صاحب ډیر ځنډ شوکله چې راغی نو دهري ورته وویل چې ستاسو په دین کې دي چې ځوک وعده خلافي کوي هغه منافق دی امام صاحب ورته وویل أو دا صحیح او حقه خبره ده خو زه چې کله راتلم نودهغه سیند ځخه نشوم راپوری وتلی تصادفي یوه ونه راغله هغه ټوټه ټوټه شوه تختې ترې جوړې شوې بیاتصادفي تختې سره میخ شوې او کشتئ ترې جوړه شوه او بیا زه په هغه کشتئ کې راپوري وتم ځکه وخت زیات ووته ، هغه دهري وخندل چې ته ځان ته امام وایي او دومره لوی دروغ دی وویل امام صاحب ورته وویل ولې ؟ دهري (کمونست) ورته وویل دا ستا خبره عقل مني چې ونه دی راشي اوبیادی تختې شي او بیادی ترې کشتئ جوړه شي امام صاحب ورته وویل چې د ورې کشتئ جوړیدل عقل نه مني نو دا دومره لویه ځمکه او اسمان ځنګه کیدای شي تصادفي او پخپل سر جوړ شي او عقل یې ومني ؟.

**دوهم دلیل :** بل دلیل که چیرې ٥٠ زره ډاکتران ٥٠ زره انجنران او ماهرین راجمع شي او ٥٠ زره حیواناتو غوښې ورته ومخې ته واچوې او ٥٠ زره کاله وخت ورکړل شي رشتیاووایې یو بل نوی او ژوندی انسان یا حیوان به ترې جوړکړای شي ؟

کمونستان وایي څه چې په پنځه حواسو حس نشي دهغې منل نه دي پکار او الله چا لیدلی کتلی نو دمنلووړ نه دی خو له دی غافله دي دبرق په مزي کې برق نه ښکاري ولی په هغې کې یو قوت شته چې قوي قوي ماشینونه ګرځوي ، اور پکې شته داوسپنې بټئ چلوي یخ پکې شته دیخ فابریکې پرې یخونه جوړوي خو په سترګو نه معلومیږي

**دریم دلیل:** دانسان بدن دروح او جسم مرکب یو شی دې جسم ښکاري روح نه ښکاري او نه یې ځوک لیدلی شي که له بدن ځخه روح ووځي جسم هیڅ شی نه دی خو روح یو موجود دی

**څلورم دلیل :** بل دلیل په بکتریالوژي(دمیکروبونوعلم) کې دي چې دانسان دخیټې مواد غایطه (ډک جواب چې) په یو ګرام (یونخود دانې په اندازه ) کې ١٠٠ سل ملیارده بکتریا یا ژوندي حیوانات موجود دي چې په سترګو نه معلومیږي که دی حیواناتو ته وویل شي چې تاسو دیو ژوندې حیوان په کلمو کې چې هغه ته انسان ویل کیږي ژوند کوی هغه یونیم متر لوړوالی او نیم متر سور لري دا ستاسو داوسیدو ځای چې کولمې ورته وایې اوه متره اوږدوالی لري نو دا بکتریاوی به حیرانې شي چې داڅه څه وایي بیا دا حیوانات راجمع شي چې راځی یو راکټ یا مزایل به جوړکړو چې معلوم شي موږ چیرته یواو داشاوخوا زموږ څه دي که ١٠٠ سل کاله ددوی مزایل منده ووهي نو دانسان دکولمو جدار یا دیوال ته به هم ونه رسیږي ځکه چې دوی دومره واړه دي نو مزایل به یې هم همدومره وړوکی وي نو وایو چې انسان هم په دی کائناتو کې داسې ورکوتی دی لکه هغه مکروب یا بکتریا چې په کولمو کې موجود دی الله پاک فرمایي يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٍترجمه: ای دپریانواو انسانانو ډلې که تاسو غواړئ داسمان او زمکې له کنارو ووځې؟ نو اوځی خونه شې وتلی مګر دالله پاک په زور (لکه نبي علیه السلام یې دمعراج په شپه داسمان له کنارو ویستلو)

**پنځم دلیل :** ماپخپل کتاب کائنات له تحت الثرا نه تر عرشه کې دځمکې او اسمانونو دلویوالي باره کې پوره تشریح کړې دلته یې یوځوکرښې دنمونې لپاره راخلم چې دورکوټي او غټ مقایسه وشي او تاسو له خدایه منکر کمونستان وپیژنی: کله چې موږ دشپې لخوا اسمان ته وګورو نو پغیر له دوربین یا تلسکوپ څخه ١٧٠ ملیارده کهکشانونه لیدلی شو په هر کهکشان کې تر ٢٠٠ ملیاردو زیات لمرونه موجود وي او دهرلمر او هرکهکشان په منځ کې دنور ي ورځو او کلونو په اندازه مسافه موجود ده مثلاً زموږ لمر دملکي وی په کهکشان کې موقعیت لري او په دی کهکشان کې ٢٠٠ ملیارده لمرونه موجود دي تر ټولو نژدې او ګاونډی لمر د سنتیوریس یا پروکسیما لمر دی چې زموږ دلمر څخه ٤٠ تریلیون کیلو متره یا ٤،٣ نوري کاله مسافه لري (که زموږ له لمر څخه رڼا

شروع شي نو هغه ګاونډي لمر ته به څلورنیم کاله وروسته ورسیږي چې رڼا یانور په یوه ثانیه کې درې نیم لکه ۳۵۰۰۰۰ کیلو متره فاصله طی کوي ) نو وایو چې دکهکشان دلمرونوترمنځ دومره مسافه موجود وي دیو کهکشان د۲۰۰ ملیارده لمرونو ترمنځ فاصلې به څومره ځای ونیسیې زمونږ ملکي وی کهکشان ۱۲۰ زره نوري کاله پلنوالی لري اوبیا دهر و دووکهکشانونو په منځ کې ۲،۵ دوه نیم میلونه نوري کاله مسافه ده نو دلیدلو وړ ۱۷۰ ملیارده کهکشانونو په منځ کې به څومره مسافه وي دانسانانو دتخنیک او معلوماتونو په اساس تراوسه د۹۲ ملیارده نوري کالونو په مسافې فوتونونه یا ذرې کشف شوي چې ځمکې ته راغلي نو وایو چې دانساني معلوماتو په بناء داول اسمان دیوې کنارې نه تر بلې کنارې پورې ۹۲ دوه نوي ملیارده نوري کاله مسافه موجود ده دا اول اسمان شو حدیث کې راځي چې اول اسمان په دوهم کې واچول شي داسې به ښکاري لکه په یوه لویه دشته کې چې یو ګوتمه یا وړه کړی پرته وي داسې اول او دوهم چې په دریم کې واچوې دګوتمې په شان به ښکاره شي او درې واړه په څلورم کې او څلورواړه په پنځم کې او پنځه واړه په شپږم کې او شپږ واړه په اوم اسمان کې واچول شي داسې به ښکاري بل راځي چې که اوه واړه اسمانونه په کرسي کې واچول شي نو داسې به ښکارې لکه په یوه بې سره او بې پایانه دشته کې چې ګوتمه پرته وي او اوه واړه اسمانونه او کرسي چې دعرش په خیټه کې واچوې همداسې به ښکاره شي لکه په یوه لویه دشته کې چې یوه وړه ګوتمه پرته وي نو چې عرش دومره غټ اولوي مخلوق شو نو خالق چې دهغې دپاسه یې استوی دده دشان مطابق کړې څومره به لوی او عظیم ذات وي او ته دهغه دلیدو او نه لیدو باره کې خبرې کوې ما اوریدلي وه چې چتې مرغۍ چې کله دشپې څملي نو پښې اسمان ته نیسي بیا اوده کیږي چاورتهویلي وه دا ولې اسمان ته پښې پورته نیسي هغه ورته ویلي وه که اسمان راوغورځیږيچې زه ژوبل نشم او تاسو یقین په الله وکړی ما دا پخپلو سترګو لیدلې واقعه ده چې سهار لمانځه نه وروسته یو ځای روان ووم چې دغه چتی مرغۍ پښې پورته نیولې پروت وه ما ویل مړ دی چې لاس مې وروړو واولوتو حیران شوم چې اوریدلې مې وه خو لیدلې مې نه وه نو دا دهریان (کمونستان) دچتي ځامن اسمان په خپلو پښو راټنګوي(کائنات صفحه ۲۲۳)




ناسا اداره دهوبل تلسکوپ په ذریعه داسمان دیوې سپویږمې په اندازه ساحه عکس۲۰۱۲

، اوس دی کمونست یا دهري لږ سوچ وکړي چې دا لویې نظام ته څنګه کتلی او لیدلی شي ؟ چې بیا وایي څه چې نه لیدل کیږي دهغې منل قابل قبول نه دي الله پاک څوک نشي لیدلی نو منل یې ددوی په نظر قابل قبول نه دي (نعوذ بالله ) (کائنات ۲۶۸صفحه)

سره ددې چې نوی کمونستان د مارکس دا خبرې په ملايمو ټکو توجه کوي او هڅه کوي چې په نورو بڼو کې تفسير کړي ، خو عملا په کمونستي هيوادونو کې همدې ګوندونو د مذهب او دين په خلاف هغه جنايات تر سره کړل چې انساني وجدان يې د اوريدو ندی.

له همدي امله کله چې په شوروي اتحاد او چين کي کمونستي انقلابونه را منځ ته شول ، د سرمايه دارانو څخه وروسته يې دوهم يرغل په دين اوديني مراکزو ؤ ، دوی د منځنی اسيا ، شرقی ترکستان ، او غربي ترکستان ټول جوماتونه او په روسيه کې ټولي کليساګانې وتړلې ، مذهبي کتابونو ته يې اور واچاوه او ديني مراسم يې ممنوع اعلان کړل، د دين په جرم يې ميليونونه انسانان ژوندی تر خاورو لاندې کړل ، چې د ستالين په روسيه کي ، مائو(ماهو) په چين کي د وژنو داستانونه تاريخ نشي هيرولای.

**څلورم ــ د ثابتو اخلاقو نه شتون:** کمونيزم هيڅ نوع ثابتو اخلاقو ته ژمن ندی ، دوی ته اخلاق د اقتصاد برخه ده ، کله چې په کوم کار کې اقتصادي او يا حزبي ګټه وي هغه اخلاق دي او کله چې تاوان وي ، همغه شي بيا بيرته عدم اخلاق کيږي.

**پنځم : د کمونيزم سياست په يو حزبي سيستم :** په کمونستي ټولنو کې يواځي يوه ګوند د حکومت کولو اجازه او فعاليت درلوده چې هغه عبارت له کمونست ګوند څخه ؤ، سره ددې چې مارکس خو دې ته د کارګرانو پرولتاريا وويله خو عملا ، نه پرولتاريا وه او نه هم کارګر هلته دا توان درلود چې حکومت وکړي بلکه هر څه د کمونست ګوند په واک کې وه. پرولتاريا( هغه موده چې ټولنه له سرمايه داري نظام نه کمونستي نظام ته اوړي پروليتاريا بلل کيږي ) ددوی په آند تر ټولو عالي او پياوړی انسان هغه دی چې کمونست ګوند ته وفادار او د کمونيزم لپاره ښه کار او خدمت وکړي ، مال او سرمايه هلته د افتخار وسيله نه وه ، نو له همدې امله کمونستانو به د مال پيدا کولو په ځای ګوند ته په خدمت کولو ترجيح ورکوله تر څو يې اعتبار زياد او په واک کې لوړ پوړ ته ورسيږي. د دوی په تر واک لاندې نظامونو کې دوهم ګوند ، بله حزب او هيڅ مذهب په هغې ټولنې کې د فعاليت اجازه نه درلوده.



دکمونست داروين نظريه چې انسان تکامل کوي

**شپږمــ دداروين نظريې ملاتړ :** د کمونستانو ځينې ډلې د انسان د پيدايښت او تطور به برخه کي د داروين د نظريې ملاتړ کړی ، دوی ته د داروين هغه نظريه هم د منلو ده چې ګواکي انسان د بيزو د نسل يو پرمختللی او تطوري نسل دی.

## د کمونستي نظامونو اختلافات




**۱ ــ مارکسيزم ګوند :** سره ددې چې کمونستان ځانونه د مارکس د نظرياتو پابند بولي او عملا هغه ته د خپل (پيغمبر) په سترګه ګوري، خو د هغه د تصوراتو په تفسير او د عملي تطبيقي نظرياتو په پايله کې په دوو لويو او بيا په څو شاخونو سره ويشل شوي. چې يوه ډله يې ځان لينيني کمونستان بولي چې د ځينو نورو کمونستانو لکه ستاليني او خروسچوفی تروتسکي کمونستان هم ورته وايی چې مرکز يې عملا پخوانی شوروي ؤ.

**٢ -د افغانستان کمونست (مائویزم) ګوند:**دوهمه لویه ډله د مائوایستي کمونستانو ډله ده چې مرکز یې په چین کې دی، دریمه ډله بیا په البانیا کې د انورخواجه په نوم د کمونستانو ګروپ دی چې د جنوبی امریکا کمونستان یې ملاتړ کوي.

د همدې اختلافاتو په نتیجه کې د چین او روسیې لښکرې څوځو ځله یو د بل په وړاندې سره مخاخ شوې او په ویتنام کې خو په ښکاره سره وجنګیدې، له همدې امله ډیر وخت به روسي کمونستانو د چیني کمونستانو په وړاندې مرګونی دریځ نیوه او برعکس چیني کمونستانو به د روسانو په وړاندې د همداسې دریځ څخه برخمن ؤ.زموږ په هیواد کې هم د دواړو کمونستي بلاکونو پیروانو فعالیت درلود او اوس هم په مختلفو ګروپونو کې فعالیت لري چې په دوهمه برخه کې به په دې هکله دا موضوع وڅیړو

دا ګوند هم په افغانستان کې د دیموکراسۍ په لسیزه کې را څرګند شو ،ددې ګوند غړې هم د مارکس او لینن د افکارو څخه پیروي کوي ، دوی له لوړې سره د افغانستان د دیموکراتیک ګوند څخه بیل شول ،







د دې ګوند د ځینو لیکوالو په اند ، کله چې د خلق دیموکراتیک ګوند د خروسچوف په لارښوونه په ۱۳۴۳هـ ش کال تأسیس شو، نو قدرت ته د رسیدلو لاره یې د پارلمان لاره اختیار کړه او عملا ځیني کسان پارلمان ته داخل شول ، خو ځیني کسان چې د چیني کمونست ګوند څخه متأثره ؤ د خلقیانو دا عمل یې وغنده او دا یې د کمونست ګوند د لارښوونو خلاف کار وګاڼه ، ځکه چینایي کمونیزم په قهري انقلاب باور درلود نه په مسالیمیت امیز پارلماني دول ، دوی نه یواځې د خلقیانو دا کار محکوم کړ بلکه خروسچوف (د هغه مهال د اتحادجماهیر شوروي) کړنې یې هم وغندلې او هغه یې هم د کمونزم د اصلي تګلارې څخه بې لارې وګاڼه ، له همدې امله د کمونستانو ترمنځ لوی درځ رامنځ ته شو چې مختلفې ډلې رامنځته شوې چې د محمودي ، یاري ، او باختري ډلې یې بیلګه ده دې ډلو په (۱۳۴۴هـ ش ) کال (سازمان جوانان مترقي افغانستان) رامنځته کړ ،چې مشري یې اکرم یاري په غاړه واخیسته

ددوی په وینا په هغه مهال کې ددې ګوند موخه په افغانستان کې د یوه قهري انقلاب چې مسلحانه پروګرام یې هم درلود راوستل ؤ ، دې ډلې په (۱۳۴۷هـ ش ) کال د (شعله جاوید) په نوم یوه نشریه راوایسته ،چې له یوولسو جریدو وروسته د تندو او حکومت ضد خپرونو له امله وتړل شوه ، په (۱۳۴۹هـ ش ) کال دا ډله د حکومت له لوري تر تعقیب لاندې شوه ، ورسره یکښې انشعابونه رامنځته شول ، لومړی انجنیر عثمان ترې بیل ، بیا په (۱۳۵۱هـ ش ) کال کله چې په پوهنتون کې د اخوانیانو سره لاس ګریوان شول ، او سیدال سخندان ووژل شو نوی اختلافات رامنځته شول چې ځیني نورې ډلې په یوه نوي نوم (ګروه انقلابی خلقهای افغانستان) د ډاکتر فیض احمد په مشرۍ کې را ټولې شوې ، چې د جوانان مترقي د ډلې په خلاف یې خپل تبلیغات پیل کړل.

په ۱۳۵۴هـ ش ) کال له همدې انقلابی ډلې یوه بله ډله د انجنیر توریالي په مشري بیله شوه او د (سازمان تدارک و مبارزه برای ایجاد حزب کمونست) په نوم یې نوې ډله جوړه کړه چې د هغو پخوانیو په مقابل کې ودریده او د اخگر په نوم چې جریده خپروله ، دا جریده وروسته د مآؤستي فکر څخه واوښته د انورخواجه د کمونستانو لاره یې تعقیب کړه .چې توریالی بیا په (۱۳۶۲هـ ش ) کال په کنړ کي ووژل شو.

په دوی کې نورې ډلې هم رامنځته شوې ، مجید کلکاني په شمالي کې د(محفل شمالي) په نوم ډله جوړه ،او صادق یاري په (۱۳۵۶هـ ش ) کال د (سازمان رزمنده خلقهای افغانستان) یا (سرخا) په نوم بله گروه جوړه کړه ، چې دې ډلې د ثور د اوومي د کودتا په خلاف لومړی بیانیه خپره او دا کودتا یې وغندله ، چې څه موده وروسته ددې ډلې یوه غړي د خلقیانو د حکومت (اگسا) ته دا ډله افشاء کړه ، خلقیانو هم ددې ډلې دمشر اکرم یاري په شمول گڼ نور غړي اعدام کړل.

همدا شان مجید کلکاني هم په (۱۳۵۸هـ ش ) کال خاد ونیوه او ډیر زر یې اعدام کړ ، د مجید له اعدام وروسته دا ډله بیا په څو برخو وویشل شوه چې مشران یې بیا خلقیانو په (۱۳۶۰هـ ش ) کال اعدام کړل

## ۳ـــ(سازمان رهایی افغانستان)(الو) او (راوا)

دا سازمان د ډاکتر فیض احمد په نوم یوه پیاوړي او فکري شغله یي په مشری جوړ شو، او د هیواد دننه او بهر یې فکري او تبلیغاتي کار پیل کړ دا ډله تر نورو په پاکستان کې ډیره پیاوړې وه ، گمان کیږي چې نوموړی د کندهار اوسیدونکی ؤ او د پاکستان کویټه ښار کې یې د فعالیت مرکز جوړ کړی ؤ ، دې ډلې یوه بله څانگه د خپلې میرمنې ( مینا) په لاس د (جمعیت زنان انقلابی افغانستان) (راوا) په نوم جوړه کړه ، راوا په مستقل ډول خپل فعالیتونه پرمخ وړل تر دې چې په (۱۳۶۵هـ ش ) کال د (رهایي) مشر داکتر فیض احمد په پیښور



کي (ددوي په وینا) د حزب اسلامي په لاس له څو نورو ملگر سره یې اعدام شو، او داسې ویل کیږي چې چا دا سړي حزب اسلامی ته په لاس ورکړی ؤ انجنیر خان محمد د فضل حق مجاهد ملگری ؤ چې (گمان کیږي) دا دواړه بیا په حیات آباد کي د شغله یانو په لاس ترور شول ، د نوموړي له اعدام وروسته د هغه لور مینا چې په (کشور کمال ) هم مشهوره وه او د (دریا) د مجلې په اساس یې ځان ته د کشورکمار په نوم هم گرځیده ،خپل فعالیت ته د (راوا) په نوم په یوه نوي سازمان کې کار پیل کړ هغه وتوانیده چې د ډیرو بهرنیو هیوادونو توجه ځان ته راجلب کړي ، هغې هڅه وکړه د لویدیځ په خلاف له تبلیغاتو ډډه وکړي او ټوله توجه اسلام پالو ، جهادیانو او خلقي کمونستانو په خلاف راوگرځوي . خو نوموړې په (۱۳۶۶هـ ش ) کال په کوټه کي ددې سازمان په قول دخلقیانو د خاد د سازمان او یا حزب اسلامي په لاس ، خو د (دریا ) مجلې په وینا د داخلي اختلافاتو له امله ووژل شوه ، ددې ډلې رهبري هڅه وکړه تر څو په ښکاره له کمونستي مائوستي افکارو ځان گوښه ،د لویدیځ په خلاف له تندو شعارونو تیر شي او د مبارزیموخه اسلام پالو او پخوانیو خلق+پرچم ډلو ته راوگرځوي ، له همدې امله اوس ددوی په رسمي پاڼو او جریدو کې د مائوستي افکارو څخه څه نه لیدل کیږي ، خو ددې ډلې د نشریې (پیام زن) مضامین تر ډیره د شعله یانو سره د همدردی او د هغوی سره د خواخوږي څخه لیکني خپروي ، دي مجلی د شغله یانو د یوې بلې ډلې د مشر (ساما) لوی تصویر په خپله مجله کېي خپور کړ او قاتلین یې جنایت کاران وبلل ، له بلې خوا د مجلې ډیر مضامین او اشعار هماغه د شعله جاوید د مشرانو دي لکه :عبدالاله رستاخیز، داؤد سرمد ،سیدال سخندان ،انیس اذر، بشیر بهمن، سعید سلطانپور، سیداحمد رهزاد(جولیوس واتل روزنبرگ)، اتونه کاستیلو او داسي نور.




د ۲۰۰۱ کال د دسامبر پیښنه دې ډلې ته غوښنه تمامه شوه ، نو د امریکا له لوري زلمي خلیل زاد او د هغې میرمن ، له نوموړې ډلې سره اړیکې ټینګې کړې ،




او دا ډله یې د خپلو موخو لپاره په غیږ کې ونیوله ، لودیځوالو ، دې ډلې ته په ګڼو هیوادونو کې د فعالیت اجازه ورکړه تر څو مالي او معنوي منابع ومومي ، تر دې چې د خلیل زاد د ښځې په واسطه یې مشرانو ته د پاسپورت سهولتونه هم برابر شول ، دا ډله اوس هغه کمونستي شعارونه نه ورکوي په ځای یې ټوله توجه د اسلام پالو په خلاف را اړولې.
دا ډله ګڼې مالي سرچینې لري ، د مهدي نیک آین یوه لیکونکې په وینا ، دا پیسې د خلکو سره د مرستو، ښوونځیو، کلینیکونو . لپاره راټولوي خو دا پوښتنه او حساب چاته نه ورکوی چې دا پیسې په کومو لارو په مصرف رسیږي او له چا سره دي ؟ دا ډله اوس هم په ټول هیواد کې فعالیت لري ، تر دې چې په لومړۍ ملې شورا کې یې هم خپل غړي درلودل ، او ویل کیږي چې ملالی جویا هم د همدې ډلې غړې وه.
له امریکایانو او نورو اروپایي هیوادونو سره نیژدې اړیکې لري او د هغوی له لوري یې ملاتړ کیږي . تر دې چې پنتاګون چې کومې ویدیوګانې چې ددوی څخه یې ترلاسه کړې وې کله خپرې کړې نو دې ډلې سخت احتجاج پرې وکړ

**۴ ــ سازمان ازادي بخش افغانستان) (ساما):** دا ډله د مجید کلکاني له







مرګ وروسته د هغه ورور (قیوم رهبر) ته په میراث ورسیده هغه له څه مودې وروسته اروپا ته ولاړ او په اروپا کې فعالیت کاوه ، د نوموړې دلي فعالین په پاکستان کې هم فعال وه خو د فکري او مادي اختلافاتو په نتیجه کې ، ددې ډلې څخه یوه بله ډله د (حزب کمونست مائوست افغانستان) په نوم جلا شوه چې اوس هم فعاله او د (شعله جاوید ) په نوم انترنیتي مجله خپروي) ، رهبر ددې ستونزې د حل په موخه پیښور ته ولاړ ، خو هلته بیا ترور شو ، او آوازه دا خپره شوه چې دا ترور هم حزب اسلامي کړیدي.
د ساما او د رهایي سازمانونه ، داسې دوه خفیه سازمانونه وه چې د کمونستي انقلاب په دوران کې په داخل او بهر کې فعال وه او خپل وسلوال ګروپونه یې درلودل چې تل به له حزب اسلامي او جمعیت اسلامي سره په جګړو کې ښکیل وه
د داکتر فیض محمد له مرګ وروسته د (رهایي) سازمان هم په وړو ډلو وویشل شو چې وروستۍډله یې په (۱۳۸۵) کال د (سازمان انقلابی افغانستان) په نوم رامنځ ته شوه.
اوس چې کومې ډلې په بهر او داخل کې د همغه پخواني (شعله جاوید) په لاره د حرکت او کار په حالت کې لاندې ډلې یادولای شو (حزب کمونست ماؤست افغانستان ، تشکیلات مائوستهای افغانستان ، سازمان کارګران افغانستان (م.ل.م) ، جنبش انقلابی جوانان افغانستان ، هسته کارګری مبارز افغانستان ، سازمان رهایی افغانستان ،او داسې نورې وړې ډلې چې په پټه په فعالیت بوختې دي. (احمد هیوادفبروري ۲۰, ۲۰۱۹ نن ټکی اسیا محمدشفیق صادق لیکنه)

# په افغانستان کې د کمونستي جريانونو لنډ تاريخي سير:

لکه مخکې مو چې وويل کمونستي تصور د مارکس د نظرياتو په اساس رامنځ ته شو او د کمونيزم په نوم يې يوه مفکوره وړاندې کړه او په دې لاندې اصولو ولاړه ده :




١ ـ د خصوصي ملکيتونو له منځه وړل
٢-د مزد او اجورې ټاکلي اندازه له منځه وړل
٣-د ماترياليزم او ديالکتيکي ( ماده پرستي )نظرياتو په اساس يواځې ماده منل ، او له ثابتو عقايدو انکار
۴ -د کارګرانوپروليتاريا(دکتاتوري) او يوګونديز نظام
۵ -د داروينې نظرياتو په اساس انساني نسل د بيزو له نسل څخه منل

اوس به په دې بحث وکړو چې افغانستان کې کمونستي جريانونه او ډلې له کومه وخته راپيل شويدي اوسنی حالت يې څه ډول دی: افغانستان کې هم د نورو هيوادونوغونډي د ١٣٢٠-١٣٣٠هـ ش کلونو ترمنځ د کمونست ګوند نظريې خپرې شوې، دا نظريات په پټه او يواځې د نظريو په سطحه په پوهنتوني او اکاډوميکو مراکزو کې مطرح وه ، ځينې کسانو چې له کمونيستي هيوادونو سره يې تړاو درلوده ، يا يې هلته زده کړې او لوړ تحصيلات کړي وه عملا يې دی نظريې ته کار کاوه ، کتابونه او ليکنې به يې سره تبادله کولې او دعوت يې کاوه

بلاخره شوروي پلوه کمونستي ډلې په ١٣۴٣هـ ش کال د جدي په (١١) نيټه (حزب ديموکراتيک خلق افغانستان) د نور محمد ترکي په کور کې د هغه په مشرۍ تأسيس کړ .



افغانستان کې کمونست ګوند مشران نورمحمدتره کی،حفيظ الله امين،ببرک کارمل،دکتر نجيب الله،مير اکبر خيبر،محمد طاهر بدخشی ،غلام محمد غبار




په دې ډله کې نورمحمد ترکی ، ببرک کارمل ، حفيظ الله امين ، طاهر بدخشي ، ميرغلام محمد غبار ، او داسې نور شامل ؤ چې غبار له همدې وخت څخه ورڅخه جلا شو .

د عبدالکريم ميثاق په خبره ، حزب د تشکيل په مهال په ښکاره د کمونستي افکارو له بيانولو ډډه کوله ، خو د غړو تر منځ دا نظريه واکمنه ، او عملا ددوی تر منځ همغه کمونستي اصطلاحات او افکار تبادله کيدل.

## د خلق او پرچم د ډلو رامنځ ته کيدل

د حزب له تشکيل څه وخت لا نه ؤ تير شوی چې د غړو ترمنځ د واک ، ژبې او تصوراتو په اساس اختلافات راپورته شول ، اوحزب د خلق او پرچم په برخو وويشل شو




**١ -خلق :** لومړی ډله د خلق په نوم د نورمحمد تره کي تر مشرۍ لاندې چې د حفيظ الله امين په ګډون زياتره کليوال او پښتانه ورسره وه رامنځ ته شوه چې د انقلاب تر آخره په همدې نوم مشهور وه (دافغانستان لنډ تاريخ په نامه کتاب چې ليکوال يې پوهاند خيرمحمد ماموند دی دخلق او پرچم ګوندونو باره کې پوره

معلومات لیکلی ځکه دا جناب په تاسف سره وایم چې ددی ګوند دخلق باندې پورې تړلی شخص وه او دکیما په برخه کې یې دکتورا له شوروي څخه اخستې وه تر شلو زیات دپوهنتون مهم کتابونه یې لیکلي او چاپ شوي او دافغانانو په قصابۍ او وژلو کې یې ښه په مړه ګیډه ونډه اخستې او پخپل کتاب کې یې په ډیر افتخار سره خپله ټوله سوانح بیان کړې او اوس په هالینډ کې سرې سترګې ګرځي ) مابه دده لیکل شوې معلومات ټول رانقل کړې وای خو دکتاب حجم راڅخه غټیږي ځکه خومې دهغې دمطالعې حواله درکړه




**۲ -پرچم :** دوهمه ډله د پرچم تر نوم لاندې د ببرک کارمل او داکتر نجیب په مشرۍ چې زیاتره ښاري او فارسي ژبی اشراف زاده ګان پکښې راټول وه په کار پیل وکړ.

**۳-د طاهر بدخشي ستم ملي ډله:**دریمه ډله بیا په ۱۳۴۷ کال د طاهر بدخشي په مشرۍ له ګونده د نشنلستي تصوراتو په اساس د پښتنو سره د سخت مخالفت له امله بیله شوه چې (سازمان انقلابی زحمتکشان افغانستان ) (سازا) یې تأ سیس کړ ،او په نورو کمونستانو کې په (ستم ملي) مشهوره شوه . دا ډله هم د کمونستي افکارو په اساس داسې تشکیل شوه چې غوښتل یې د پښتنو له واک او سلطې پرته افغانستان کې




نوی نظام ولري ددې ډلې غړې زیاتره له تاجکو سیمو او تاجکان وه چې له بدخشان تر پنجشیر او قطغن پورې یې ملګري درلودل. دا ډله هم بیا په دوو برخو وویشل شوه چې یوه ډله د طاهر بدخشي په مشرۍ د "سازمان زحمتکشان افغانستان" په نوم اوبله ډله د باعث بدخشي په نوم په "سازمان فدایی زحمت کشان افغانستان" په نوم رامنځ ته شوې. طاهر بدخشي لومړی د سردار داؤد خان په حکومت کي د نظام سره د مخالفت په اساس بندي شو، خو کله چې په (۱۳۵۷هـ ش) کال کمونستي کودتا رامنځ ته شو له بنده خوشې شو ، نوموړی یو څه وخت آزاد ؤ وروسته د خلقیانو له خوا ، نظام ته د توطیې په تور ونیول شو او په زندان کي اعدام شو .

ددې ډلي پیروان د مجاهدینو تر یرغل لاندې راغلل چې ځینې یې د صمد پاچا د ملیشو غوندې د کمونستي حکومت سره یو ځای او ځینو په ډیر مهارت ځانونه د جمعیت (برهان الدین رباني په مشرۍ )ګوندته ورداخل کړل . چې په دې ګوند کې د پښتون ضد احساساتو لامل شول او تر اوسه هم پکښې فعال دي

**د خلق او پرچم د ډلو فعالیتونه:**د دیموکراسۍ د لسیزې په وروستیو کې دواړو خلق او پرچم ډلو خپلې جریدې درلودې او خپل افکار یې پکښې خپرول تر دې چې په (۱۳۳۹هـ ش) کال د پرچم جریدې د (لینن) د زوکړې سل کلنه کلیزه په ډیر شور سره ولمانځله ، او هغه یې په داسې کلماتو وستایه چې عملا یې مسلمانان محمد (صلی الله علیه وسلم) ته کاروي په دې سره دا جریده د حکومت له لوري اسلام ته د سپکاوي په تور وتړل شوه.

همدا شان کله چې په ۱۳۴۳هـ ش کال ببرک کارمل د ملي شورا غړی شو ، نو په لوړ اواز یې په لینن درود ووایه چې د مسلمانو نماینده ګانو له خوا د سخت عکس العمل سره مخ شو






دواړو ګوندونو د اختلاف سره سره په خورا بیره د ځوانانو په منځ کې ملاتړی پیدا کول او خپل کمونستي مارکسیستي افکار یې خپرول ، او هڅې یې پیل کړې چې په فوځ ، پولیسو او نورو موسسو کې خپل ملاتړي ومومي ، له همدې امله د خلق ډلې له لوري حفیظ الله امین ، او د پرچم ډلې له لوري میراکبر خیبر په فوځ کې د نفوذ او تنظیم لپاره وګمارل شول (دا وخت زیاتره فوځي

افسران په شوروي اتحاد او نورو کمونستي هيوادونو ته د زده کړو او تحصيل لپاره استول کيدل چې له هغې خوا به په کمونستي نظريه سنبال راتلل) .کمونستان وتوانيدل د سردار داؤد خان د کودتا تر مهاله (۱۳۵۲هـ ش) کال پورې په نوموړو مؤسسو کې پوره ملاتړي ومومي او د داؤد خان سره په کودتا کې پوره همکاري وکړي ، د داود خان د کودتا وروسته کمونستان وتوانيدل د حسن شرق(دداودخان قلم مخصوص وزير) او فيض محمد خان(وزير خارجه )غونډې مهم غړي د حکومت لوړ پوړو څوکيو ته ورسوي ، په دې سره دوی په خلاص مټ لاس په فوځ ، پوليسو، او نورو دولتي مؤسسو کې د خپلو افرادو په ګمارلو کار پيل وکړ، ورسره يې د اسلامي نهضت د غړو په اړوند چې هغه مهال په اخوانيانو مشهور وه او د کمونستانو سرسخته رقيبه ډله وه غلط تصورات ورکول او هغه يې دې ته وهڅاوه چې د نهضت په غړو ناتار پيل کړي ، لسګونه کسان يې زندانونو ته تيل وهل ، ځينې اعدام کړل او نور مجبور شول غرونو ته پورته او جهاد پيل کړی. په دې خدمت کې کمونستانو د داؤد خان سره خپل موقف نور هم پياوړی کړ.



خو سردار داؤد خان په ( ۱۳۵۶ هـ ش)کال د پرچم ډلې په شرارتونو پوه شو نو د هغوی د اخراج په موخه لاس په کار شو ، د داؤد خان په دې عمل سره کمونستانو ځانونه په خطر کې ولیدل نو دواړو ډلو (خلق + پرچم) بیا په ۱۳۵۶هـ ش کال کي د یوه تړون په اساس اتحاد سره وکړ او سره یو ځای شول.

کله چې سر دارمحمد داؤد خان له حکومت څخه د پرچم ډلې غړي شړل نو په ځای به یې لوړ پوړو کمونستانو د خلق ډلې غړي ځای په ځای کول ، تر دې چې د همدې کال تر پایه دوی دومره ځواک پیدا کړ چې حفیظ الله امین رسما ترکي ته د کودتا د آمادګۍ خبر ورکړ.







د ۱۳۵۷هـ ش کال په لومړیو کې محمد داؤد خان د کمونستانو له شرارت څخه سخت په تنګ شو نو ددوی د شر څخه د خلاصون په موخه یې د هغوی د مشرانو د نیولو حکم وکړ ، په دې لړ کې نورمحمد ترکی او ګڼ نور مشران ونیول شول ، خو حفیظ الله امین تر نیول کیدو مخکې په فوځ کې خپلو ملګرو ته د کودتا امر کړی ؤ د ۱۳۵۷هـ ش کال د ثور د میاشتې په ( ۷) ورځ چې حکومت باید د کمونستانود مشرانو په اړوند غونډه کړې وای ، کمونستو افسرانو دجنرال عبدالقادر او اسلم وطن جار په مشری ټانکونه را وایستل او کودتا یې پیل کړه ،

د کودتا په ترځ کې کمونستان ارګ ته ننوتل سردارد داؤد خان یې د خپلې ټولی کورنۍ ( ۷۰ کسه ماشومانو او ښځو) او د کابینې له اکثریت غړو سره ووژل او کودتاچیان بریالي شول چې حکومت تر لاسه کړي نو یې نورمحمد ترکی له بنده خلاص او جمهور رئیس کړ.




واک ته له رسیدو سره سم ددوی ترمنځ بیا د قدرت په سر سیالي پیل شوه ، د ببرک کارمل او حفیظ الله امین ترمنځ ناندرۍ ناورین ته ورسیدې ، تر دې چې شوروي اتحاد مداخله وکړه او ددوی ترمنځ یې د قدرت ویش داسې وکړ چې حکومت به خلقیان کوي او بهرني سفارتونه به د پرچم ډلې په لاس کې وي ، په دې کار د پرچم ډله ناراضه شوه او د یوې کودتا هڅه یې وکړه ، امین ته موقع برابره شوه ، د پرچم ډیر غړي یې له دندو ګوښه کړل ، دا په داسې حال کې چې په هیواد کې د کمونستي انقلاب په وړاندې پاڅونونه پیل ؤ چې تر ټولو د خلق او پرچم د ډلو د داخلي اختلافاتو په ترځ کې د ارګ د ننه د حفیظ الله امین د ترور یوه ناکامه هڅه هم وشوه ،چې امین یې دې ته وهڅاوه تر څو ، په ۱۳۵۸هـ ش کال نورمحمد ترکي د وخت جمهور رئیس دبالښت په واسطه په قتل ورسوی او ځان په ټولو فوځي ، حزبي او نورو ادارو واکمن کړي.

له یوې خوا کمونستي ډلو ترمنځ اختلافات له بل لوري د دوی د سخت جبروت په وړاندې د خلکو پاڅونونو ، د ګوند غړي وهڅول چې ټول مخالفتونه په سختو کاروایيو سرکوب کړي ، نو د لکونو انسانانو په وژلو ، زنداني کولو او تر دې چې ژوندي خښولو یې لاس پورې کړ ، دې کار د امین د حکومت تر پایه همداسې دوام وموند ، تر څو پرچم ډله وتوانیده د روسانو د لویو فوځونو په ملاتړ او راتلو په ۱۳۵۸هـ ش کال د جدې په (۶) نیټه د افغانستان په عملي اشغال سره حفیظ الله امین د روسانو په لاس تاج بیک یا دارالامان ماڼۍ کې مړ او ببرک کارمل یې واک ته ورساوه .


۱۳۵۸ ش کال د روسي اشغالګري قواوې افغانستان ته داخلې شوې


دارالامان یا تاج بیک ماڼی کابل افغانستان

د روسانو او کمونستانو دوستي غبرګه شوه ، په ګډه يې د هيواد په لر او بر کي د اولسونو په بمبارد ، ډله ايزو وژلو ،او عمومي شړلو لاس پورې کړ ،

**دکمونستانو بنډلي فرمانونه او جنايات:** کمونستانو د خپل حاکميت د بقا لپاره د مسلمان ولس په ځپلو پيل وکړاو ددينې عقايدو خلاف يې مسلسل فرمانونه صادرکړه لکه د خلکو په پرهارونو چې مالګه دوړوی له دی وجه په دې برخه کې حاکم نظام د ډېرو لويو او بې رحمانه جرمونو مرتکب شو چې ځينې يې د نمونې په توګه په لاندې ډول دي

**۱ ــ مساوات :** کمونستانو د انسانانو تر منځ درې شيان ( زر (دارايي)، زور (حکومت)، زن (ښځه) شريک بلل، او دا نظريه يې لرله چې هېڅوک بايد په يوازې او شخصي توګه د دې دريو شيانو مالک نه وي، که څه هم چې وروسته بيا کمونستانو په عملي لحاظ پدې نظرياتو کې تر ډېره حده ترميمکاري وکړه.

کمونستانو د دې نظريې د تطبيق لپاره د ټولنې د طبقاتو تر منځ د مساوات راوستلو په مقصد طبقاتي مبارزه لازمي ګڼله. د کارګري انقلاب په نامه يې د ټولنې د بانفوذه خلکو، خانانو، سرمايه داره او روحانينو پر ضد مبارزه شروع کړه، او هر ځای به يې همدا شعار بدرګه کاوه چې (د نړۍ کارګرانو سره يو شئ). دوئ غوښتل تر څو ټيټه او کارګره طبقه راپورته شي، خانان او ملکان، ملا او محراب، قران او پيغمبر او ټول ټولنيز او الهي اصول له منځه يوسي، او بيا دې د کارګري انقلاب په نامه د کارګرانو داسي يو نظام رامنځته شي چې پر هر څه حاکميت ولري، او د دوئ دولت دې بيا هر څه پر دوئ په مساويانه توګه مصرفوي. نور به نه خانان خاني کوي، او نه به غريب غريب پاتې کيږي. دوئ د الله تعالى له دې تقسيمه منکر وه١ چې فرمايي: (أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ (٣٢)) (سورة الزخرف:٣٢.(ترجمه: (آيا دوئ ستا د رب رحمت وېشي؟ (داسي نده بلکې) موږ وېشلی په منځ د دوئ کې معيشت د دوئ په ژوندون لږ کې او پورته کړي مو دي ځيني د دوي پر ځيني نورور په مرتبو کې چې ونيسي ځينې د دوئ (چې غنيان دي) ځينې نور (چې فقيران دي) تابعان کارکوونکي .

کمونستانو به ويل چې په تاريخ کې چې څومره جګړې تېرې شوې دي هېڅ يوه يې هم حق او باطل نه لري، بلکې ټول د مادياتو د لاسته راوړلو لپاره ترسره شوي دي. که پيغمبرانو د پيغمبرۍ دعواوې کړي نو هم يوازې او يوازې د دې لپاره يې کړي چې په خلکو کې خپل حيثيت لوړ کړي، شتمنۍ يې قبضه کړي، او پر ملتونو خپل حاکميت قائم کړي. نه ورکې د کفر او اسلام موضوع هدف وه، او نه هم د حقپالو او باطل پرستو موضوع، بلکې ټول له يوه سره د ماده پرستۍ پر بنا را منځته شوي دي.

کمونستانو د تاريخ دغه ډول تفسير ځکه کاوه چې دوئ په نړۍ کې تر ټولو ارزښتمن شی ماده بلله، او پدې نظر ول چې يوازې بايد همدا وپالل شي.

کمونستانو د حرام په نامه کوم څه هم په خپل قاموس کې نه لرل، او ټول څه يې حلال ګڼل. دا ځکه چې دوئ د (حرام) تصور له ژوند څخه د پوره خوند اخيستلو پر وړاندې خنډ ګاڼه. له همدې امله خو کمونيزم ته اباحيت هم ويل کيږي يعنې هر څه ورکې مباح دي.

**۲ ــ دمهر ټاکل :** دوئ د خلکو په شخصي امورو کې بله مداخله دا وه چې د ښځو لپاره يې فقط ۳۰۰ افغانۍ مهروټاکه، که هر چا به د خپلې خور او يا لور لپاره تر دې زيات مهر ټاکلی وو، هغه به د دوئ د قانون له مخې مجرم ګڼل کېده او دا پداسې حال کې چې د شريعت له مخې دمهر لپاره آخري حد ټاکل شوی ندی بلکې د جانبينوترمنځ توافق ته پرېښودل شوی دی.

**۳ ــ دشخصي ملکيت قبضول :** همدا ډول يې د بل فرمان په صادرولو د خلکو د شخصي ملکيت او د زمکو په قبضولو کولو پيل وکړ. که هر چا به له ديرش جريبه زياته زمکه درلوده ټوله به حکومت ترې قبضه کړه. دولتي ملکي او امنيتي مامورين به د يوه مارش په توګه هغو زمکو ته لاړل، بيا به يې د زمکي مالک په ډېره ذليله توګه راوست، ښځينه او نارينه خلقيانو به هلته اتڼونه او ګډاوې وکړې، د کليو سپين ږيري به يې هم وګډول، له درې، څلورو مکاتبو به يې شاګردان راوستل، سره بيرغونه به يې په لاس کې ورکړې وو، سرې جامې به يې وراغوستي وې، ټولو به د (هورا) (هورا) نارو په وهلو لومړی خوشحالي وښوده، او وروسته به يې که کوم چا د دوئ له ټاکلي حده زياته زمکه درلوده نو له هغې به يې ۳۰ جريبه ور پرېښوده او نوره ټوله به يې ورڅخه مصادره او د همدې مالک پر دهقانانو او بزګرانو ور تقسيم کړه.

د يو چا شخصي ملکيت په دې توګه بل چاته ورکول د شريعت له مخې جائز کار نه دی. د اسلام سپېڅلی دين د هر څه لپاره عادل نظام لري. که هر څوک هر څومره ډېره زمکه ولري اسلام يې په زوره ورڅخه د اخيستلو اجازه نه ورکوي، البته اسلام بيا د همدې ډېرې زمکې په حاصل کې د مسکينانو خپله حصه ټاکلې ده. الله تعالی فرمايي:وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ (٢٤) لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ (٢٥))[سورة المعارج: ۲۴، ۲۵]

ژباړه:(او هغه خلک (هم بې صبره او حرصناکه ندي) چې په مالونو کې يې (د زکات او صدقاتو په شکل کې) معلوم حق دی د فقيرو غوښتونکو او هغو فقيرانو لپاره چې غوښتنه نه کوي.( الله تعالی د مالدارو په مال کې د نادارو خلکو لپاره معلوم حق ټاکلی چې هغه د عشر، سرسايي، زکاة او د صدقې نور مختلف حقونه دي. خو کمونستانو په دغه طريقه باندې نه بلکې د کمونيزم د نظريې مطابق له مالدارو څخه کارګرانو ته ورکړه کوله، او د دې لپاره چې د کارګرې طبقې خلک د مالدارو پر وړاندې راوپاروي، نو له مالدارو خلکو څخه به د هغوئ شخصي ملکيت قبضه کاوه او داسې چاته به يې ورکاوه چې هغه به يې په شرعي لحاظ مالک نه وو. کمونستانو دا کار ځکه کاوه چې دوئ نه (الله) مانه، نه يې د هغه دين او قران مانه، نه يې سنت پيژندل، او نه يې هم شريعت ته په درنه سترګه کتل.

الله تعالی د زکاة، عشر، سرسايي او صدقې په ټاکلو سره د مالداره او ناداره خلکو تر منځ نور هم د اخوت، وروروليۍ او صميمت فضا پراخوي، خو د دې خلاف کمونيزم له مالدار څخه په زوره د شخصي ملکيت په اخيستلو او بيا هغه چاته په ورکولو چې د دې زمکې لپاره کارکوونکی ټاکلی شوی وي، د مالدارو او نادارو ترمنځ د دښمنۍ او خصومت فضا رامنتځه کوي. کله چې کمونستانو د شخصي ملکيت د لغوه کولو په هدف پدې ډول اقداماتو پيل وکړ، نو متنفذ، مالداره او د زمکو اصلي مالکان د ټيټې طبقې په لاس ذليل او سپک شول، چې دې کار په ټولنه کې د کارګرې طبقې او د زمکو د اصلي مالکانو ترمنځ جنجالونه، جنګونه او حتی وژنې رامنځته کړې.

دا چې مالداره طبقه محکومه وه، نو يې بهرنيو او همسايه هېوادونو ته يې هجرتونه پيل کړل. په هېواد کې جنګونو زور واخيست، دهقانان او غريبان هم د کمونستانو او بيا وروسته د روسانو د

وحشيانه بمباريو له لاسه د وطن پرېښودلو ته اړ شول چې له امله يې زمكي شاړې پاتې شوې. د اوږدې مودې جګړې له امله په هېواد کې زمكې بې خاونده شوې، او د هېواد او خلكو اقتصاد ته نه جبرانېدونكې ضربه ورسېده.

**دلمونځ كونكو زنداني كول:** كمونستانودهغو كسانو په نيولو شروع وكړه چې لمونځ به يې كولو او بيا به يې په زندان كې له سختو ربړولو او شكنجه كولو وروسته اعدام كړو كه تاسو هغه پنځه زريزلست وګورى چې دهاليند نه دامان الله په نامه شخص سره وه او خپور شو اكثره اعداميان يې ليكلي لمونځ ګذار يا اخوانى .

دطب پوهنځي يو استاد پوهاند عبدالستار نيازى وايي مونږ دننګرهار پوهنتون درونته كې دزړې كتابخانې ترڅنګ په ليليه كې مو يو وړوكى مسجد درلوده دسهار لمانځه نه وروسته دليليې مدير عمراخان چې سر سخته كمونست وه راغى او چاچې دسهار لمانځه كې شركت كړى وه دهغوى ټولو نومونه يې وليكل چې بيا په هماغه ورځ اكثره محصلين مهاجر شول. يو مازديګر مونږ دهمدې زړې ليليې نه لړ ورهغه خوا دسيند تر څنګ ناست وو مطالعه مو كوله ما لمونځ وكړ او بيا داكتر صاحب ظاهر لغمان علينګار دميدانيو اوسيدونكى په لمانځه ودريده درى ركعته يې كړي وه چې مخامخ دپوهنتون رئيس ( عبدالكريم فكور ) دخپلو ماشومانو سره يو ځاى راروان وه وليده داكتر ظاهر څلورم ركعت ونكړ كيناسته او خپل څادر او كتابچه يې راټوله كړه او له ځايه راوچت شو يعنې دومره خطر وه چې په لمانځه به يې وليدلې نو وبه يې ويل دا اخوانى دى بايد ورك شي چې په زرګونو كسانو باندې همداسې وشول . پوهاند صاحب داهم وايي چې په هغه وخت كې دبارګامي په نامه يو كس ته ددولت لخوا دوه موتره بنديان وسپارل شوه چې دا كابل ته ورسوي بارګامى چې خبر شو په دغه شپه دجلال اباد تالاشى چوک يوې صحنه كې دكنسرت او ګډا لپاره ښايسته جنګې راوړل شوي دا خوشحالي او خوند يې له لاسه ونه وځي ټول بنديان يې ددرونټې له تونله هغه خوا دكمرو لاندې كړه او په شهادت يې ورسول او خپلو ملګرو ته يې وويل په دى خلكو ولې خپل وخت ضايع كوو

د كمونستانو د تسلط په وخت كې خو به داسې ډېر پېښېدل چې په زرګونو روسان به پر يوه ولايت يا ولسوالۍ ورغلل او په يوه ځل به يې په زرګونو كسان ووژل چې د ساري په ډول يې څو لاندې پېښې يادوو:

**دكنړ كراله :** دكرالې په باره كې مولوى عبدالهادي مجاهد ليكلي :دكنړ د اسعد اباد شمال ته له پله ورهاخوا د (كيرالي) كلى واقع دى، دې كلي ته پرلاره د كونړ د سيند پر سر له پله لږ ور تېر په چپ طرف كې يوه سيمه چې اوس پكې د لرګيو د خرخولو ځايونه دي له دوو لويو قبرونو لويي كلاوي راتاو دي. يو يې ٣٦ متره اوږد او بل يې ٥٢ متره اوږد دى. ما ته د دې قبرونو په اړه د دپېښې عيني شاهد د (كيرالي) د كلي اوسېدونكي مامور (سيد احمد) چې زه ورسره د همدې قبرونو پر سر ولاړ وم دا واقعه داسې بيان كړه: ((... په هغه وخت كې مجاهدينو له حكومت سره تر جګړې وروسته د كيرالي كلي ته پناه راوړه او پټ شول، د كنړ والي كلي ته راغلو او امر يې وكړ چې د كلي ټول خلک دي را غونډ شي تر څو والي ورسره خبري وكړي. خلک ټول دې سيمي ته راغلل، زه هغې ونې (يوې ونې ته په اشاره) سره نژدې د ښځو په مينځ كې پټ وم او صحنه مې له نژدې په خپلو سترګو ليدله. كله چې كمونستان مطمئن شول چې ټول خلک راغلل، نو پوځيانو ته يې د خلكو دويشتلو امر وكړ، پوځيانو په بې رحمۍ پر بې وسلې خلكو ډزي پيل كړې، او په يوه څو لحظو كې يې دولس سوه او شپېته (١٢٦٠) تنه په شهادت ورسول (انا لله وانا اليه راجعون )






د لغمان د ولایت د الیشنګ ولسوالی د ا نجیلو د کلا په سیمه کې کمونستانو د شپې لخوا تقریبا ۶۰۰ ولسي خلک راټول کړل، په بلدوزرونو او ماشینونو باندې یې کندې ورته و اېستلې او ټول یې ژوندي تر خاورو لاندې کړل. دا ټولې واقعې د استاد محمد زمان مزمل د (أسباب الإحتلال و أبعاد المقاومة في افغانستان) په کتاب کې هم ثبت دي.
همدارنګه به کمونستانو په ښارونو، کلو او اطرافونو کې تقواداره، متدين او ديندار خلک چې یا به یې ډېره پر مخ درلوده، یا به پنځه وخته لمانځه ته تلل، او یا به یې کورنی د دینداری تاریخ درلود په زندانونو کې اچول او شکنجې به یې ورکولې. کمونستانو به بې له محاکمې خلک وژل او د بتخاک او یا د پلچرخي خوا ته د پولیګون په سیمه کې به یې په ټوپکو ویشتل، او تر وژلو وروسته به یې خاورې پر وروارولې. په ځینو حالاتو کې به یو دوه له خاورو ژوندي هم را وتل. زما (عبدالهادي مجاهد) څو کاله مخکې د لغمان د الیشنګ له یوه داسې مجاهد سره کاته وشول چې د مرګ له کندي بېرته ژوندي راوتلی وو. هغه ته به د سیمې خلکو د (ملا شهید) نوم اخیست. هغه خپله ټوله واقعه راته بیان کړه. هغه راته وویل: ((کله چې یې ډزې راباندې وکړې، خاورې یې راباندې واړولې او را څخه ولاړل، ما ځان ژوندی احساس کړ، خاورې مي له ځانه واړولې ومې کتل چې زخمي هم نه وم، له کندي راووتم او یوه کلي ته مي پناه یووړه.(
کمونستانوفوځي او انقلابي محکمي جوړې کړې چې د انقلاب مخالفین به پکښې په ډېره آسانی ، پرته له ټولو بشري او قانوني حقوقو محاکمه کيدل ، ددې محاکمو واک یواځې د کمونست ګوند غړو سره ؤ ، مدافع وکيل او مرافعي پکښې نه وې ، همدې محاکمو په (۱۳۵۷-۱۳۵۸هـ ش ) کلونو کې تر (۵۰) زره ډېر خلک په یواځې یوه تور سره اعدام او یا ژوندي تر خاورو لاندې کړل
په دغه ډول به کمونست دولت په زرګونو او په لسګونو زره افغانان ووژل. خلک به یې د اخواني، ملا او د انقلاب ضد عناصرو په نامه نیول، زندانونو ته به یې اچول، او په شهادت به یې رسول.
کمونستانو په افغانستان کې د مسلمان ولس د عقیدې، شریعت او معنوي ارزښتونو سپکاوی وکړ، او د خلکو د دیني هویت د مسخ کولو اقدامات یې ترسره کړل. د هېواد ځوانان به یې په زوره د مجاهدینو په خلاف جګړې ته سوق کول چې له همدې امله به ځوانان د حکومت د تسلط له سیمو وتل، چې په نتیجه کې یې کلي له ځوانانو خالي شول او د هجرت لار یې ونیوله.
په ۲۰۱۳م کال کې د سپتمبر په ۱۹ تاریخ د هالېنډ لویې څارنوالۍ د شاوخوا پنځه زره کسانو یو لست خپور کړی دی چې په ۱۹۷۸ او ۱۹۷۹ م کلونو کې په افغانستان کې د هغه وخت د استخباراتي ادارې (اګسا) له خوا وژل شوي ول. دې ادارې د امان الله په نوم د یو افغان پنا غوښتونکي په اړه د څېړنو په بهیر کې چې یو مهال د (اګسا) نومې پلټونکې ادارې مشر وو، دا لیست تر لاسه کړی و.
امان الله په ۱۹۹۳م کال کې هالینډ ته پنا وړې وه. نوموړي د هالېنډ د کډوالو ادارې له چارواکو سره په مرکه کې منلې وه چې د اګسا د تحقیقاتي څانګې مشر وو او د هغو کسانو پر اسنادو یې لاسلیک کړی وو چې باید اعدام شي.

نوموړي په خپلو خبرو کې ویلي وو چې دا یې د دندې برخه وه او که یې دا کار نه کاوه نو پر دومره لویه او حساسه دنده نه شوای ټاکل کېدای. په تر لاسه شویو اسنادو کې دا کسان بنسټپاله مسلمانان، متفکرین، محصلان، د عامه خدمتونو مامورین، پوځي افسران، دکانداران او اشرار بلل شوي وه. د دغو شهیدانو وارثینو او خپلوانو یې څو دیرش کاله وروسته د خپلو شهیدانو فاتحې واخیستې.
کله چې د کمونستانو د الحادي عقایدو، مظالمو او وحشتونو پر وړاندې د مجاهدینو په شکل افغان ولس راپورته شو نو دوئ ورته د اشرارو نوم ورکړ چې وروسته بیا د دوئ په مطبوعاتو او رسنیو کې مجاهدینو ته رسمي نوم وګرځېده.
کله چې روسان راغلل نو بیا به روسانو او افغاني کمونستانو په شریکه خلک بمباردول او وژل. دوئ به پوره کلي ورانول او او اوسېدونکي به یې وژل. ځوانان، سپین ږیری، ماشومان، ښځې، ناروغان، ضعیفان، حیوانات او هر څه به چې په مخه ورتلل له یوې مخې به یې فېرونه پرې کول او وژل به یې. یو ځل روسان او کمونستان زموږ خپل کلي ته راداخل شول او چې کله یې له بل سره وتل نو ۵۲ کسان یې وژلي وو.
روسانو او کمونستانو په ټول افغانستان کې پراخ وحشتونه او او زړه بوږنوونکي جنایات تر سره کړل، د هغه جنایاتو شاهدان لا تر اوسه ژوندي دي چې د ترسره شویو جنایاتو کېسې باید ورځخه ولیکل شي او د تاریخ په حیث خوندي شي.
ما ته یو وخت په پېښور کې د لغمان د ولایت د مرکز اړوند د (برې ډوپې د ملایانو) د کلي اوسېدونکي یوه مجاهد قومندان قدرت الله چې په پاچا مشهور و د روسانو د ظلمونو یوه پخپلو سترګو لیدلې واقعه داسې بیان کړه: (( یوځل د (شلتک) سیمې ته د روسانو قوه راغله، موږ ورسره په جنګ بوخت شوو، وروسته نور روسان هم د هغوئ مرستې ته راغلل، موږ غره ته وختو ، دوئ هلته هم راپسې راغلل خو ماتې یې وخوړه او بېرته کلي ته پر شا شول. څه کسان یې هم وژل شوي وو، په جنګ کې تر ماتې خوړلو وروسته کلي ته ور وګرځېدل او هلته یې بد حال شروع کړ، زښت ډېر فیرونه یې وکړل او له کلي لوګي پورته شول او یوساعت وروسته له هغه ځایه هم لاړل.






موږ ورځ او شپه په غره کې تېره کړه، څه کسان مو شهیدان او زخمیان شوي وه، کله چې سهار شو غوښتل مو له کلي ځخه څو کټونه راوړو او له غره ځخه خپل زخمیان او شهیدان راکښته کړو، زه له ځینو نورو مجاهدینو سره له غره راکښته شوم، خو کله چې کلي ته راغلم هېڅوک مې پیدا نه کړل. پر لاره کې مې یو کس د غنمو په کرونده کې ولید چې په زخمي حالت کې پروت و او زګیروي یې ختل، پوښتنه مې ترې وکړه چې څه حال دی؟
ځواب یې راکړ چې خبر نه یم، په کلي کې پوښتنه وکړه. کلي ته چې ورغلم او کورونه مې وکتل هېڅوک ورکې نه ښکارېدل. په هغه وخت کې عادت داسې وو چې کله به روسان کوم کلي ته ورغلل نو ټول ماشومان او ښځې به له وېرې د کوم سپین ږیري او یا سپین سرې په کور کې سره راټول شول تر څو یې هم یو پر بل زړه ډاډه وي، او هم د روسانو له لوري له بې عزتۍ وراړولو په امن وي. روسانو به په هغو وختو کې د کلي د خلکو تورسرو ته بې عزتۍ هم ور اړولې. موږ همداسې په کلي کې روان وو تر دې چې یو کور ته ورننژدې شوو او د سوځېدلو او پخو شویو غوښو بوی مو

تر پوزي شو. کور ته ورننوتو چې کتل مو د کلي ماشومان، ښځې او سپينږيري چې د همدې کور په لومړي منزل کې سره راټول شوي وه لومړی روسانو وژلي وو او بيا يې کور ته اور هم وراچولی وو. د کور تر سوځېدلو وروسته ټول انسانان همدلته پاخه شوي وه، او دوهم چت هم ورباندې له پاسه راغورځېدلی وو. له نورو مجاهدينو سره به مو چې له جسدونو خاورې اړولې او د کوم چا لاس يا پښه به مو چې پيدا کړل نو چې راکش به مو کړل هغه به پاخه شوې وو، د لاس يا پښې هډوکی به يې راووت او نور به هلته ښخ پاتې شو. هېڅ د راوېستلو امکان يې نه وو، همداسې مو پر ټولو کسانو د کور ديوالونه راونړول او همدلته مو د يوه اجتماعي قبر په حيث تر خاورو لاندې کړل چې وروسته يې شمېر معلوم شو چې ٧٣ کسان ول( انا لله وانا اليه راجعون )
د ١٣٦۴ کال د حمل په ٢٥ تاريخ د لغمان د قرغيو ولسوالۍ ته روسان او ورسره کمونستان ورغلل او په يوه ورځ يې درې زره کسان ووژل. د دې درې زرو کسانو جنازې په يوه ورځ پرتې وې چې د ښخولو يې څوک نه ه.
روسانو او کمونستانو دې ته ورته لوی لوی جنايات د هېواد په مختلفو نورو ولايتو کې هم ترسره کړل. دا ټول ظلمونه يې په دې نيت ترسره کړل که ګوندې دا ولس به له جهاده لاس واخلي، د دوئ خبره به ومني، دوئ به دا هېواد تسخير کړي او دلته به د دوئ عقايد او نظريات عملي شي، او بيابه له دې لارې تودو اوبو او د خليج تېلو ته لاره پيدا کړي.
دې جناياتو دومره زور واخيست چې نور يې خلکو زغم نه درلود. خلکو خپل فصلونه، زراعتونه، کورونه او دارايۍ پرېښودې او مهاجر شول. د ۵ ميليونو په شاخوا کې خلک مهاجر شول چې څوک يې پاکستان ته لاړل، چا د ايران لاره ونيوه، څوک سعودي ته کډه شول، او څوک د نړۍ نورو هېوادونو حتی اروپا او امريکا ته کډوال شول.
روسانو او کمونستانو يو بل ستر جنايت هم تر سره کړ او هغه دا چې د دې لپاره چې مجاهدين په کليو، باڼدو، لارو او سيمو کې ګشت او ګذر ونه کړای شي په هېواد کې يې په ميليونونو بمونه وکرل او يا يې له هوا وشيندل چې لا تر اوسه له خلکو قرباني اخلي. دغو بمونو د لکونو افغانانو ژوند واخيست، او لکونه نور يې بې پښو، بې لاسو، بې بينايي او په بېلابېل ډول معيوب کړلچې په هغه وخت کې دهند حکومت داندراګاندي په لاس کې وه هغې ورته دوه ميلونه واړه بمونه ورکړې وه دهند حکومت دکمونستانو په ملتيا زمونږ مظلوم هيوادوال اکثره ددوی په بمونو معيوب شوي دي او غوښتل يې دپاني پت دغزوی انتقام له افغانانو واخلي .
کمونستانو خپلو جناياتو ته د ددوام په ترڅ کې له جاسوسي شبکې (خاد) څخه چې مشري يې ډاکټر نجيب کوله په شدت سره کار واخسته اوس غواړو (خاد) وپيژنو

## دخـــاد جنايتکاره شبـــکهدخاد باره کې (بنياد حق AVR Foundation ) ليکلي :




دکمونستي رژيم داختناق، شکنجي ، خونريزئ ، ظلم استبداد او دافغانستان داشغال زمينه سازه دستګاه وه چې په ١٣۵٧ش کال خلقيانو په داود خان کودتا وکړه ددی شبکې نوم ( مصؤنيت ملي وه نورمحمد ترهکي پرې د ( اګسا ) يعنې افغانستان دګتو ساتونکې اداره ، چې ټول غړي يې پکې کمونستان او روسي مشاورين وګمارل شوه چې ددی ادارې دجلادانو په رأس کې يو کودتاچي چې نورمحمد تره کي ته وفادارصاحب منصب اسدالله سروريوه وټاکل شو ، اګسا دنورمحمد تره او حفيظ الله امين په وختونو کې دترور اواختناق يو فعال ماشين وه دافغانستان له ګوټ ګوټ څخه يې په سلګونه زره بې ګناه افغانان ونيول او په وژونکو خندقونو کې يې ژوندي تر خاورو لاندي کړلدپلچرخي زندان قوماندان عبدالله به هره شپه لکه دوينو تګی د زندان له بلاکونو څخه زندانيان دقربانی لپاره انتخابول حفيظ

الله امین په دی جنایاتو کې مستقیماً دخیل وه کله چې حفیظ الله امین په ۱۵ سپتمبر ۱۹۷۹م کال خپل استاد نور محمد تره کی وواژه نویې د ۱۲۰۰۰ دولس زره مفقود الاثر زندانیانو لست خپور کړ، حفیظ الله امین داګسا نوم په (کام) یعنېکاریګرانو امنیتي مؤسیسه بدل کړ او خپل وراره داکتر اسدالله امین یې ورته دسر جلاد په حیث وټاکه خو دکام عمر دوه میاشتې وه چې د شورویانو له حملې سره په ۶ شپږم دجدي ۱۳۵۸ ش =۱۹۷۹م کال یې کار ختم شو.

شپږم دجدي دافغانستان اشغال او د اختناق ، شکنجې او خونریزۍ ددستګاه تکامل بیا شروع شو هغه خلک چې دشورویانو په ټانکونو سپاره راغلل له روسیې څخه یې دخپلو وظایفو نوې راهنمائیانې له ځان سره راوړلې او ددوی انقلابي شوری رئیس ببرک کارمل له شوروي (تاشکند) رادیو څخه یې لمړنی بیانیه ورکړه اسدالله سروري داګسا سرجلاد د صدراعظم معاون شواو داکتر




نجیب الله چې په ځوانی کې په بدمعاشۍ مشهور وه دسر جلادۍ لپاره اماده شوی وهداسدالله سروري پرځای دخاد رئیس وګمارل شو ، ده وظیفه درلوده تر څو په افغانستان کې د ک جي بي **KGB** په مودل داعدامونو شکنجې او اختناق دستګاه فعاله کړي ددی دستګاه فعالین او غړي دوا تشه پرچمیان وه او دزړو پولیسو پرچمي صاحب منصبانوڅخه لکه غني عزیزي چې بیا دخاد دتحقیق عمومي رئیس شو، فعلاً هامبورګ کې دیاو دنجیب الله وفادارترین افراد لکه داکتر جلال رزمنده (دشدرک دخاد رئیس ) داکتر کریم بها (ددارالامان دخاد رئیس فعلاً مقیم المان) ، یعقوبي ( بیا ددولت امنیت وزیر شو)، ضمیر میهن پور ( بیا دخاد د اولې اداري عمومي رئیس فعلاً دانګلستان مقیم دی ) ، عارف سخره/هالند ( بیا دامنیت وزارت معین) ، صلاح الدین صلاح ( ددولتي امنیت معین /هالیند)، صدیق وفا (بیا د اوم خاد رئیس /هالیند) ، داکتر قاسم عینک ( بیا دتحقیق عمومي ریاست معاون ) شریفي ( مدیر په ریاست تحقیق کې) حلیم عینک( ددارالامان دخاد دتحقیق مدیر) ، داکتر اسماعیل ( دتحقیق په ریاست کې مستنطق ) او داسې نور.

په زرګونه پرچمیان ددي دستګاه دکار دزده کړې په منظور دشپږو میاشتو تربیوي زده کړو لپاره روسیې ته لیږل کیدل چې په کابل کې دحوت ددریمې نیټې قیام کونکې همدوي بې رحمو حزبي فعالانوپه ډیره بې رحمانه ډول دکابل مسلمان اوسیدونکې په شهادت ورسول او خپلو بادارانو (روسانو )ته یې خپله وفاداري وښودله چې له دی وروسته ورته نوم ( خاد) یعني خدمات ـ اطلاعات ـ دولتي کیښودل شواو روسانو ورته لامحدوده مالي منابع په اختیار کې ورکړې له همدې وجه په لسګونه زره کسان دی اداري ته جذب شول چې معاشونه یې ډیر لوړ وه

## د خاد تفاوت داګسا او کام سره داوه چې:

**اول :** داګسا او کام په خلاف خاد ډیر زیات تشکیلات لرل اودکی جي بي په عصري میتودونو او وسایلو مجهز وه . دملل متحد دحقوق بشر کمیټې ګزارشګر داکتر ارامکورا په وینا خاد د رسمي زندانونو او نظارتخانو ترڅنګ په ټول افغانستان کې ډیر زیات غیر رسمي زندانونه لرل چې دهغوی له جملې صرف په کابل کې ۴۰۰غیر رسمي زندانونه وه

دخاد دسیاسي زندانیانو تعداد تنها په پلچرخي زندان کې په یو وخت کې له ۳۰۰۰۰ څخه زیات وه او په کال کې یواځې له اول بلاک دزندان نه ۲۴۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ بندیان دخاد دمؤظفینو لخوا په هغو موټرو کې چې شیشې یې نه لرلې پولیګون ته انتقالیده او هلته په ډیر قساوت سره په شهادت رسول

کیده ، چې دولایاتو زندانونو هم ددی څخه بهتر حالت نه لرلو خاد ورو ورو په حکومت کې یو بل حکومت شو

**دوهم:** دخاد شبکه دروسي مشاورینو دمستقیمي رهبرۍ لاندي چې داګسا او کام په وخت کې هم په سیستماتیک ډول موجود وه په دوامدار ه توګه دشکنجې او روحي تکلیف ورکول دوام درلوده چې په سلګونو بندیان پهداسې حالت کې له پلچرخي زندان څخه ووتل چې لیونیان وه

**دریم:** دخاد جاسوسي شبکې په چوکات نمایشي او مسخره یې محکمه او څارنوالي موجوده وه چې هدف یې دخلکو او نړیوالو په سترګو کې خاورې ورواچول وه له مستنطق څخه تر څارنوال او قاضي پورې ټول دخاد مامورین او معاش خواره وه

**څلورم:** خاد پخپل تشکیل کې مسلحې قواوي دفرقو او لوا ګانو چې په ثقیله اسلحو سمبال وه لرلې او دافغانستان دکلیو ورانولو کې یې فعاله ونډه درلوده په ۱۳۶۲ش =۱۹۸۳م کې خاد له کی جي بي څخه په لسګونه زره کسانو داستخدام او اسلحې صلاحیت او مالي منابع تر لاسه کړل چیځپلو ویجاړونکو قطعاتو ته تاسیسات پرې جوړ کړل اوپه همدې منابعو یې قومي ملیشي **دګلم جم** او نورو په نامه کندکونه جوړ کړل او په همدې یې ځنې ډلې او ګروپونه راخپل کړل چې دخاد ددی قطعاتو او ملیشو دبې رحمۍ او قساوت نوم په ټول ملک کې خپور شو لنډه دا تر هغې ورځې چې داکترنجیب دخاد رئیس وه داشبکه ډیره بې رحمه او دظلم اوج ته ورسیده خو کله چې دکریملین قصرپه فیصله نجیب دببرک کارمل په عوض کیناسته خاد خپل صلاحیت له لاسه ورکړ هغه داچې دنجیب په وخت کې یوه مستقله اداره چې صرف ددولت رئیس ته جوابګویه وه او اوس د دولتي امنیت وزارت (واد) پورې وتړل شوه او په راس کې یې دداکتر نجیب په عوض غلام فاروق یعقوبي وټاکل شو چې بیا د(واد) نوم دهیچا په خوله کې رانغلو ځکه چې ظالم سر جلاد یې تغیر او صلاحیت یې هم کم شو خو دخاد نوم تر نن پورې دهر افغان زوړ او نوي نسل په خوله او ذهن کې ناست دی چې دا شبکه یوه وژونکې اومستبده شبکه وه او تر هغې پورې چې کمونستانو حکومت په ۱۳۷۱ش کال دثور اتم پورې عثمان سلطاني یې رئیس وه

# قتل عامونه

کمونستانو د خپل حاکمیت په وخت کې په ډېرې بې رحمۍ په بې لابیلو ډولونو افغانان ووژل. په لانديې لړ کې د ځيني هغو سیاسي او جنایي قتلونو یادونه شوې چې د کمونستانو د رژیم په دوران کې ترسره شوي دي:

۱۳۵۷، حوت، ۲۴مه: په هرات کې د ولسي پاڅون د ځپلو په ترڅ کې د ۲۴ زره مسلمانو هیوادوالو ډله ایزه وژنه.

۱۳۵۷ هـ ش، د روژې میاشت: په بګرام هوایي ډګر کې د ۲۰۰ صاحب منصبانو ډله ایزه وژنه.

۱۳۵۷ هـ ش، حوت: د خوست په ۲۵مه فرقه کې د ۱۳۳ صاحبمنصبانو ډله ایزه وژنه.

۱۳۵۸ هـ ش کال دثور ۹ نهمه دکابل پاڅون ، ۱۰۰۰۰ لس زره ولسي وګړي په شهادت ورسیدل

۱۳۵۸هـ ش،عقرب، ۳مه: په داخله وزارت کې د ۱۲ زره وژلو شویوهیوادوالو د لست خپرول.

۱۳۵۸:هـ شپه پوځ کې د کودتا په تور د ۲۰۰۰ مسلمانو صاحب منصبانو ډله ایز اعدامونه.

۱۳۵۸هـ ش ، حمل، ۳۱ مه: د کنړ په کېراله کې د۱۲۶۰هیوادوالو ډله ایزشهادت.

۱۳۵۸هـ ش، جدي، ۲۵مه: د کندز په چهاردره کې د ۷۵۰ هیوادوالو ډله یزه وژنه.

۱۳۵۸ هـ ش، دلوه، ۱۶مه: د کندز په امام صاحب کې د ۷۰۰هیوادوالو ډله ایز شهادت.

۱۳۵۸ هـ ش، سنبله، ۱۵مه: د لغمان علیشنګ په قلعه نجیل کې د ۶۵۰ هیوادوالو ډله ایزه وژنه.

۱۳۵۸هـ ش ، دلوه، ۲۱مه: په دشت ارچي کې د ۲۵۰ هیوادواله ډله ایزه وژنه.

۱۳۵۸ هـ ش، جوزا، ۸ مه: د پوهاند غلام محمد نیازي، انجنیر سیف الدین نصرتیار او استاد غلام رباني عطیش په شمول د اسلامي نهضت د ۱۳۵ غړیو شهادت.

۱۳۵۸ هـ ش، جوزا، ۸مه: د څرخي پله په زندان کې د اسلامي نهضت د ۱۱۷ غړیو شهادت.
۱۳۵۸ هـ ش، جوزا، ۱۴مه: په څرخي پله زندان کې د د غازي سید اکبر په مشرى د اسلامي نهضت د ۴۵ غړیو شهادت.
۱۳۵۸ هـ ش کال، په لوګر کې دکمونستانو په ضد سرتاسري قیام وشوپه کلنګار کې ۵۰ نفره او برکي برک کې ۲۵۰ نفره قتل عام شول چې دست جمعي قبرونه يې اوس هم شته
۱۳۵۹ هـ ش، جدي: پر خان اباد د هاوان فیرونو په واسطه د ۲۰۰ څخه د ډېرو هېوادوالو تپي کول او شهیدانول.
۱۳۵۹ هـ ش، جدي، ۱۹مه: په خان اباد کې د ۲۰۰هېوادوالو ډله ایزه وژنه.
۱۳۵۹ هـ ش، اسد، ۲مه: په میدان وردګو ولایت په چک او سید اباد ولسوالیو کې د تر ۸۰۰ څخه د ډېرو مسلمانو هېوادوالو ډله ایز شهادت.
۱۳۵۹هـ ش، ثور، ۹مه: په کابل کې د خویندو د پاڅون په ترڅ کې ناهید، سلطانه، آمنه، سلما، حوا، زینب ،وجیهه ،جمیلهاو فاطمه خویندو په ګډون ( ۱۰۰۰۰ )لس زره کسانو د تاریخ تر ټولو مظلومانه شهادت.
۱۳۶۱ هـ ش، جدي، ۲۵مه: په هرات کې د ۴۰ هېوادوالو ډله ایز شهادت.
۱۳۶۲هـ ش ، قوس، ۱۸مه: په غزني کې د ۲۵۰هېوادوالو ډله ایزه وژنه.
۱۳۶۲ هـ ش ،میزان ، په ننګرهار کې دالماني جټ طیارود بمارد په ذریعه د۳۵۰ کوچیانوپه شهادت رسول او په زرګونه مالونه يې هم تلف شول
۱۳۶۳ هـ ش، حوت، ۲۲ مه: په قره باغ او شکردره کې د ۵۰۰ هېوادوالو ډله ایزه وژنه.
۱۳۶۳ هـ ش، دلوه: په کندزو چهاردره کې د ۴۲۵ هیوادوالو ډله ایزه وژنه
۱۳۶۳ هـ ش، دلوه، ۱۰مه: په ننګرهار کې د ۸۰۰ مسلمانو هېوادوالو ډله ایز شهادت.
۱۳۶۳ هـ ش، سنبله، ۲۱مه: په نورستان کې د ۶۷ هېوادوالو شهادت.
۱۳۶۳هـ ش،سنبله، ۲۸مه: په بغلان کې د بمبارد له امله د ۱۵۰ ځایي اوسېدونکو شهیدانول.
۱۳۶۴هـ ش، حمل، ۲۵: په لغمان قرغه یوکي د۳۰۰۰ بی ګناه خلکوویرجن ډله ایز شهادت.
۱۳۶۴ :د میدان وردګو ولایت په نرخ او میدان کې ددرې برېدونوپه لړکې د ۶۰۰ هېوادوالو ډله ایزه وژنه.
۱۳۶۴ هـ ش، حمل، ۶ مه: په کندز کې د ۹۰۰ مسلمانو هېوادوالو ډله ایز شهادت.





**روسانو پوره لس کاله د کمونستانو په ملاتړ د هیواد ګوټ ګوټ په خپلو ټانګونو او الوتکو له خاورو سره خاوري ، او (۱۵۰۰۰۰۰) یو نیم میلیون افغانان یې په شهادت ورسول ، ( ۵۰۰۰۰۰۰) پنځه میلونه ترې پاکستان او ایران ته مهاجر شول چې د جهاد په لړ کې تقریبا (۵۰۰۰۰) زره روسي فوځیان ټپیان او ووژل شول ، زرګونه ټانګونه یې وسوځېدل ، سلګونه الوتکې یې را نسکورې شوې ،**

شورویان نور داسې حالت ته ورسیدل چې له یوې خوا په افغانستان کې د تګ راتګ لارې پرې وتړل شوې له بل لورې په شوروي اتحاد کې د مړو تابوتونو خلک سخت وارخطا کړل اقتصاد یې له منځه ولاړ او په نړۍ کې یې حیثیت ته لوی تاوان ورسید.































بلاخره مجبور شول د و تلو لاره ولټوي . دا وخت په شوروي اتحاد کې میخایل ګرباچوف جمهور ریس ؤ ، هغه غوښتل د لوی ناورین د مخنیوي په موخه په بیره خپل فوځونه له افغانستان څخه وباسي ، ځکه ټول شوروي اتحاد د ورانیدو په پوله ولاړ ؤ نو یې تصمیم ونیو چې د حالاتو د بدلون به موخه د افغانستان په حکومت کې تغیر راولي او ځان ته د وتلو لاره برابره کړي ،






خپل لوړ پوړی مشاور ویکتور پتروویچ پلیچکا ته یې دنده وسپارله تر څو ببرک کارمل له دندې ګوښه او استعفاء پرې ولیکي ،هغه هم استعفاء ولیکله او خپله مسکو ته ولاړ.






په ځای یې ډاکتر نجیب چې پخوانی د کمونستي نظام د استخباراتی شبکې (خاد) ریس ؤ جمهور ریس وټاکه او عملا د روسانو په مرسته واک ته ورسید ، ډاکتر نجیب الله د روسانو د وتلو سره سم د زور لاره پریښوده او ملي مصالحې اعلان یې وکړ ، ورسره یې پخواني (حزب دیموکراتیک خلق افغانستان) ګوند په (وطن) ګوند سره په داسې حال کې بدل کړ چې عملا یې هماغه د کمونستي مفکورې په اساس تشکیلات درلودل ، یوه لویه جرګه یې د خپل تر نفوذ لاندې سیمو څخه راوغوښته او نوی قانون اساسي یې هم جوړ کړ ، ددې تر څنګ یې د افغانستان بیرغ هم بدل کړ او د ملي فوځ د پیاوړي کولو په ځای یې د قومي کنډکونو په جوړولو پیل وکړ





،زرګونه مليشې يې په قومي کنډکونو کې تنظيم کړې ، او د هيواد په لر او برکې يې بې جلبه واک ورکړ لکه ددوستم مليشې ګلم جم چې بلاخره له دوه کاله حکومت وروسته د همدې مليشو په لاس يې حکومت نسکور شو . او خپله بيا د طالبانو په دوران کې اعدام او په سزا ورسول شوشو.














# دافغانستان اسلامي نهضت یامجاهدین

دظاهرشاه په دوره کې په ټول افغانستان کې بالخصوص پوهنتونونو کې چې دکمونستانو مرکزونه وه داسې یوه فضا رامنځته شوی وه چې دلږ ایمان لرونکی انسان هم پرې زوریده بد سترګو کمونستانو به دهغه چا پورې تمسخر کاوه چې ملي جامه به یې اغوستې وه یا به یې ګیره پریښې وه ، لمونځ به یې کولواو یا به یې په دیني شعائرو عمل کولو کله به چې تازه او نوي محصلین راغله او په مخ به یې ګیره وه دومره به یې تنګ کړه چې دګیرې خیریلو ته به مجبور شول تر دې چې استادانو هم ګیره نشوه پریښودلی او ددی مسلطې فضاء تر تأثیر لاندې وه کمونستانو دلیلیې هغې برخې ته چې دشرعیاتو محصلینو ته ډوډۍ ورکول کیده (هندو ګذر)نوم ورکړی وه په لیلیه کې دلمانځه لپاره ځای نه وه یو تعداد لمونځ کوونکو محصلینو دلیلیې مدیر دی ته وادار کړو چې دلمانځه لپاره ځای تعین کړي او دا هغه ځای وه چې مخکې به ترې دکنسرتونو کار اخستل کیده چې دی کار کې صوفي قربان دبدخشان اوسیدونکی او غلام سخي دخان اباد اوسیدونکي ډیره ونډه اخستې وه ، سره له دی چې جومات ته ډیر کم کسان راتله خو د اسلامي نهضت په جوړیدو کې دهمدې مسجد لویه ونډه وه همدلته هغو کسانو له یو بل سره وپیژندل چې وروسته دا نهضت ددوی پلاس جوړ شو

۱ ـ شهیداستاد عبدالرحیم نیازی(دغزني اندړ اوسیدونکی دکابل پوهنتون شرعیاتو پوهنځي استاد او رئیس)

۲ ـ شهیدمولوي صاحب حبیب الرحمن(لغمان علینګاراوسیدونکی دکابل پوهنتون دشرعیاتو پوهنځي استاد)

۳ ـ انجنرصاحب ګلبدین حکمتیار(دکندوز امام صاحب اوسیدونکی دکابل پوهنتون انجنیری پوهنځي محصل)

۴ ـ شهید انجنیر حبیب الرحمن(دکاپیسا نجراب اوسیدونکی دپولیتخنیک پوهنځي محصل وه)

۵ ـ شهید غلام محمد نیازی ( غزني اندړ اوسیدونکی دشرعیاتو پوهنځي استاد)

۶ ـ شهید سیف الدین نصرتیار(بغلان پلخمري اوسیدونکی دانجنیرۍ پوهنځي محصل)

۷ ـ شهید عبدالقادر توانا(مزار شریف مارمول اوسیدونکی دشرعیاتو پوهنځي محصل) ،

۸ ـ شهید غلام رباني عطیش (کابل پغمان اوسیدونکی دشرعیاتو پوهنځي محصل و )

۹ ـ شهید سید عبدالرحمن اغا(تخاراوسیدونکی دشرعیاتو پوهنځي محصل ،

۱۰ ـ استاد برهان الدین رباني ( دبدخشان اوسیدونکی دشرعیاتو پوهنځي استاد

۱۱ ـ شهید استاد ګل محمد خان(دمیدان وردګ اوسیدونکی دشرعیاتو پوهنځي محصل وه) ،

۱۲ ـ شهید عبدالحبیب حناني (ننګرهار بټي کوټ اوسیدونکی دساینس پوهنځي محصل وه )،

۱۳ ـ شهید خواجه محفوظ منصور(بغلان پلخمري اوسیدونکی دساینس پوهنځي محصل )،

۱۴ـ شهید ډاکتر محمدعمر(بدخشان کشم اوسیدونکی دطب پوهنځي محصل)

۱۵ ـ شهید استاد عنایت الله عبدالله ( ننګرهار شیرزاد اوسیدونکی کابل پوهنتون ساینس پوهنځي محصل )

۱۶ـشهیداستاد منهاج الدین ګهیځ ننګرهارخوګیاڼي فرعي ځای کندز خان اباد ددارالمعلمین فارغ اومعلم وه)

۱۷ ـ مرحوم مولوي صاحب خالص ( ننګرهار شیرزاد استاد او عالم دین )

۱۸ ـ استاد عبدالرب رسول سیاف (کابل پغمان اوسیدونکی دکابل پوهنتون شرعیاتو پوهنځي استاد)

۱۹ ـ استاد عبدالرحمن رحمانیار(ننګرهارشیرزاد کابل پوهنتون ساینس پوهنځي محصل)

۲۰ ـ مولوي محمد نبي محمدي ( غزني اندړاوسیدونکی عالم دین)

۲۱ ـ قاضي محمدامین وقاد ( ننګراهار کوټ عالم دین )

۲۲ ـ استاد عبدالعلي مزاري ( مزاري شیعه عالم دین )

۲۳ ـ مولوی جلال الدین حقاني ( پکتیا عالم دین)

۲۴ ـ مولوي جمیل الرحمن (کنړ عالم دین )

۲۵ ـ استاد عبدالواسع صابر (ننګرهار عالم دین او دپوهنتون استاد )




حکمتیار صاحب پخپل کتاب (اسلامي نهضت) کې لیکلي چې مونږ دشپې لمړنۍ غونډه چې ۱۲ کسان وودتعلیم اوتربیې پوهنځي په یوه صنف کې جوړه کړه

او خپلو کې مو تعهد وکړ چې داسلامي دین لپاره به په منظم ډول کار کوو ځوانان به رابلو ، ولس به راویښوو ، دکمونستانو مقابله به کوواوخلک به دکمونستانو له هغه جدي ګواښ څخه خبروو چې دی ملک ته متوجه دی او دحاکم نظام غیر اسلامي ماهیت او دکمونستانو څخه یې پلوي او خلکو ته دکمونستانو لا دیني بربنډه او ورپه ګوته کوو او ځوانان به داسلامي بیرغ لاندې یوموټی راټولیدو ته راوبلو چې دا کار مو دیوې شب نامې په ذریعه سرته ورساوه چې د پوهنتون او کابل په ټولو لیسو کې او نورو دګني ګونې ځایونو کې موتکثیر کړه شب نامې ته مو (جوانان مسلمان نوم ورکړ) ددی شب نامې محتویات داسي وه : چې مسلمانو ځوانانو به دکمونستانو څخه سوالونه او پوښتنې کولې

او کمونستانو به له ځانه دفاع کوله مبارزه او مقابله شروع شوه ددی په خوریدو سره چې په کوم ځوان کې دایمان شیمه او احساس موجود وه هغه دیو صف لاندې دراټولیدو په تکل راوخوځیده داحرکت اول کرار کرار روان وه او بیا ترې ستر طوفان جوړ شو






ددی نهضت مشرداستعداد او شخصیت له وجه په حقیقت کې شهید عبدالرحیم نیازی وه خو دهغه سره ژوند وفا ونکړه دکفري ځواک لخوا شهید شواو په دوهمه درجه کې دهر اړخیزه قابلیت لرونکی شخص هغه انجنیر ګلبدین حکمتیار وه چې الحمدلله تر اوسه ژوندی او هم دهماغه نهضت مشر دی او الله تعالی دی نور هم عمر ورکړي دمشری لپاره الله پاک ډیر صفات ورکړي جرأت ، شجاعت ، ددین او اوساینس علمیت ،جدیت، نشاط ، استدلال او تر ټولو مهمه دښې تقوا لرونکی او دقدر وړ رهبر دی

۱۳۳۹هـ ش = ۱۹٦۰م کال دافغانستان اسلامي نهضت چې په (جوانان مسلمان ) مشهور شو دکابل پوهنتون دمختلفو پوهنځیو او پولتخنیک د ځو تنکیو ځوانانو محصلینوپلاس جوړ شو

او بیا ورسره لویې هستې لکه ، انجنیر احمدشاه احمدزی ، استاد عبدالاحد عشرتي ، شهید استاد سربلند خان(سرخرود) ، شهید استاد نادرخان (بټي کوټ) ،شهید حاجي عبدالقدیر(حصارک غلجایي)،شهید داکتر عبدالشکور(لغمان) ،شهید احمد سید شکیب(شیرزاد) ، سید نورالله عماد ، انجنیر احمد شاه مسعود(پنجشیر) ، ،استاد عبدالواسع صابر(شیرزاد)، شهید مولوي جندر(شیرزاد)، استاد کشمیر خان(کنړ) ، شهید استاد فرید (پروان) ، جکتورن صاحب اسماعیل خان(هرات) ، شهید وحید مژده (بغلان) شهید ذاهد ابراهیمي(سرخرود)، مولوی شمس الرحمن دانشیار(خوګیانی)، شهید ادم خان(سرخرود) ، شهید رسول خان(سرخرود) ، استاد عبدالله جان(لغمان)، استاد یاسر(وردګ)،شیخ ملاخیل (ننګرهار)، حاجي عبدالله (پکتیا) ، داکتر محمد ولي ناصري (لوګر) ، محمدزمان غمشریک (خوګیانی)، حاجي خیرمحمد خان(خوګیاني) ، ظابط صاحب ظاهر(شیرزاد)، شهید محمد انور(شیرزاد)استاد بشیر خان ( بغلان)، ملانقیب اخندزاده (کندهار) ، استاد عطامحمد نور( مزارشریف) ، محمد بشیر قانت (تخار) ، وحیدالله صباون (کنړ) ، عبدالقدیر کریاب ،جمعه خان همدرد(مزار شریف) ، استاد طلحه (لوګر) ، استاد احدیار(لوګر)، شهید عبدالرحیم (بټي کوټ ) شهید یونس خان (بټي کوټ) مولوی سیدمحمد (کوټ) عبدالرحیم مسلم دوست (کوټ) استاد محقق (هزاره مزار شریف) استاد خلیلي (هزاره ـ مزار شریف)حاجي امان الله کنړ، شهید داکتر کریم(کابل) ، شهید داکتر نصر الله خان(تخار) ، استاد دکتور صفت الله قانت(رودات)قوممندان محمد ظریف(اندراب)، قوممندان جمعه خان (اندرابي)، قوممندان شاه مقصود، قوممندان ده ملا صادق، انجینر محمد سلیم(دوشي)، صوفي پاینده(خنجان)، مولوی قیام الدین خرد مند( بدخشان) ، شهید استاد عبدالحی شیدا (بدخشان)، شهید باران خان (بدخشان)، شهید عبدالقادر حنیف(بدخشان)،شهید عبدالجبار مصدق(بدخشان) ،شهید سیدعلي خان(بدخشان)،شهید مولوی عبدالرحمن(بدخشان)،شهید استاد

**عبدالودود (بدخشان)،شهید بهادر خان (بدخشان) ،استاد عادل(ننګرهار) ، فضل الحق مجاهد (ننګرهار)، استاد منیر(ننګرهار)قومندان شهید ذبیح الله (مزارشریف) شهید حاجي عبدالغفار مشهور په ماما ځکه چې دمولوی صاحب حبیب الرحمن ماما وه دپوهاند صاحب عبدالستار نیازي پلار(لغمان علینګار) شهید مولوی صاحب میاګل جان (لغمان علینګار)استاد ملنګ (ننګرهار- شیرزاد) استاد عبدالودود (ننګرهار- شیر زاد) معلم صاحب عبدالعلي(شیرزاد)**



**او داسې په زرګونو نور دجهاد سپاه سالاران ورسره یوځای شول ما دلته فقط یوڅو عکسونه چې لاسته راغلي نصب کړل کنه نو یونیم میلون افغانانو خپلې ککری داسلام لپاره قربان کړی او په میلونونو نورو افغانانو هجرت او جهاد وکړو الله پاک دی دټولو قرباني قبوله کړي خو متاسفانه دی کې داسې خلک هم شته دامریکایانو دراتګ سره له خپل مسیره ووتل او دامریکا او ناتو په نفع استعمال شول خو مخکینی قرباني یې دستایلو ده**




**په ۱۳۵۶هـ ش کال دګړوال صاحبشیر زمان خان چې بیا جنرال شواو بیا دیوې هلیکفترې په سقوط کې وفات شو زما دمشر وررور استاد عین الله خان متکي باجا وه دواړو مرکه کوله زه(نجیب الله عابد) هم ناست ووم ویې ویل خلکو به ویل اخوانیان ډیر کلک خلک دي ما نه اعتبارول خو چې کله مې په خپلو سترګو ولیدل نو بیا مې ومنل چې رښتیاهم ډیر پخپل دین او عقیده کلک خلک دي.**

**وررور مې ورڅخه وپوښتل څنګه ؟ هغه ورته وویل چې زه دداود خان ګارد ووم تر شا یې سلامي وهلی ولاړ ووم او داودخان په یوه چوکۍ ناست وه مخې ته یې لویې میزوه دمیز وبل طرف ته دری کسه چې زولنې یې په لاسو او پښو کې اچول شوې وې او عسکریې تر شا ولاړناست وه او دمیز چپ طرف څو قدمه وړاندې دتور نقاب او تورو جامو والا چې دقصابانو ساتول یې په لاس کې نیولی وه ولاړ وه ، داود خان ورته دخپل حکومت منلو باره کې څه خبرې وکړې خو هغوی ونه منلې داود خان دساتول**

خاوند ته اشاره وکړه ددی خلکو تر شا عسکرو ددوی دلاسونوګوتي دمیز په سر یو دبل سره څنګ په څنګ کیښودلي داود خان بیا سر راوچت کړاوځوانانو ته یې وویل زه تاسو ته توصیه کوم ځما دحکومت تابع او له مخالفته لاس واخلي تاسو به ازاد کړم هغوځوانانو په ځواب کې په لوړ اواز وویل لااله الاالله محمدالرسول الله ، ته کافر یې ستا خلاف به جهاد کوو دساتول خاوند ته یې اشاره


شهید ډاکتر محمد عمر | شهید خواجه محفوظ منصور | شهید مولوی حبیب الرحمن

وکړه هغه ددری واړو څخه دګوتو سرونه ووهل او پری شول دګوتو پرې شوي سرونه په میز داسي الوتل رالوتل تا به ویل دجوارو پولۍ دي بیا داودخان ورته وویل درته توصیه کوم ځما حکومت ومنې او له مخالفته تیر شې ازاد او معاف به مو کړم هغوی بیا ورته وویل لااله الاالله محمدالرسول الله ، ته کافر یې ستا خلاف به جهاد کوو داود خان بیا دتور نقاب ساتول لرونکي ته اشاره وکړه هغه ترې دا ځل دلاسونو ګوتې بیخ کې پرې کړې ډګروال صاحب وایي داځل په میز دګوتو ترقار زه دومره متأثره کړم چې نژدی وه صحنه خوشي کړم دریم ځل داود خان ورته هماغه خبره تکرار کړه دهغوی




ځواب بیاهماغه وه چې لااله الاالله محمد الرسول الله ، ته کافر یې او ستا خلاف به جهاد کوو داود بیا اشاره وکړه داځل ساتول والا ددری واړو شپږ لاسونو پنجې په مړوند کې ترې پرې کړې داود خپل غټ سر لکه ځناور غوندې وښوراوه او جګ شو سمدستي داکتران راورسیدل او دځوانانو لاسونه یې دګاز په پټیو په ډیره چالاکۍ سره وتړل مونږ ترې ووتلو نور پوه نشوم چې بیا به څه پرې شوي وي ما له ډګروال صاحب نه پوښتنه وکړه دځوانانو نومونه څه وه هغه راته وویل چې یو خواجه محفوظ منصور نو میده بل داکتر محمد عمراو بل مولوی حبیب الرحمن وښوده ما دا خلک نه پیژنده وروسته بیا پوه شوم چې داخو د اسلامي نهضت سرداران وه او بیایې وروسته اعدام او شهیدان کړه(والله علی ماتقول وکیل زه په دی خبره الله پاک شاهد ګرځوم چې مرحوم ډګروال شیر زمان خان څه ویلي هغه ما لیکلي )

# دکمونستانو خلاف دجهاد پیل

د ۱۳۵۷هـ ش کال د ثور پر ۷اوم چې کله کمونستانو پر دواد خان کودتا وکړه، داود خان یې وواژه او واک یې په لاس کې واخیست چې خپل نوي رژیم او د داود خان د نظام له منځه وړلو ته یې (د ثور د انقلاب) نوم ورکړ. دغو ثوریانو(غویانو) په هېواد کې د اصلاحاتو په نامه په یو لړ داسې اقداماتو لاس پورې کړ چې د دوئ د نظام په خلاف یې د ټول ولس احساسات راوپارول اوپر وړاندې یې راپورته شول.

دې نویو او پر جوشه ځوانانو د دې نظریاتو په خپلولو له ملا، اسلامپالي، حاجي، مخور او ولسي مشر سره دښمني شروع کړه، او الله تعالی، قرانکریم، پیغمبر او دین ته په سپکاوي یې پیل وکړ . تر دې چې د دې ګوند ټول نظریات د کفریاتو په توګه په ټول هېواد کې د خلکو تر منځ علني شول، او د خلکو حساسیتوتونه او له دین څخه د دفاع احساسات یې راوپارول.

او د مخالفت لپاره یې د مسلمانانو فکري او سیاسي بهیر په جوړېدو او ځوانان ورکې په تنظمېدو شول چې ځینو یې له مدرسې، مسجد او محرابه سر راپورته کړ، او ځینو یې له لیسو، پوهنتونونو او تعلیمي مراکزو. په پوهنتونونو کې محصلین له خپلواسلامپالو استادانو څخه متأثر شول، او د ګروپونو او تنظیمونو په شکل یې د کمونستانو په خلاف لوری ونیو.

اسلامپالو استادانو به د اسلامي فکري ادبیاتو په ژباړلو د ځوانانو افکار جوړول، او هغوئ به یې له کمونستانو څخه د خپل دین او وطن د دفاع په روحیه روزل. دې سرشاره او با احساسه ځوانانو چې

د انجینیر حکمتیار، استاد رباني او استاد سیاف په څېر خلک هم پکښې وه، عملاً د کمونستانو خلاف مبارزې ته داخل شول او د هغوئ د مخنیوي فعالیتونه یې پیل کړل.
ان د ظاهر شاه په وخت کې کلهچېظاهر شاه د اسلامي نهضت راپورته کېدل ولیدل نو هغوئ یې تر فشارونو لاندې راوستل چې دې کار د کمونستانو تقویه کېدلو ته نوره هم زمینه سازي وکړه. دوئ په دولتي ادارو کې د خپل فکر او تګلارې خلک پیدا کړل، او په پوځ کې یې د خپلو عقائدو په نشرولو پیل وکړ چې له امله یې زیات ټیټ رتبه او ځینې لوړ پوړي پوځیان هم ورخپل کړل.
کمونستانو له حاکمیدلو سره سم د کمونیزم د نظریې عملي کول پیل کړل، او بیا یې د دې په خاطر چې د شریعت اصول او احکام یې د خلکو له ژونده وېستلي وي کرار کرار یې په مختلفو بهانو او توطیو د خلکو په شخصي چارو او شرعي امورو کې لاسوهنه پیل کړه. اوپه دی یې هم بسینه ونکړه مستقیماً یې افغانستان ته دشورویانو دراتګ زمینه برابره کړه چې بیا ددوی په خلاف عملي جهاد پیل شو



له دین ، وطن او ځمکني حریم څخه دشوروي لښکرو دمخ ګرځولو او شړلو په لاره کې افغان اولس هغه بیه پرې کړه چې تردې وړاندې یې دکوم یرغل په مقابل کې نه وه ورکړې ، باورې شمیرې ښیي چې په دې جګړه کې افغانانوشل لکه یا دوه ملیونه ( ۲۰۰۰۰۰۰ ) شهیدان ورکړل .
ټول پوهیږو چې ژوند ډېر شیرین نعمت دی هوښیاران وایي ( ژوند که هرڅو تریخ شي بیاهم ترمرګ




خوږ دی ) انسان چې پوځل انسان ، عاقل او بالغ وي ، نو کله هم نه حاضریږي چې دژوند غوندې ستر نعمت دکوم لایعني او پردي هدف لپاره له لاسه ورکړي ، اسلام او انساني عقل په ډېرو لږو استثنایي حالاتو کې داستثنایي اهدافو لپاره انسان ته دا اجازه ورکوي ، چې باید له سره ورته تیر شي ، ترڅو هغه هدف تر لاسه کړي ، داسلام ، دیني ارزښتونو او اسلامي حریم دفاع یو له هغو ارزښتونو څخه ده چې دانسان لپاره ترژوند درنه بیه لري ، اوپه دیني ، انساني او فطري معیار په دې ارزي چې دخوندي کولو په لاره کې یې له سر ه تېرېدنه وشي.
افغانان له ځیرمې لیونیان نه وه او نه وربانده ژوند تردې حده پیټی وو ، چې هسې دلایعني هدف او پردئ جګړې دپاللو لپاره دوه میلیونه ورونه او زامن قربان کړي .
بلکه له کمونیستي یرغل وروسته افغانان ( خپله ) له سترظاهري او معنوي ناورین سره مخامخ شول ، دافغانانو پروطن دکفر سیلاب را خوشي شو ، افغانان دخپل ترټولو علیا ارزښت ( اسلامي عقیدې ) د له منځه وړلو له خطر سره مواجه شول ،دافغانانو شمالي زورور ګاونډي پریکړه کړې وه ، چې طوعاً او کرهاً باید دافغان ماشوم ، افغان میرمنې ، او افغان سړي ذهن ته دمارکس دهري(الحادي) عقیده پیچکاري شي ، لمونځ ، روژه ، حج ، زکات ، مسواک ، اذان ، مسجد ، قرآن ، الله ، رسول ، مذهب او نور ټول په کمونیستي اصطلاح ( عربي دود او رواج ) باید دافغانانو له

عقیدې او عمل څخه وتوږل شي ، افغانان باید دشوروي دمرستو په بدل کې خپل یو نیم زر کلنهقبله له مکې مکرمې څخه د لینن ګراد په خوا واړوي ، ځکه دنوې متمدنې مارکسستي ټولنې همدا تقاضا ده ، او بریژنف ویلي چې دکمونیزم ګاوندیان باید یوازې کمونیستان وي او بس .
همدا یو اړخیز کفري ښکیلاک وو چې افغان اولس یې دېوال ته ودراوه او هیڅ دمرغۍ لارېې ورته پرینښوده هیڅ استثنا ، سازش او مصلحت یې دافغان اولس لپاره په رسمیت نه پیژندلو.
بریژنف دحفیظ الله امین په خوله اعلان وکړ ، چې شل ملیونه عقب ګرا (مسلمانان !) افغانان باید قتل شي ، ترڅو یوې شپیته زره کیسیزي سوسیالیستي(خلق او پرچم ) ټولنې ته ځمکه شودیاره شي ،افغانان مجبور وو چې یا به عقیدوي مرګ ( کمونیزم ) مني او یاهم جسمي مرګ ( شهادت ) څرنګه چې جسمي مرګ اسان او پایلې یې هم دعقیدوي مرګ په نسبت یوازې ظاهري او آني وې ، یونیم ملیون افغانانو جسمي مرګ (شهادت ) قبول کړ، ترڅو خپل ولس له عقیدوي مرګ څخه خلاص کړي .په افغانستان دشوروي یرغل او مقابل کې یې دافغانانو دیني ، طبعي ، انساني او اخلاقي عکس العمل ( جهاد ) دی ، اصلي قضیه همدا ده افغانانو ته داسې جنجال ورپېښ شو چې دسر په بیه ارزېده ، دوی هم خپل دیني او وجداني مسؤلیت ادا کړ ، او په مقابل کې یې الحمدللهټول نراو ښځې ، ماشومان او سپین ګیري په پوره میرانهودرېدل .
خو دې قضیې دبلې هرې قضیې غوندې بکراونډ یا اړخونه هم درلودل ، ځکه چې دقضیې اړخونو ( شوروي اتحاد او افغان اولس ) دبل هر مشهود ، ملموس اوموجود حقیقت په توګه اړخونه ، جهات سته ، ارتباطات او حدود درلودل .




شوروي اتحاد دخپل وخت یو ستر زبرځواک او نړیوال قطب وو ، چې په مقابل کې یې دناټو تړون دمخامخ دشمن په حیث پروت وو ، له ناټو پرته ناپېیلي هیوادونه او دسیټو او سینټو(آمریکا، استرالیا، بریتانیا ، پاکستان، تایلند، فرانسه، فیلیپین و نیوزیلند )متعهد هیوادونه چې هره شیبه دشوروي دسیده یا ناسیده مداخلې او یرغل له ګواښ سره مخامخ وو ، دجنوب په خوا دسره پوځ لښکر کشي او دچین په خلاف دبریژنف خیالي دکترین(عقیده او سیاست) ددې مسئلې بکراونډ نور هم حساس کړی وو ، دجنوبي اسیاهیوادونه دشوروي یرغل له لومړی درجه ګواښ سره مخامخ وو ، عربي شتمن جهموریتونه هم په دې پوهیدل چې اصلي هدف دوی دي ، دا هیوادونه چې دشوروي یرغل له ګواښ سره مخامخ وو زیاتره دلویدیځو هیوادو ستراتیژیک ملګري ، منطقوي ملاتړي او یا پخواني مستعمرات وو ، چې له همدې امله په لویدیځه نړی کې دجنوب په خوا دشوروي لښکرکشي داسې بلل کیده لکه دلویدیځ په خوا چې شوې وي .
افغان مجاهد ملت چې په تشه ګیډه او زاړه توپک دشوروي په خلاف جهاد پیل کړی وو او په بوټلي ګرنېټونو یې دځلویښتم لښکر ټانک لمبه کاوه ، اګر که داهرڅه یې دخپل هدف لپاره وو ، چې خپلې عقیدې او خپل ایمان همدې جګړې ته راپارولی وو ، خپل ورپیښ خطر او ګواښ دې قربانۍ ته درولی وو ، هدف یې هم یوازې له شوروي کفر څخه دخپل دین ، خپل اولس او خپلې خاورې ساتنه

وه ، او د خپلې جهادي انګيزې ، خپل هدف او خپلې ستونزې په بنياد يې داجګړه هم خپله بلله ، مګر دقضيې دشوروي اړخ دپراخ بګراونډ له امله يې دجهاد ثانوي ، اتوماتيکه او غيرعمدي نتيجه هم خورا پراخه وه .







ځکه دافغان په لاس دشوروي په وژل کيدو سره نه يوازې دده خپل دښمن له منځه تلو ، بلکې دامريکا ، ناټو ، سعودي ،پاکستان ، چين ، ايران ، مصر او نورو ډيرو هيوادونو دښمن ( شوروي ) هم ځپل کيده .

په همدې مهال چې افغان په وينوسورلړلی او دخپلې عقيدې او وطن ددفاع په توده جګړه بوخت وو ، دپيښور دچارسدې يو سورټوپي فيلسوف چې ځان يې افغان باله خو بيرغ يې شوروي ته ورته وو(غفارخان) ، له يوې کتره آميزې خندا سره دمجاهد افغان په غوږ کې وويل چې جګړه مه کوه ځکه دجګړې ګټه دې امريکا ، اسرائيل ، برتانيا ، پاکستان او سعودي ته هم رسيږي ، ستا جګړه خپله جګړه نه ده ، بلکې پردۍ جګړه ده !!

مجاهدافغان په ژور سوچ کې ډوب شو ، فکر يي وکړ چې رښتيا هم دعالمګير شوروي حدود او روابط هم عالمګير دي ، په تربرونو او دښمنانو يې نړۍ ډکه ده ، که چيرې په شوروي مرګونی وار کيږي ، نو نړيوالو او سيميزو ټولو دښمنانو ته يې اتومات فايده رسيږي ، چې په دې ډله کې اسرائيل او امريکا هم شامل دي ، خو چاره څه ده ؟ آيا شوروي زه په داسې شکل ماتولی شم ، چې امريکا ترې بې غمه نه شي يا يې له شکست څخه مستفيده نه شي ؟ ، آيا دا ممکنه ده چې شوروي سره داسې جګړه وکړم او داسې زيان ورته واړوم چې نورو شوروي ضد جهاتو ته يې هيڅ فايده ونه رسيږي او نه ورباندې خوښ شي ؟؟

له ژور سوچ وروسته افغان مجاهد دې نتيجې ته ورسېد چې نه داسې څه کول اصلآنا ممکن دي ، ځکه دشوروي په ماتولو شوروي ضد جهاتو ته فايده رسيدل ، يو اتوماتيک ، طبعي او غيرعمدي عمل دی ، چې دده له اختياره بهر دی ، نو اوس به افغان يا دجګړې دهمدې ثانوي نتيجې دنفي لپاره جګړې ته شا کوي ، او يا به دخپل مخامخ ، نغد اومباشر غليم ( شوروي ) په ټکولو سره د جګړې دغې ثانوي ، غيرعمدي نتائج هم زغمي .

افغانمجاهد چې جهاد يې يوازې دخپل عقيدې دساتنې ، خپل وطن د دفاع او خپل نسل دوقايې لپاره پيل کړې وه ، له ژور سوچ وروسته يې په دې يوځل بيا باور پوخ شو ، چې جګړه يې خپله ده ، خپل مسؤليت ادا کوي ، خوداچې دقضيې دبګراونډ له امله يې دجګړې ثمره تر نورو هم رسيږي ، دا پر ده اړه نلري ، ځکه دا دمقاومت ثانوي ، غيرعمدي او اتوماتيکه نتيجه ده چې دده په واک کې نه ده .

افغان مجاهد له همدې امله جګړې ته ورودانګل ، په بيا بيا دشوروي په ټانک له تبر او کولنګ سره وروخوت ، په بيا بيا يې دټانګ په زغره د چره دار توپک کارتوس وآزمبيل ، خو آخر له بابا ورپاته مرمۍ هم ورخلاصې شوې ، او افغان ته دسيالۍ په تاوده ميدان کې دتش لاس دښمني

ورلغاړې شوه !!!!کاشکې !!! جګړې یوازې وینې او سرونه غوښتی ، کاشکې!!! کافر یوازې دتودو وینو په سیلاب محوه کیدای شوای، که داسې وای سرتیري مجاهد افغان به دابیه ډیره اسانه پرې کړې وای لکه پرې یې چې کړه ، خو افغان دیوه موجود او مظلوم انسان په توګه دطبیعت په زولنو تړلی وو ، عقل ویل چې ( جنګ په وسله کیږي ) افغانان دخپل هدف د ترلاسه کولو او جنګ دګټلو لپاره خپلو دیني اساساتو ته رجوع وکړه ، السیرالکبیر دریم جلد ۱۸۶ صفحه کې لیکلي : چې که په جهاد کې دوسلې ضرورت شونو مسلمانان کولای شي له هرچا څخه دخپل هدف لپاره وسله ترلاسه کړي او حتی کولای شي له یوه کافر څخه دبل کافر په خلاف وسلې واخلي او یا استفاده ترې وکړي ترڅو خپل مباشر دښمن ته شکست ورکړي (ولا بأسَ بأن يَسْتَعِين المسلمونَ بأهلِ الشّرك عَلَى أهلِ الشّرك إذا كان حُكم الإسلام هو الظاهر عليهم، لِأنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم استعان بيهود بني قينقاع علي بني قريظه وخرج صفوان مع النبي صلى الله عليه وسلم حتى شَهدَ حُنيناً والطائف وهو مُشْرِكٌ، فعَرَفْنا أنَّهُ لا بأسَ بالاستعانة بهم، وما ذلك إلا نظير الاستعانة بالكِلابِ عَلَى المشركين وَإلى ذلك أشَارَ رَسول الله بقولِهِ إنَّ اللهَ لَيُؤَيّدُ هَذا الدّينَ بأقوامٍ لا خَلاقَ لَهُمْ فِي الآخرة (طبراني)

مجاهد افغان په همدې اساس دخپل هدف دترلاسه کولو خپلې جګړې دګټلو او خپل هیواد دخپلواکۍ لپاره له کافر او مسلمان دواړو څخه وسلې ترلاسه کړې ، معلومه خبره ده چې جنګ یوازې وسله نه کوي ترڅو چې وسله چلوونکی نه وي ، که وسله چلوونکی نه وي وسله سړه او یخه اوسپنه ده چې هیڅ هم نه شي کولای ، بله داچې جنګ یوازې بالقوه وسله چلوونکي هم نه شي کولای ، که داسې وای ددنیا ملکونه لکه اوس دشوروي اشغال په وخت کې هم له وسلو اووسله چلوونکو انسانانو ډک وو ، خو په دوی کې هغه ایمان ، غیرت او دیانت روحیه نه وه کومه چې دځان او خپل حق لپاره دجګړې اصلي محرک بلل کیږي ، دا یوازې افغانان وه چې همدا محرکه قوه یې درلوده ، افغانانود همدې محرکې قوې په برکت وسله په لاس واخیسته او شوروي کافر یې مات کړ ، نو ځکه اوس ددې بریا دګټلو ویاړ یوازې او یوازې دافغاني غیرت په نامه ثبت دی .

په ۱۳۶۳هـ ش=۱۴۰۶هـ ق کال زه (نجیب الله ) په طائف کې ووم یو عرب ماته وویل ستاسود افغانستان په باره کې نن دجمعې ورځ په مسجد عباس کې غونډه کیږي که ورځې ماوویل ښه ده لاړ به شم چې دافغانستان باره کې څه ویل کیږي کله چې لاړم له لږ انتظار وروسته یو وچ کلک ځوان عرب چې په سنتو ښه برابر وه همساء یې په لاس کې نیولې وه ودریدو او حمد ثنا یې وویل بیایې دافغانستان باره کې معلومات ورکول ما د څنګ یو بل سړي څخه وپوښتل داڅوک دی هغه وویل دا اسامه بن لادن دی نو زه یې خبرو ته نور هم متوجه شوم ډیرې خبرې یې وکړې خو یوه خبره یې دا دتعجب وکړه چې په افغانستان کې چې څومره وسله استعمالیږي داټوله ما له مختلفو ملکونو لکه چین امریکا مصر څخه په بیعه اخستي او روپۍ مې په دغه لاس تحویل کړي کله چې خبرې خلاصې شوي نو یو شیخ ورته راوچت شو او اسامه ته یې وویل (کذبت یاشیخ) تا دروغ وویل ای شیخه ته خو وایې داټولې وسلې او مهمات ما اخستي ولې شتینګر مزایل چې امریکا مجاهدینو ته ورکړل ؟ اسامه ورته په ځواب کې وویل دامزایل هم مااخستي یویو دانه مې په (۵۰۰۰۰) پنځوس زره ډالره له امریکا څخه خریداري کړو بیا مې دسعودي حکومت ملک فهد ته وویل تاسو اعلان وکړې چې دا مزایل مونږ افغان مجاهدینو ته ورکړل هغه انکار وکړو او راته یې وویل مونږ دشوروي سره ډیر نژدی یو اور به راواچوي بیا مې سوډان ته وویل تاسو اعلان وکړې هغوی هم انکار وکړ لنډه داچې ټولو اسلامي ملکونو انکار وکړ چې مونږ یې نشو علانولی بالاخره امریکا (رئیس جمهور ریګن ) وویل زمونږ خپل مزایل دي مونږ یې اعلانوو چې افغان مجاهدینو ته مو ورکړل او هماغسې وشول .







او بیایې خپل ښی لاس اوچت کړو اوویې ویل چې په الله قسم په افغانستان کې یوه مرمۍ چې که دکلاشنکوف هم وي او پیر شوې وي ما اخستې او په دغه لاس مې دهغې بیعه پریکړې ده .









افغان مجاهد ولس دکمونیزم خلاف لمړی په تش لاس جهاد اعلان کړ او هر ځای میدان ته راووتل دمثال په توګه لاندې (مشت نمونه ای خروار) وړاندې کوم :

## دهرات ملي او جهادي پاڅون(دهرات غزوه):

له نن نه ۴۱ کاله مخکې کمونیستي وحشیانو په هرات کې ددې ولایت دمسلمان ولس دجهادي پاڅون دځپلو په غرض په خپل یوه ترټولو تاریخي جنایت کې (۲۵۰۰۰)پنځه ویشت زره مسلمان هراتیان شهیدان کړل .

دکمونیستي واکدارانوپه ضد دهرات دمجاهد ولسدغه تاریخي قیام د۱۳۵۷هجري شمسي کال دحوت په ۲۴ نیټه پیل اودشرعي علماوو په فتوا په لسګونوزره هراتیانو پکې ګډون درلود. دهرات دمسلمانو او شهادت خوښوونکوخلګودغه تاریخي پاڅون په هیوادکې داسلامي جهاد اومقاومت دپیلامې په توګه وکړای شول چې ټول افغان مؤمن ولس ته دسرښندنې او فداکاري روحیه ورکړي او په ټول هیواد کې مسلمان افغانان داجنبي یرغلګرو اودهغوئ دګوډاګیانو په خلاف دمقاومت سنګرونو ته ولاړشي،




هغه ؤ چه په ۱۳۵۷هـ ش کال د حوت په ۲۴ نیټه = (۱۹۷۹م) کال دمارچ په میاشت کې دهرات خلکو دکمونستی رژیم پرخلاف عمومي قیام وکړ، دهوائې میدان او راډیو سټیشن نه پرته ئې ټول ښار ونیو ددغه قیام رهبران علماء کرام او دغه مسلمان صاحب منصبان ؤ جګتورن محمداسماعیل خان چه بیاجهادي قومندان شو جګتورن علاءالدین جګتورن نورمحمدخان ، ډګرمن محمدانورنصرتي، جګتورن عبدالعزیز، جګړن غلام رسولبلوچ(متأسفانه چې دنوروعکسونه مې پیدا نکړل) .







دکمونستي دولت له خوا دروسانوپه مرسته ښاردهرلوري دټانګونو اوتوپونو په واسطه محاصره شو اودشوري نه په مستقل ډول دطیارو پروازونه شروع شول.الکساندرمایوروپ چې اوسنی جنرال دی لیکي: موږ دهرات دقیام کوُنکو تسلیمولوپاره دعوتي پاڼې دهلیکپټرو په واسطه وشیندلې اوپاڅون کوونکو ته پکې موږ بلنه ورکړه چه تسلیم شئ مقاومت بې ګټې دی اوخپلو کورونه بهر راونه ووځئ ستاسوسرمال به په امن کې وي، دهرات خلکوهمدغسې وکړل زیاتره تسلیم شول فضا آرامه شوه،












موږ (روسانو) دکمونستی باند مشرانوڅخه لکه: کارمل، حفیظ الله امین ډاکترنجیب، اونورونه په کلکه وعده اولاسلیکونه واخیستل چی دهرات قیام کوڼکي که تسلیم شول نوهیڅ به ورته نه وایو، خودديږ برخلاف حفیظ الله امین، دکندهاردقومندانی دقوا غټه برخه دټانکونو او زره پوښنو سره هرات ته ولیږله پردي وسایلو ئې شنه اوسپین بیرغونه نصب کړل هراتیانو داسې خیال وکړچې کندهار هم قیام کړیدی اوزموږ مرستي ته راغلی دی قوا ښارته ننوتله اودښارپه خلکو ئې دقتل عام حمله شروع کړهپه ډیرلږ وخت کې دښارخلک سره وپاشل ، ډاکتر نجیب چې په هغه وخت کې دخاد خونخوارې شبکي رئیس ؤ دمظلومو هراتیانو وژل ئې په خپل لاس پیل کړل هغه خلکو چې په جوماتونو کې پنا اخستي وه ټول ئې شهیدان کړل په کوڅو او واټونو کې دوینو لښتي روان شول. لنډه داچې په دغه پیښه کې۲۵۰۰۰ پنځه ویشت زره افغانان قتل عام کړل اوپه زرګونو نور ئېژخمیان کړل. انالله وانا الیه راجعون










## دکابل ولس ملي او جهادي پاڅون(کابل غزوه)

د ۱۳۵۸ هـ ش کال دحوت دریمه د سور یرغلګر ځواک پر وړاندې دافغانانو له لومړي پاڅون سره سمون خوري . یوڅلویښت کاله وړاندې په همدې ورځ د کابل زرګونه اوسېدونکي د هغه څه پر وړاندې چې یرغل او ظلم ګڼل کېده سړکونو ته را ووتل او د حکومت پر وړاندې یې پاڅون وکړ.
په ۱۳۵۸ کال کې د کابل د خلکو پاڅون د کب په دریمه شپه له بامونو څخه د الله اکبر په ملکوتي نارو پیل او په سهار کې د واټونو پر مخ په پراخ ولسي لاریون بدل شو. عیني شاهدان وايي، د کب په دریمه د کابل په بېلابېلو سیمو کې لسګونه زره کسانو پاڅون کړی و او د وخت د حکومت پرضد چې د شوروي ملاتړ یې هم له ځان سره درلود شعارونه ورکول.






دکابل د مجاهدو خلکو قیام دغه تاریخي حماسه ددی نماینده ګي کوي چې دټولو افغانانو زړونه دکفر اوالحاد اشغالګرو په مقابل کې سره یو دي او ددی پاڅون په کیدو سره دکرملین ماڼې په لړزه راغله او هغه فکر چې ټول ملت زمونږ دکمونستي نظام سره ولاړ دی له دماغه ووت او له خاورو سره خاوری شو، خلک په یو اواز ټول ډلی ډلی له قیام کونکو سره یو ځای شول چې دکرملین نوکران یې سخت وارخطا کړل.







چې بیایې ددی قیام دځپلو په مخه له هر وحشت څخه کاروا خست او په پاڅون کوونکو د حکومت او شوروي ځواکونو ډزې پیل شوی چې د ښځو اوماشومانو په ګډون یې له (۵۰۰۰) پنځو زرو د ډېرو کسانو ژوند واخیست. دغه پاڅون دکابل له بیلابیلو سیمو پیل شو چې اصلي ځای یې دکابل ښار چنداول او میوند واټ وو.په همدې حال کې ځیني شنونکي بیا د کابل د خلکو پاڅون د افغان جهاد پیل وګاڼه.





په ۱۳۵۸هـ ش کال کې د کب د میاشتې د دریېمي نېټې پاڅون په کابل کې په داسې حال کې رامنځته شو، چې د ثور د میاشتې د اوومې له کودتا (۲۰) شل میاشتې او پر افغانستان د روسانو د سره پوځ له یرغل نه (۵۷) اوه پنځوس ورځې تېرې شوې وې. د ثور د اوومې واکمنۍ سربېره پر دې چې په ټولنه کې یې د وېرې او وحشت فضا رامنځته کړې وه ، د دغه حکومت چلوونکي د بې اتفاقۍ او اختلاف په اور کې سوځېدل او په منځ کې یې د څو ټوټې کېدو نښې له ورایه ښکارېدې.نور محمد ترکي د حفیظ الله امین په وسیله ووژل شو او ببرک کارمل حفیظ الله امین د ترکي له راتلونکي سره مخامخ کړ. په هغو ورځو کې په کابل او په ټول هېواد کې ډار او وېره د پام وړ خپره شوې وه. د

کابل یو شمېر ښاریان چې د نوموړي پاڅون کتونکي وه، وايي: د کب د ورځې په پاڅون کې روساونو او افغاني سرتېرو د کابل ښار په واټونو کې په پاڅون کوونکو بې رحمانه ډزې وکړې او زیات شمېر یې په شهادت ورسول.
په افغانستان کې د شوروي ځواکونو یرغل د دې لامل شو چې له دوه میلیونو څخه ډېر افغانان شهیدان، لسګونه زره معلول او معیوب او له پنځو میلیونو ډېر کډوال شي.
 دا تاریخي واقعه په تاریخ کې ثبت او هیڅکله به دافغانانو له زړه څخه ونه ووځي ، ددی قیام کونکو دشهیدانو روح دی الله تعالی دتل لپاره خوشحاله لري او الله پاک دی ورته جنت الفردوس نصیب کړي او زمونږ پيغام دوخت فرعونیانو ته هم همدا دی چې زمونږ مقدسې خاورى ته لاس مه راوړى کنه نو ستاسو انجام به هم همداسې وي انشاء الله

## دننګرهار حصارک غلجايي ، شيرزادو او خوګیاڼیو پاڅون

په ۱۳۵۸هـ ش کال دجدي پنځمهنيټه  مونږ شپږ کسه مجاهدين ذاهدصاحب ، داکترصاحب شاه جهان، شهيد قاري علم ګل ، سرمعلم صاحب حمزه ، نثار احمد او زه (نجيب الله ) دننګرهار خوګیاڼو شيرزادو کديخيلو کلي دسپين غره په لمنه کې دمرکز ملاګل قلعه په بام کې لمر ته ناست وو پورته موکتل دغره لمن په واورو پوښل شوی وه
ما شهيد ذاهد صاحب ته مخ کړچې الله پاک دی خير کړي يو خواواورې شوې اوبل خوا دحکومت ټانګونه او توپونه او مونږ هم يو څو کسه مجاهدين ، ذاهد صاحب ماته کتل کتل بيايې وويل وکيل جانه (مستعارنوم ) ايمان کې دی فرق پيدا شوی دالله قوت دی هير شو چې زمونږ ترشا دی ما ويل بيشکه دهغه قوت تر ټولو قوي دی.
 سبا سحردلمانځه نه وروسته دکديخلو دکليوالو مجاهدينو له پيره دارانو مېپلټنه کوله چې دشپې څه حال تير شوواپس راتلم راديو راسره وه ناشنا انقلابي نغمې اوبيانيې له کابل راديو څخه خپريدې او بيا دببرک کارمل بيانيه خپره شوه او حفيظ الله امين مړشو په ډيره چالاکې واپس دجبهې مرکز ته راغلم ذاهد صاحب او نورو مجاهدينو ته مې وويل کابل کې تغير راغی دوه ورځې انتظار مو ويسته دريمه شپه موخپلو کې مشوره وکړه چې خلقيان له منځه لاړه او پر ځای يې پرچميان راغلل ښه داده دحکومتي چارواکو سره رابطه وشيکه مونږ ته تسليم شي سرمعلم صاحب حمزه وويل دحصارک غلجايې ولسوال خلقي دی که تسليم شي نوښه به وي هماغه وه چې له طوطوقريې څخه مو ۳۵ کسه عوام خلک دخپلو شلخيو توپکو سره راوستل او ۶۰ يا اويا کسه دکديخلو برابر شول دحصارک په ولسوالۍ موحمله وکړه او ولسوال ته مو دتسليمې پيغام ورکړ هغه لمړی وعده وکړه چې تسليميږم خو بيا يې دوکه وکړه او تسليم نشو دری يا څلور شپې او ورځې جنګ دوام وکړ بالاخره له جلال اباد څخه قوه راورسيده او ولسوالي يې له ځانه سره يوړله دکليو خلک راسره ملګري شوه له هغه ځايه راغلو دشيرزادو په علاقه داری چې اوس ولسوالي ده حمله وکړه په هغې هم کامياب نشو خو دعوامو تعداد له يوی ورځې نه تر بلې ورځې زياتيده ټول تر مونږ راتاو شوه دکنډی خوله کې ټول راجمع شول






دطوطوکلي ملک عبدالوکیل (لقمانخیل) او دحصارک غلجایې لاجیګړ کلي ملک حاجي سردار ذاهد صاحب ته چې زمونږ عمومي قومندان وه وویل ذاهد صاحب ! مونږ دقوم خلک راوتلي یو ستا مجاهدین یو چرته چې مو قرباني کوی حاضر یو خو یوه خبره مونږ درته کوو هغه داچې بیا به دا فرصت نه وي او نه به بیا دومره خلک راجمع شي داد ولسوالیو کلاګانې په خپل ځای پریږده مونږ په جلال اباد ورځو فقط ته امر وکړه .
ملکان (سرداراو عبدالوکیل) لږ جګ ځای دتوتانو ترڅنګ ولاړ وه ذاهد صاحب چې په سرک ولاړوه زړه نازړه شو چې څه وکړي
مونږ څوکسو مجاهدینو ته یې مخ راواړاوه چې څه وکړو؟ مونږ ورته وویل ذاهد صاحب دخلکو دجذباتو قدرداني وکړهاو دا خلک دالله پاک مدد دی چې مونږ ته یې رالیږلی کبر پرې مکوه قومانده ورکړه چې هر څه کیږي دالله پاک رضا به وي ذاهد صاحب په ټیټ اواز وویل ډیر تلفات به ورکړل شي مسؤل به زه ووم مونږ ورته وویل داخبره دملکانو سره شریکه کړه چې دقوم مشران دي هغوی ته یې وویل ستاسو جذبات ددین او وطن لپاره پر ځای دي خو زه دخلکو دتلف کیدوڅخه ویریږم هغوی په زغرده جواب ورکړ مونږ هرې قربانۍ ته تیار یو مه ویریږه الله پاک زمونږ سره دی هماغه وه ذاهد صاحب ورته سر وښوراوه چې لاړ به شو ملک سرداراو ملک عبدالوکیل مخکې شوه چې تر څنګ یې علماء کرام هم روان وه لکه ملا حضرت نبي استاد قاري صاحب میاسید ملا غلام نبي استاد، ملا عزیز الله استاد، مولوي محمد ایشان استاد ، ملا طیب الله استاد او نور اود عوامو لویې لښکریې تر شا روان شوه




کله چې ګندومک ته راورسیدو تاسو یقین وکړې که به هیچا ورته خبر کړی وه چې لښکر لپاسه راروان دی تاسو هم راووځي دګندومک مجاهد ولس ټول دبیرغونو سره راوتلي او په سرک منتظر ولاړ وه کله چې نکړخیلو ته راغلو هلته هم همداسې دمرکخیلو مجاهد ولس او نورو شاوخوا کلیو مجاهد خلک ټول شوي وه راسره یوځای شول نه مخابره وه او نه موبه اس څوک مخکې لیږلی وه او نه له مونږ څخه څوک مخکې شوي و چې هر ځای ته به رسیدلو خلک به تیار له بیرغونو سره ولاړ وه دغه وخت دا ایت راپه یاد شو (إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾کله چې دګړباوې پل نه تیر شو نملې کلي ته لانه وورسیلي هلته روسي طیارو بمبارد شروع کړو خو الحمد لله هیڅوک شهیدان نه شول او نه لښکر تیت او پرک شو فقط دبمبارد په وخت کې ټولو ځانونه یو خوا بل خوا پټ کړه یو کس دمرکیخیلو اوسیدونکی او بیرغ یې نیولی وه چې کله طیارې ولیدی تیرغ یې په یو پټي کې خښ او ودرواوه خیله یوې پولې ته پټ شو ماورته کتل لږ وروسته یې ورمنده کړه بیرغ یې له لرګي راخلاص کړو او په بدن یې ووهلو بیا سړی لاړو او خپل ځان یې پټ کړ وروسته ما ترې پوښتنه چې ولې دی په دومره ګرمه بمبارۍ کې دا کار وکړ هغه وویل چې ما فکر وکړو چې دا خو ډیره بې غیرتي ده چې خپله پټ شوم او بیرغ مې ورته پریښوده نو ځکه مې له ځان سره راواخسته





چې کله نملې کلي ته ورسیدو خلکو ډوډی تیاره کړې وه ټول لښکرته چې تعداد یې له شمیره وتلی وه ډوډی ورکړه









او دنملې یا مملې مجاهد خلک هم راسره شول دماسپښین لمونځ مو وکړ ذاهد صاحب دسرخرود ولسوالۍ دکلیو نومونه ولیکل او ماته یې راکړل چې دا هرقوم ته یوه یوه پرزه خط ورکړه چې تاسو پلاني کلي ته ځان ورسوې دومره دلښکر تعداد زیات شو چې کله خلکو حرکت وکړ دوه ساعته وروسته اخرنی سړی زما ومخې ته تیر شو چا سره ټوپک وه چا سره توره وه او چا سره کوتک وه ماسختن تیر سرخرود ته ورسیدو دسرخرود خلکو دبامونو څخه میوی او ګلان شیندل او دلښکر استقبال یې په پوره درناوي وکړپه همدې شپه دوزیرو خلکو دتور پاچا




په مشرۍ د خوګیاڼو ولسوالي وهلې وه او په سرخرود کې دشهید ادم خان په مشرۍ دککړک مکتب ته چې نظامیان پکې وه اور اچول شوی وه په ولسوالۍ جنګ شروع وه لنډه داچې دحصارک او خوګیانیو قیام دجلال اباد ښار تر څنډو راورسیده او بیا دسرخرود باتور او مجاهدولس دانقلاب تر اخره سخت مقاومت وکړ او تر اخره دجنګ اول خط وه د سرخرود دنګې قلاګانې او برجونه ټول ونړیده باغونه او فصلونه یې وچ شول خو سرخرودیان په شا لاړنشوه تر دی چې افغانستان فتح شوله دی وجه ټولو سرخرودیانو ته دی زما سلام وي

پورته مو دذاهد صاحب، ادم خان استاد او سرمعلم صاحب حمزه نومونه واخستل لنډ تعرف یې کوم اګرکه دکتاب دحجم زیاتوالي له وجه ددغو شازلمو ټول ریکارډ نشم بیانولیخولنډ شانته دلته رااخلم

ځکه ما ټول جهاد دروسانو خلاف ددوی تر قوماندې کړی هر څه یې راته معلوم وه : ذاهد چې اصلي نوم یې فضل الربي وه دپلار نوم یې ( نیک محمد ) او دنیکه نوم یې ( ) چې په ذاهد ابراهیمي مشهورشو دننګرهار ولایت سرخرود ولسوالی بازیدخیلو دکلي اوسیدونکی وه دحزب اسلامي حکمتیار له سرکښو قومندانانو څخه وو دداود خان دحکومت په وخت کې یې د۱۳۵۴هـ ش کال دعملیاتو څخه وروسته هجرت وکړو پاکستان کې یې دیني علم ترسره کړدتقوا او پرهیزګاری نمونه وه دوه کاره یې همیشه کول چې قضایي یې پکې نه کوله یو دتهجدو لمونځ او بل دقران تلاوت میانه قد یې لرلو قواره یې ډیره ښکلي وه غټې زردې سترګې او منظمه توره ګیره لرله په کتو کتو یې په خلکو رعب پریوته خندل یې نه خو دمخامخ کیدو په وخت کې به سړې فکر کاوه ډیر خوشحاله دی غوصه یې نه لرله ټوقې یې هم نه کولی ډیر دروند او سنګین حالت یې لرلو یو زیرساعت یې پلاس وه چې کله به له چاسره په خبرو مصروف شونو دهغې بند به یې خلاصولو او بندولوزه یې له ځان څخه نه جلا کولم ماته به یې ویل چې ته راسره وی داسې فکر کوم چې یوه فرقه مسلح مجاهدین راسره دي ، ډیر با جرأته او زړور سړی وه په جنګ کې تر مونږ ټولو مخکې تلو هیڅ نه ډاریدو مونږ په ده ډاریدو چې راڅخه شهید نشي دده به مو خیال ساتلو دخطر ځای څخه به موراګرځولو ډیر حلیم سړی وه په زرګونو مجاهدین دده دقوماندې لاندې جنګیده او ډیر غټ غټ علماء او قومندانان دده تابع وه شرعي حدود و کې یې دهیچا لحاظ نه کولو عوامو کې یې ډیر نفوذ درلوده ټول ترې خوشحاله وه لنډه داچې کومه منطقه به یې ازادوله په هغې کې به یې منظم حکومت چلولو ما ورسره په ډیر جنګونو کې یوځای برخه اخستې وه که هغه دلته بیان کړم یو کتاب به ترې جوړ شي

# هجرت او مهاجرین

په ټول افغانستان کې دکمونستانو لخوا په عاموخلکودسختو ظلمونولړۍ روانه شوه،هرخوا دکلیواو کورونو بمبارۍ شروع وی، زندانونه له خلکو ډک شول ، په زندانونوکې بې رحمه شکنجه کول وه ، په ژوندوني تری اندامونه غوڅول، دمردیو ټکول او خسي کول ، په ژوندونې ترې سترګې ایستل او په یخو واورو کې په شپو شپو لغړ ودرول ، تیل داغ ورکول ، ګرمې اوبه پرې اچول په ساتول ترې ګوتې غوڅول ، په امبورونو ترې نوکان ایستل او بالاخره پولیګون کې ژوندی په خاورو کې ښخول ددی سبب شوه چې نور نو افغانان خپل ګران هیواد او دختو څخه جوړه جونګړه او خپله ټوله دارایي دی وحشیانو ته پریږدي او خپله یوسر دوه غوږه دخپلو بچیو او یا یوائې له دی وطنه ووځي او هجرت وکړي چاته چې ایران نژدی وه هغه ایران ته او چاته چې پاکستان نژدې وه هغه پاکستان ته لاړل هلته ګاونډیو ملکونو دخپل ځان دحفاظت په خاطر چې د شورویانو مقابل کې یو ښه سپر وه پنا ورکړه په اول سرکې مهاجر دپاکستان په کلیو او بانډو کې دپاکستانیانو سره څنګ په څنګ پریوته چې بیایې تعداد زیات شو دشتو او دغرونو لمنو کې یې ورته کمپونه جوړ کړل دونیا والو خصوصاً اسلامي ملکونوهم دیخوا ته ډیر پام شو ځکه ټول د شوروي کمونیزم له سره سیلابه سخت ویریده او ویل به یې که دا افغانان مات شول زمونږ هم خیر نشته نو هماغه وه چې دافغاني مجاهدینو او مهاجرینو ملاتړ ته یې په پوره میرانه راودانګل مجاهدین چې دخپلو کورونو څخه بې غمه شول ټول په یو مخ دکمونستي کفارو خلاف جهاد ته راووتل هیڅ یوافغان مجاهد وبل ته نه کتل چې دادی مخکې شي بلکه درجنونه درجنونه شهیدان کیدل او باقي نوربه لکه زمریانو غوندې په سرو لښکرو ورختل ،

الحمد لله افغان مسلمان ملت ښځو نرانو ماشومانو او سپین ګیرو ټولو داسې قرباني ورکړه لکه څنګه چې صحابه ی کرامو وخت کې ورکړل شوې وه څنګه چې افغانانوپه خپل دین او وطن غیرت وکړ الله پاک هم ډیر غیرتي ذات دی هغه دټولو دونیاوالو زړونه دی خواته مایل کړه الله پاک فرما یي: سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ(یسن ۳۶) ترجمه(

پاکي ده هغه ذات لره چې هر شی یې جوړه جوړه پیدا کړی که هغه بوټي دی یا ستاسو له جنسه او یا هغه څه چې تاسو یې لا نه پیژنی )

هماغه وه چې افغانانوهجرت وکړ اونورو دونیا والو نصرت وکړ جوړه ترې جوړه شوه چې ښنه نتیجه یې ورکړه هغه داچې نړیوال سور بدمعاش شوروي اتحاد کمونستي امپراتوري ختمه شوه او دمرکزي اسیا په لسګونه اسلامي ملکونه لکه تاجکستان. ازبکستان، ترکمنستان . قرغزستان،اززبایجان ، ارمنستان،او قزاقستان ترې ازاد شول او پنځلس کاله وروسته په ۱۳۷۱هـ ش کال مجاهدین فاتحانه کابل ته ننوتل







په پاکستان کې دمهاجرینو غټ کمپونه ناصر باغ کمپ( پیبنور) ، کچه ګهړی کمپ( پیبنور) ، شمشتوکمپ (پیبنور)، ذاخیلو کمپ (نوښار)، هریپور کمپ ، باغیچي کمپ (مردان) ، صوابۍ کمپ (مردان )، کوهاټ کمپ ، سده پاړه چنارکمپ ، مانسهری کمپ او کویټه کې کمپونه او ډیرواړه نور کمپونه موجود وه

دافغانستان دمهاجرینو وزیر حسین علي بلخي واي په تیرو ۱۷ کلونوکې ۸ اته میلونه افغانان خپل وطن ته راستانه شوي











دافغان مهاجرینو کمپ پشاور پاکستان ۱۳۶۲هـ ش



دافغان مهاجرینو کمپ پشاور پاکستان ۱۳۶۰هـ ش



دافغان مهاجرینو کمپ پشاور پاکستان ۱۳۶۰هـ ش



کچه ګهړی کمپ افغان مهاجرین پشاور پاکستان۱۳۶۵هـ ش



دافغان مهاجرینو کورونه له فضا څخه پشاور

# د یرغل موخې او لاملونه

## ۱ -تودو اوبو ته د رسېدو خیال پلو او ستراتیژیکې ګټې :




روسي امپراتورۍ تودو اوبو ته د رسېدو خوبونه لیدل ، له بده مرغه او که له ښه مرغه افغانستان یو داسې جیوپولیتیک موقعیت لري چې د تاریخ په ټولو دورو کې امپراتورانو هڅې کړې چې د نورو هیوادونو د نیواک په خاطر لومړی افغانستان ونیسي ، د هیواد ستراتیژیک موقعیت دومره حیاتي دی چې په نړۍ د حکومت کولو خوب یوازې د افغانستان له لارې ریښتیاو ته رسېږي، همدغه موقعیت لا له ډېره مخکې روسي امپراتوري د بخارا په نیولو سره د امو غاړې ته راښکله.

او بیا د تزاریانو همدغه پراختیا غوښتونکي سیاست ته شوروي لښکرو د کمونېزم چوپړ ته لوری ورکړ، د صبر کاسه یې ړنګه شوه، او له امو راواوښتل، د ۱۸۵۴-۱۸۵۶ پورې کلونو په ترڅ کې اروپایانو د کریمیا په جګړې کې روسیې ته ماته ورکړه او مدیترانه یې پر مخ د ازاد تګ راتګ خنډ وګرځاوه، له هماغې وروسته روسي امپراتورۍ ددې په هڅو کې شوه چې پر نړۍ د حکومت کولو په خاطر باید تودې اوبه خپلې کړي، د امیر شېر علي خان د پاچاهۍ په دوران کې د روسي امپراتورۍ استازی جنرال ستالیتوف په ۱۸۷۸ کې کابل ته راورسېد، محمود طرزی چې دا مهالی کوچنی وو د خپل پلار سره مل ددی نندارې برخوال وو، هغه وایي،( په هغه وخت کې زه ددې سفر په سیاسي اهمیت نه پوهیدم، سره له دی هم له هغو بحثونو نه چې زما د پلار او د هغه د ملګرو تر مینځ وشول او اوس چې زه هغه له خپل اوسني پوهاوي سره پرتله کوم، زه یوې موقتي نتیجې ته رسېدلی وم، ما زده کړه چې لوی پیتر خپلو ځای ناستو ته وصیت کړی و، چې د روس حکومت چې څومره کولی شي باید هند ته ځان ورسوي، چې د نړۍ خزانه یې ګڼله ، چې بیا په مناسب وخت کې د هند ټوله نیمه وچه ونیوله شي او په دې ډول د نړۍ د لاندې کولو لپاره بیرغ جګ کړي، له دغه وصیت نه وروسته روسانو له پیترزبرګ او مسکو نه ورو ورو ځانونه د امو سیند غاړې ته راورسول)۳.







په افغانستان کې د شوروي اتحاد پخوانی ستر پوځي سلاکار ستر جنرال الکساندر مایوروف هم په دې اړه خپل یادښت په دې ډول بیانوي: استینوف (دفاع وزیر ویلي وو چې) وسله وال پوځ د هندي سمندر تودو اوبو ته د وتلو د دندی سرته رسولو ته چمتو دی، د هندي سمندر تودو اوبو ته د وتلو فکر له اوږدې زمانې راهیسې د روسي واکمنو په مغزو کې تاویده راتاویده، ان د لومړي پاول په پېر کې په ۱۷۹۸-۱۷۹۹ کلونو کې په (دون) کې د کازاکو پنځه ویشت زریز پوځ ټول شوی وو او د

هند لور ته خوځول شوی و... او د منځنۍ اسیا د لاندې کولو لپاره په ۱۸۷۹-۱۸۸۰ کلونو کې د جنرال سکوبیلیف زړور پرغلونه؟ د روسي عسکرو له خوا د (ګیوک تپې) کلا نیولو او عشق اباد د رالاندې کولو هم د هندي سمندر لور ته د وتلو لار هوارولو ۴.

بله د ستراتیژیکو ګټو خبره ده، افغانستان د شمالي هیوادونو په شمول د شوروي ګټو د نفوذ سیمې ګڼلې کېدې، د خلقي کودتا په ټولو دورو کې شوروي اتحاد په خپلو دغو د نفوذ سیمو کې د چین او




امریکا د لاسوهنو او مداخلو څخه میډیا په سر اخیستې وه، او شوروي اتحاد په هیڅ صورت دا نه غوښتل چې د هغوی د نفوذ په سیمه کې دې د هغوی ګټې وننګول شي، په دې اړه جنرال و.ا. کریوچکوف وایي: زه په پریکنده توګه تصدیقوم چې خبرې د شوروي اتحاد د دولتي ستراتیژیکو ګټو په باره کې کېدې.. له افغانستان سره مونږ ډېره لویه نژدې دوه زره پنځه سوه کیلو متره ګډه پوله درلوده.. د افغان شوروي ګډې پولې ستراتیژیک اهمیت درلود، هغه کیدای شوای د سولې او همکارۍ او برعکس د بې اتفاقۍ او لانجو کرښه واوسي.. د کی جي بي او د بهرنۍ څارګرۍ له لویې ادارې نه مونږ ته داسې د اندېښنې وړ معلومات رارسېدل چې د امریکا متحده ایالتونه په راتلونکي وخت کې غواړي د خپلو پوځي موخو لپاره زمونږ سهیلي پولي ته څېرمه سیمه وکاروي، دې ټولو مسایلو هغه فضا رامنځته کړه چې افغانستان ته زمونږ د پوځونو د لېږلو پرېکړه په کې کېده۵.

## ۲ -د خلق ګوند خپلمنځي ژور اختلافات :

ویل کیده چې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند له ډېر پخوا مهاله په غیر قانوني توګه زیرزمیني فعالیتونه درلودل، ددغو زیر زمیني ګوندي فعالیتونو په منظمولو کې د پاکستان او هندوستان کمونیستو ګوندونو نقش درلود، هغه وخت چې تره کی په ممبئ کې وو له هندي کمونستانو سره یې اړیکې درلودې، خو په رسمي توګه د خلق ګوند بنسټ په ۱۳۴۳ هـ ش یا ۱۹۶۵م کال کې کېښودل شو.

په دې اړه دستګیر پنجشېری وایي: [د خلق دیموکراتیک ګوند لومړنۍ کنګره په (۱۳۴۳، مرغومی، ۱۱) نېټه د ماسپښین په ۲ بجو د نورمحمد تره کي په کور کې چې په کابل ښار، څلورمې کارتې، شېر شاه مېنې کې یې موقعیت درلود، دایره شوه]۶.







څېرونکي وایي چې په همدې لومړنۍ کنګرې کې د ګوند د مشرتابه ترمینځ د اقتدار رقابت او اختلاف ښکاره وو، په څانګړې توګه تره کي، ببرک کارمل او طاهر بدخشي چې په ترتیب سره هر یوه یې ۲۷، ۲۶ او ۲۵ رایې وړې وې کوښښ کاوه چې یوله بله مخکې شي او د ګوند مشرتابه ته ځان ورسوي،




عبدالکریم میثاق چې په لومړۍ کنګرې کې یې ګډون کړی وو، وایي : کله چې د خلق دیموکراتیک ګوند تاسیس شو، په دې ګوند کې د دریو کسانو ترمینځ په رهبرۍ باندی رقابت وو، دا کسان تره کی، ببرک کارمل او طاهر بدخشي څخه عبارت وو، دا

رقابت په دی شکل وو چې هر یوه کوښښ کاوه چې د مرکزي کمېټې غړي د ځان طرفداره کړي او خپل موقف په حزب کې مضبوط کړي، اساسي اختلاف په ظاهره توګه په رهبرۍ وو، او په اصولو کې کوم اختلاف نه وو موجود۷.




دغه اختلاف پر مخ تلو،کارمل چې لا له مخکې د پاچا لوښی ګڼل کیده، نور یې نو پلویان د تره کیانوله خوا شاهي کمونیستان بلل کېدل، د شاه پر ضد د ببرک د مبارزې همدې نسبي پښتوب ګوند په دوه برخو وویشه، په ۱۳۴۶هـ ش ثور کې ګوند عملاً په دوه برخو وویشل شو، د تره




کي په مشرۍ د خلق ګوند او د کارمل په مشرۍ د پرچم ګوند، په ۱۳۴۸هـ ش کې دستګیر پنجشیری، شهرالله شهیر او عبدالحکیم شرعي د کارمل له ډلې جلا او د خلق کارګر په نوم یې ځانته ډلګۍ جوړه کړه، لږ څه وروسته طاهر بدخشی په ۱۳۴۹هـ ش کې د تره کي د خلق ګونده ووت او د ستم ملي په نوم یې ګوند جوړ کړ، بدخشی او نور ستمیان په دې اند وو چې په هیواد کې د طبقاتي ستم تر څنګ پر لږکیو هم ستم شتون لري او پر ضد یې باید مبارزه وشي، له همدې امله دوی په کمونیستي ملي ضد او نشنلیزم ترکیب کې ځای نه شول، داتوليې هغه څانګونې وې چې د غوایي کودتا نه مخکې پیښې شوې وې، تر کودتا وروسته ډېر ژر هغه ایتلاف چې کلونه مخکې د محمدداودخان د پرزولو په خاطر د خلق او پرچم تر مینځ شوی وو، مات شو، په ګوند او دولت کې د کارمل د باند لوړ پوړي خلک تجرید شول، کارمل، نجیب، اناهیتا او داسي نور یې په بهرنیو هیوادونو کې سفیران شول، ځیني څیرونکي په دی اند دي چې دغسې انشعابونه د شوروي اتحاد په لارښونه رامینځته کیدل لکه هنري برادشر په دې اړه وایي چې: د کی جي بي استازو نه یوازې دا چې د کمونیستي ګوندونو تر مینځ څانګونې تشویقولې بلکه د نوموړو الهام ببښونکي هم وو، تر څو په دې ډول د مسکو د موخو لپاره ترې استفاده وشي۸.

خو بیا هم دغه درز لومړنی درز وو چې شورویان یې لږ وځنډل، په دغه مهال کې د خلق ګوند تر مینځ اختلافونو د شوروي اتحاد ګټې ګواښلې، لږ څه وروسته امین پر خپل استاد، د شرق نابغه او خلاق! نورمحمد تره کي کودتا وکړه او د خلقیانو ترمینځ هم نه جوړیدونکی اختلاف پیښ شو، امین له یوې خوا د پرچمیانو بیخ وویسته او له بلې خوا په خپل فکري پلار او ګوندي ملګرو




راوګرځیده، همدغه وخت وو چې شورویانو نور زغم له لاسه ورکاوه، او د افغانستان حالات یې د هجوم له لیده کتل.

دکتور حلیم تنویر په دې اړه وایي: مسکو هم دخلق او پرچم په دې پیچلو مواضعو کې ګیر شو او په مقطعي ډول یې په خپل دریځ کې بدلون راوست، د مسکو لپاره کابل

پلورل شویو مشرانوغلامانو ارزښت نه درلود، دروسانو ټول پام دې خواته وو چې پر سیمه تسلط پیدا کړي او له افغانستانه اقتصادي ګټې تر لاسه کړي ۹.

## ۳ -پر حفیظ الله امین بې اعتمادي :

امین وروسته له هغې چې د شوروي سفارت په مټ د تره کي او امین تر منځ د خبرو اترو په پلمه د خلکو کور! ارګ ته وغوښتل شو، او هلته له نابېره مرګوني بریده روغ




ووت، د پایلې په توګه یې د تره کي په ضد پر کودتا لاس پورې کړ، د انتقام جذبې واخېست، چانداد ته یې امر وکړ چې د تره کي مېشت ځای محاصره او له بهر سره د تره کي اړیکې غوڅې کړي، او بیا یې په هماغه شپه کې د انقلابي شورا غونډه راوغوښته، د تره کي او شوروي سفیر له توطیې یې خبر او له دولتي او ګوندي دندو څخه یې د تره کي په لیرې کولو قانع کړل، هغوی د رایو په اتفاق سره حفیظ الله امین د انقلابي شورا مشر او د ګوند د منشي په توګه وټاکه، امین تر ټولو لومړی تره کي ووژاه او بیا یې د تره کي د فرکسیون ټولو لوړ پوړي چارواکي له دندو ګوښه، او په مرګونو، زندانونو او تبعیدونو یې اړ کړل. څه وخت وروسته یې د شوروي سفیر پوزانوف له هیواده وشاړه، امین په دې کړنو سره ګوند او دولت له یوه شدید بحران سره مخ کړ، له یوې خوا یې د پرچمیانو او د تره کي د ځانګې له خلقیانو سره راخپستي وه، له ملت او اسلامي حرکتونو سره یې هم نا پخلا کیدونکې جګړه په مخکې پرته وه، او د شوروي اتحاد سره یې هم اړیکې ترینګلې او سړې وې،

الف هارون وایي: (د امین نېشنېلیستي او فکري ازادي د روسانو خوښه نه وه، د خلقیانو او پرچمیانو په ټکولو کې هم روسان ترې ګیله من وو، ورته یې کتل، امین یې مسکو ته وباله، ځرنګه چې دی د کی جي بي په توطیو پوه وو دا تګ یې ونه مانه) ۱۰

د شورویانو د اړیکو سوړوالی له هماغه لومړیه د بریژنیف د مبارکۍ له تلګرامه ښکاره وو، دغه تلګرام ته که ځیر شو نو ډېر لنډ وو،

(ملګری حفیظ الله امین! د خپل تقرر له امله زمونږ مبارکۍ ومنۍ، مونږ مطمین یو چې د شوروي اتحاد او افغانستان اړیکې به د دوستۍ د تړون له مخې نور هم پرمختګ وکړي) دغه سړې اړیکې په همدومره لنډو ټکو کې په ښکاره د شوروي د ماښجنۍ او په پټه د ژور انقلابي قهر غمازي کوي، دا ټول هغه څه وو چې شوروي اتحاد یې په افغانستان کې پرزیدونکي سوسیالېزم ته د اوړې ورکولو په فکر کړل.

## ۴ -بې تجربې دولتداري او د ملي پشتوانې تشه :

بله مهمه خبره داده چې غوایي کودتا له هماغه لومړیه کومه ملي ننګه او ملاتړ نه درلود، اصلاً دا به د الفاظو له استعمال سره زیاتی وي چې نوموړې کودتا ته انقلاب وویل شي، دا یوه داسې کودتا وه چې هیڅ راز ولسي خواخوږي او ننګه یې نه درلوده، له یوې خوا ولس مذهبي او اسلامپاله وو، له بلې خوا په هیواد کې د کارګرانو کچه په هغه اندازه نه وه چې د نوموړي کودتا لپاره د انقلاب بنسټونه جوړ کړي، د څیرونکو په اند هغه مهال د ټول هیواد په کچه یوازې څلور




څلویښت زره تنه کارګران شته وو، نوموړیو کارګرانو په عین وخت کې له کلیوالتوب او کرنې سره له مجبورې ورځې ټینګې اړیکې درلودې ځکه یوازې کارګرۍ د هیچا د کور دردونه نه دوا کول، او کارګران اړ وو چې د ژوند تېرولو لپاره ډېرې لارې سره یوځای کړي او ځانونو ته لقمه ډوډۍ پیدا کړي.

په دې اړه ګاریيف احمدوويچ محمود، چې د ډاکټر نجيب الله ستر مشاور او وروسته د شوروي اتحاد د ستر درستيز مرستيال پاتې شوی داسې وايي: ددغه انقلاب د خصوصياتو او دهغه د سرته رسيدو د ميتودونو له مخې په اصل کې دا يو ملي انقلاب نه و، بلکه پوځي کودتا وه، ځکه چې دغه کودتا يوازې د پوځي ټولګيو له خوا چې په کابل کې وه، په انقلابي روحيه سمبالو افسرانو تر مشرۍ لاندې سرته ورسېده او په هغې کې کومو پراخو ټولنيزو سياسي ځواکونو، په تېره بيا د هيواد وګړو ګډون نه و کړی ۱۱.

له بلې خوا د خلق ګوند مشران خام او لنډ پاري وو، په ملي او بين المللي کچه يې عيني واقعيتونه نه شول درک کولای، په دې نه پوهيدل چې له ولس سره په کومه توګه تعامل وکړي، او په دې برسېره يې نړۍ يوازې د ايډيالوژۍ له سترګو کتله، دوی تاريخ نه لوسته او له تاريخه يې نه زده کول، دوی يوازې د لينن کبير او انقلاب کبير تاريخونه لوستي وو، دغو بې تجربې دولتدارانو نه يوازې دا چې ملي ننګه نه درلوده، بلکه پر ملي او اسلامي ارزښتونو ډير انقلابي راو ګرځيدل.

کتلوي مهاجرتونو، اعدامونو، زندانونو، پر خلکو د خلکو د زمکو ويشلو، او تر هر څه مهم دا چې بې رحمو جګړو او ټول وژنو دوی نور هم په خلکو کې تجريد او ګوښه کړل.

جنرال کريوچکوف د کی جي بي پخوانی مشر په دې اړه وايي:ولسمشر(تره کي) په لوړ غږ وويل: هغه څه چې په شوري اتحاد کې په شپېتو کلونو کې سرته رسيدلي په افغانستان کې به د پنځو کالو په بهير کې سرته ورسيږي.

ددې پوښتنې ځواب کې چې د اسلام د سپيڅلي دين په تړاو به دنوي واک دريځ څه ډول وي، ولس مشر داسې وويل: " پنځه کاله وروسته موږ ته راشئ وبه وينئ چې زموږ جوماتونه به ټول تش وي " بايد وويل شي چې همدغه يوه څرګندونه ددې لپاره بس وه چې سړی په دې پوه شي، چې نوی رژيم په ناکامۍ محکوم دی.

په هيواد باندې د سختو سزاګانو، بندي خانو اوترهګرۍ څپه راغله، په داسې حال کې چې په هيواد کې کادرونو ته زښته ډېره اړتيا وه ، پوځيان، په تېره بيا افسران، ددولتي موسسو کارکونکي، ګوندي کارکونکي، د سياسي سازمانونو مشران، د قومونو استازي او ديني اشخاص وژل کېدل.

داسې يوه پېښه تېره شوې چې يو وخت د واکمنو له خوا کابل ته څه دپاسه پنځه سوه تنه قومي مشران ګواکې د خبرو اترو لپاره رابلل شوي وو، هغوی ټول په بې رحمۍ سره له منځه يووړل شول)۱۲.

د پايلې په توګه کله چې نوی رژيم په ناکامۍ محکوم شو نو د سوسياليزم نړيوال ټيکه داران اړ وو چې ننګې ته يې را وړاندې شي، او لاس ورکړي

## د مجاهدينو پر له پسې برياليتوبونه :

کله چې د محمد داودخان په رژيم کې د کمونيستي عمالو کړنو د داود دولت ته د ملت او اسلامي حرکت پر ضد لوری ورکړ، د اسلامي حرکت غړي پاکستان ته په هجرت مجبور کړای شول، تبعيد شول، او مسلح کار ته اړشول، دغې وسله والې مبارزې هغه مهال زور واخيست




چې خلقيانو د خپل محسن محمد داودخان نظام نسکور کړ، ولس د اسلامي حرکت خوا ونيوله، له دولته يې لمن راټوله کړه، او علماو د دولت پر ضد د جهاد فتوا ورکړه، کله چې په ۱۳۵۷/۱۲/۲۴هـ ش نېټې د مسلمانو هيوادوالو پاڅون د هرات ښار انقلابي کړی وو نو خلقي دولت ځان د ملت په مقابل کې بې وسه وکوت، له شوروي اتحاده يې حتی د نظامي تيري غوښتنې وکړې.

په دې اړه په افغانستان کې د شوروي ځواکونو قومندان بوريس ګروموف وايي( د مارچ په ۱۵ مه په هرات کې حکومتي ضد پاڅون پيل شو، په دغه پاڅون کې ستره ونده د پښتنو قبيلو استازو درلوده.. بغاوت ايله د مارچ په شلمه وځپل شو، يوه ورځ وروسته د جلال اباد په ګارنېزيون کې د يوې دسيسې سټه راوسپړل شوه، له ۲۳۰ سرتېرو او افسرانو نه زيات د حکومتي ضد فعاليتونو په تور ونيول شول، دغو پيښنو په کابل کې د انقلابي رژيم شته والی عملاً له خطر سره مخامخ کړ، دغې لانجې ته د مسکو د واک په ډيرو لوړو پوړيو کې هم پاملرنه وګرځول شوه)۱۳.

په دې ډول د تره کي له کودتا نيولې بيا د امين د نظام تر پايه دولتي بنسټونه وښويدل، ډيرې ولسوالۍ د مجاهدينو لاسته ورغلې، حالات داسې روان وو چې په نږدې وخت د دولت د ژر پرزېدو اټکل ترې کيده، شورويانو دا هرڅه په غور څارل او د يرغل لپاره يې د وړ وخت چانس له لاسه نه ورکاوه.

**ايډيالوژيک تصور** :ددې لپاره چې شورويان نړۍ ونيسي، او ولسونه، ګرو او دولتونه د سوسياليستي استعمار تر نيواک لاندې راولي، خپل هر نيواک ته يې د انټر ناسيوناليستي مرستو ښه نوم ورکاوه، هر چېرته به چې کمونستي ګوند او دولت له ماتې سره مخ کېده، نو دوی به چټک غبرګون ښوده او خپلې انټر ناسوناليستي مرستې به يې ور رسولې.




هنري براډشر په دې اړه وايي: مسکو اعتراف وکړ چې د هغوی په يرغل کې ايډيالوژيک ملحوظات هم دخيل وو، په دې اړه د شوروي کمونېست ګوند د سياسي بيورو غړي ويکتور.وي.ګريشن ويلي وو چې: سوسياليستي انټر ناسيونالېزم مونږ اړ کړو چې افغان ولس سره د ثور انقلاب په لاسته راوړنو کې مرسته وکړو)۱۴.

په همدې توګه ليونيد بريژنيف د شوروي د کمونست ګوند ارګان پراودا سره په يو مرکې کې د يرغل ايډيالوژيکوالی په دې تورو بيان کړی وو: چې که شوروي د افغانستان د حکومت غوښتنې ته ځواب نه وای ويلای نو ددې مانا به دا وای چې هغه هيواد دې پريښودل شوای وای چې امپرياليزم ښکيل کړی وای، او تيري کونکي ځواکونه يې خوشې کړي وای چې په افغانستان کې هغه څه تکرار کاندي چې هغوی يې په چلي کې په کولو برياليي شول او د خلکو ازادي په وينو کې ډوب شوه)۱۵.

**۷ -شورويانو د اسلام نه ويره:** شوروي اتحاد ويره درلوده چې هسې نه په افغانستان کې د




اسلامي حرکت په پياوړيتوب سره د منځنۍ اسيا په ويدو ولسونو کې د خپلواکۍ او اسلامي ژوندۍ کېدنې روح پيدا او پراختيا ورکړل شي، د رونالد ريګن په کابينه کې د دولت وزير جنرال الکساندر هېګ په ۱۹۸۸ کې د يوه روسي ژبي ژورنالېست سره په مرکې کې د روسيې همدغه اسلاموفوبيا په دې ډول بيان کړې وه چې: شوروي به افغانستان باندې له دې خاطره يرغل وکړ چې په خپلو سهيلي پولو کې د يوه بنسټ پاله اسلامي کمربند د تينګيدو مخه ونيسي... د افغانستان او شوروي تر منځ د امو سيند يواځينۍ نړۍ پوله پرته ده، او له دې کبله به ستاسو په سهيلي پولو کې هر يو برياليی اسلامي غورځنګ هرومرو د شوروي پر اسلامي جمهوريتونو اغېزه وکړي.. زه د بريژنيف په منطق پوهيږم ۱۶.

**۸ -د لويديز لاس** :د ځينو په وينا افغانستان ته د شورويانو په راکشولو کې د لويديز پلانونې کار وکړ، ددغه فکر لارويان وايي چې له يرغله ډېر پخوا امريکا په دې کار کاوه چې د شوروي لپاره د سيمې د نيواک زميني برابرې کړي، او په دې ډول ترې د ويتنام د ماتې کسات واخلي،

هغه مهال امریکایانو له یوې خوا د افغانستان جغرافیایي موقعیت او له بلې خوا د افغانانو اسلامپالنه او د نیواک ضد احساسات ښه پېژندل، او داسې اټکل یې کاوه چې که ددغو ټولو نیواک ضد اسانتیاو سره بیا د اسلامي-عربي هیوادونو،امریکا او اروپا مرستې یو ځای شي، نو د ویتنام د بدې ماتې پیغور به ومینځي.

دخلق جنایتکاره ګوندشوروي یرغل ته راکش کړو، خو د یرغل په اړه د خلق ګوند د مختلفو څانګو په موقفونو کې کوم اختلاف نه وو موجود، ګوند کمونیستي موخې اوسیر درلود، په لېنن یې درودونه ویل، له مارکسېزم او لېنینېزم نه یې خبرې کولې، او په انټر ناسیونالیزم یې ایمان درلود، د انټرناسیونالیستي فلسفې په مقابل کې ملي حاکمیت او خپلواکۍ کوم ارزښت نه درلود، په ټوله کې د خلق ګوند ټولو ګروپونو په ایډیالوژیک ډول له دغې یرغل سره کوم مخالفت نه شو کولای.

کله چې تره کي له شوروي اتحاده د نظامي مرستو غوښتنه کوله نو کاسیګین یې په ځواب کې وویل چې: ماله تاسو نه د همدغسې یوه ځواب تمه درلوده، مونږ سره ملګري یو. مبارزه مو شریکه ده، یو له بله شرم کول نه دي په کار، ټولو شیانو ته باید له همدې زاویې وکتل شي

ځینې خلک سطحي انګیري چې ښایي د خلق ګوند کوم ځانګړی شخص به ددې یرغل بلونکی وي، دا سمه ده چې پرچم څانګې او په سر کې یې د کارمل غوندې مشر ته ددې زمینه برابره شوه چې د شوروي یرغل احسان ته یې ورمیږ کوږ شي، که نه دغسې مرستې د کمونېزم په قاموس کې د ویاړ ځای لري، هغه مهال چې د هرات ولسي پاڅون په اوج کې وو خلقي مشران د ملت په مقابل کې خپل پیاوړتوب ټکنی ولید، نو سم له واره یې له شوروي اتحاده د نظامي یرغل غوښتنې وکړې، ددې مدعا ښه ثبوت د همدغه پاڅون په اوج کې د کاسیګین او تره کي د مخابراتي خبرې دي:

تره کي او کاسیګین د تیلفوني خبرو متنغوره شوې لیکنه :مقالې




دغه پاڼه مې د امریکا د ملي امنیت په ویبپاڼه کې پیدا کړه، لوستل یې ما ته په زړه پورې و. انګلیسي متن یې ما وژباړه چې ستاسې سره شریکوم.(عبدالکریم رحیمزی ۲۰۱۹م)

د ۱۹۷۹ کال د مارچ په ۱۷ یا ۱۸ د شوروي اتحاد صدراعظم الکسي کاسیګین او د افغانستان جمهور ریس نور محمد تره کی ترمنځ د تیلفوني خبرو متن

کاسیګین له ملګري تره کي څخه: د افغانستان حالات په لنډه توګه څرګند کړئ.

تره کی: حالات خراب دي او نور هم په خرابیدو دي.

کاسیګین: آیا تاسې د کارګرانو، ښاریانو، نیمه بورژواو او د هرات په ملکي کارکوونکو کې ملاتړ لرئ؟ آیا څوک ستاسې په خوا دي؟

تره کی: د وګړو په منځ کی موږ کوم فعال ملاتړ نه لرو. تقریباً دوی ټول د شیعه وو د شعار- په ملحد پسې مه ځه، مونږ پسې لاړ شئ

تره کي: ډیر کم. په ټولیزه توګه، د زر څخه تر دوه زره کسان.

کاسیګین: په راتلونکې کې د څه شي امکانات شته؟







تره کی: موږ باور لرو چې دښمن به نوي واحدونه جوړکړي او یرغل ته به چمتو شي.

کاسیګین: آیا تاسې د دوی د نابودولو لپاره قوه نه لرئ؟

تره کی: کاشکي چې داسې وای.

کاسیګین: نو ستاسې وړاندیزونه د دې موضوع په هکله څه دي؟

تره کی: موږ د داسې عملي او تخنیکي مرستې غواړو چې خلک او مهمات په کې شامل وي.

کاسیګین: دا یوه پیچلې موضوع ده.

تره کی: د همدغسې پلان په اساس ایران او پاکستان زمونږ په ضد کار کوي. که تاسې په هرات یو پریکنډه یرغل وکړئ، نو دا امکان شته چې انقلاب وژغورل شي.

کاسیګین: ټوله نړۍ به سمدلاسه په دې باندې خبره شي. یاغیان سیارې مخابرې لري او دوی به مستقیماً راپور ورکړي.

تره کی: زه ستاسې د مرستې غوښتنه کوم.

کاسیګین: مونږ باید په دې هکله مشوره وکړو.تاسي د ایران له مترقیانو سره اړیکي نه لرئ؟ تاسي دوی ته نه شی ویلای چې په اوسني وخت کی امریکا زموږ او ستاسی اصلي دښمن ده؟ ایرانیان امریکا ته د دښمن په سترګه ګوري نو د دغه نه کیدای شي د پروپاګند کار واخیستل شي.د پروپاګند په تړاو، تاسی زمونږ څخه د بهرنۍ پالیسۍ کوم فعالیتونه او یا اعلامیې غواړئ؟ تاسی د دې پوښتنې په ځواب کی څه نظر لرئ؟

تره کی: د پروپاګند مرسته باید له عملي مرستې سره یو ځای وي. زما وړاندیز دا دی چې تاسی په خپلو ټانکونو او الوتکو افغاني نښانونه ولګوئ، نو هیڅوک به پوه نه شي.ستاسي قواوې دې د کوشک او کابل له لوري پرمختګ پیل کړي. زمونږ په نظر، هیڅوک به پوه نه شي، خلک به فکر کوي چې دا دولتي عسکر دي.

کاسیګین: زه نه غواړم تاسي ناهیله کړم، خو د دغه کار پټول امکان نه لري. دوه ساعته وروسته به ټوله نړۍ خبره شي. ټول به ناري وهي چې شوروي په افغانستان یرغل پیل کړ. که چیرې مونږ په چټکۍ ټانکونه، هاونونه او مهمات د هوا له لارې درولیږو، آیا تاسي داسې کسان لرئ چې له اسلحو نه کار واخیستلای شي؟

تره کی: زه دې پوښتنې ته ځواب نه شم ورکولی. روسي مشاورین کولای شي دې پوښتنې ته ځواب ورکړي.

کاسیګین: په سلګونو افغان افسران په شوروي اتحاد کي روزل شوي دي، دوی اوس چیرته دي؟

تره کي. د دوی ډیری یې مسلمان مرتجعین دي. مونږ پر دوی تکیه نشو کولای. مونږ په دوی باور نه لرو.

کاسیګین: که چیرې مونږ په چټکۍ سلاح د هوا له لارې درولیږو، آیا تاسی کولای شئ چې پنځوس زره نور کسان عسکری ته جلب کړئ؟ څومره عسکر جلب کولی شئ؟

تره کي: د دغسې جلب هسته د متوسطه ښوونځیو غټو زده کوونکو، د لیسو زده کوونکو او یو لږ شمیر کارګرانو څخه جوړیږي. د کارګرانو شمیر دلته کم دی خو د دوی روزنه به اوږد وخت ونیسي. که اړتیا وي، مونږ به هر راز اقدام ته مخه کړو.

کاسیګین: مونږ پریکړه کړې چې زر تر زره نظامي وسایل درولیږو او ستاسی هیلي کوپټر او الوتکي ترمیم کړو. دا ټول وړیا دي. مونږ دا پریکړه هم کړې ده چې سل زره ټنه غله درولیږو او د یو متر مکعب ګاز بیه له یوویشت ډالره څخه اوه دیرش ډالرو ته اوچته کړو.

تره کي: ډیر ښه، خو راځئ د هرات په هکله وغږیږو. ولې شوروي اتحاد ازبک، تاجک او ترکمن په ملکي جامو کی نه رالیږي؟ هیڅوک به یې و نه پیژني. مونږ غواړو چې تاسی دوی راولیږئ. دوی دې افغاني یونیفورم، چې افغاني نښان ولري، په تن کړي نو هیڅوک به دوی و نه پیژني. زمونږ په نظر، دا ډیر آسانه کار دی. که د ایران او پاکستان تجربې ته وګورو، دا ډیر آسانه کار دی. دوی مونږ ته وښودو چې داسی کار شونی دی.

کاسیګین: تاسي دغه موضوع ډیره ساده ګڼئ. دا یوه پیچلې سیاسي او نړیواله موضوع ده. خو بیا هم، مونږ به مشوره وکړو او تاسي ته به خبر درکړو.

تره کی: مونږ ته پیاده جنګي ګاډي د هوا له لارې راولیږئ.

کاسیګین: تاسي د دغو وسایلو د چلولو لپاره خلک لرئ؟

تره کی: موږ به د دیرشو، پنځه دیرشو وسایلو لپاره خلک پیدا کړو.

کاسیګین: دوی باوري کسان دي؟ دوی به له وسایلو سره دښمن ته ونه تښتي؟ خو ګوره، زموږ ډریوران په ژبه نه پوهیږي.

تره کی: مونږ ته دغه وسایط له ډریوانو سره، چې زموږ په ژبه غږیږي، راولیږئ، تاجک او ازبک.

کاسیګین: ما ستاسی څخه د همدغسې ځواب تمه لرله. موږ سره ملګري یوو او ګډه مبارزه کوو نو زموږ او ستاسی په منځ کی باید تشریفات نه وي او موږ ته له دې څخه هیڅ څه ډیر مهم نه دي.

(لومړی پانه په لاس لیکلی دغه یادښت لري: د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو د مارچ ۱۹ په ناسته کي، ملګري کاسیګین د ټیلیفوني خبرو متن د مرکزي کمیټې د منشیانو په حضور کی ولوست.)




منبع: په مسکو کي د روسیی تلویزون شبکه، د خاصو دوسیو پرګرام.۱۸

او بیا چې کله کاسیګین د شوروي کمونیست ګوند په سیاسي بیورو غونډې کي له تره کي سره د خپلو خبرو په اړه معلومات شریکول نو یې وویل: له امین سره چې مې خبرې کولې، هغه هم هرات ته د پوځونود لیږلواودغلیم دماتولوغوښتنه لرله..امین ماته وویل چې افغاني انقلاب له غټوخنډونو سره مخ شوی اوژغورنه یې اوس یوازې د شوروي اتحاد په لاس کې ده ۱۹.

جنرال کريوچکوف وايي: دواړو سياسي ځواکونو (خلق او پرچم) دا هڅې کولې چې په افغانستان کې مونږ پوځې شتوالی ولرو، خو د بحران په له منځه وړلو کې هر يوه لوري شوروي پوځ ته مخالف رول ورکاوه ۲۰.

دا ټول استنادونه د شوروي اتحاد د انټر ناسيوناليستي مرستو په مقابل کې د ټولو خلقي پرچمي لوريو پر يووالي او قناعت دلالت کوي، خو له بلې خوا داسې شواهد هم شته چې ښايي امين د نورو په نسبت خپلسری وو، هنري برادشر په دې اړه وايي چې: امين په ۱۹۷۹ سپتمبر په نهمې ويلي وو چې مونږ په دې وياړو چې له هيڅ خارجي هيواده مو نه دي غوښتي چې زمونږ له پاره دې وجنګيږي. دا خبرې د هغه او د نوموړي د بهرنيو وزير شاه ولي له خوا د دسمبر تر نيمايي پورې څو وارې تکرار شوې ۲۱.

له دغه يرغله تقريباً درې ورځې مخکې د شورويانو لښکرې او نظامي مرستې د کابل تاشکند هوايي ليکې له لارې هيواد ته را شېوه شوې، ويل کيږي چې دا هرڅه له امين سره په ګډ تفاهم تر سره کيدل، د شوروي يرغل د پيلېدنې په درشل کې شوروي سفير له حفيظ الله امين سره په ليدنه کې افغانستان ته د شوروي فوځونو راليږلو خبره ياده کړې وه، جنرال لياخو فسکي، وايي چې په همدې وخت کې په کابل کې شوروي سفير مخکې تر مخکې حفيظ الله امين ته خبر ورکړ چې شوروي پوځونه افغانستان ته د راتلو په لاره کې دي، او امين هم لارښوونه کړې وه چې له هغوئ سره دې هر اړخيزه همکاري وشي. شورويانو امين په دې قانع کړی وو چې دوی د امين له نظامه پر ننګې خپلې لښکرې را ستولي دي، خو په پټه يې نور غوښتل چې ( حفيظ الله امين دې له څوکئ څخه ګوښه کړی شي او پرځای دې داسې خلک ورته وټاکل شي چې له شوروي اتحاد سره ټينګې او ډادمنې اړيکې ولري، دې ته چمتو وي چې کابل ته ستانه شي او دولتي کودتا وکړي) ۲۲ ددغسې پټو کړنو تر ټولو غټه هيله له کارمل او ځينو مرورو خلقيانو کېده، د يرغل نه څه موده مخکې د تاجبېګ يا دارالامان ماڼئ رغول شوې وه او امين ورته د اوسيدو په خاطر ور انتقال شوی وو، امين په داسې حال کې چې په دغه ورځ يې خپلو ګوندي ملګرو ته ډوډئ کړې وه، په ډوډئ کې د بې هوښئ دوا ورکول شوه، امين د معالج ډاکټر تر درملنې لاندې وو چې په همدې مهال کې پر ماڼئ ډزې پيل شوی، دغه بريد د شوروي کوماندو ځواکونو ځانګړې قطعې چې زينت نومېده وکړ، د قطعې قومندان د کی جي بي يوه مامور جنرال ويکتور پاپوتين وو، دوی کابل ته د سفارت د ساتنې په پلمه تللي وو، کله يې چې عمليات پيل کړل د پاپوتين له لارښوونو سره سم هر هغه څوک چې له ماڼئ راوته بايد له مينځه يووړل شي، د عملياتو په پای کې پاپوتين له ماڼئ بيرون ته د تلو په مهال کې خپله هم له مينځه ولاړ، د حفيظ الله امين د مېرمن په وينا:( کله چې روسان پاس راوختل، ماشيندارې يې تاوې کړې نو ملالئ، ګلالئ او خوازک ولګېدل، لومړی چې راوختل د امين صاحب عکسونه يې په لاس کې وو غوټئ مخې ته ورغله ورته يې ووېل تاسو فير کوئ او دلته امين صاحب دی، ويل يې کوم دی؟دباندی يې چې وليدل چې هلته ناست دی فير يې پرې وکړ او ويې ويشت)۲۳.



نور نو امین خپل انجام ته رسول شوی وو ، او د ۱۳۵۸ مرغومي په شپږمه د ببرک کارمل وینا د ترمذ له ښاره د کابل راډیو په څپو واورول شوه،کارمل داسې وښوده چې ګوندی دی له مخکې په کابل کې وو او د انقلابي شورا په مټ یې امین د ګوند او نورو دندو لیرې کړ، نوموړي ددې ښکارونه هم وکړه چې د امین له لیری کولو وروسته یې له شوروي اتحاده د مرستې غوښتنه وکړه،

د غوايي کودتا په کولو سره چې د شوروي انټرناسیونالېزم مرستو لپاره کومه مقدماتي کودتا شوې وه، قدم په قدم د شوروي د ستراتیژیکوګټو په چوپړ کې پر مخ ولاړه، نورې کودتا ګانې وشوې او بالاخره شورویانویرغل وکړ،نورنوهیواد دازادو هیوادنو له کتاره ووت او د شوروي اتحاد تر نیواک لاندې د غریب هیواد ولس په یوه شدید مقاومت لاس پورې کاوه.

## نړیوال غبرګون او د ملکرو ملتونو موقف

کله چې شوروي اتحاد یرغل وکړ، نړۍ له یوه انجام شوي عمل سره مخ شوې وه، په مجموع کې د




وارسا پورې تړلو هیوادونو پرته نورو ټولو هیوادونو نوموړی یرغل وغانده او د هیواد له ملي مقاومته یې په مختلفو ښو سره ننګه وکړه، کله چې شوروي اتحاد خپلې لښکرې په ګران افغانستان کې پلې کړې، نو تر ټولو لومړی پاکستان د یرغل په دویمه ورځ خپله ژوره اندیښنه وښوده او له هیواده یې د شوروي اتحاد د لښکرو د بې قید وشرطه وتلو غوښتنه وکړه، جنرال ضیا الحق ددوه کلونو لپاره د امریکا نظامي مرستې چې هر کال له سلو میلیونو سره سمې وې بیخي لږې وګڼلې، نوموړي د خپلې څلور لکیزې اردو د ښې روزنې او تربیې په خاطر د وسلو غوښتنه وکړه، او ورسره په څنګ کې یې د ۱۹۸۰ جنوري ۲۷-۲۹ پورې په اسلام اباد کې د اسلامي هیوادونو بهرنیو چارو وزیرانو بیړنۍ غونډه راوغوښته غونډې ته د مجاهدینو استازي د ایران د بهرنیو چارو وزیر صادق قطبزاده په هیئت کې ګډ لاړل، اصلاً کوښښ ددې وو چې په غونډه کې د افغانستان په استازیتوب باید مجاهدین برخه واخلي، خو ځینو تش په نوم اسلامي هیوادونو لکه سوریې، عراق، فلسطین او جنوبي یمن لومړې ددې




کوښښ وکړ چې د مجاهدینو د استازیتوب مخه په ټول قیمت او زور ونیسي او حق یې د کابل ګوډا ګي ته خوندي کړي، بل کوښښ یې دا وه چې باید د غونډې په اجنډا کې د لومړیتوب حق د فلسطین او اسراییلو شخړو ته ځانګړی کړي خو د غونډی د ګډونوالو د اکثریت له پرېکړې سره سم د کابل رژیم څوکۍ وځنډول شوه، او د لومړیتوب حق پر افغانستان د شوروي یرغل پیښې ته ځانګړی شو، ددې غونډې په ترڅ کې ۳۵ هیوادونو شوروي یرغل وغانده، او له قیدو شرطه پرته یې د شورویانو د وتلو غوښتنه وکړه، دوی همداراز له اسلامي هیوادونو وغوښتل چې د کارمل رژیم په رسمیت ونه پیژني، غونډې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر اغاشاهي په مشرۍ درې کسیزه کمېټه جوړه کړه او دنده یې ورکړه چې د قضیې سولیز حل ولټوي.

د سعودي پاچا ملک خالد نوموړي یرغل پر اسلامي افغانستان استعماري تجاوز وګڼه، مصر یرغل وغانده او د ټانګ ضد راکټونه او نورې شوروي وسلې یې مجاهدینو ته په لاس کې ورکړې، چین هم په سختو ټکو کې یرغل وغانده او ویې ویل چې شوروي په یوه مستقل هیواد نظامي تیری کړی او د نوموړي هیواد دولت یې د تشدد له لارې رنګولی دی.

ایران په دریمه ورځ خپل موقف روښانه کړ، قطبزاده د ایران د بهرنیو چارو وزیر مطبوعاتي کانفرانس ورکړ او شوروي یرغل یې وغانده، قطبزاده وویل: د ایران د حکومت اعتراض د سیاسي قدرت د ساتنې په خاطر یو سیاسي مانور نه بلکه هدف یې د هغو ځواکونو پر خلاف یو سیاسي مانور دی چې غواړي پر یوه مسلمان هیواد تجاوز وکړي۲۴.

امریکا چې د افغانستان په شمال کې یې د شوروي اتحاد مانورې له مخکې ځارلې خپلې اندېښنې وار له مخکې څرګندې کړې وې، خو شوروي اتحاد دا هرڅه د معمول کړنې ګڼلې، کله چې حمله وشوه، د امریکا د متحدو ایالتونو لومړنی عکس العمل داوو چې ولې شوروي لوري له دوی سره د یرغل په اړه وار له مخه سلا نه ده کړې؟ همداراز یې ویلي وو چې شورویانو ولې یو قانوني ولسمشر وواژه؟ او د ملګروملتونو د ۵۱ مې مادې په اړه چې شورویانو د خپل یرغل د مشروعیت په اړه پرې استناد کاوه، وویل چې که امین دغسې غوښتنه کړې وه، ولې نو ووژل شو؟ کارتر لومړی یوازې دا ویل چې مسکو باید د خپلو سیاسي کړنو حاد عواقب ووینې خو د جنوري په دویمه یې د ملي امنیت په غونډه کې د شورویانو پر ضد د سیاسي او اقتصادي تدبیرونو دواړو خبره وکړه، محافظه کارو سناتورانو له کارتر نه په وار وار غوښتل چې د اتومي وسلو د تحدید تړون (سالټ ۲) خبرې اترې دې په ټپه ودرول شي، کارتر د جنوري په څلورمه ملت ته په وینا کې د شوروي یرغل پر ضد له شپږ ګونو بندیزونو یادونه وکړه:







۱ -په شوروي اتحاد کې د نویو کونسلګریو د پرانېستنو ځنډول.
۲ -دکلتوري او اقتصادي مبادلاتو ځنډول.
۳ -د دواړو هیوادونو تر مینځ پر تجارت شدید بندیزونه.
۴ -د امریکا د متحدو ایالتونو په اوبو کې د شوروي اتحاد د کښتیو په وړاندې خندونه پیدا کول.
۵ -په شوروي اتحاد د ۱۷ ټنو غنمو د خرڅلاو لغوه کول، خو ریګن وروسته د امریکایي بزګرانو د مخالفت له امله بیرته نوموړی تحریم لغوه کړ.
۶ -په مسکو کې د ۱۹۸۰ کال په دوبي کې د اولمپیک په لوبو کې نه ګډون کول، په نوموړو لوبو کې پر امریکا برڅیره ۵۹ نورو هیوادونو هم ونډه وا نه خیسته ۲۵.

اروپایانو هم د تجاوز پر ضد موقف درلود، خو د امریکا غوندې تېز نه، حتی د بریتانیې پارلماني کمېټه د امریکا د شپږ ګونو بندیزونو سره هم چنداني موافقه نه وه، ډېری اروپایي هیوادونو ویل چې د (سالټ ۲) خبرې اترې دې نه بندیږي، سره له دې چې ځینو اروپایی هیوادونو له شوروی اتحاد سره د تجارتي اړیکو پر محدودیتونو تمرکز کاوه خو د ۱۹۸۰ کال په لومړیو نهو میاشتو کې د المان صادرات د پخوا په نسبت ډېر شول، ولې نوموړي هیواد د اولمپیک لوبو کې له ګډونه انکار وکړ، اروپایي هیوادونو ددې هڅه هم وکړه چې د شوروي تیري په اړه د ناټو دریځ ته داسې لوری ورکړي چې له امریکا سره توپیر ولري، له همدې امله وو چې ناټو د شوروي یرغل حل لاره له سیاسي پلوه غوره بلله.

د شوروي یرغل پر ضد د خلکو سترګې د ملګرو ملتونو لورې ته اووښتې وې، خو خوارکي ملتونه د امنیت شورا د پینځو دایمي غړو(امریکا، روسیه،چین،برتانیااوفرانسه) په لاس کې ډېر بد ښکیل دي، له دغو غړو هر یو یې د امنیت په شورا کې د ویټو حق لري، اصلاً ملګري ملتونه تش په نوم جوړښت لري، او د استعماري هیوادونو د استعماري موخو لپاره د جواز او اسانتیاوو جوړولو کردارونه لوبوي، همدا لامل وو چې هر وار به د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د شوروي یرغل پر ضد مسوده وړاندې کېده نو د شوروي اتحاد له ویټو سره به مخ کېده، په دې اړه شوروي اتحاد په نیویارک کې د ملګرو ملتونو لپاره خپل استازي ته په یوه اشد محرم مکتوب کې لارښونه کوي چې: که څوک هڅه وکړي، د امنیت په شورا کې په افغانستان کې زمونږ اقدامات مطرح کړي، زیات ټینګار وکړئ چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د غونډې په اجنډا کې ددې موضوع د شاملولو مخه ونیول شي ۲۶. ،



دشوروي اتومي وسلو مؤسس اندري سخاروف وايي چې يوازې د شورې (ويټو) ددې مخه ونيوله چې د امنيت په شورا کې شوروي مجازات شي۲۷.
ملګرو ملتونو د ۱۳۵۸ د مرغومي په ۲۴ مه بيړنۍ غونډه وکړه، او د ۱۸ رايو په مقابل کې د ۱۰۴ رايو په ورکولو سره يې له افغانستانه د شوروي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه، په ۱۳۵۹،۸،۳۰ ملګروملتونو د دويم ځل لپاره د غونډې په ترڅ کې د ۱۱۱موافقو، ۲۲مخالفو، او ۱۲ ممتنعو رايو په ورکولو سره د شوروي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه، په مجموع کې تقريباً د شوروي تيري نه وروسته اته ځلې ملګرو ملتونو د خپلو غونډو په ترڅ کې نه يوازې شوروي يرغل غندلی بلکه له افغانستانه يې د شوروي لښکرو د وتلو، د افغانستان د خپلواکۍ، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا د بيا راګرځيدنې په اړه په قاطع اکثريت سره پريکړې کړي دي، خو دا چې نوموړو پريکړو کوم اجرايوي بنسټ نه درلود، نو يې په شوروي لوري کوم ځانګړی اغيز هم نه درلود، يوازې د يوه سياسي او اخلاقي فشار په توګه ترې نړيوالې ټولنې ګټه اخيسته.

## د شوروي دننه غبرګون

په شوروي کې دننه حالات ډېر بوږنوونکي وو، د بيان او مطبوعاتو ازادي نه وه، يو ګونديز سيستم حاکم وو، اپوزيسيون شتون نه درلود، او کا، جي، بيKGB هر مخالف په ډېر لنډ وخت کې ځپه، نه يوازې مخالف بلکه د ستالين په مهال خو يې د ګوندي تصفيې په نامه په زرګونو کمونستان چارماري کړل، نو په دغسې يوه حالت کې به چې چا هم د نظام پر ضد خوله پرانېسته يابه وژل کيده، يابه زنداني کيده او يابه تبعيد بده، د هغه ځای له پيښو بهر دنيا يوازې له هغه څه نه خبريده چې شوروي تاس به خلکو ته وايه، ازادې ميډيا اصلاً شتون نه درلود، ښايي له شوروي يرغل سره ډېرو شوروي منځلارو مخالفت ښودلی وي، خو د ازادو رسنيو د نه شتون له امله پرې څوک نه پوهيدل، شوروي اتحاد يو لوی زندان وو چې بهرنيان يې له حالته نه خبريدل، خو بيا هم هلته داسې ځواکمنې کړۍ وې چې په خپلې بوګنونکې خاموشۍ يې وروسته بيا پښيماني ښودلې وه لکه د ازبکستان نامتو ليکوال عبدالرشيد نور مرادوف چې اعتراف کوي: مونږ نن په دې پوهيږو چې د افغاني جګړې په اور بلولو کې څوک ملامت دي، خو مونږ ټول هم ملامت يو، ځکه چې پټه خوله وو ۲۸.
له دغې يرغل سره په مخالفت کې د نوبل جايزې ګټونکی او د هايدروجني بم طراح او پلار اندري ديمتريويچ سخاروف له شوروي يرغل سره مخالفت وکړ، نوموړي د (دې ولټ) ورځپاڼې خبريال مومنديل ته په شوروي اتحاد کې د کيدونکو اولمپيک لوبو په اړه خپل دريځ داسې ووايه: د المپيک پخواني قوانين په څرګنده وايي چې د المپيک د لوبو په بهير کې بايد جګړه بيز عمليات ودريږي، شوري اتحاد بايد د افغانستان له خاورې څخه خپل پوځونه راوباسي، که يې له دغه کارڅخه سرغړاوی وکړ، د المپيک کمېټه بايد په هغه هيواد کې له لوبو څخه ډډه وکړي چې په جګړه بوخت دی ۲۹.
وروسته يې بيا د نيويارک ټايمز له خبريال انتوني استين سره مرکه وکړه، او د يرغل پر ضد يې خپل موقف په کې څرګند کړی وو، نوموړې مرکه په وار وار له امريکاغږ څخه خپره شوه، او په عامه افکارو يې پراخه اغېزه وکړه، له همدې امله شوروي اتحاد اړ شو چې له اندري سخاروف ټول دولتي نښانونه واخلي او کورکي ته يې تبعيد کړي.
سخاروف په ۱۹۸۰ کې بريژنيف ته پرانېستې ليک هم وليکه او په ترڅ کې يې له لنډې مقدمې وروسته د شخړې د سياسي هوارې په لړکې ۷ ماديز وړانديز کړی وو چې ځينې يې په دې ډول دي:
۱ -شوروي او مليشه دې اوربند اعلان او د روغې جوړې ترون دې لاسليک کړي.
۲ -شوروي دې اعلان کړي، چمتو دی، په بشپړه توګه خپل پوځونه، په داسې ډول له افغانستانه باسي چې ځای به يې د ملګرو ملتونو پوځونه نيسي.

٣ -ملګري ملتونه، د خپلو پنځو دايمي غړيو په وجود کې، د افغانستان د نا پييلتوب، خپلواکۍ او سولې تضمين کوي، کيداى شي، په دې بهير کې د افغانستان ګاونډي هيوادونه هم ګډون ولري ٣٠.
هغه مهال په پوځ کې هم ځنې کړۍددې يرغل له پايلو بوږنېدل، او ورسره مخالف وو، جنرال لياخوفسکي په دې اړه وايي: هو، په دې کې شک نه شته چې د شوروي اتحاد د وسله والو پوځونو د ستر درستيز مشرتابه لکه ن.و.اګارکوف، س.ف.اخراميیف، و.اى. ورينيکوف او دغه راز د پلو ځواکونو لى قومندان ستر جنرال اى.ګ.پاولوفسکي د شوروي اتحاد د سياسي مشرتابه له خوا د وروستۍ پريکړې تر کېدو پورې د پوځونو له لېږلو سره مخالفت کاوه... ٣١

## اسلامي حرکت د ملي مقاومت نوښتګر

په ١٣٥٢ ل کال کې چې داودخان کودتا وکړه، له يوې خوا يې د يو ګونديز نظام په را مينځته کولو سره پر ملت جمهوري ديکتاتوري وتپله، له بلې خوا يې د کمونستانو په مټ او غوښتنې اسلامي حرکت چې هغه مهال د (مسلمان ځوانان) په نوم ياديدل، تر کلکو پوليسي



شهيدانجنرحبيب الرحمن

تعقيبونو لاندې ونيول، اصلاً د داودخان هماغه لومړۍ ملت ته وينا پر مسلمانو ځوانانو د کړۍ د تنګولو الهام ورکاوه، د کمونيستي ترمينالوژۍ او ويونو کارولو او د ارتجاع د ټکولو مانا ګاني اسلامي حرکت ډېرې ښې تحليلولاى شوې ( لکه اوس وخت کې مجاهدينو ته دهشت ګرد او يا تروريستانو الفاظ استعماليږي )،
پيښې د خلق ګوند د مرام او مرحله ايزو توطيو سره ډېرې په توافق سره پر مخ تلې، د اسلامى حرکت په پلويانو زمکه سره شوه، زندانونه پرې ډک شول، او بالاخره په هجرت کولو اړ کړاى شول، دولت د اسلامي حرکت د سر سړي او مشران په ډېر فاجعانه توګه شهيدان کړل.
په لومړۍ مرحله کې يې انجينير حبيب الرحمن د کودتا په تور محاکمه او د ٢٣ کلونو په عمر يې د کودتا د لومړي کس په توګه په شهادت ورساوه، د



شهيد ډاکتر محمد عمر | شهيد خواجه محفوظ منصور | شهيد مولوى حبيب الرحمن

داودخان جبر او کمونيستي عمالو پرېکړو د دولت پر ضد د ١٣٥٤ کال وسله والو عملياتو ته لاره هواره کړه، په دغې مرحله کې مولوي حبيب الرحمن، ډاکټر محمدعمر، او خواجه محمد محفوظ منصور د وسله وال پاڅون په تور بنديان او د ديوان حرب د پرېکړې له مخې چې په ځوکيو يې کمونيستان ناست وو شهيدان شول.
په دې ډول د مقاومت سلسله پيل شوه، په دې مرحله کې مقاومت يوازې د حرکت د پلويانو پورې ايسار شو، ملت ورسره دومره ننګه نه وه، خو کله چې په ١٣٥٨ کال کې د غوايي کودتا پيښه شوه، کرار کرار مقاومت پراخېده، خلقي-پرچمي نوکيانو دا ځل اعلان کړى وو چې (سر مو په ټولو!) دوئ دې ته نه کتل چې څوک د اسلامي حرکت غړى دى که نه خو د ديندار، زمين دار، او مالدارپه تورونو يې پر خلکو د هغه مهال نوى جوړ شوى د څرخي پله زندان ډک کړ، د مسلمانو هيوادوالو له شخصي ملکيتونو نيولې تر مذهبي ازاديو پورې هرڅه محدود شوي وو، هر ديندار ته به د اخواني لقب ورکول کيده، او په همدې نوم يې په زرګونو خلک په کتلوي شکل سره شهيدان کړل، په هيواد کې پراخو تعذيبونو، ټول وژنو، او کتلوي شړنو ولس د دولت پر ضد د وسله وال پراخه مقاومت په بريد ودراوه، ډيرى هيوادوال پاکستان ته مهاجر شول، دا مهال د اسلامي حرکت مشران او فعالين چې په تبعيد کې يې د خلقي رژيم پر ضد وسله واله مبارزه تنظيموله، په مختلفو تنظيمونو ويشل شوي وو، دوى په خپلو تنظيمونو کې مهاجر افغانان منظم او جذب کړل، او په دې ډول اسلامي تنظيمونو د خلقي دولتونو پر ضد پراخه

مقاومت د مهاجرو افغانانو په مټ ولسي او ملي کاوه، او د پايلې په توګه يې د امين رژيم نزدی وه چې د مجاهدينو په لاس سقوط وکړي، همدغه مهال وو چې شوروي اتحاد لښکرو په ګران هيواد يرغل وکړ، او ببرک کارمل دغه د افغانستان د بدمرغۍ او غلامۍ معاصر بنسټګر د (کی، جي، بي) د الفا ګروپ په ساتنې کې کابل ته ورسول شو، په پيل کې يې ټول سياسي بنديان خوشې کړل، او مهاجرينو ته يې د عفوې په اعلانولو سره د بېرته راستنيدلو بلنه ورکړه، خو نور د اسلامي خاورې نه په دفاع کې افغاني ملاتړونو او ننګو د اسلامي حرکت په ليکو کې د ملي مقاومت او جهاد بنسټونه دومره پاخه کړي وو، چې د ذلت ستنېدنه او د جوړ جاړي منافقت نه په کې ځاييده، د افغانستان نه په دفاع کې د اسلامي حرکت شعوري، ائيډيالوژيکې او ملي کړنلارې د هيواد مختلفې پرګنې او قومونه پر ځان راټول کړل، او مقاومت ته يې پراخه ولسي ملاتړ ورکړ، نور نو شورويان د چينايانو، پاکستانيانو، ايرانيانو او امريکايانو! سره نه جنګېدل، دوی له يوه مسلمان ملت سره په جګړه کې غورځيدلي وو، او کله چې څوک د ملت پر ضد جنګيږي راپرځيږي.

# دشورويانو ظلمونه

څو لاملونو په هيواد کې د مقاومت په ملي او ولسي کولو کې ونډه درلوده، تر ټولو لومړی دا چې شورويان د اسلامپالو په ځای له ولس او پرګنو سره په جګړه کې ښکېل شوي وو، افغانستان ته د شوروي لښکرو د راليږلو په مهال به لښکرو ته ويل کيدل چې دوی هلته د ثور انقلاب د ساتنې او ننګې په خاطر له خارجيانو سره جنګيږي، حتی تره کي د هرات د پاڅون په اوج کې څرګنده کړې وه چې ايران خپل څلور زره پوځونه په ملکي جامو کې هرات ته راليږلي دي، خو کله چې شوروي لښکرو يرغل وکړ، دلته يې د انقلاب په ځای د يوې سوچه پوځي کودتا ننګه کوله، داسې کودتا چې د ضد پر خوا يې ولس ولاړ وو، خو شوروي تيوريستانو ددې هرڅه درک له لاسه ورکړی وو، د نړۍ نيونې زبېښاکي الواک ددوی عقلونه ړانده کړي وو، ډير وروسته په دې وپوهيدل چې دوئ د يوه ملت ديني او هيوادنيو اقدارو ته په سپکې ډېره درنه ناغه ورکوي.

جنرال ليونيد ولاديميرويچ شيبارشين د کی، جي، بي kgbپخوانی مرستيال وايي: د ١٩٨٢ ز کال په پيل کې، زمونږ د لورې ډيرو کمو او زړه ورو خلکو دا جرات کاوه او په دې يې ټينګار کاوه، چې زمونږ پوځ او د کابل مشرتابه د باندېستانو په وړاندې نه بلکه د افغاني مسلمانانو او د افغان ولس له لويې برخې سره جنګيږي ٣١.

د افغان ولس له لويې برخې سره جنګېدل په پيل کې د خلقي دولتونو د ظلمونو زيږنده وه، که ديوه ملت له څلورو برخو يوه يې له هيواده وشړل شي نو بيا دولت د چا له خوا او د چا لپاره؟ سره له دی چې شوروي جنرالانو په خپلو يادښتونو او کتابونو کې په يوه خوله د ظلمونو پړه په افغاني لوري ور اچولې، د بيلګې په توګه کله چې کيريلينکو د شوروي اتحاد د سياسي بيورو غړی بيورو ته د معلوماتو ورکولو په ترڅ کې وايي چې مونږ هغوی ته هر څه ورکړل، نتيجه يې څه راوخته! همدوی وو چې د بی ګناه خلکو چارماري کول يې پيل کړل او بيا د ځان د سپينولو لپاره مونږ ته وايي چې ګواکی د لنين په وخت کې هم خلک اعدامېدل، وګورئ دغه دي مارکسيستان!٣٢

ښه، پوښتنه داده چې ايا خلقي دولت دا ټول ظلمونه په خپل سر کول، بيا نو د شوروي سلاکارانو شتون او لارښوونې څه مانا؟ او دا چې شوروي لوری د افغان دولت په نسبت ځان هيومانست ښيي نو د شوروي اسارت لاندې ولسونو د ټول وژنو، د کمونست ګوند د تصفيې په ترڅ کې د لسګونو زره کمونستانو له وژنو او د سټالين او بيريا له بيرحمو او وژونکو کردارونو له تاريخه به دوی کومې کومې نادودې پټې کړي، اصلاً دې ټولو ظلمونو د شوروي تاريخ او کمونيستي فطرت سره کوم تضاد نه درلود، بلکه ورڅخه يې الهام اخيسته، ويل کيږي چې د امين په کاري کوټه کې به تل د

سټالين انځور ځړيده، او سټالين هغه کساتګر انسان وو چې د شخصي عناد په خاطر يې په لسګونو زره ګونډي فعالين له منځه وړي دي.



بل مهم عامل د اسلامي خوځښت منظمې ليکې وې چې له هيواده بهر يې د نړئ تر ټولو ستر مهاجرتونه په مقاومت کې تنظيمول، اسلامي خوځښت د مقاومت بنسټونه جوړول، او اتلولئ يې زيږولې، ددوئ اسلامي ليد، کړنلارو، نظم او دسپلين افغان ولس د اتل په مقام ودراوه، دا به شايد له تاريخ سره ملنډې وي چې دا ستر ملت دې د يوې خونړئ او ګټونکې جګړې په پای کې اتلان ونه لري، ددې جګړې اتلان د ملت له متن او منځه راوتلي هغه اسلامپالي مجاهدين دي چې د خلقي دولت له پيله يې بيا د شوروي تيري په ټولو دورو مقاومت د برې مقام ته ورساوه.

په هيواد کې شوروي ظلمونو هر اړخيزه بڼه درلوده، له انساني تلفاتو نيولې بيا تر، ټولنيزو، سياسي، فرهنګي، اقتصادي او هر اړخيزو زيانونو پورې د شوروي فيزيکي او ماتوي تيري زيږنده دي، د هيواد په تعليمي نصاب کې لاسوهنې وشوې،کتابونه د شوروي سليقې سره سم عيار شول، او په لکونو جلدونو کې يې چاپولو د افغانستان اقتصاد ته زيان ورساوه، په دولتي چاپخانو کې ګونډي تبليغاتي کتابونه، بروشرې، پاڼې، اخبارونه، مجلې په لکونو لکونو شمېر کې د بيې له پرې کولو پرته چاپ شوې، شوروي ژبې رسمي تدريسي ځای ونيوه، او دشوروي کلتور د عاملو په خاطر ځای په ځای ( د شوروي د دوستئ خونې) جوړې شوې، شوروي کتابونه او انځوريزې رسنئ په وړيا توګه د هيوادوالو د بې فرهنګه کولو په خاطر ويشل کېدې، شوروي تقليد د دولت له لومړيتوبونو څخه وو، له خپل دين او فرهنګه د تېښتيدو او شوروي فرهنګ منلو په خاطر په زرګونو هيوادوال شوروي اتحاد ته ولېږل شول، په دوی کې زيات شمير يتيمان هم شامل وو،

په زرګونو بنديان شوروي اتحاد ولېږدول شول، ويل کيږي چې دوئ يې هلته په اتومي بټيو کې په کارونو ګمارل، په سياسي توګه تر ټولو لومړی يو ګونديز سيستم حاکم وو، حتی د خپلو ګونډي فرکسيونونو زغم هم شتون نه درلود، دولت په ټوله مانا سوسياليستي، ديکتاتور، او د مذهب او ملت ضد وو، هيڅ راز د رايې او بيان ازادئ شتون نه درلود، هيواد په يوه زندان اووښتی وو، په اقتصادي لحاظ خو نظام اصلاً د کمونستي اييډيالوژئ په بنسټ رامينځ ته شوی وو چې له مخې يې اقتصاد زېربنا ګنل کيده، شخصي ملکيتونه عملاً له خطر سره مخ وو، د افغانستان غوندی هيواد کې چې نه په کې پانګه والان موجود وو او نه پراخ زمکه وال، کمونستانو د متوسطو خلکو پانګې او زمکې ضبطې او دولتي کړې، او په دې ډول يې يو ځانګړی اقتصادي نظام له خپلو ټولو بديو سره پر خلکو وتپه، د خلکو زمکې يې په خلکو وويشلې او خپلو کې يې سره په جنګ کړل، ټولنيزه شيمه خو هله له منځه ولاړه چې د خلکو ديني او ملي ارزښتونه ټول وګواښل شول،

د ملت څلورمه برخه (شپږ ميليونه) خلک له هيواده وشړل شول، او پاتې خلکو په هيوادکې د زندان شپې تيرولې، د شوروي اتحاد د فکري او پوځي يرغل په ټولو دورو کې په مجموعي توګه يو نيم

میلیون افغانان شهیدان شول، او په لکونو معیوبان، دغه بدمرغه تیري په لکونو کونډې او یتیمان شاته پریښودل،

د ۱۳۶۷ غوایي د اومې د غنډني په مراسمو کې د افغانستان د اسلامي حزب امیر انجنیر حکمتیار د پیښو د ارقامو یوه شننه وړاندې کړه او ویې ویل چې: په تیرو لسو کلونو کې جګړې دا ښایي چې په هرو څلورو دقیقو کې یو افغان شهید شوی، په هره دقیقه کې یو افغان له هیواد بهر ته په مهاجرت اړ شوی، په هرو دولسو دقیقو کې یو تن بندي شوی، او په هرو دریو دقیقو کې یو تن زخمي شوی دی، ۶۰ سلنه کورونه ویجاړ شوي، او اویا سلنه کرنیزې ځمکې خرابې شوې دي۳۳.

## شوروي فوجیانو ته اوښتي تلفات:

شورویانو ته جګړه ډېره درنه تمامه شوه، ددوئ پوځ، ټکنالوژي، او روبل ټول دلته مصرف شول، دوئ له یوه مسلمان ملته جګړه بایلله او نړیوال اعتبار ته یې زیان ورسیده، دا ټول ددوی د زړو متعصبو کمونستو مشرانو د عجولانه پریکړو پایله وه، تقریباً د لسو کلونو په ترڅ کې ددوئ یو



سوسلوف

میلیون اردو د افغانستان په لیدلو مشرف شوه، دوی ووژل شول او معیوب شول، او کله به یې چې هره دوره د پوځي خدمت پوره کولو وروسته خپل هیواد ته تلل نو هلته به یې له ځان سره د یوې بې هدفه نا اعلان شوې جګړې د زیان بې پایه کیسې وړلې، په دې جګړې کې څومره شوروي پوځیان ووژل شول؟ دا د شوروي جګړې هغه پټ اړخ دی چې د شوروي اتحاد په برسېرنو دروغو کې پټ دي، شورویانو په دې اړه هیڅکله ریښتیا ونه ویل، حتی هغوی د خپلو وژلو شویو سرتېرو په قبرونو د یادښتونو د دلیکلو اجازه هم نه ورکوله.




په ۱۹۸۱ د جولای په ۳۰ مه د کمونېست ګوند سیاسي بیرو کې په دې اړه په زړه پورې بحث وشو: سوسلوف: که چیرې مونږ اوس د هغوی (وژلو شویو پوځیانو) د یاد تلپاتي کولو ته پیل وکړو، په دې باب به دهغوی په قبرونو باندې لیکنې کوو، چې په ځینو هدیرو کې به دا ډول څو څو قبرونه جوړ شي، چې له سیاسي پلوه دا دومره سم کار نه دی.

اندروپوف: ښکاره خبره ده، چې له عزت او درناوي سره باید ښخ شی، خو دهغوی یاد تلپاتی کول د اوس لپاره وختي دی.







کېړلینکو: اوس دا مناسبه نه ده، چې په قبرونو باندې ډبرینې تختې ودرول شي۳۵.

په داسې حال کې چې شوروي اتحاد د خپلو خلکو له سترګو د افغان شوروي جګړې قربانیان پټوي، نو بیا ایا د هغو په جنګې ارقامو باور کیدای شي؟ خو اړ یو چې د همغوی په ارقامو څکه استناد وکړو، چې په دې اړه خپلواک معلومات نه شته.






داودجنبش

جنرال ګارییف د شوروي تلفاتو په اړه وایي: د دقیقو معلوماتو له مخې شوروي پوځونو د کورنیو چارو وزارت او د سرحدي پوځونو سره ۱۴۴۵۳ تنه تلفات وکړل، (په دوی کې) ۱۳۸۳۳ له اردو څخه، ۵۷۲ تنه د کاجي بي له ټولګیو څخه، ۲۸ تنه د کورنیو چارو وزارت څخه، او ۲۰ تنه له نورو موسسو څخه وژل شوي دي، همدارګز ۱۹۰ کسان پوځي مشاورین، متخصصین، کارپوهان او ژباړونکي وژل شوي.







زخمیان۴۹۹۸۳ کسانو ته رسېده، له هغوی څخه یې ۳۸۶۱۴ (۷۷٪) علاج شوي، او ۶۶۶۹کسان معیوب شوي، سربېره په دې

۴۱۷ کسان بې درکه او یا هم یرغمل نیول شوي، له هغوی څخه یې د ۱۹۹۹ ز کال د جنوري تر لومړۍ نېټې پورې ۱۳۰ کسان راستانه شول... د پوځي تخنیک تلفات په دې ډول وو، ۱۰۳ الوتکې، ۳۱۷ هلیکوپټرې، ۱۴۷ ټانکونه، ۱۳۱۴ محاربوي ماشیونونه او زرېپوشونه، ۴۳۳ میله توپونه او هاوانونه، ۱۱۳۰۹ موټرونه، ۱۱۳۶۹، د انجینرۍ تخنیک، او ۱۱۳۸ مخابرې او د قرارګاه موټرونه۳۶.
خو د شوروي جنرالانو په خلاف د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت راپورونه بیا د شوروي تلفاتو شمیر ډیر ښايي: (۱۳۶۵،قوس،۲۱) د امریکا د بهرنیو چارو وزارت تاییدوي چې مجاهدینو د تیرو دریو میاشتو په جریان کې روزانه یوه الوتکه را غورزلې، د یوه راپور له مخې د جګړې له پیله تر اوسه پورې ۱۰۰۰ الوتکې د مجاهدینو له خوا را غورزول شوي دي ... (۱۳۶۶،جدي،۲) د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت له راپور سره سم، په ۱۹۸۷ کې په افغانستان کې د درې زرو په شاوخوا کې شوروي عسکر وژل شوي دي، او د مداخلې له وخته تر ۱۹۸۷ دسمبره پورې یې مجموعي تلفات ۳۳-۳۸ زرو ته رسیږي۳۷.
چین په ۱۹۸۱ کې اټکل کړی وو چې یوازې د تیلو او نظامي لګښتونو له پلوه شوروي اتحاد په افغانستان کې روزانه ۳-۴ میلیونه ډالره مصرفوي، یوه لویدیزه سرچینه د ۱۹۸۱ په لومړۍ نیمایي کې د نوموړي هیواد د نظامي لګښتونو نه پرته اقتصادي لګښتونه تر ۶۰۰ میلیونو ډیر اټکلوي، او د یوه بل تخمین په بنسټ د شورویانو روزانه لګښتونه له ۱۰ تر ۱۲ میلیونو پورې ښودل شوي دي۳۸.

**د خلقي –پرچمي مشرتابه سپکه ستړه** جنرال ګروموف د خلقي-پرچمي مشرتابه په اړه داسې قضاوت کوي: د افغانستان مشران ددغه انټرناسیونالیستي مرستو له امله زمونږ شکر ګزار وو، خو دغې شکر ګزارۍ هم خپل رازونه درلودل، هغوی پوهیدل چې یوازې زمونږ په مټو او زمونږ د مرستو په زور په دغو څوکیو ناست دي، له همدې امله هغو دقیقاً زمونږ خولې ته کتل او زمونږ مشورې او لارښوونې به یې ټکی ټکی سرته رسولې. د افغانستان مشران په دې ښه پوهیدل چې په هیواد کې اصلي خبرې هغه دي چې زور لري، نو ځکه هغوی زمونږ د هیواد د بې شمیره استازو په منځ کې د یوه ډېر ساده اصل پر بنسټ د جدایۍ کرښه ایستله: کسیکه نان میدهد فرمان میدهد څوک چې زورور دی، هغه مهم دی۳۹.
د بي، بي، سي خوږ ژبی ویاند داود جنبش وایي( مایوروف په خپله لومړنی مکالمه کې راته ویلي وو، ببرک کارمل، نجیب، اناهیتا... دا ټول مصنوعي خلک دي، په لاس جوړې شوې څېرې دي.
ستر جنرال الکساندر مایاروف په افغانستان کې پخوانی ستر شوري سلاکار وایي:اصلاً زه ټل د


داودجنبش

ببرک دوه مخی ته حیرانیدم، د کوم وړوکي بریالیتوب له امله به یې حالت له وارخطایی نه تر هیجاني خوښۍ بدلون کاوه، خو برخلیک ورته د نړۍ د یوه لرغوني هیواد په تاریخ کې ځای ورکړ، دا بله خبره ده چې دا څه ډول ځای دی، او یا به راتلونکي توکمونه د هغه کړنې څنګه ارزوي، خو د افغانستان په تاریخ کې ورته د ټل لپاره ځای بیل شوی دی، د دولت مشر..
ویل کیږي چې ببرک کارمل ډیر زیات شراب وهل، د ده له ډیرې شراب خورۍ نور مایاروف هم تنګ راغلی وو، نوموړی د هماغه مهال کیسه را اخلي چې څنګه یې افغان ولسمشر له شرابو منع کاوه:زه ستر جنرال مایاروف د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې لوی پوځي سلاکار تاسې ببرک کارمل په ټینګه د شرابو له څښلو منع کوم، او ټینګار کوم چې سملاسي له دغه کار نه لاس واخلئ... (ژباړن ته وایي) ټکی په ټکی ورته وژباړه، که دی ببرک کارمل همدا نن له شرابو څښلو نه لاس وانه خلي نو زه به، یوري اندروپوف او دیمتري اوستینوف ته خبر ورکړم او هرڅه به په پای کې لیونید بریژنیف ته ورسیږي، (ببرک ژباړونکي ته وویل) دی پوښتنه کوي چې څه وکړم،

هغه د ثور انقلاب لپاره هر څه ته چمتو دی، ژوند ترې ځارولی شی، هر هغه څه به وکړي چې ملګری بریژنیف، اندروپوف، اوستینوف، ګرومیکو یې ورته وایي... (یوځل بیا مایاروف) په ژوند کې مې احمقان، لټان او شرابیان نه خوښېدل، او دلته دا ټول صفتونه په یوه کس کې راټول شوي وو، او داسړی بیا ګوندي لارښود او د دولت مشر و، له ارګ نه بیروحه راووتم، زه پوهیدم چې څه ناولې او خبیثه پیښه شوې ده، خو کار دی شوی دی، وړاندې څه وکړو.

د لوی سلاکار مایاروف کور د کابل په هغه سیمه کې وو چې هلته سفارتونه مېشت وو، خو په همدومره مصئون ځای کې یې کور د مجاهدینو تر غلچکي برید لاندی راغی، تر بریده وروسته حالت داسې بیانوي:د دفاع، خاد، او کورنیو چارو وزیران په دریو زغره والو ګاډو کې ویلا ته راغلل، چیریومنیخ او ژباړونکی کوستین ورسره وو، ولادیمیر چیریومنیخ له عادي حالت نه ډیر پریشان او کینه کښ بریښېده.




چیریومنیخ له راننوتلو سره جوخت په بې صبرئ وویل:دادي د ثور د ستر انقلاب مدافعان مې راوستي دي، دوئ تر نامه کاږه ولاړ وو، (تر خبرو اترو ورسته یې د مخه ښې شپبې داسې انځوروي) ما ورسره د غیږې له ورکړې پرته مخه ښه وکړه، چیریومنیخ له وره نه ورسره ووت، او چې چیریومنیخ څنګه راستون شو نو ژبه یې پرانېسته:

نجیب د سپي زوی دی! خاین دی!ماپرې زیاته کړه:او د اندروپوف باوري سړی.

په یوه بل ځای کې وایي :وینه توی شوې او په تېره نجیب او باریس کارلوویچ(کارمل) ډېره وینه وبهوله، زه په هغو ورځو لعنت وایم.همدغه راز نوموړی جنرال په خپل کتاب کې څو ځایه ببرک ته د یابو په کارولو سره لیکي چې:

چیریومنیخ همداسې په خپلې خبرې ټینګارکوي چې،د یابو د بدلولو وخت دی. (بل ځای بیا لیکي) مونږ خپل دفتر ته راغلو او چیریومنیخ یوځلې بیا وویل: د یابو د بدلولو وخت دی، ما د یادونې په دود وویل، ده ته لا د مسکو په کنګره کې وینا اورول تر مخه دي.

)یوځل بیا د ببرک کارمل په اړه وایي): تر اوسه هم دغه څېره لا راته ډېره مرموزه بریښي! له منطقه وتلې یوه نه تشریح کیدونکې څېره! هیواد په اور کې سوځي سلګونه او زرګونه هیوادوال یې مري، د هیواد اقتصاد یې په ړنګېدو دی، خو دی ارام دی او خوښي کوي، زه دې شي حیران او لک ګک کولم، خو تر څه وخته مې باید دا هر څه منلی او زغملی وای، چیریومنیخ البته چې خپله خبره بیا بیا کوله:نور د یابو د بدلولو وخت دی۴۰.

یو وخت جنرال کریوچکوف د کی جي بي پخوانی لوړ رتبه مامور چې وروسته د همدغې ادارې مشر هم شو، د غوایي کودتا نه وروسته په لومړیو کې کابل ته سفر درلود، تره کي سره د لیدنو کتنو خاطرې داسې بیانوي: ټول هغه څه چې د تره کي له خوا وویل شول په ما باندې یې یو دروند اغیز وکړ، دده وینا له انقلابي رومانتیک، له سوسیالیستي راتلونکي او له هغې خوشبینئ نه ډک وو، چې ترې د سیاستوال بې تجربې توب ان زما په اند ماشومانه ساده توب را څرګندیدل. مایې خبرو ته غوږ نیولی وو، اوحیران وم، د ثور له انقلاب نه ټول ټال درې میاشتې تیرې شوي دي، خو د افغان ولس مشر سر اسمان ته پورته شوی دی او د واقعیت هر ډول احساس یې له لاسه ورکړی دی... وروسته ماته څو څو واره د تره کي دغه څرګندونې په یاد راتلې د هغه د تیر وتنې په ژوروالي او له هغې نه

د رامنځته شویو ستونزو په پټ ریښتوني سبب باندې لاډیر په جوته توګه پوهیدم، د لنډ اندو، کوتاه بینو لیډرانو د تیروتنو له امله افغان ولس سزا وزغمله او په یوه اوږده خونړي تقابل کې ښکیل شو۴۱.
جنرال بوریس ګروموف، په افغانستان کې د شوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشر جنرال والنتین ایوانوویچ وارینیکوف په استناد د کارمل په اړه وایي : په کارمل نه خپلو انډیوالانو، نه ولس، او نه زمونږ سلاکارانو باور کاوه، هغه د لوړې کچې عوام غولوونکی او ډېر ماهر فرکسیون باز وو، د انقلابي جملو تر شا د پټیدو سخت مهارت یې درلود، هر ځل چې به کومه خطا ترې وشوه، نو د نورو د قناعت لپاره به یې ویل: ملګرو، اوس زه په هر څه پوه شوی یم، نورې تېروتنې به رانه ونه شي! ... یوه خبره بیخي د لمر غوندې روښانه ده، هغه د خلکو لپاره عملاً مبارزه نه کوله، په دولتي او ګوندي چارو کې یې یوه لویه بیرو کراتیکه اداره منځ ته راوړه... له بده مرغه ډیرو په کارمل پورې هسې زړه تړلی و، او دهغه فریب یې خوړ۴۲.

**د ژنیو تړون:** د یوري اندروپوف ( دشوروي اتحاد کمونست ګوند عمومي منشي) د شخصیت په اړه ضد ونقض خبرې کیږي، ځینې یې یو متعصب کمونیست او ځینې یې بیا یو اصلاح غوښتونکی او د روغې جوړې سرې بولي، هر څه چې وو په شوروي مشرانو کې نوموړي د لومړي ځل لپاره د تیري اشتباه ومنله. نوموړی په دې لټه کې شو چې ستونزې ته یو سیاسي حل راوباسي. کارمل یې په وار وار وپوهاوه چې شوروي لښکرې ښایي نور تر ډیره پاتې نه شي او افغان دولت باید په اوږده مهال کې په خپله له خپلې کودتا ننګه وکړي،نوموړي د بریژنیف د ښخولو په مراسمو کې د جنرال ضیاالحق او بهرنیو چارو له وزیر یعقوب خان سره د ۴۰ دقیقو پټه کتنه درلوده، او په ترڅ کې یې د سیاسي حل په خبره زور راوړی وو، د اندروپوف له نظره شوروي اړخ حاضروو چې شوروي لښکرې وباسي خو په دې شرط چې پاکستان به هم له مجاهدینو سره نورې پوځي مرستې بندې کړي،
تر څو په دې ډول له شوري پرته افغان دولت ته سردرد پاتې نه شي، جنرال ضیا الحق د شوروي انعطاف منونکي سیاست سره د هوکړې سر یوور، خو بیا د امریکا ولسمشر ریګن په مداخلې سره د خبرو اترو له اوږدولو یې سر وغړاوه، اندروپوف ومړ او د شوروي پوځونو په عزت سره ویستلو ارمان یې ګور ته یوور،
کله چې ګورباچوف د شوروي اتحاد مشر شو، تر ټولو لومړی یې د دفاع وزارت ته امر وکړ چې د۱-۲ کلونو په ترڅ کې د افغانستان نظامي حل راوباسي، خو چې کله دی هم پر نظامي حل کې ناکامه شو، نو یې د ژنیو خبرو اترو ته ادامه ورکړه، په دغو خبرو کې شوروي اتحاد او امریکې د نړیوالو تضمینونکو په توګه او د افغانستان او پاکستان دولتونو د خبرو اترو د مستقیمو لورویو په توګه ګډون درلود، د خبرو اترو منځګړتوب د ملګرو ملتونو استازي کود وویز کاوه، د ژنیو تړون تر ټولو غټې موخې په دې ډول وې:
۱ -مجاهدین چې د مقاومت وارثین وو، له خبرو اترو بهر وساتل شي.
۲ -شوروي اتحاد د یوه تړون له مخې ووځي، او ځان ته د اوړو پوزه کیدي.
۳ -د کابل دولت ته قانوني نړیوال اعتبار ورکړي.
په نوموړي تړون کې له افغانستانه په دوه مرحلو کې د شوروي لښکرو د ویستلو خبره یاده شوې وه، دکتور محمدحلیم تنویر وایي: معاهده د ۱۳۶۷ د ثور په ۲۵ مه د کابل رژیم او پاکستان تر منځ په ژنیو کې لاسلیک شوه، او افغاني مجاهدین د قضیې د یوه اړخ په توګه بهر وساتل شول، دا معاهده پر څو موافقو مشتمله وه، لومړی قرارداد د دواړو خواو پر متقابلو اړیکو خصوصاً پر نه مداخله او نه تجاوز، دویم د مهاجرینو داو طلبانه بیرته ستنیدنه، دریم د افغانستان د مسالې د حل لپاره خپلمنځي اړیکې په کې شاملې وې۴۳.

ټولو جهادي تنظيمونو په ګډه د ژنيو تړون مردود وشميره چې اعلاميه يې په ١٣٦٧،حمل، ٢٧ نېټه د شهادت په خپرونه کې خپره شوه، په نوموړې اعلاميې کې راغلي وو: د افغانستان مسلمان مجاهدين د خپل مسلمان ملت په استازيتوب د خبرو اترو د موجودې بڼې سره خپل مخالفت اعلانوي، او هغه غير عادلانه ګڼي، نو طبيعي ده چې د دغسې تړون په مقابل کې کوم تعهد او التزام نه لري ځکه چې:

١ -زمونږ مومن ملت په نوموړو خبرو اترو کې ګډون نه لري.

٢ -په دې تړون کې د ملګرو ملتونو د اساسنامې پرېکړې چې د ملتونو د سرنوشت ټاکلو په حق تاکيد کوي، رعايت نه دی شوی، او دا د افغانستان د ملت هغه حق نه تضمينوي چې خپل سرنوشت د بهرني ګواښ نه پرته په خپله وټاکي.

٣ -د ژنيو په خبرو اترو کې د ملګرو ملتونو له هغو فيصلو سره چې د ملګرو ملتونو سرمنشي يې مکلف کړی وو ترڅو د افغانستان د ټولو اړخونو په تفاهم کې دې د افغانستان د قضيې بيرنی او عادلانه حل راوباسي، مخالفت شوی دی، ځکه چې له هماغه پيله تراوسه له مجاهدينو سره چې د اصلي قضيې د دوه و اړخونو څخه يو اړخ دی، هيڅ قسم تماس نه دی نيول شوي، او په غياب کې يې پرېکړه شوی ده...

انجينير حکمتيار په دې اړه له امريکاغږ راډيو سره په ١٣٦٧،ثور،١٩ نيټه وويل: د ژنيو تړون د پرديو په واسطه ترتيب شوې، او له بنسټه يې ردوو، ددې تړون او د هغه د پايلو په اړه هيڅ راز التزام نه لرو. ٤٤.

نوموړی تړون د ټولو جهادي تنظيمونو مشرانو په جلا جلا توګه هم وغانده او خپل ډېر ښکاره مخالفت يې ورسره وښوده، همدا راز د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه، او ځينو ناپيېلو لورويو لکه عبدالحکيم طبيبي، پخواني لومړي وزير ډاکټر محمد يوسف او نورو له خوا هم په محتاط انداز سره وغندل شو.

**شرمېدلې ماته** د ژنيو تړون د باعزته وتلو لپاره يوه ډرامه وه، خو نړيوال ضمير په دې پوهيده چې دلته يوه پراخه مقاومت، نظرياتي ټکر او اوږدې جګړې د استعمار ځواک وننګاوه، او نه يوازې له هيواده يې وتښتاوه بلکه نور يې د کمونيزم فلسفه د معاصر انسان له غوښتنو ډيره ټيټه وښوده، کمونيزم نور د بنګړو يو داسې بار وو چې په يارئ يې هر څوک شرمېده، شوروي اقتصاد د افغان جګړې له امله د خپلې ماتې نظريې پېښې تر ډېره په شا نه شو ګرځولای.

زمونږ ملت يوازې شوروي لښکرې نه بلکه شوري تاريخ او کمونيستي ايډيالوژي داسې شرميدلي مات کړل، چې نور به يې يوازې د ګروموف، مايوروف او کی جي بي د زړو مشرانو په يادښتونو کې کيسي لولو، مقاومت ددې ملت د شعور برخه ده چې په هر تکرار کې لا انقلابي کيږي په دې وطن کې د استعمار تکرار او د مقاومت قهر ښه سره جوړ راغلي، د ازاد اوسيدو هنر دا ملت بل هنر ته نه پريږدي، ددې سيمې هنر دلته جامد هم نه دی پاتې شوې کلونه مخکې يې په برصغير کې پاکستان وزيږاوه، هند يې ازاد کړ، او بيا د شوروي پر پولو واوښت او منځنئ اسيا ته يې د ازاد اوسيدو چل وروښود، دا ملت استعمار ته ليمه نه ټيټوي، نو ځکه تل په سر د خپلو او پردو ګوزارونه خوري خو زړې زړې کيږي نه، بلکه له هر ګوزار سر پخيږي.

خو چې کله د همدې ماتې فلسفې له يوه ضدي لاروي سره د بحث په لاره ګډ شی نو به درته وايي چې: شورويان په خپله ووتل، د شوروويانو اقتصاد مات شو نو ځکه مات شول، دا د نجيب الله هڅې وې چې له شورويانو يې وغوښتل نور خپل هيواد ته ستانه شي، ګورباچف د سيا د پټ ځري په توګه شورويان بيرته را وويستل، او نورې ډيرې خبرې.

خو ايا شورويان د همدې لپاره راغلي وو چې بيرته لاړ شي؟ څومره ساده او سطحي انګيرنه ده، دا منطق ډېر خندوونکی دی.

سمه ده د شورويانو اقتصاد راولويد، خو ولی راولويد؟ کله چې په افغان شوروي جګړه کې د شورويانو ورځيني جګړه ايز لګښتونه له ١٠ ـ ١٢ ميليونو پورې وي، او جګړه يې کوم بيرني عايد ونه لري نو اقتصاد به يې نه ماتيږي؟ تر کومه به غلام ولسونه وږي ساتي؟ د افغانانوډير مقاومت د شوروي اتحاد اقتصاد دومره کم ځواکه کړ چې نور يې نو د اشغال اوږدولو وس نه درلود، لومړی يې له افغانستان پښې سپکې کړی او بيا يې له نړۍ نه.




**نجيب د شطرنج دانه وه، مستقل شخصيت يې نه درلود، له شوروي پرته افغانستان هغه ته هم بايللې لوبه وه، خو خوارکی له ګورباچوفه مجبور وو، د ګوند او دولت مشرتابه ته رسيدو لپاره حريص وو، نو له همدې امله يې په شوروي کې د بدليدونکي وضعيت په تناظر کې د شوروي ديکتې له برکته هم ګوندي او دولتي مشري وګټله او هم يې له افغانستانه د شوروي لښکرو د ويستلو په اړه د ګورباچوف له سياسته ننګه وکړه، خو کله چې شورويانو پښې سپکولې نو نجيب په لوی لاس ددې هڅې پيل کړې چې په هره بهانه چې وي شورويان تم کړي،**

**جنرال لياخو فسکي په دې اړه وايي: د افغانستان جمهوريت مشرتوب(نجيب) اوس کلکې هڅې کوي چې د امريکا او پاکستان له خوا د ژنيو تړون نه د سرغړونو په ځواب کې د شوروي پوځونو وتل وځنډوي او په دې توګه د غويي انقلاب د برياوو له منځه تلو مخه ونيسي...تر هغې وروسته د افغان مشرتابه له خوا ورته غوښتنې بيخي په وار وار او کلکه توګه وړاندې کېدې... هر څومره چې به د شوروي پوځونو د وتلو د دويم پړاو وخت رانږدې کېده، هماغومره به د افغانستان له مشرتابه سره د خپل سبا او برخليک انديښنه هم زياتيده، هغوی په کلکه توګه هلې ځلې کولې چې که وکړای شي شوروي پوځونه په افغانستان کې تم کړي٤٥.**

## په لنډه توګه ويلای شو چې د شورويانو په ماتې کې لاندې لاملونو ونډه درلوده:

**١ ـد افغانانو پياوړې ارادې، نه ماتيدونکي عزم او اوږده مقاومت**

**٢ـ له جهاد سره پراخه نړيوال ملاتړ.**

**٣ ـ د همدې نا اعلان شوې اوږدې جګړې له امله شوروي اقتصاد راولويد او نور يې د کمونيستي نظريې تپل شوې جنګي ماشين د چلولو وړتيا نه درلوده.**

**٤ ـهغو زړو شوروي مشرانو چې افغانستان ته يې د لښکرو د ليږلو پريکړه کړې وه، نور ژوندي نه وو، نويو مشرانو له جګړې درس اخيستی وو، نور يې د جنګي ماشين د مخ ته وړلو وس نه درلود او له ناچارې يې د نا اعلان شوې جګړې د درولو هوډ ونيو او لښکرې يې را وويستې.**




**٥ ـشوروي اتحاد نورنه غوښتل چې همداسې په ورانه لار تلوته دوام ورکړي، هغوی له نړيوال تجريده ځانونه راويستل.**

**٦ ـکوم شوروي عسکر به چې د پوځي دورې له بشپړولو وروسته خپل ټاټوبي ته تلل نو به يې د خپل يرغل او مقاومت په اړه کيسو په ولسي رايو اغيز اچوه، په دې ډول شوروي اتحاد په تدريجي توګه له ولسي نا خوښۍ سره مخ وه.**

**الحمد لله !!بالاخره په ١٣٦٧،سلواغه،٢٦ مه نېټه د لکونو شهيدانو په ورکولو سره افغانانو د يوه اوږده جهاد او مقاومت په پای کې شوروي لښکرې له خپل هيواده وويستې.**

**د افغان شوروي جګړې د پای په اړه ستر جنرال الکساندرمایاروف وايي چې: د افغانستان جګړه د شوروي اتحاد له خوا تر سره شوې وروستۍ جګړه ده، دا له هغو وروستيو ځان وژونکو ماينونو**

**ځخه يوماين وه چې يــوې لــويې امپــراتــورۍ پــرې پــښــه کېښوده اووالوته او ټوله امپراتوري يې دړې وړې شوه.**

## آيا افغاني کمونستان وتوانيدل کمونيستي مفکوره پلي کړي ؟

**کمونستانو د واک په لومړيو مياشتو کې د ځينو فرمانونو په صادرولو ځينې کمونيستي کړنو ته لاره هواره کړه ، دوی عملا د کمونست ګوند د اصولو په اساس حکومتي نظام تأسيس کړ انقلابي شورا يې جوړه کړه چې يواځې کمونستي غړي پکښې فعال ؤ ، د هيواد په ټولو مؤسيسو کې د کمونست ګوند غړي واکمن شول ،او په هره موسسه کې د کمونست ګوند (حزبي) دفترونه جوړ شول چې د کمونستي افکارو د ترويج تر څنګ يې د مخالفينو ځارل هم دنده وه.**
**په اقتصادي برخه کې يې په ډيرو ولايتونو کې د لويو ځمکه والو ځمکي په بزګرانو وويشلې ، دښځو ولورونه يې (٣٠٠) افغانۍ وټاکل ، سود او ګروي يې باطلې کړې ، ورسره يې په محکمو کې هم تغيرات راوستل .**

# دجدي شپــږمـــه١٣٥٨ هــ ش کال

**ددی تاريخي تورې ورځې دغندلو په مناسبت په ټول هيواد افغانستان کې هرکال غونډې کيږي چې دمختلفو علمي اشخاصو او مؤسساتو لخوا ورته تاريخي معلومات راټوليږي دهغې له جملې يې دوه نمونې (اريانا نيوز) اوبل د ( داکتروحيدالله مصلح ) تاريخي معلومات ستاسو خدمت ته وړاندې کوم چې له پوره واقعيته خبر شئ**

## اول ـ آريانانيوز(٧ جدي ١٣٩٧هــ ش کال آريانا خبري اژانس):

**څرنګه چې هر کال د جدي شپږم زمونږ په ګران هيواد، دروسانود تيري او تجاوز توره ورځ زمونږ مجاهدولس د غونډو په کولو سره غندي مونږ هم پدې اړه خپل رسالت سرته رسوو د افغاني کمونستانو او د هغوی د بادارانو(روسانو) هغه جنايتونه چې په افغانستان کې يې سرته رسولي خپل راتلونکي نسل ته د يادښت په توګه پريږدو، څو زمونږ ځوان نسل د يرغلګرو له وحشتونو او مجاهد مسلمان ولس له جهاد، ميرانې او مقاومت څخه خبر شي د اسلام او وطن دوستان او دښمنان وپيژني.**
**محترمو! تور مخو کمونستانو د ١٣٥٧ کال د ثور په ٧ له ماسکو څخه په مستقيمه قومانده پر سردار داود خان کودتاه وکړه، دا کودتاه چې يوه منحوسه او کرغيړنه کودتاه وه، څو بيلګې ئې دلته مونږ ځکه وړاندې کوو چې د افغانستان په تاريخ کې نورو غلامانو او يرغلګرو دومره افغانان ذليل کړي او په شهادت نه وو رسوليلکه دې کمونستانو چې د غلامی ځنځيرونه ئې په غاړه اچولي وو او د خپلو بادارانو( روسانو) په امر ئې خپل هيوادوال، ځوانان، بوډاګان او آن په ځانګو کې تنکي، تنکي ماشومان پرشهادت رسول.**
**کمونستانو چې د څو روسي روبلو په مقابل کې خپله خاوره، وطن، دين، ناموس او افغاني سپيځلی کلتور وپلوره او له زميندارو او مالدارو څخه ئې مالونه او ځمکې قبضه کړې او په خپلو پلويانو ئې وويشلې يواځې دا نه چې دا له شرمه ډک قدم ئې پورته کړ بلکې د هيواد ځوان نسل ئې د لينن او ستالين نظريې د خپلولو لپاره مسکو ته وليږه او ډير افغانان ئې په بيلا بيلو نومونو سره شهيدان کړل په نيولو، زنداني کولو او ژوندي تر خاورو لاندې کولو ئې هم صرفه ونه کړه همدا لامل وو چې د پاکې او سپيځلې عقيدې لرونکي افغانان څه د جهاد سنګرونو ته لاړل او څه د خپل ناموس د خوندي کولو پخاطر نورو هيوادونو ته مهاجر شول.**








عزتمندو لوستونکو! په کمونستي نظام کې هغه څه وو چې کاملاً د اسلام د مقدس دین، اسلامي لارښوونو او افغاني دود او کلتور سره ښکاره په ټکر کې وو، کمونستانو به چې کوم فرمان صادر کړ د هغه منل هر افغان ته د ایمان په بدل تمامیده که ئې ترینه انکار کاوه نو ژوندی ئې تر خاورو لاندې کاوه،او که یې منلو نو کافر کیده ، د کمونستانو د باطلې نظریې او ظالم نظام بیلګې زیاتې دي لکه په کلیو او بانډو کې د زده کړې په نامه د کمونستي نظرئي ښودل، د کنسرتونو په نامه ځوان نسل فحشاؤ ته هڅول او ( ۱۴۰۰۰ ) افغاني ماشومان د زده کړو او تعلیم په نوم مسکو ته لیږل، (۵۰۰۰۰) پنځوس زره نجوني کمونستي سازمان ته جذبول او داسې نور ناوړه کارونه کول وو چې افغانانو په خپل تاریخ کې دا ډول بې شرمي نه وه لیدلې، همدا لامل و چې افغان میړني او مسلمان ولس د علماء کرامو په فتوی د کمونستانو په مقابل کې په مقدس جهاد لاس پورې کړ.





هغه مقدس جهاد چې د روسي توپونو او ټانکونو په مقابل کې ئې یواځې په تبرګیو، چړواو تورو، شلخې او چره دار ټوپکو ئې کمونستانو ته ماتې ورکړه کمونستان په روسي سپکو او درنو وسلو سنبال وو خو افغان ولس د خپلې اسلامي عقیدې او ایماني جذبې په لرلو سره د الله تعالی په مرسته په هر سنګر کې کمونستانو ته له شرمه ډکه ماتې ورکوله،

چې کمونستانو له مجاهدینو سره د نه مقاومت له امله غچ او بدل له ولسي وګړو اخیسته د بیلګې په توګه ئې په لنډه توګه د څو وحشتونو یادونه کوو : په ۲۴ د حوت ۱۳۵۷ کال په هرات کې (۲۵۰۰۰)ولسي وګړي په شهادت ورسول. په ۹ د حوت ۱۳۵۷ کال د کنړ په کراړه کې د(هورا) په نه ویلو ئې (۱۲۶۰) کسان په شهادت ورسول.

## د ۱۳۵۹هـ ش کال دثور په ۹ نیټه دسه شنبې ورځ کارته چهارساحه کې

د کابل مسلمانو ښاریانو پاڅون وکړاو د سوریا او رابعه بلخي لیسو نجونو مظاهرې وکړېچې د سوریا د لیسې شاګردانې د حبیبی او د رابعه بلخي لیسې شاګردانې د غازي لیسې په طرف چې د هلکانو لیسې وې حرکت وکړ







چې د لیسو مخې ته ورسیدې نو خپلې لوپټې او ټکري ئې د هلکانو په سرونو ورواچول او پیغورونه ئې ورکړل هغه وو چې په هلکانو کې د غیرت وینه هم په جوش راغله او د کابل ښار مظاهرو ونیوه





چې بیا کمونستانو له هوا څخه په ځرخي الوتکو او له ځمکې څخه په ماشینو دکابل مجاهد ښاریان په خپلو وینو کې لت پت او له (۱۰۰۰۰) لسو زرو څخه زیات یې شهیدان کړل چې ډیرې نجونې د سوریا او رابعه بلخي د لیسو زده کونکي وې چې شهیده ناهید، شهیده وجیهه خالقي ، شهیده سلطانه، شهیده آمنه، شهیده سلما، شهیده حوا، شهیده زینب او شهیده فاطمه د دې کاروان مخکښې شهیدانې وې.









دافغانستان مشهور شاعر مرحوم استاد خليلي دثور په نهم قيام او دناهيد شهيدې باره کې وايي (شعر فارسي دی پښتوته موترجمه کړو وزن يې لږفرق لري) :

په زرګونه تکبير ويونکي جنکۍ له هرى خواراغلي ـ حرم پروره دی ميدان ته په ډير ناز راغلي
مګ طيارې دکوتروپسي دښکارراغلې ـ ددوشمن دتوپ اوازونه له پاسه دبالاحصارراغلي
دکابل په هره کوڅه کي قيامت جوړشو ـ زمونږپه تاريخي ښارکي ماتمجوړشو
دکفرسپاهي دالله په ملک کې حاکم جوړشو ـ دسلګونه شهيدانو له وينو دغم نوبهارجوړ شو






پيغله ناهيد دسيد يوسف صاعد لور په کابل کې په ۱۳۳۹ هـ ش کال زيږيدلی ابتدايه تعليمات يې دجنکيو مکتب سوريا او دليسې دوره يې رابعه بلخي کې وه انا لله وانا اليه راجعون .







همداشان د حوت په ۳ د شپې له خوا د کابل ښار فضا د الله اکبر ملکوتي نعرو احاطه کړې وه چې د کمونستانو له خوا په زرګونومسلمان ښاريان شهيدان او په زرګونو ئې د زندان تورو تنبو ته ټيل وهل شول .






محترمو لوستونکو! هغه وخت چې ډاکټر نجيب د خاد رئيس و د خپلو جناياتو په دوام به ئې د هرې مبارکې جمعې په شپه (۱۰۰) تنه مسلمان زندانيان د څرخي پله له زندانه پداسې حال کې چې سترګی به ئې پرې تړلی وې د تورو شيشو په موټرو کې د پيلګون دښتې ته رسول او هلته به ئې ژوندي تر خاورو لاندې کول.







د کمونستي نظام د ستري محکمې رئيس
اعترافات...      ليکنه:مولوي شاه محمد
(يو ميليون افغانان ژوندي خښ شوي او له څلور ميليونو ډېر وژل شوي)

د کمونستي نظام د ستري محکمې رئيس نظام الدين تهذيب په خپله
اعتراف وکړ چې يو مليون افغانان ژوندي خښ شوي دي او له څلور مليونو
زيات افغـانان تراوسه ۱۳۷٦ هـ ش کال پوري وژل شـوي دي....
دريم مخ





دپلچرخي پوليګون ته افغانان دوژلو لپاره راورل شوه

**دا چې دوه اوونۍ شوې وې چې ډاکتر نجيب ناروغه و او د څرخي پله له زندان څخه ئې په پيلګون کې۱۰۰+۱۰۰=۲۰۰ زندانيان ژوندي تر خاورو لاندې نه کړای شول په دريمه جمعه چې زندان ته راغی نو دې وطن دوست او افغان دوست ډاکټر صاحب!!! د افغانانو په تيرو دوه سوو پاتې شوو هم رحم ونه کړ په همدې ماښام ئې ( ۳۰۰ ) افغانان هغه پيلګون کې چې په ده سبز کې ورته د ژونديو هديره ويل کيږي تر خاورو لاندې کړل.**



ویل کیږي چې(۵۰۰۰۰) پنځوس زره افغانان ئې هلته ژوندي ښخ کړي دي همدا ډول له هرات، مزار او له نورو ولایاتو څخه ئې په هلیکوپترو کې سپاره کړي زندانیان کابل ته د را رسولو په مهال په لاره کې له هلیکوترو څخه وغورځاوه او نیم ئې هم کابل ته راونه رسول

د کمونستي رژیم بې واکه واکمن حفیظ الله امین یادونه کوو، چې د مجلس په پیل کې ئې په مسخره سره بسم الله...وویل او بیا د لمانځه په بهانه پاځیدل ئې د شرابو په څښنلو بدل کړل



همدا راز د کمونستي رژیم روستي د بې واکه واکمن ډاکتر صاحب نجیب چې د زده کړې په دوران کې ئې د پوهنتون په انګړ کې زمونږ د سپیڅلي کتاب قران کریم بې حرمتي کړې وه د تاریخ پاڼو کې دا ټول جنایات ثبت دي چې په (فلم)دو روز پی در پیکې دا صحنې موجودې دي او هرڅوک ئې په خپلو سترګو لیدلی شي.









ګرانو لوستونکو! کمونستانو به هیڅ وخت دا ډول جنایات نه وای کړي او نه به ئي د افغان مظلوم ولس په وینو دښتي او غرونه رنګ کړي وای که د وخت واکمن سردار داود خان تیروتني نه وای کړې چې ځینو خلکو هوښیار سړی باله !

خو هغه هوښیار په خپل لستوڼي کې ماران ساتلي وو چې نه یوازې د هغه د کورنۍ بلکې د ټول افغان ولس د وژلو او کډه کولو جنایات همدې کمونستانو ( لستوڼي مارانو) تر سره کړل.که سردار داود ربښتیا هوښیار سړی وای نو په خپل حکومت کې به ئي کمونستانو ته




لوړ پوستونه نه ورکول او دا ددین او وطن دښمنان( کمونستان) به ئي د ساتلو په ځای له منځه وړي وای خو هغه څه چې کمونستانو په داود خان وکړل په تاریخ کي ثبت دي چې د کورنی له غړو سره ئي په بې رحمانه توګه وواژه(متل دی چې دمانوګر مرګ اخر دمارانو څخه وي) .

زمونږ لرغوني تاریخ که د یرغلګرو وحشتونه یاد ساتلي دي نو د خپلو پلرونو او نیکونو مقاومتونه موهم ژوندي دي د مثال په توګه د افغان ولس جهاد او مقاومت وو چې کمونستان ئي د ذلت او ماتې سره مخ کړل نور په افغانستان کې د کمونستي نظام ساه په ختو وه چې روسانو پر افغانستان د کمونستي نظرئې او نظام د دوام پخاطر مستقیماً د جدي په شپږم تور ماښام د یو نیم لک وحشي سرو لښکرو په بدرګه پر افغانستان د بمونو باران او سور سیلاب جوړ او پوځي یرغل وکړ او ببرک کارمل ئي په ټانګ سپور تر ارګه را ورساوه.



د ١٩٧٩م ٢٧ دسمبر=١٣٥٨کال د جدی شپږمتور ماښام د افغانستان په تاریخ کې هغه کرغیړن ماښام دی چې هیڅکله به دهغه د وحشت صحنې د افغانانو له ذهن څخه ونه وځي.
قدرمنو لوستونکو! مونږ د ثور اوومه او د جدي شپږمه ځکه کرغیړنې بولو چې غلامانو او یرغلګرو پدې ورځوکې زمونږ د ولس د وینو د بهولو پیل کړی دی، له بده مرغه ١٣٨٠هـ ش د میزان په پنځلسمه د امریکا تر یرغل پورې او لا څرګنده نه ده چې تر کومه به زمونږ د ولس دا وینې بهیږي تر اوسه پورې د دې وینو د بهیدو اصلی عاملین هغه کمونستي پوځي صاحب منصبان دي چې په کمونستي رژیمونو کې ئې د افغان مظلوم او بې دفاع ولس په وژلو له ډلګي مشرى نه تر خوردضابطی او بیا تر جنرالي رسیدلي دي ، بد بختانه هغه د کمونستي رژیمونو ماشیني جنرالان د خپلې قبلې مسکو ( سرې مانۍ) په بدلولو اوس مخونه واشنګټن ( سپینې مانۍ) ته اړولي دي څرنګه چې ئې د روبلو په مقابل کې خپل د غلامی سرونه مسکو ته ټیټ کړي وو اوس ئې واشنګټن ته د ډالرو په مقابل کې له هغه زیات ټیټ کړي دي کمونستان نن هم په افغان ولس د هغو وحشتونو یادونه او تکرار د امریکا ئې پوځ په سیوریو کې تازه کوي. کوم چې ئې د روسانو تر سیورى لاندې سرته رسول. تر ټولو خو بده دا ده چې هم هغه کمونستي جنرالان د هیواد په رسنیو او تلویزوني چینلونو کې په خپلو مرکو کې ځانونه د ولس دوستان او د وطن خواخوږي معرفي کوي خو ولس پرې ښه پوه دی چې دا همهغه روسي غلامان دي چې د مخه ئې لاسونه د مسکو په قومانده د ولس په وینو سره وو نن د امریکا له حکم سره سم همهغه ډول جنایات په مظلومو، شریفو او متدینو افغانانو سر ته رسوي که اوس امریکا ئې پوځي یرغلګر زمونږ ودونه، جنازی، جوماتونه ، کورونه او نور مقدسات بمباروي او زمونږ ګران وطنوال شهیدانوي نو زمونږ له ذهن څخه د روسي یرغلګرو د یرغل په وخت کې په افغانستان کې د روسانو ظلمونه اوجنایات له یاده نه دي وتلي.



روسي یرغلګرو په افغانستان کې د اشغال ټوله موده (٣٣٣٥) ورځې وه خو هره ورځ ئې په افغانستان کې هغه جنایات سرته رسولي چې اوس امریکائې پوځونه همهغه ډول جنایات او ظلمونه د خپل پوځي یرغل هدف ګرځوي روسانو په یاده موده کې (٢٠٠٠٠٠٠) دوه میلونه افغانان شهیدان او په همدومره شمیر ئې معیوب او یتیمان کړل ، تر(١٠٠٠٠٠٠٠) لسو میلونو زیات افغانان ئې دخپلو وحشتونو په دوام د خپل وطن ، کلیو او کورونو پریښودلو ته اړ کړل چې بدبختانه تر اوسه پورې د روسي او امریکائي یرغلونو له وحشتونو په کده شوي افغانان خپلو کورونو ته نشي را تللای. په پردیو هیوادونو کې هغه نا خوالې ګالي چې د ګاللو او زغملو نه دي که خپل ټاټوبي ته ستنیږي پخواني کمونستان ئې تهدیدوي او د ترهګری ټاپې پرې وهي.
عزتمندو لوستونکو! مونږ د روسي یرغل د جدي د شپږمې یادونه کوو ، خپل ځوان نسل ته ئې د تاریخ په توګه د هغوی وحشتونه یادوو ! وایو چې د ثور کودتاه روسي یرغلګرو ته د افغانستان په پاکه خاوره قدم ایښودلو ته زمینه برابره کړه کمونستان چې د اوسني حکومت( کرزي او اشرف غني ) په لوړو پوستونو دندې ترسره کوي که هر څو په رسنیو کې د وطن دوستۍ او افغانیت چیغې او سورې ووهي دغه تور مخي کمونستان همهغه د وطن او افغان ولس دښمنان دي چې تر نن ورځې پورې زمونږ دبدبختیو سبب ګرځیدلي دي. دا هم باید په ډاګه کړو چې روسانو د خپلې ماتې په

وروستی ورځې هغه څه له ځان سره یوړل چې دوی ته نه کیدونکي ښکاریدل او دمنلو وړ ورته نه وو، د توپونو جهازونو، ټانکونو او یو نیم لک وحشي لښکرو په بدرګه په امو له غروره ډک سرونه را اوړیدلي او ګرمو اوبو ته د رسیدو په تکل کې وو چې د افغان ولس دایمان په عقیده سمبال مقاومت او جهاد په پایله کې غاښ ماتي او سرماتي بیرته سرټیټي په شرمیدلې تیښته وتښتیدل



او اخري عسکر چې د امو له سیند حیرتان بندر څخه تیریده جنرال بوریس ګروموف دڅلویښتم لښکر فرقه مشر وه افغانستان ته ئې مخ را واړوه او وی ویل : افغانستانه زمونږه قبرستانه بیابه کله هم درنه شو!٨اپریل ١٩٨٨م= ١٣٦٧ هـ ش



دحیرتان له لاری دشوروي اشغالګرو قواو دوتلو په وخت کې ددوی اخرني جنرال بوریس ګروموف وویل افغانستانه زمونږ قبرستانه بیابه هیڅکله هم درنشو(١٣٦٧دلوی ٢٦=١٩٨٨م

محترمو لوستونکو! د روسي یرغلګرو هغه وحشتونه چې په ګران هیواد کې ئې سر ته رسولي له افغانانو نه هیرېږي. دبیلګی په توګه لغمان کې ئې په ١٣٦٢ کال ( ٣٠٠٠) ولسي وګړي په یوه ورځ شهیدان کړل حتی چې د علي خیلو د قوم د ماشومانو په سینو کې خښې برچې ئې همغسې خښې پریښې وې،د بغلان ولایت د کیلګي په دشته کې مسلمانوعسکرو د روسانوخلاف پاڅون وکاوه چې روسانو د کیلوالو په ګډون (١٥٠٠) تنه په شهادت ورسول. په لوګر کې چې روسانو هلی کپتر ښکته کړ څه ئې چې وکړل هغه هر چاته معلوم دي لله الحمد همغه څرخي الوتکه د هاشم په نامه یو مجاهد رانسکوره کړه او د خپل افغاني غیرت غچ ئې ترې واخیست.






تر (٧٠٠٠٠)اويا زرو زيات افغانان ئې د جګړو او كورونو د تالاشى په مهال ونيول مسكو ته ئې انتقال او د وسلو په كارخانو كې ئې شپه ورځ په كار بوخت كړل، روسانو به دغو مظلومو افغانانو ته ويل چې ستاسې په لاسونو دغه جوړ شوې كارتوس او وسلو باندې ستاسې پلرونه ،ميندې او ورونه وژنو، او ستاسې كلي او كورونه پرې ورانووچې تر ننه دهغوی سرنوشت نه دی معلوم .همداشان روسانو په افغانستان كې تر شپيته ميلونو زيات ښخ كړي ماينونه پريښي دي چې د يو روسي جنرال په وينا ( زمونږ له وتلو وروسته به پنځوس كاله له افغانانو سره زمونږ ماينونه جګړه كوي). حقيقت دا دی چې نن هم زمونږ په كليواو باندو كې پر هغوماينونو زمونږ ولسي وګړي شهيدانيږي .





ګرانو لوستونكو! مونږ ته دا هم ياد ده چې روسانو د خپل يرغل پرمهال د (٥٥٠٠) كيلو وزن لرونكي سكاډ توغندي، زركيلو وزني اوراګان او خرواري نيپال بمونو په ورولو سره زمونږ د ولس كلي او كورونه له خاورو سره خاورې او په كنډوالو بدل او په افغانستان ئې د بمونو باران جوړ كړی وو دغنمو او جوارو دانو او دونو دپاڼو له شمار ځخه زياتې مرمۍ او تبا كوونكې وسلې وكارول شوی چې زمونږ ولس پوره پنځلس كاله يعنې له ١٣٥٧هـ ش ځخه تر ١٣٧١هـ ش كال پورې دباروتو په لمبو كې وريته شوه افغان سرشاره او مجاهد ولس داسې بې سارې قرباني وركړه چې دصحابه كرامو نه وروسته چا نه وه وركړې او ټوله نړۍ ورته په سلام شوه





خو زمونږ د ولس سپيڅلی جهاد او مقاومت ئې خاموش نه شو كړای. كه روسانو او كمونستانو زمونږ ګران هيواد په كنډواله بدل او په هر كور كې ئې ميندې په وير كينولې الحمد لله تر هغې بدې پايلې ئې په خپلو سترګو وليدلې،چې هغوی ئې د لاندې تاوانونو سره مخ كړل او سوپر طاقت يې په صفر طاقت بدل كړ او د افغانستان د جهاد په بركت شوروي اتحاد دړې وړې شو چې د منځني اسيا ځوارلسو هيوادونو له شوروی اتحاد ځخه ازادي تر لاسه كړه همداراز د روسانو( ٢٠٨٠ ) طيارې تخريب شوې(١٧٠٠٠) ټانكونه(٢١٠٠٠)نقليه وسايط له منځه تللي او (٥٠٠٠٠) روسان وژل

شوي اوپه سوونو بې درکه دي د روسانو دورځې (۴۵) میلونه ډالر مصرف ووچې(۳۳۳۵) ورځې افغانستان کې پاتې شوي چې له اقتصادي لحاظه روسیه دیوالیه او ډېره کمزورې شوه او له خپلو سیالانو سره سیالی څه چې نن ئې غلامي کوي.

عزتمندو لوستونکو ! په پای کې ستاسې توجه دې خبرې ته راګرځوو هغه دا چې د جدي د شپږمې عاملین کمونست جنرالان هغه قهرمانان دي چې پرون ئې د روسانو د خوشحالولو لپاره بریتونه لوی کړي وو د هورا او سوسیالیزم چیغې به ئې وهلی خو کله چې مجاهدینو کابل ونیوه، همدغو قهرمانو جنرالانو بریتونه کم کړل ږیرې ئې پرېښودې او پکولونه ئې په سر کړل دجهاد او اسلام خبرې ئې کولی، خو کله چې طالبانو کابل ونیوه،دوی خپلې ږیرې لوئې کړې او پګړې ئې په سر کړلې. د جومات او طالب صفتونه به ئې کول، کله چې امریکایانو په افغانستان یرغل وکړ دوی ږیرې وخریلې، نیکټائې او صلیب ئې په غاړه کې واچول او د دیمکراسی او جمهوریت چیغې ووهلې ، خدای مکړه که سبا سیکان یا هندوان، افغانستان ونیسي دوی به د سیکانو غوندې پګړې په سر او د هندوانو غوندې به په خپلو تندو خالونه ووهي او په لاسونو کې به بنګړي او کړې واچوي د بامیر، پنډت او بابا ګورو نانک صفتونه به کوي ځکه چې دا ابن الوقت عناصر دي ښه ئې وپیژنی چې هیڅ دین او مذهب نه لري دوی د هغې رقاصې او بازیګرې غوندې دي چې د هر چا ډول ته ګډیږي څوک چې پیسې زیاتې ورکوي د هغه ترڅنګ درېږي، لعنت په هغه چا چې یو دین او یو مذهب نه لري څوک چې په قدرت کې وي د هغوی ملګري وي که مونږ افغان ولس ته یادشوي تاوانونه ، تباهۍ او کړاوونه د داود خان تیروتني او یا د ولس غفلت یاد کړو په دواړو صورتونو کې مونږ سره چې څه وشول هغه ښه ونه وشول، خو لوړه حوصله، د ایمان جذبه د اسلام او وطن سره مینه او محبت دراتلونکو وختونو لپاره له مشکلاتوڅخه دخلاصون لار ده.

محترمو لوستونکو ! د ځینو جهادي مشرانو له خوا افغان ولس سره یو بل ظلم او نه بخښونکی عمل داهم دی چې دجدي دشپږمې او د ثور د اوومې عاملین او د (۲۰۰۰۰۰۰) شل لکو شهیدانو قاتلین وبښل شول. دا اوس چې په موجوده حکومت کې د دوو میلونو شهیدانوقاتلین په لوړو پوستونو پاتې دي دا هم یو نه بښونکی جرم دی که په طالب نظام کې دوی (کمونستانو) سره داسلامي اصولو په بنیاد چلند شوی وای دامریکا یرغل او په افغانستان کې رواني تباهۍ به دومره دوام نه وای موندلای لکه څرنګه چې افغان ولس له داودخان اوځینې جهادي مشرانو څخه ګیله لري چې کمونستانو ته ئې دسزا په ځای مکافات ورکړل دا رنګه دا ګیله هم طالب نظام ته په ګوته نیولو سره راجع کیږي چې طالب نظام کې هم هغه سزا کمونستانو ته ورنکړل شوه کومه چې ورته د خپلو کړنو په مقابل کې لازمه او اسلام ورته ټاکلي وه. والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته. اســـلام زنــــده بـــاد. تل دې وي افغانستان.(اریانا خبري اژانس)

## دوهم ــ دشورویانو تیر وتنه (وحیدالله مصلح لیکنه)




شوروي چې چیرته ننوتی نو ملتونه یې ځپلي او نظریې یې ماتې کړي، تر ټولو مهمه دا چې شوروي له هیڅ هیواده د بیا وتو داغ او پیغور نه وو لیدلی، دلته هم شوروي د غرور په نیلي سپور راغی، د ویتنام د فتحې خرمستیو د شوروي اتحاد د زړو مشرانو عقلونه واړه کړي وو، په یو داسې هیواد یې د تیري ګناه وکړه چې د اسیا په زړه کې ویده زمری وو..یو وخت داسې وو چې دشوروي رئیس جمهورخروسچوف، داتومي انرژۍ عالم اندري سخاروف ته په ډېر غرور وویل چې ( مونږ باید خپل سیاست تل د ځواک له مورچله اجرا کړو، مونږ به بل هیڅ سیاست خپل نه کړو، زمونږ مخالفان په بله ژبه نه پوهیږي)١، خو کله چې د دی ملت د بې ساري قهر او غضب لمبوکې شوروي راوپرزېده او غرور یې ویلي کېده، د یوی لویې رسوایی او ماتې وروسته بوریس ګروموف د شوروي لښکرو قومندان د دوستئ په پله اووښته او له ځان سره یې ویل، ( افغانستانه زمونږ قبرستانه بیابه درنشو

اوغواړم هغو کسانو ته د زړه له کومي کنځلې وکړم چې افغانستان ته یې د سرتیرو د لیږلو پرېکړه کړې وه، ما غوښتل هغه څوک رایاد کړم چې تر دې ورځې ژوندي را ونه رسېدل او د هغو له مېندو ښځنه وغواړم..)٢.پښتانه یو متل کوي چې د مْلا له توره مې وساتې او د ولس له زوره مې وساتې ، شوروي لښکرو د یوه تاریخي ملت سره راخښتې وه، هغوی له تاریخه نه وو زده کړي چې دلته په دا نزدی تیر شوي تاریخ کی افغانانو د ایرانیانو له ګرګینه نیولې بیا د انګلیس تر لښکرو د خپلواکۍ جګړې ګټلې




ټېټ مي مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه ـــــــ زه په دې افتادګۍ کې لوی ګړنګ یم

# دافغانستان اوه (٧) اسلامي تنظیمونه

په افغانستان کې دکوم وخت نه چې کمونستي (خلق،پرچم او شعله جاوید یا مائیوزم) او نشنلستي (افغان ملت ، ملت او سیتم) تنظیونه جوړ او دظاهرشاه دحکومت لخوا په رسمیت وپیژندل شوه ورسره سم ١٣٣٩هـ ش = ١٩٦٠م کال دکابل پوهنتون څو با احساسه ځوانانو اول د جوانان مسلمان په نامه تحریک چې بیا داسلامي نهضت په نامه مشهوراوجوړ شو د پورته ذکر شویو لادینه او دیموکراتو تنظیمونو سره مبارزه ، مناظره او مقابله روانه وه چې حکومت هم ددوی ترشا ولاړ وه او په اسلامي نهضت به یې فشارونه راوړل چې کله کمونستان دداودخان په کودتا سره نیمه کامیاب او حکومت ته داخل شوه نو د اسلامي نهضت په غړویې فشار څوچنده زیات کړو ځکه داود خان چې یو دیموکرات شخص وه او کمونستان ورته خپل ښکاریده نو دهغوی پلوي یې کوله او په کابینه کې دده نژدی ملګري لکه حسن شرق دافغانستان پخوانی لومړی وزیر او د پرچم د ګوند مخور سیاستوال، فیض محمد خان (وزیر خارجه) اومحمد خان جلالردتجارت او مالیې وزیر چې کمونستان وه غلط نظرونه ورکول




او داسلامي نهضت په ملګرو یې په خلاص مټ څه چې غوښتل کول یې لکه شکنجه ، نوکان ایستل ، تیل داغ ، دقصاب په ساتول لاسونه او ګوتې پریکول ، برقي شاټونه ورکول ، د اوبو په ډنډونو کې ودرول او بالاخره په اعدام رسول پکې شامل وه



دافغانستان داسلامي نهضت ورځ تر بلې قوي کیده او ټول افغانستان ته ددوی دعوت ورسیدلواکثره مشران یې اعدام او زندانونو ته ولیږل شوه او چاته چې فرصت پلاس ورغلو له هیواده بهر ګاونډي هیواد پاکستان ته لاړل او له هغه ځایه یې خپل دعوت چالان ساتلو تر دی چې داود خان دخپلو خلقي او پرچمي ملګرو په ذریعه دخپلو بچیو سره یوځای داعمالو په سزا ورسیدلو متل دی مکوه په چا چې وبه شي په تا ده دخدایي دعوه یې کړې وه داسلامي نهضت مجاهدین دده بنده ګان وه ده پیدا کړي وه ځکه خو یې په بې رحمې سره یې ترې لاسونه اوپښې پریکولې او وژل یې خو الله پاک ورته خپله خدایي وښودله چې دا زما بنده ګان دي ما پیدا کړي زه روزي ورکوم په ساتول ترې ګوتې او لاسونه مه غوڅوه کنه نو پخپلو ملګرو به دی دساتول په پلار ټوټه ټوټه کړم چې الحمد لله هماغسې ورسره وشول.

داسلامي نهضت دغړو لپاره په دا ځلورځلویښتو کالونو کې تر ټولو بدترینه او توره دوره دداود خان دوره وه ځکه چې ددوی اواز په غیر له الله پاک نه بل چا نه اوریده او خف چپ تر داسې ظلم لاندې وه چې حتی خپلو پلرونو هم ورسره نه منله ځکه عوام خلک په دی نه پوهیده چې دپردې تر شا څه روان دي .

دداود خان دوخت ١٣٥٦ هـ ش کال کې یوه خپله قصه تاسو ته بیانوم چې په هغه وخت کې په مونږ څه تیریده (مؤلف ): زما مشر ورور شهید استاد عنایت الله (عبدالله ) ١٠٠٠٠ لس زره جلده جهادي کتابونه ( لارې او نښې ، فرد او دولت ، هزارو یک دلیل او داسې نور ) له پیښوره دننګرهار کامې ولسوالۍ له لارې داخل ته راولیږل دکتابونو حال د کی جي بی جاسوس احمد شاه مسعود لخوا حکومت ته ورکړل شوی وو دکامې پله کې ونیول شوه هغه وخت داطلاعاتو فرهنګ رئیس مولانا کشاف صاحب چې داهم مجاهد وه هغه نظر ورکړ چې کتابونه دی وسوځول شي



شهید استاد عبدالله
عنایت الله

او په غیاب کې یې مونږ ته احوال راکړو چې کتابونه پټ په لاسي بیکونو کې انتقال کړی (دوی څه زاړه کاغذونه وسوځول دا یې بچ کړه ) زه لاړم دارلمعلمین او طب پوهنځي مجاهدین مې خبر کړه هغوی هم دکتابونو انتقال شروع کړو ځما او دورور کوټه مو په لغمان زړه هډه یا دډنډغاړې چوک نه لږ امیر شهید باغ طرف ته نژدی وه کتابونه مو راوړل دداړو ورونو کټونولاندې مو خښتې ایښودې وي چې کتابونه ورلاندې ځای شي او دپاسه مو روجایګانې پرې غوړولې وی خو کتابونه زیات وه دری سوه جلده کتابونه مو دمولوي صاحب سید محمد کور ته یوړه نور کتابونه په اخر وه ماښام



تیاره وه چې زما دورور عبدالرب سره یو اخري بیک ددرمسال ترخنګ ونیول شو ښه وه چې مونږ کوم سرای کې اطاق نیولی وه دهغه سرایوان مسلمان سړی وه (بیا ورسانو شهید کړو) پولیس یې ولیده چې هلک یې ونیوه راغی ترمنځ شو او ورته یې وویل داهلک زه پیژنم زما په سرای کې اطاق لري یو ورور یې بل هم ورسره دی مکتبونه وایي او دغه کتابونه دمستوفیت چوک کې خرڅوي پولیس کتابونه وکتل وی ویل نه داخو دانګریزانو کتابونه دي خو اخر داشو چې پولیس پنځه سوه افغانۍ واخستې او ورور مې خپلې کوټې ته راغی زه کوټه کې ناست ووم ماته وایي عاجل له کوټې اوځه چې پولیس دلته رانه شي ما ورته وویل څه خبره ده هغه وویل اوځه دخبرو وخت نه شته چې کله راوتلم نو کوټې ته مې قلف واچولو ورور مې هم ورته دوهم قلف واچولو دامیر شهید باغ په طرف زه مخکې یم او ورور مې راپسې دی دباغ یو کونج کې زه ودریدم هغه سره یوځای شوم په لاره روان یو زر زر یې راته قصه واوروله بیا مو مشوره وکړه چې ګولایي عربانو کلي کې زمونږ دیو ملګري حامد صاحب کور دی هلته به لاړ شو هلته چې لاړو مور پلار یې حجرې ته دننه کړو او راته یې کتل چې څنګه بل قسم معلومیږې مونږ ورته حال وویل ځکه

ددوی کور ته مو هم کتابونه راوړي وه هغې مور زر زر مونږ ته څه روپۍ راکړی چې دا په بډه ووهی  که ونیول شي نو دا روپۍ به درسره وي او نور يې راته لمن واچوله چې له دی ساحې بل ځای ته لاړشی چې ستاسو سره مونږ هم غرق نشو دعربانو مولوي صديق الله له مسجده مو حرکت وکړ دار المعلمين ته لاړو هلته داماسختن جمع ولاړه وه له جمعې وروسته مو امام مولوي صاحب محمدعارف چې هغه هم مجاهد وه واقعه بيان کړه هغه خپلو ملګرو ته په اشاره سره وويل چې پاته شي نور خلک ووتل دوی ګروپونه ګل کړه او خپلو کې يې مشوره وکړه چې څه کول پکار دي ځکه همدوي ځمونږ اطاق ته کتابونه څو ورځو کې راورسول يوه وويل چې عاجل دادواړه هلکان چيرته پټ ځای ته بوځی چې ونه نيول شي که ونيول شي دا واړه دي ټول حال به ورته ووای ټول ملګري به له منځه لاړشي او يو تن يې په سايکل وليږلو چې اطاق وګوري چې پوليس ورته راغلي او که نه هغه چې زمونږ اطاق ته نژدی شوی دشپې دګزمې پوليس يې ليدلی وه واپس راغلو او وی ويل ددوی اطاق محاصره دی ټولو په بيړه سره وويل چې تاسو دواړه عاجل بل ځای ته لاړ شی مونږ دقومندانی ترځنګ دمولوي صاحب سيد محمد کورته لاړو يو کس ددارلمعلمين هم راسره لاړو کله چې دمولوی صاحب حجرې ته ننوتلو هغوی ناست وه مرکه يې کوله وی ويل څه چل دی په دی ناوخته کې راغلې ډوډی مو خوړلی کنه مونږ پخپل غم کې وو ډوډی مو په ياد هم نه وه هغوی ته مو وويل هو خوړلی مو ده بيا يې مونږ ته کټل شکيان شول چې څه غم خو پيښ شوی اخر يې قانع کړو مولوي صاحب سيدمحمد چې په همدې ورځ له زندان څخه راخوشې شوی ووه دزندان ټول تکاليف ورمخې ته شول چې نوکان يې په امبورونو ترې ايستلي وه هغه نه خپل ورور ته او نه مونږ ته څه وويل څادر يې په اوږه کړو له حجرې څخه ووت او بل ورورېې زر منډه کړه کوم کتابونه چې مونږ ورکړې وه هغه يې زر زر په کور کې خاورو کې خښ کړه او بيا راغلو او مونږ ته يې سوال زارې شروع چې بل ځای ته لاړ شی که دلته چا تعقيب کړی وی نو مونږ درسره ټول تباه کيږو دا وخت چې ډيرناوخته وه مونږ انکار وکړو بيا يې سهار وختي راجيګ کړو ملا اذان لا نه وو کړی دقومندانی شاته کابل سيند ته هلته مو اودسونه وکړه او بيا دجندرما دپله لاندې مخ په جنوب دفارم هدې منطقې ته ګنده چشمې ورته وايي هلته ورسيدو يو ورور له بل نه سل دوه سوه متره وړاندې روان او په جب کې مو تيګي اچولې وی دا زمونږ وسله وه مونږ ويل که يو ونيول شي هغه بل به يې دفاع کوي  دفارم هدې غونډيو ته ورسيدو ددارالمعلمين ملګرو ته مو همدا ادرس ورکړی وودورځې يوه بجه شوه وږی هم وو ماسپښين لمونځ مو وکړو له غونډيو مو کټل لاندې اوسنی جوی هفت او ميوې منډيي هغه وخت  نه وه ټوله دشته وه چې د اوسنی ميوې منډيي سره ګورو يوکس را ښکاره شو شين څادريې وه ومو پيژانده استاد منير شهيد (دلغمان اوسيدونکی وه چې بيا کمونستانو ژوندی په خاورو خښ کړو) وه ترمينځ مو ډيره ليرې مسافه ده خو يو بل ته مو څادرونه وښورول ارتباط مو سره ونيوه هغه ځان راورساوه مونږ يې غيږ کې ونيولو او ډير زيات يې وژړل دا ددارالمعلمين دمجاهدينو مشر وه په دی واقعه خبر نه ووځکه دی په هغه وخت کې موجود نه وو ويل ستاسو اطاق ته لاړم هيڅ مشکل نه وه چا درته دروغ ويلي اطاق مو محاصره نه دی رکشا کې يې راوستو دخپل اطاق مخې هوټل ته دوه دوه خوراکه ډوډی يې را وغوښته وی ويل اوګورې ستاسو اطاق ته دوه قلفونه پراته دي او بيا يې دارالمعلمن کې خپل اطاق ته بوتلو شپه مو وکړه سبا لس بجې ځما پلار او مور يو بل ورور استاد عبدالواسع صابر چې هغه وخت دی ساينس پوهنځي کې وه او پاکستان ته تللي وه هغوی چې کله ځمونږ اطاق ته راغلي له سرايوان څخه يې زمونږ پوښتنه کړې هغه ورته قصه کړې استاد عبدالواسع چې دپاکستان څخه يې په بډه اوه کتابونه راوړي وه هغه چې دا قصه واوريدله  مور او پلار ته يې هيڅ ونه ويل له سرای څخه پټ وتلی وو مور پلار مې ګوري سرې ورک شو هغوی ويل څه په ليونيانو مو سر شو خو بيا يې سرايوان ته ويلي چې دوی به چرته وي هغه ورته ويلي

زه نه یم خبر خو ښه وه کوم کور ته چې مونږ اول ماښام تللي وو هلته دوی هم ورغلي وه هغوی ورته ددارالمعلمین ادرس ورکړی وو هلته مې پلار راغی بیایې کتابونه بل ځای ته انتقال کړه په دی کې یوه شب نامه (د داود خندونکې ډرامه ) هم موجوده وه چې مونږ دوه دری ورځې مخکې دجلال اباد ښار کې پټه خپره کړی وه او څو ورقې لا پا ته وی .

ددی واقعې دیادولو نه مې مقصد دادی هغه وخت خلکو دجهاد نوم نه پیژانده او دجهادي روحیي دپوهاوي نورې لارې هم نه وی فقط کتاب او شب نامه او پټ دعوت وه او هغه



استاد عبدالواسع صابر

هم په داسې خطر تر سره کیدل چې کله به څوک ګیر شو نوکان به یې تری ایستل او بیا به یې اعدامولو یا به یې تیل داغ کولو هر سړی له کتابه هم ډاریده چې راسره ونه نیول شي چا دجهاد نوم نشو اخستلی چې جهاد څه شي دی او نه دا چا جرأت لرلو چې دحاکمې طبقې خلاف خبره وکړي او کوم کس به چې دعوت چلولو هغه به خپلوانو کور کې نه پریښودو چې مونږ درسره ونه نیول شو ان تر دی چې حکومت ته به یې پلاس ورکولو او دا تبلیغ هم شوی وه چې دیوالونه هم حکومت ته خبر ورکوي پام کوی چې دحکومت خلاف خبره ونکړی او دچا زامنو به چې دجهاد دعوت چلولواو یا به یې هجرت کړی وه دهغه کورنی به یې دومره



وځورولې چې اخر به یې خپل بچې حکومت ته حواله کړوچې یوه نمونه یې د شهید ذاهد ابراهیمي دتره ځامن عاشق الله او عبدالصمد وه ، دداودخان حکومت کې چې کمونستان مسلط وه زما ښه په یاد دي (دکتاب مؤلف): شهید استاد عبدالله (عنایت الله) زما ورور او تره ځوی مې استاد رحمانیار صاحب چې دواړو په ۱۳۵۳هـ ش کال یې پاکستان ته هجرت کړی وه او حکومت ددوی دنیولو په لټه کې وه زمونږ دکورنۍ دوه کسه ددوی دنیولو لپاره یو مو تره ډګروال صاحب عبدالشکور خان او بل درحمانیار صاحب ورور نامدارخان چې دپرچم له ګوند سره یې اړیکې لرلې او په هلمند کې دزراعت لیسې مدیر وه مقرر کړي وه هغوی مې پلار ډیر وهڅاوه چې دواړه (استاد عبدالله او استاد رحمانیار ) حکومت ته پلاس ورکړي ځکه دا دسرطان دانې دي نور بدن ته سرایط کوي ټول بدن له منځه وړي نو ښه داده چې همدوی دواړه پلاس ورکړو ما دا خبرې پخپله اوریدې چې زما مرحوم پلار ته یې کولې خو هغه ورسره موافق نه شو څو ورځې وروسته دشیرزادو علاقه دارې نه یو عسکر راغلومونږخلور کسان(پلار، تره یعني درحمانیار صاحب پلار زه او زما ورور نقیب الله یا عبدالرب ) یې علاقه داری ته بوتلو ماښام نژدې وه ماما خیلو ته ورسیدو علاقه دار مونږ ته وویل عبدالله او رحمانیار چې اصلي نوم یې ګلدار وه چرته دي تره مې ورته ویل مونږ نه یو خبر تاته به معلوم وي چې حکومت یې علاقه دار ورته وویل مونږ ته خو معلومات دی چې کورته راغلي وه اوس چرته دي تره مې عبدالرسول خان چې ډیر زړور سړی وه علاقه دار ته یې وویل علاقه دار صاحب زه په ډیرو خبرو نه پوهیږم قسم په الله که مې له ---- نه زوړند کړې او په کور کې ناست هم وي نه یې درته ښیم نور مو مه په عذابوه علاقه دار سمدستي عسکرو ته امر وکړزندان کې یې واچوی کله چې زندان ته ننوتلو تره مې علاقه دار ته مخ واړه وه چې دادواړه هلکان واړه دي دوی خوشې کړه چې کور ته لاړشي هغه چې وکتل نو زه چې ډیر وړوکی ووم وی ویل دادي لاړ شي اودا بل هلک دی وي ما مې پلار اوتره ته وویل ماښام تیاره ده تر کوره یعني طوطو پورې دوه ساعته مزل دی زه هم نه ځم تره مې راته غوصه شو چې ځان اوباسه دماما خیلو څخه چې اوس دشیرزادو ولسوالی ده باغ عمومي نه دباندې راووتلم خپلې څپلې مې په څادر کې واچولې او بیا مې تر شاوترلې ا و په تیاره کې مې ښه تیزه منډه شروع کړه په لاره کې شوبلې او کندې ډیرې وی چې هلته به دورځې هم ډاریدو څه شي ته مې نه کتل خو لنډه دا چې دوه ګنټو لار مې په نیم ساعت کې ووهله ماسختن وه چې کورته

راورسيدم مور مې غېږ کې ونيولم او راته په ژړا شوه چې دی خدای ناترسو تاسو واړه واړه هم ونيولی دوه ورځې وروسته هغوی هم راغلل اختر ورځې وی تره مې زمونږ کور ته راغلو زما پلار چې ورته وکتل ورته په ژړا شو مونږ ورته وويل پلاره ولې ژاړې هغه وويل کله چې ته راغلې سبا يې مونږ ميدان ته راويستلو دتوتانو لس لښتې يې سره يوځای کړې وې او ل يې دا (اشاره يې خپل ورور ته وکړه ) تر پښو وتړلو او دوه عسکرو يې پښې ونيولې پلار مې وايي ما شمارلې شپيته واره يې ددی بنډل لښتو پرې وکړه دهغه نه وروسته زما وار شو زه يې هم همدومره په پښو ووهلم دادواړه ډېر سپين گيري وه داختر ورځ وه مونږ ټول په ژړا شوو او هغه بل وروړمې عبدالرب ښه وه په سبا سحر يې راخوشې کړی وو يوه ورځ مې پلار دعا وکړه يا الله جهاد عام او فرض کړې خو متأسفانه چې دی په ١٣٥٦ هـ ش کال وفات شو او دعام جهاد وخت يې ونه ليده ، داواقعه مې دلته وليکله متل دی مشت نمونه ای خروار داسې واقعې دافغانستان په مظلوم ملت په زرگونو زرگونو تيرې شوي خو الحمدلله خپل موړال مو نه دی بايللی او ټول ملت پغير ديو څو حلقه بگوش غلامانو څخه چې دخلق پرچم گوند غړي وه نورو ټولو ښه په نره جهاد ته راودانگل او په غم کې راسره شريک شول که داسې نه وای شوي نو تاسو يقين وکړې چې په مونږ به هم دمرکزي اسيا دملکونو په شان لکه تاجکستان ، ازبکستان ، قرغزستان، ترکمنستان ، په مجموع کې بخارا او ثمرقند په شان به مونږهم دشوروي کمونستي نظريې ښکار شوي وو او اوس به نومونه رحمان علی وف ، عبدالله وف ، گربه چوف وه

الحمد لله دکمونستانو له راتگ نه مخکي دجهاد لاره او سر ک تيار جوړ شو هر سړي پرې موټر ورخوشئ کړو او دامريکايانو دراتگ وروسته خو په دی جهادي سرک قير هم اچول شوی وو فقط ډريورانو ته دگيرونو بدلول اوموشم ورکول وه .

داځيني اوسني مجاهدين په مخکنيو مجاهدينو کله کله ځان اوچت گڼي زه وايم بچيانو !! متل دی چې پلار گټلي ځوی ته اسانه دي ، گټه درته مخکنيو کړې لارې گودرې درته مخکينيو صحيح کړې وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ (١٠) أُولَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ (١١) فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ (١٢) ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ (١٣) وَقَلِيلٌ مِنَ الْآخِرِينَ (١٤الواقعه) ترجمه: مخکيني به مخکې وي ،دوی دوی الله ته نژدې خلک دي، په جنتونو او نعمتونو کې ، لويه ډله به دمخکنيو نه وي او لږ به دورستيو نه وي .

په هر ترتيب دټولو لاره يوه ده مخکيني دی خوشحاله شي چې ورستيو ددوی لاره تعقيب کړه او وروستي مجاهدين دی خوشحاله شي چې زمونږ پلرونو دا لاره راته ښودلې ده وايي : دزمري بچی زمری وي او دگيدړ بچی گيدړ وي چې پلار يې زمری تير شوی وي او دی دگيدړانو کار کوي نو دا با دشرم ځای دی.

متل دی کله چې دميږي دختميدو وخت را شي نو وزرې يې وشي ، دمجاهدينو سره دالله پاک مدد شروع شو کمونستانو ته الله پاک وزرې ورکړې داود خان يې وواژه حکومت يې براه راست پخپل لاس کې ونيوه دوی فکر کاوه چې افغانستان کې به داڅو کسه ځوانان مسلمانان وي اوهغه مو ختم کړه نوره مخه خلاصه ده تر دی دمه يې اوبه تر بوسو لاندې بيولې او اوس يې اوبه دباندې راويستلې په ښکاره يې دکفر او دالله نه دانکار شعارونه شروع کړه دافغانستان مجاهد ملت ورته متوجه شو چې دا حکومت څه کوي ؟ دا څه لگيا دی ؟ دهميش لپاره افغانان هردوشمن ته اول ښه پوره حوصله کوي چې بيا په سړيتوب پوه نه شي نو داحمد شاه بابا ،مرويس خان نيکه او سلطان محمود غزنوي تورې ته لاس کړي چې هماغسې وشول الحمد لله ملت راپاڅيده دجهاد ښکاره اعلان يې وکړو په کمونستانو يې ځمکه سره کړه ورځ په ورځ يې دحکومت لمن راټوليده او مخ په نابودۍ روان وه چې بادار يې اتحاد جماهير شوروي له نژدی نظارت کاوه او په دی پوه شول چې حلقه په غاړه غلامان مې نور د پنا په درشل کې دي نو دنړيوالو ټولو اصولو خلاف يې په ډيره سپين سترگۍ او فرعوني غرورسره په ۶/جدي/١٣٥٨ هـ ش کال دمجاندينو په ټاټوبي داسيا په زړه

او دنرانو په ملک ګران افغانستان باندې دیونیم لک سره مخي او شین سترګي فوج په ذریعه ښکاره تعرض او حمله وکړه دافغانستان نیول خو اسانه دي خو دا د ګرم شلغم خوړل سخت دي ما ددی کتاب په اوله حصه کې یوه واقعه د (سپی اوګرم شلغم) لیکلی ویې لولئ .
افغانان چې کله یوه شول چې دغټې بلا سره خو مو جنګ شو ، یو متل دی (چې خدای کړه درته پیښه ځان کړه ورته میښه )بس ټولو نرانو او ښځو ماشومانو او زړو شپه او ورځ ورته یوه کړه نه په لوږه خبر وه نه په تنده نه په زخم وه نه په مرګ دسیلاب په شان په سرو لښکرو لکه مچې غونډې ورخوشي شوه او په دوښمن یې یو بد حال جوړ کړوهم یې ځان پرې تباه کړو او هم یې دروس غونډې سوپر طاقت ختم کړو ټول افغانان سره یو لاس وه چا نه تنظیم پیژانده او نه قوم دبده مرغه هغو ملکونو چې افغانانو ته یې پناه ورکړې وه او هغو ملکونو چې دی ناتار کې یې کمکونه کړي وه دخپلې اینده ویري له کبله چې دمجاهدینو پلاس یو قوي حکومت رانه شي په استخباراتي کمین کې افغانانو ته کیناسته او اول یې په ۳۵ ټوټو او بیا وروسته په اوه (۷ ) قوي ټوټووویشل چې پنځه یې دمجاهدینو او دوه یې ددیموکراتانو او ملي ګرایانو ، نشنلستانو دپناه لپاره اواتم تنظیم په ایران کې دشیعیه ګانو لپاره جوړ کړل افغانانوستاسو له میراني قربان شم ستاسو له قدمونو قربان شم چې تاسو څومره په سختئ، لوږه او تنده نوموړي جهاد ته غیږ ورکړه او کامیابئ ته مو ورسولو خوافسوس چې دکامیابئ ثمره مو په دونیا کې ونه لیده ددین دوشمنانو دربانديې خرابه کړه خو زه اطمنان درکوم چې الله پاک به ددی عوض په اخرت کې درکړي )
کله به چې دمجاهدینو لپاره سل ټوپکه راغله نو پاکستانیانو به اتیا ټوپکه حکمتیار ته ورکول او باقي شل توپکه به یې په دانورو شپږو تنظیمونو تقسیمول ځکه زما یو ورور استاد عبدالودود داسلحو ددیپو امراو مسؤل وه اوبل ورورمې استادعبدالواسع صابر دهمدې وسلو دتوزیع مدیر او مسؤل وه مونږ ته ټول معلومات کیده دپشاور په کوز اړخ جګړه نامي ځای کې دا ډیپو وه بیا شمشتو وچ نهر ته لاړه کله به چې دشپې سل موټره اسلحه او مهمات راغله نو اتیا موټره به یې دلته خالي کړه او باقي شل موتره به یې بیا په نورو تنظیمونو تقسیم کړه چې زما په خیال شپږ یې جمعیت ته شپږ یې مولوي صاحب خالص ته او څلور یې مولوی صاحب محمد نبي حرکت ته او دوه دوه یې مجددي اوافندي اغا ته ورکول او دلته په افغانستان کې هم قاطع اکثریت دخلکو او مجاهدینو دحزب اسلامي حکمتیار ډلې سره وو

## دیو وروسي پیلوټ قصه

(۱۳۶۰ هـ ش) کال زه لاهورکې ریونډ تبلیغي مرکز ته لاړم میلمستون کې چې دټولې دونیا هغه مسافر چې په تبلیغ کې راوتلي وي دلته ډوډۍ خوري ډوډۍ ته ناست ووم مخامخ سپین تازه مخونو والا میلمانه ناست وه ماترې پوښتنه وکړه دکوم ځای یې هغوی دخپل ترجمان په واسطه وویل وروسان یو ددی لفظ دویلو سره زما په زړه کې ددوی سره کرکه رامخې ته شوه بیا مې وویل مسلمانان دي خیر دی که شورویان دي ماته یې وویل ته دکوم ځای یې ماویل افغانستان هغه وویل افغانستان کې دکوم ځای یې ما ویل ننګرهارپه دغه وخت کې ما ترې وپوښتل ته افغانستان کې بلد یې چې ودې پوښتل په افغانستان کې دکوم ځای یې هغه وویل هو ټول افغانستان کې بلد یم ما ویل څنګه بلد شوی یې هغه راته په ځواب کې وویل زه پیلوټ ووم ما هلته ډیرې بمبارياني کړي الله دې راته معافي وکړي اوس چې مسلمان شوی یم په تبلیغ کې راوتلی یم نو ډیر خوشحاله یم او له الله پاک نه دهغې لوی جرم معافي غواړم ما ورته وویل تا چې کله کلمه طیبه وویله او ایمان دی راوړو هغه ټول ګناهونه درته معاف شول بیا مې ورڅخه وپوښتل دا راته ووایه چې دخپلې وظیفې یا په افغانانو دبمبارد په وخت کې دې څه عجیبه خاطره شته هغه وویل هو کنږ وه او که نورستان ماته امر وشوچې لاړ شه بمبارد وکړه او یوکس کمونست یې درهنما په طور راسره کړ هغه به راته ځای ښوده مابه بمبارد کولو یوځای ته راغلو چې هلته دده کور وه هغه ماته وویل چې دا زما

کور دی اشاره یې ورته وکړه زما داسې فکر شو چې داکور بمبارد کړه ما په هغې بم وغورځاوه هغه چغې کړی چې زما کور دی بمبارد کړو خو له ورخه اوبه تللې وې او بیايې ژړل ما په زړه کې وويل مکوه په چا چې وبه شي په تا بیاې زما مشرانو ته شکایت وکړ ماورته وويل ده اشاره وکړه ما بم وغورځاوه نور یې په خبره نه یم پوه شوی (دمؤلف یادښت)

## له کمونستانو سره د ځینې جهادي تنظیمونو د ائتلافونو لوی جنایت:

د کمونسنستانو د ټولو جنایاتو له تر سره کېدلو سره سره د افغانانو جهاد متوقف نه شو، بلکې لا یې زور واخیست چې په نتیجه کې یې لومړی سرحداتو، وروسته ولسوالیو او ورپسې ولایتونو یو په بل پسې سقوط وکړ چې له ۱۴ کاله قربانیو او جهادونو وروسته یې روسان او کمونستان له هېواده وشړل او دا خاوره یې د دوئ له حاکمیته پاکه کړه. خو متأسفانه چې له دې ټولو جهادونو او قربانیو وروسته هم افغانان د یوه صالح اسلامي حکومت خاوندان نه شول، او د دې پرځای چې فاتحین یو اسلامي نظام قائم کړي په خپلو کې سره د حکومت پر سر په جنګونو کې لتاړ شول، او بېرته یې یو د بل په خلاف په مختلفو بهانو، قناعتونو او دلیلونو له کمونستانو او بېلابېلو نورو ډلو سره ائتلافونه وکړل، او پخواني کمونستان، د پخواني پوځ جنرالان، ملیشې، لوړ پوړي چارواکي، افسران او سیاستمداران یې د هغوئ په خلاف له اوږدې جګړې وروسته بېرته د خپل ځان ملګري کړل.
کله چې کمونستانو سقوط وکړ په هغه وخت کې افغانستان ۴۰۰ جنګي، ترانسپورتي، جیټ او استکشافي طیارې او په زرګونو ټانګونه، توپونه او پوځي نقلیه وسائط درلودل. دا ټولې طیارې او نور وسائط یا دې تنظیمونو په خپلمنځي جګړو کې له منځه یوړل او له کاره ولوېدل، او یا د هغه وخت د قومندانانو لخوا ټوټه او بیا پر نورو هېوادونو د کباړ په بیه خرڅ شول. د ټانګونو او نورو وسایلو په ملیونونو ټنه اوسپنه په قاچاقي توګه نورو هېوادونو ته یووړل شوه، او په ناچیزه قیمت خرڅه شوه. دا هغه جنایات ول چې د مجاهدینو تر نامه لاندې خودخواه او نفس پرسته تنظیمیانو تر سره کړل، نو ځکه خو الله تعالی هم له دې افتخاره محروم کړل چې د دوئ په لاس دې اسلامي نظام قائم شي.
الله تعالی په دنیا دا سزا ورکړه چې نن یې د کفر په صف کې ودرل، او دا دی اوس د هغو مسلمانانو په خلاف جنګېږي چې مخکې به یې ورځخه د دفاع نارې وهلې. اوس کافر ماتې خوري او ځي، خو دوئ ورپسې چیغې وهي چې مه ځې! موږ چاته پرېږدئ؟.!
کمونستان تر خپلې ماتې وروسته بېرته په ډېر ماهرانه شکل یا په ځینې تنظیمونو کې ورداخل شول او یا غرب ته لاړل، هلته یې له غربیانو سره کار شروع کړ، هغوئ هم بېرته له ځان سره راوستل، او د وزیر، مشاور، د مؤسسې د مشر او په نورو نومونو یې دلته په کار وګمارل او بیا یې پر دې مظلوم ولس مسلط کړل.
کمونستان د دې هېواد د ټولو هغو جنایاتو، قتلونو او ورانیو مسؤولین او پیل کوونکي دي چې د دوئ له واکمنېدو وروسته وشول، ځکه همدا کمونستان ول چې د روسانو په ملاتړ او امر یې افغانستان له تباهۍ سره مخ کړ
تر څو روسانو ته دا فرصت برابر کړي چې لدې لارې د هندد سمندر تودو اوبو، د خلیج تېلو او له غرب سره د ټکر د جبهې جوړلو ته لاره پیدا کړي.
کمونستان تر خپلې ماتې وروسته که په سیاسي او حکومتي لحاظ له منځه ولاړل، خو لا تر اوسه هم په فکري لحاظ پاتې دي. موږ په تېر جهاد کې د دعوت، تربیې، فکر جوړلو او د عقیدې د سمولو جانب ته ډېره توجه نه وه کړې او یوازې مو پر نامنظم عسکري عمل اکتفا کړې وه. موږ بې له چاڼولو او اسلامي روزنې هر ډول خلک د جګړې لپاره مسلح کړي ول، تر دې چې په ځینې التقاطي تنظیمونو کې به چې کله د کومې جبهې د لګښتونو پیسې ورکول کېدې نو د چرسو لګښت به هم ورکول کېده. نتیجه یې دا شوه چې هم جهادي صف بدنام شو، او هم اهداف تر لاسه نه شول.

کمونستانو له موږ څخه له بلې لارې خپل انتقام واخیست، د شهیدانو، کونډو، یتیمانو او ټول مجاهد ولس ارمانونه مو نیمګړي پاتې شول.
په عسکري لحاظ کمونستان له منځه ولاړل، خو په عقیدوي او فکري لحاظ موږ کمونستان مسلمان نه کړای شول. تر اوسه داسې پېښ نه شول چې کوم کمونیست دې علني توبه وېستلې وي او ویلي دې وي چې پرون زه د کمونیزم د منلو له امله کافر وم، او اوس مسلمان شوم. هغوئ پرون یو ډول کافر وه، او د یو ډول یرغلګر کافر خوا یې نیولې وه، نن بل ډول کافر دي، او د بل ډول یرغلګرو کافرو ملګري دي. پرون یې روسان راوغوښتل او دا وطن یې وربانډې وران کړ، نن یې اروپایان او امریکایان راوغوښتل او دا وطن ور باندې ورانوي.
که اوسني (طالبان) بیا هم د پخوانیو تنظیمونو غلطي تکرار کړي، او د (ولاء او براء) د عقیدې مطابق عمل ونه کړي، نو کېدی شي چې الله تعالی مه کړه دوئ به هم د پخوانیو تنظیمونو په برخلیک اخته شي، او همداسې لکه نن چې پروني مجاهدین د بل کفر تر څنګ ولاړ دي، دوئ به هم بېرته له هغه چا سره یوځای کېږي چې په کلونو کلونو ورسره جنګېدلي دي.
پکار ده چې مجاهدین له اوسني دښمن سره د اسلام مطابق چلند وکړي، لومړی دعوت ورکړي، منطق ته یې ور وبولي، شبهات یې ورحل کړي، او که راونه ګرځېدل نو هغه چې د نفاق حد ته رسېدلي منافقین دې وبلل شي، هغه چې د ارتداد حد ته رسېدلي هغوئ ته د مرتدینو په سترګه وکتل شي، او هغه چې تېروتي او د نافهمی له امله له دښمن سره یو ځای شوی دي هغوئ دې وپوهول شي، او د دښمن له صفه دې د راوتلو فرصتونه په لاس ورکړل شي. او هغه چې دعوت نه مني د دښمن په نظر دې ورته وکتل شي. خو د هغوئ له اولادونو سره دې مهرباني وشي، کتاب دې په لاس کې ورکول شي، د اصلاح او اسلامي تربیې امکانات دې ورته برابر شي، تر څو په فکري او عقیدوي لحاظ په پلرونو پسې ولاړ نه شي. دا ټول یوازې په ټوپک نه کېږي، بلکې په جهادي صف کې دې د ټوپک د شرعي استعمال تر څنګ دعوت، علم، فکر او د قناعت ورکولو وړتیاوې تقویه شي.

## د کمونیزم اوسنی حالت

د افغانستان په جګړه کې د پخواني شوروي اتحاد د ښکیل کېدو او دلته له ماتې وروسته پخوانی شوروي اتحاد له منځه ولاړ او دا امپراتوري ټوټې شوه، ورسره په شوروي بلاک کې چې د ختیځې اروپا هیوادونه هم پکښې ؤ کمونیستي مفکوره د یوې حاکمې مفکورې په اساس له منځه ولاړه ، هلته د لینن مجسمه نسکوره او عملا دا هیواد په کاپټلیزم کې شامل شو ، په چین کې هم کمونستي شدید شرائط کمزوري شوي او دا هیواد د کمونیزم او کپیتلیزم ترمنځ په یوه دوه لارې ولاړ دی.



نو کمونیستي ډلې د پخوا په شان ډېرې کمزورې شویدي ، خو بیا هم په ډېرو هیوادونو کې فعالیت لري ، هماغه لینیني او مارکسستي مفکوره تعقیبوي او د بیا رامنځته کولو هڅې کوي.

# په جنګ کې کباړ شوي ټانګونه او وسایط څه شول ؟

د اتیایمې میلادي لسیزې په آخر کې، روسان سر ماتي او ګاښن ماتي له افغانستان څخه ووتل .
د افغان اوشوروي لس کلنې جګړې که له یوې خوا افغانستان په کنډواله بدل کړنو له بلې خوا همدا کنډواله هیواد د روس د شکست پرانستی کتاب وو.



د کابل، جلال آباد، کنړ ، نورستان ، کندهار، هرات، هلمند ، فراه ، خوست، لوګر ،پروان ، بغلان ، مزارشریف ، شبرغان ، بدخشان ، کندز ، تخار، بادغیس ،غزني ، پکتیا ،او نورې لویې لارې ځای پر ځای د روسانو له سوځیدلو ټانکونو، زغره والو موټرو، هیلي کوپټرو او نورو عسکري شوبلو له پاته شونو ډکې وي! افغانستان د کمونیزم د تیورۍ د ماتې ژوندی نندارتون وه، که د روسانو له وتلو پس مجاهدین په کورنیو جګړو کې نه وه ښکیل شوي، هیواد ملوک الطوایفي خواته نه و تیل وهل شوی او موږد یوه مقتدر مرکزي دولت څښتنان شوي وای، افغانستان به د ټولې نړۍ د سیاحینو د توجه وړمرکز و. د افغانستان د مظلوم ولس سپیځلی جهاد، سربښندنې، قربانۍ او د هغه له برکته د روسانو شرمیدلې ماتې به د ټول کمونستي بلاک پر تنده تور داغ وای! اوس پوښتنه داده چې ددی نندارتون سوځیدلي زریدار ټانکونه او هلیکوفترې او توپونه او نور وسایط وه څه شوه او ولې له منځه یوړل شوه او چا له منځه یوړل ؟؟



په ١٩٨١م =١٣٥٩هـ ش کال داګستمیاشت کې پاکستان د اوسپنې د تولید او ذوب د نړیوالې اتحادیې غړیتوب تر لاسه کړ.سره له دې چې پاکستان هغه مهال د اوسپنې د ذوب وړې کارخانې درلودې خو تولیدات یې په داسې کچه نه وه چې پر مټ یې خپلو کورنیو اړتیاو ته ځواب ووایي.
په جنوری ١٩٨٥م = ١٣٦٣هـ شکال کې د پاکستان د هغه مهال مشر ضیا الحق د پاکستان د اوسپنې پر صنعت د پام وړسرمایه ګذاري وکړه او په کراچۍ او نورو لویو ښارونو کې یې د اوسپنې د ذوب لوی پلانتونه جوړ کړه.
روسیې د نړۍ د یوه سوپر پاور په حیث په جګړه کې ماته خوړلې وه خو بیا یې هم غرور دا نه شوه قبلولای چې د شکست نښې نښانې یې نړیوال ووینې، ډاکومنټري پرې جوړې کړې او په نوره نړۍ کې د هغوی د شکست او ذلت داستانونه خپاره شي.





روسیې خپل مشهور ساینسپوه ډاکتر میخایل کولتوکوف(Dr. Mikhail Koltokof)
پاکستان ته ولیږه تر څو د خپل دښمن پاکستان سره د اوسپنې په صنعت کې تخنیکي مرسته وکړي، همداراز پاکستان خپل دوه تکړه ساینسپوهان انجنیر نیاز محمد او عبد الوهاب صدیقي د اوسپنې د ټیکنالوژۍ په برخه کې د لا زیات مهارت حاصلولو لپاره روسیې ته د زده کړو لپاره ورولیږل او هغوی بیا تر راستنیدو پس په زرهاو نور په اړوند ډګر کې وروزل.

پاکستان د اوسپنې نويو فابريکو لپاره خامو موادو ته شديده اړتيا درلوده او روسانو غوښتل لـه خپل تندي څخه د شکست تور داغونه ايسته کړي نو هماغه و چې په افغانستان کې د لس کلنې جګړې په ترڅ کې د سوځيدلو او ماتو شويو وسايطو د کباړکولو کاروبار د پاکستان او روسيې د بـاهمي تفـاهم پـه نتيجـه کـې د ډيـرو پيسـو ګټلـو تـر ټولـو اسـانه لار وګرځيـده!مـات شـوي وسـايط لا څـه چې روغ ټانکونـه، د برق او تيلفون پايې هم اره او په کباړو پلورل شوې٠

د مجاهدينو بې کفايتي، خپلمنځي جګړو، د قدرت لپاره د ولس لـه سرنوشت سره لوبې، او خيانت پرديو ته دا زمينه برابره کړه خو د هغوی کړنې دلته زموږد بحث موضوع نه ده!

د نجيب تر سقوط وروسته، د دوه کلونو په موده کې وطن داسې جارو شو چې د روسانو د اشغال هيڅ نښه پاته نشوه!

او په دغه وسيله زموږد سپيڅلي جهاد او ولسي مقاومت نښې له منځه لاړې، يو سوپر پاور له خپلې لمنې د شکست او پيغور تور داغونه ومينځل او يو ګاونډی پکې د شتمنۍ خاوند شو!




په ۱۳۷۲ هـ ش کـال زه يوه ورځ دننګرهـار عمومي ورکشـاپ تـه چې د کابل جلال اباد پـه لويـه لار درونته کېموقعيت لري ننوتم هلته ونې زياتې وی ديوې ونـې لاندې يو سپين ګيری ناست وه او سر يې پـه زنګنـو ايښی وه او ژړل يې مـا چې وليده زړه مـې پـرې وخوږيـده ورتـاو شـوم ورڅخـه مـې وپوښتل کاکـا څنګـه ژاړې هغـه سر راپورتـه کـړ اوبيـا يې پخپلـه لمن لـه سترګو اوښکې پـاکې کړې سلګۍ يې وهلې راتـه يې ويل صاحبه : دا ورکشـاپ روسانو ددی بند جوړيدو سره يو ځای جوړ کړی وه او له هغه وخته چې دننګرهار په هره ساحه کې ماشين الات زړيده او يا دبل مصيبت په ذريعه تخريبيده دلته به يې راوړل او مونږبه جمع کول او بيا دا زړې اوسپنې بـه مو دورکشاپ ذوب اهن بټۍ کېويلې کولې اود پرزه جاتو قالبونهراسره وه هر قسمه پرزې بـه مو تـرې جوړولی حتی دطيارو او ټانکونو ټول پرزه جات دلتـه جوړيده اوبيا بـه مو دافغانستان ګوټ ګوټ تـه ليږلي ۶۰ شپيته کاله کيږي چې دا جمع شوي اوسپنی دلته پرتې دي اوس هغه دچارواکو پلاسليلام او پاکستان تـه وړل کيږي چې تقريباً ۱۳۰۰ ديارلس سوه تيلره کباړ پکې وه او ټول پاکستان تـه انتقال شوه ماورته وويل ته ولې ژاړې او خپل زړه خورې؟ هغه پـه ځواب کې راتـه وويل صاحبه زړه مې درد کوي ځکـه ژاړم کباړ پريږده هغه خو سر خوړلی وه دلتـه پـه ورکشـاپ کې شپږ تيلره ګريس بند

ماشینونه وه چې تر اوسه چا لاس نه وو وروړی هغه یې هم په کباړ کې ور تیله کړه نو څنګه ونه ژاړم ؟(په هغه وخت کې حاجي قدیر دننګرهار والي او ډاکتر اصف قاضي زا ده دکانال رئیس وه )




# دمجاهدینو اختلافات ، انحرافات او ذوال

سوال دادی چې څنګه دمجاهدینو په خپل مینځ کې اختلافات پیدا شوه او بیا ددی اختلافاتو په وجه انحرافات پیدا شوه او دانحرافاتو په نتیجه کې مجاهدین له ذوال سره مخ شوه .

۱ــ لینن د کمونستانو مشر او غټ کافروه هغه په یو کتاب کې لیکلي وه چې هر انقلاب فیروزی او کامیابۍ ته رسیږي خپل اصلي بچي خوري او کم اصلو بچیو ته پاته کیږي .

۲ــ پښتنو کې متل دی(توري دی لالا وهي مړی به عبدالله وهي ) په افغانستان کې همداسې وشول دافغانستان داسلامي نهضت او بیا دجهاد په پیل کې ځوانانو په پاک نیت اواخلاص کار پیل کړ چې لالا توره ووهله او عبدالله اوس مړی وهي

۳ ــ یو وخت غنم او فصلونه ریبل شوي وه سخت بارانونه وشول فصل په درمند کې نور په خرابیدوپروت وه یو سپین ګیري خپلي بودی ښځي ته وویل راځه دشپې الله پاک ته دوعا وکړو چې دا بارانونه ودروي دواړه تهجدو ته پاڅیدل دوعا یې وکړه الله پاک باران ودراوه سبا اسمان شین شو خلک ټول په کار لګیاشوه پتیو کې ښوریده راښوریده سپین ګیري او بوډۍ ورته کتل نو خپلو کې یې وویل اسمان چا شین کړو او مزې اوس څوک کوي نو دا کار په افغانانو هم شوی دی چې قرباني چا ورکړه او مزې پری څوک کوي

۴ــ دشوروپانو او داخلي کمونستانو خلق او پرچم ګوند په خلاف دافغانستان په جهاد کې د الله پاک په فضل دمجاهدینوسره دنړی کفري او اسلامي ممالکوخپل ملاتړ اعلان کړاو غوښتل یې دشوروي سوپر طاقت کمزوری او له منځه یوسي خو له بل پلوه دی خواخوږو ممالکو داهم نه غوښتل چې په افغانستان کې دی یو قوي اسلامي حکومت راشي ځکه دوی هم ترې ویریده وایي : بې ادبي دی ډیره معاف وي کوم سپی غپیده او تر شا یې تیزونه هم اچول چا ورته وویل غپیږې ولې وایې دوشمن ډاروم او بیایې ورته وویل تیزونه ولې اچوی سپي وویل خپله هم ډاریږم

نواروپا یانو او امریکایانو او اسلامي ملکونو چې کمک کولو دشوروي غوندې سوپر طاقت لرونکی دوشمن یې وه هغه یې ویرولو خو له بلې خوا له مجاهدینو هم ویریدل چې دا بیا مونږ ته بلا جوړه نشي نو دمخه یې داسې تدابیر ونیول چې هم کباب پوخ شي او هم سیخ ونه سوځي یعنې هم یې شوروي غوندې دوشمن ختم کړو او هم یې مجاهدین دپولی ټک ته کینول

**۵ـــ** زه نه پوهیږم چې افغانان ولی یوبل نشي برداشت کولی په ټوله نړۍ کي دهرې فرقي هر دین هر مذهب وګړي شته یو بل سره ښه ګاونډیتوب کوي هندوستان وګوره دتبلیغیانو مرکز نظام الدین اولیاء کي او ددیوبند عالمي مدرسه دهندوانو ددرمسالونوپه منځ کې موقعیت لري سل کاله کیږي سره ژوند کوي یو بل یې نه مړه کړه او نه بل څه، پاکستان وګورۍ هلته مونږ ډیر وخت تیر کړو ددونیا ټولي فرقي شیعه ګان ، یهود ، نصارى ، کادیانیان ، هندوان ، سکان او داسي نورې شته هریو خپل داختر او خوشحالۍ او یاغم ورځي لمانځي یوبل ته هیڅ نه وایي اروپا کي برطانیه وګورۍ ددونیا هر مذهب او دین والا پکي شته یو بل ته څه نه واي چې دا دالله پاک سنت دي چې مذهبونه او دینونه به موجود وي کنه نو الله پاک وغواړي ټول یو امت واحده جوړولاى شي )ولو شاء ربك لجعل الناس أمة واحدة ولا يزالون مختلفين ( ١١٨ )إلا من رحم ربك ---( ١١٩ ) [سورة هود]

ترجمه : که ستا رب وغواړي نو ټول خلک به یو امت یا ډله جوړ کړي خو دا اختلاف به همیشه وي څوک به مسلمان ، څوک به یهود ، څوک به نصارى او څوک به مجوس وي اوزما مؤلف نظر چې ما پخپل مخکیني کتاب کائنات له تحت الثرى نه تر عرشه کي دا په ساینس هم سابته کړې چې هر شى الله پاک جوړه جوړه لکه نر او ښځه ، مثبت او منفي ، اسلام او کفر او داسي نورپیدا کړي اوس که نران وغواړي ښځي ختمي کړي ناممکنه ده بیا چې ختمي شوى نوبیابه دانور انسانان له سپیو پیدا کیږي او که له غواګانو او یا له نورو حیواناتو، بل دبرق په مزوکې یو مثبت وي بل منفي چې له دى دواړو ګروپونه اونوربرقي الات کار کوي یو سړى وایي دوه لینونو څه کوم همدا یولین بس دى نو بیا که نر وى یو ګروپ دى ولګوي بل مثال یومسلمان بادشاه وایي زه دزمکې په مخ یو کافر نه پریږدم او یا یو کافر بادشاه ووایي زه دزمکي په مخ یو مسلمان نه پریږدم اول خودا ناممکنه ده دوهم داچې حدیث شریف دى ترهغې قیامت نه قایمیږي تر څو چې یو کس الله الله یا لااله الاالله ویونکى موجود وي نوکه دکلمې ویونکى ختم شي نوکافر پخپله ختمیږي ځکه قیامت به قایم شيعَنْ

أَنَسٍ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: "لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لاَ يُقَالَ فِي الأَرْضِ: اللهُ، اللهُ". رواه مسلم. (عند مسلم " على أحد يقول الله الله "، وعند أحمد " على أحد يقول: لا إله إلا الله)

نوزما ټولو افغانانو ته وصیت او نصیحت دى چې دالله خاطر وکړۍ خپلو کې په یو نامه او بل نامه مه جنګیږې او دځانه په یو بل دالوګانو ټاپې دکفر مه لګوې کنه نو په دا درې دورو د غټو امپراطوریو کې دسترګو لیدلی حال دى چې امپرا طوري مو ختمه کړې خو دبې اتفاقۍ له وجه ټوله نتیجه دصفر سره ضرب شوه او بیا دوښمن په بله جامه کې راتاو شي او په اسلام اعتراضونه کوي

**۶ ـــ** پاکستان چې له ډیرې مودې دپښتونستان او ډیورنډ فرضي کرښې څخه په اندیښنه کې وه دافغاني حکومتونو څخه یې ویره لرله چې دا موضوع رابرسیره نکړي نود افغاني حکومتونو دمصروف ساتلو لپاره یې دحکومت مخالفینو ته خپله دروازه خلاصه وساتله چې تر ډیره یې ترې کار واخسته .

**۷ ـــ** له بلې خوا زمونږ افغاني حکومتونو مشران همیشه د اشغالګروقوتونو په خوله او یا دخپلو جذباتو په بنا خپل مظلوم ملت له هر قسمه ظلمونو او ربړونو او شکنجو لاندې ونیول زندانونه یې ترې ډک کړه ،تیل داغ یې کړه ، نوکان یې ترې په امبور وایستل ، په ژوندون یې ترې سترګې وایستې ، په شپو شپو یې داوبو په ډنډونو کې ولاړ او بې خوبه ودرول، ګوتې او پنجې یې دقصابانو په ساتولونو ورته غوڅې کړې دسر له ویښتانو څخه یې ځوړند کړل او بالاخره په پولیګونونو کې یې ژوندي تر خاورولاندې کړه نودى مظلومانو ته دوه لارې ومخې ته پاته شوې یا بې دینه کیدل او یا له وطنه مهاجر کیدل .

څه چې ګیر شول هغه له تیغه تیر شول اوچاته چې دتیښتې لار پیدا شوه له ډیره مجبوریته یې ګاونډیانو ته پناه یوړه او تصمیم یې ونیوه چې په کورونو او جیلونو (محبسونو) کې مو په ذلت سره

وژني ولې په سنگر کې دعزت مرگ او شهادت نه حاصلوو چې دخپل ملت دومره تنگول نه دي پکار چې هغه درڅخه وتښتي او بل ځوک يې ستا په خلاف استعمال کړي دملت نظرېې ته احترام پکار دی او نه وژل او دی ته مجبورول چې دبل غلامي قبوله کړي چې هر مشر دملت سره داسې وضعيت کوي تر ټولو احمق انسان همدا دی ، مشرانو له پکار دي ټول ملت خپله غيږه کې ونيسي نوله دی وجه هماغه وه چې له پنا گاو څخه يې جهاد پيل کړاو دخپلو ورونو انتقام يې واخسته او خپل وطن يې ازاد کړو

**۸ ـ** داچې دافغانستان گاونډيان ايران او پاکستان دواړه اسلامي هيوادونه وه افغان غم لړلي ولس ته يې په ډيره تنگسيه کې پناه ورکړه لکه څنگه چې نبي عليه السلام ته دمديني خلکو پناه ورکړه الله پاک دمديني خلک وځلول او هم يې ونازول پيغمبر عليه السلام خپل مبارک ژوند دهغوی سره انتخاب کړهلته وفات شو نوم يې مدينه منوره شوه نوله دی وجه مهاجر پاکستان او ايران ته د ډيراحترام قايل دي په هغه وخت کې چې دسرکشه وحشيانو او دانسان په جامه کې ځناورو او درنده گانو څخه يې دا ملت خلاص کړو الله پاک دی پاکستان او ايران دواړه تل تر تله خوشحاله لري مونږ ددوی احسان هيڅکله نشو پوره کولای او گورو چې ورځ تر بلې مخ په وړاندې روان دي يو علت يې ددی مظلوم او بې وسې ملت د درنده گانو له منگولو څخه خلاصون دی او دی ملت ته يې ښه ميلمستيا او داوسيدو ځای ورکړوکنه ټول يې خوړلي وو بيا چې مونږ خپلو کې جنگيږو دا زمونږ کم عقلتيا ده هغوی په مونږ هيڅ گرم نه دي .

الله مکړه که چيرې په دوی دواړو هيوادونو داسې بې رحمه واکداران لکه په افغانانو چې مسلط شوي وه راغلي وه او هغوی مونږ ته پناه راوړې وه نو يقين مې نه کيږي چې مونږ افغانانودومره ښه ورسره کړي وای.

په ۱۴۰۰/۴/۱۶هـ ش تاريخ مې خوب وليده چې عمران خان دپاکستان وزير اعظم خپلو خلکو ته عامه بيانيه وړاندې کوله وايي : ای دپاکستان خلکو په افغانستان دوه لوی ښامارانو حمله وکړه او افغانان مو ترې خلاص کړه خو دا په افغانانو مونږ احسان نه کوو بلکه دخپل ځان دفاع مو کړی ، زه او مولوي صاحب دل اقا نقيب زاده دواړه ورته ولاړ يو او دده بيانيه اورو ما مولوی صاحب ته وويل دعمران خان (دپاکستان وزير اعظم) خبره ته څنگه ارزوی هغه وويل چې عمران خان حقيقت وويل که پاکستان نه وای او مونږ ته يې پناه نه وای راکړې نو مونږ دی دواړو ښامارانو (شوروي او امريکا ) خوړلي وو نور راويښ شوم ( والله على مانقول وکيل )

ځنې خلک وايي پاکستان زمونږ له وجه اباد شو خامخا اباديږي ، دروسيې په شان د قوي ملک دوښمنانو ته پناه ورکول خو څه اسانه کار نه دی دخپل ملک دتباهۍ په قيمت ورته تما ميده خو بيايې هم جرأت وکړ هم يې مونږ له سره ښامار(شوروي )څخه خلاص کړو او هم يې خپل ملک خلاص کړو ځيني خلک بيا وايي که مونږ روسانو ته شکست نه وای ورکړی دوی هم په خطر کې وه مونږ ته يې دخپل ځان ددفاع لپاره پناه راکړه زه وايم داخبره سل په سلو کې صحيح ده خو که فرضاًهغوي مونږ ته پناه نه وه راکړې نو افغانانو څه کولی شول؟ لږ څه مقاومت به مو کړی وو او نور به کار ختم وه لکه دمرکزي اسيا ( تاجکستان ، ازبکستان ،ترکمنستان ، ثمرقند او بخارا)گڼ ملکونو ته چې مونږ پناه ورنکړه هيڅ يې ونه شوه کړای ،دافغانانو لپاره همدا سرپناه وه چې جهاد ته يې تيار کړه او په بې غمه زړه يې جهاد وکړو هغه متل دی له يو لاسه ټک نه خيژي نصرت او هجرت سره يوځای شول نتيجه يې دا شوه دنړی ستر زبر زواک ( شوروي اتحاد ) په گونډو شو داسيا ټول ملکونه ازاد شول او افغانان هم دخونخوارانو له چنگال څخه خلاص شو

څو کاله مخکې غالباً ۲۰۱۰م کال وو جنرال حميدگل دپاکستان دفوج او استخباراتومشرپه يوه تلويزوني مرکه کې وويل دروسانو ماتې هم زمونږ افتخار دی او دامريکايانو به هم شي بالکل

دجنرال حمیدګل خبره دادی په ۲۰۲۱ م کال کې ربښتیا شوه د مجاهدوافغانانو ترڅنګ دپاکستانیانو وردیدل دالله پاک یو لویې نصرت وه


جنرال حمیدګل

**۹ــ** نړیوالو استخباراتو مظلوم افغانان پخپلو استخباراتي دور بینونو کې تر نظارت او فوکس لاندې ونیول اول دشوروي جاسوسي شبکې (کې جي بي ) لخواارتباط ونیول شوپه ۱۳۵۶هـ ش کال دسردار داود خان په وخت کې له پیښوره مجاهدینو څه کتابونه راولیږل په لاره کې ونیول شوه بل ځل دوه کسه دارتباط غړي وه ونیول شوه له داخل دافغانستان څخه احوال راغی چې ستاسو له منځه څوک دی دا احوال حکومت ته ورکوي دمجاهدینو داستخباراتو مسؤل پلټنه شروع


احمد شاه مسعود برهان‌الدين رباني

کړه څه کسانو باندې لا دمخه شک وه هغه یې ونیول تر تحقیق وروسته معلومه شوه چې همدوی د روسانو(کی جي بي) سره په ارتباط کې دي په هغې کې یوحفیظ الله ، انجنیر جان محمد ، استاد برهان الدین رباني اوبل احمدشاه مسعود وه څه کسان ونیول شوه احمدشاه مسعود وتښتیده او استاد رباني ونیول شو خو حکمتیار صاحب دمصلحت په بنیاد خوشي کړو حکمتیار ته دهغه وخت داستخباراتو مسؤل شهید استاد عبدالله عنایت الله ویلې وه چې تا خو استاد رباني له مرګه بچ کړو خو دا به یو وخت دلکونو افغانانو قاتل وګرځي چې بیا داحمد شاه مسعود او کمونستي ملیشو په ملګرتیا یې دحزب اسلامي درجنونه قومندانان اومجاهدین په وینو لت پت کړه دکابل دفتح وروسته دحکمتیار سره یې ښکرونه اړم کړه کابل یې وران کړ او بیا یې په ټول افغانستان کې دجهاد نوم وشرماوه حکمتیار پخپل


احمد شاه مسعود او د روسي خارګري (کي. جي. بي) ډګروال رينات تيميروويچ امينوف ، 1998 ز کال د جولای مياشت

(پټې توطئې اوبربنډې څیرې ) کتاب کې (روسانو ولی مسعود انتخاب کړو؟ او دمسعود او ۴۰ نمبر فرقې ترمنځ تړون) تر عنوانونو لاندې له ۴۷ صفحې څخه تر ۶۵ صفحې پورې پوره وضاحت سره دا موضوع افشا کړې او ددی خلکو ارتباط د۱۳۵۶ هـ ش کال راهیسي موجود وه سره له دی چې دمجاهدینو مشران وه خو د(کی جي بي) جاسوسان هم وه لکه اوس دامریکایانو سره په جنګونو کې ښه معلوم شوه خو الحمد لله دطالبانو اسلامي تحریک مجاهدینو ددوی هغه اخري ځاله او هسته پنجشیر یې هم له منځه یوړه او دشورویانو او امریکایانو ورکړل شوی ټولې ګریس بند وسلې چې دوی پرې نازیده ترې کابل ته رانقل کړې

او اخره کې یې هم ځان وشرماوه اوهم مجاهدین بعضو لا ولیکل ( پکول ګو کرد ) داخو د روسانو (کی جي بي) جاسوسي شبکې کار وه چې دحزب سلامي او جمعیت اسلامي ګوندونه یې سره په جنګ واچول

دامیرشیر علي خان په وخت کې افغانستان ته شورویانو یو هیئت چې مشرې یې جنرال (ستولیتوف ) کوله دوه جنرالان یو طبیب او پنځوس سواره دامیر دربار ته په داسې حالت کې چې دانګریزانو لخوا هم یو هیئت چې موخه یې دافغانستان داوردو جوړول او سیاسي مذاکرات وه دامیر په دربار کې ناست وه راغله او دوی هم له دغه ګرم ارتباط نه پټ خبر شوي وه چې افغانستان له شوروي سره روان کړي وه ځکه تر شورویانو مخکې راغلل

امیر شیرعلي خان چې یو خوش باوره شخص وه دستولیتوف په غورو اوپرزو یې باور وکړ او دا نګریز هیئت یې لا جوابه رخصت کړو، ستولیتوف او دهغه داکتر ( یاروسکي) لیکلي چې: دافغانستان دوهمه جګړه دانګریز سره زمونږ ددغه سفر زیږنده وه امیر شیرعلي خان دروسانو دهیئت په غورو او پرزو وغولیده اوپوره اعتماد یې پرې وکړچې مونږ درسره په هر حالت کې ولاړ یو او انګریزانو چې دروس له دغه دخالت نه په ویره کې وه جګړې ته را ودانګل تر څوافغانستان

دروسانو له مداخلې نه مخکې په خپله ولکه کې وساتي هغه وه چې دانګریز سره دوهمه جګړه ونښته







امیرشیرعلي خان دخپل رب ( الله پاک ) او خپل سر ښندونکي مجاهد ملت څخه طمع قطع کړه او دروسانو دکړې ژمنې مرستې په هیله مزارشریف ته لاړو روسانو ورسره بې وفایي وکړه هیڅ همکاري یې ورسره ونکړه چې بالاخره امیر شیرعلي خان دخفګان څخه زړه واچوو او مړ شو .

دغسې په مجاهدینو هم وشول او پخپلو کې یې سره واچول یو تعداد داستاد رباني په طرفدارۍ او بله ډله دحکمتیارصاحب په طرفدارۍ ودریدل ددی اختلافاتو په نتیجه کې دشمال په جبهاتو کې مجاهدین خولا څه کوی چې درجنونه درجنونه قومندا نان یو دبل په لاس په شهادت ورسیدل دقومندان سید جمال ولید(حزب اسلامي) او قومندان داکتر حسین (جمعیت اسلامي) تر منځ نښته دډیرې لویې فاجعې سبب شوه.

دامریکا او پاکستان استخباراتي شبکو ( ISI ای اس ای )(CIA سی ای ای )سره لاس یو کړله یوې خوا یې افغانستان کې جنګ ګرم ساتلو اوله بل پلوه یې مجاهدین کنترولول چې سر وانه خلي.

نو امریکا او پاکستان اونو رو متحدینو یې دوروسانو له ډاره دمجاهدینو ملاتړ کولو خو خپله هم له مجاهدینو ډاریدل په اول قدم کې یې ددوی په منځ کې تفرقه واچوله او بیایې په ۳۵ ډلو چې اخره کې ترې ۷ اوه قوي ګروپونه جوړ شوه تقسیم کړل

چې څلور یې اسلامي تنظیمونه وه چې جهاد به یې کولو او دوه تنظیمه یې چې یو دمجددي اوبل یې دسید افندي اغا په نامه دديموکراتانو ، یو له بله خفه شوي کمونستانو او ملي ګرایانو دحمایې او حفاظت لپاره جوړ کړې وه هغه څوک چې دداود او ظاهرشاه دډلو په نامه او خلقي له پرچمي او پرچمي له خلقي څخه مهاجر کیده هغه دوی حمایه کول دهر ې ډلې سره یې جلا جلا لیده کاته کول.

دهمدې کتاب اوله برخه ۳۴ صفحه وګورې انګریزانو داحمد شاه بابا دزامنو په منځ کې تفرقه واچوله یوه ته به یې ویل اصلي شهزاده ته یې دانور څه ټپوسان دي مونږ دسلطنت چار سمبالی تا په رسمیت پیژنو که دا نورو ستا حکومت په رسمیت نه پیژانده سترګې ترې وباسه

بل ورور ته به یې دعوت ورکړو مالي کمکونه به یې ورکړل اوبیا به یې ورته وویل په ټولو ورونوکې ته دبادشاهۍ لایق یې او مونږ تا په رسمیت پیژنو په همدې ترتیب یې ټول ورونه سره واچول او بیا دری ورونو یو له بله په ژوندونې سترګې وایستې .

چې افغان شوروي جهاد کې هم همداسې وشول تنظیمونو یو له بل سره وخوړه کنه نو دافغانستان مجاهدین ترمسکوه رسیدلی شو هر تنظیم ته دوه دوه بادشاهیانې رسیدلې دشوروي نه چې کوم ملکونه لکه ازر بایجان قرغزستان ترکمنستان تاجکستان ازبکستان داټول زمونږ دجهاد له وجه ازاد شول داملکونه زمونږ دمجاهدینوغنیمت وه او بیرته هماغه خلک پرې دحکومت واکداران شول چې دشورویانو سره یو ځای راغلي وه دتنظیمونو مشرانو یو له بل سره سخت ضد شروع کړو تر دی چې هم یې خپل حیثیت تباه کړو او هم یې ټول مجاهدین او ملت سپک کړو دوی خو سرداران وه ملت ورته په خپلو دسترګو په ښنو لارې پاکولې خو اوس دپردیو غلامان شول .

دافغانانوپه منځ کې بې اتفاقي اچول ډیر اسانه کاردي او په لږ شي سره دومره خفګان کوی چې دټولو افغانانو دتباهۍ سبب وګرځي او هر یو ځان په حقه ګڼي خو تر شا یې نتیجې ته نه ګوري ددی کتاب په (۲۰ صفحه )کې سلطان جلال الدین خان دغزني له لارې له یولک مجاهدینو سره دچنګیز مقابلې لپاره پروان ته راغې دچنګیز ۴۵۰۰۰ فوجیان یې مړه او بندیان کړه چنګیز تخارستان ته وتښتیده مجاهدینو چې کله غنایم تقسیمول اعظم الملک دننګرهار والي ، امین الملک دجلال الدین خسرپه خپلو کې د غنایمو تقسیمولو په سر په یوه اسپ داسې وران شول چې ټول قوت یې ختم

شواو هر يو خپل ځای يعني پشاور ننګرهار او سند ته لاړل .چنګيز چې له دی بې اتفاقيو خبر شو او تر هغې ورپسې وه ترڅو يې ټول ملکان سره له خپلو فوجيانو په غزني ، پشاور ،ملتان اوسند کې يو دبل پسې ختم کړه دا صرف په يوه اسپه او دومره تاوان وشو

چې دشوروي اتحاد په خلاف جهاد کې دمجاهدينو غټو ستو( مشرانو) دومره ديوبل سره په ضد کې راغله چې عقيده په عقده بدله شوه‌هم يې ځان خراب کړو اوهم يې ټول ملت خراب کړواو دا لوبه اوس هم روانه ده امريکايانو ځمونږ دشهيد پروره ملت په منځ کې مذهبي اختلاف اچولی او له دی وجه به پخپلو کې ډير له منځه لاړشي او دټولو افغانانو به باد ووځي او کفار به بيا ددی ملک په طمع دراتلو زړه ښه کړي خو دا ځل به څوک وي لا پوره معلوم نه دی

دنړۍ استخبارات په دی کار کې کامياب شول مجاهدين يې خپلو مينځونو کې داسې سره وجنګول چې بيا دټوليدو نه وه او نه بيا راټول شوه هر جهادي تنظيم فکر کاوه چې اصلي مجاهدين مونږ يو دانور ټول تنظيمونه ورته کافر ښکاره کيدل او خپل رهبر به يې دپيغمبر بچی ګڼلو اخره کې له ټولو څخه څه جوړ شول فقط غلامان .

او په حاضر وخت کې داسلام دوشمنانو طالبان اودداعش په نامه سلفيان سره په جنګ اچولي چې دضرر نتيجه به يې ځوکاله وروسته معلومه شي دخلکو له خولې چې مونږ اوريدل تقريباً ٧٠٠٠ طالبان په دی جنګ کې په شهادت ورسيدل او کيدی شي همدومره به هغه ډله کې هم وي امريکا په ١۴٠٠م کال کې نور شکست خوړلی وو دتيښتي په حال کې وه خو دی خپل منځي جنګ ور ته داڅو کاله دمه ورکړه دواړه طرفونو کې غټ غټ علالمان له منځه لاړل يوه ورځ په تلويزون کې دامريکا رئيس جمهور ډونالډ ترامپ وويل چې ما خپلو جنرالانو ته وويل چې دواړه ډلې خپلو کې سره پريږدی چې يو بل سره وخوري فقط تاسو يې سيال کوې الله دی نکړي چې دا فاجعه يوځل بيا په افغانانو تکرارشي ځکه تاريخ شاهد دی او که له سوچ څخه کار واخستل شي نوان شاء الله مخه به يې ونيول شي په دی کې هوش پکار دی نه جوش دلته دهرمذهب او هر دين والا داوسيدو حق لري يو بل ته بايد داحترام په سترګه وکتل شي نه داچې دتورې او نيزې په سترګه کنه نو الله پاک صمد ذات دی دهيچا پروا نلري امريکايانو دسعودي حکومت دالقاعدې دمشر اسامه بن لادن چې دمجاهدينو يو زمری وه په خلاف استعمال کړو او خپل زمريان يې پرې وټکول او حکومت يې په شا ټپولو چې بيدار شه هغه هم دنر بچي ورته ملا وتړله خپل مجاهدين يې ټول تيت او پرک کړل له سعودي عربستان څخه يې وشړل تير کال ١٣٩٩هـ ش دامريکا رئيس جمهور ترامپ اعلان وکړ دسعودي وليعهد محمد بن سلمان زما ښځه ده او سږ ١۴٠٠هـ ش کال يې له سعودي عربستان څخه پترايت دهوا ضد توغندي هم ټول وايستل اوس سعودي عربستان کې ټولې ښځې غواګاني پاته دي په هغې به څه توره وکړې ديمن حوثيان دشيعه ګانو يو محلي تنظيم دی عربستان يې ښه پرې وټکولو اقتصاد يې ورته په صفر کې ضرب کړو . **وايي خپل زمري مه وژنه کنه دنورو سپی به دی وخوري**

امريکا طالبانو ته دداعش تش په نامه دوښمن لروبر کوي ددی لپاره چې په امارت اسلامي کې طالبان پخپلو کې بې اعتماده کړي هر طالب يو بل ته دشک په سترګه وګوري

**١٠ ــ** نړيوالو استخباراتو دچينل په نامه يو خصوصي شبکه جوړه کړه چې دهر تنظيم څخه دخپل لاس لاندې قومندانان يې ترې ياغي او پخپل واک کې يې راګيرکړه چينل به هر قومندان ته مستقله بوديجه او مالي کمک ورکاوه قومندانان په دی فکر کې شوه چې دخپل تنظيم امر ته څه ضرورت لرو هر څه راته رسيږي نو دهغه بې اطاعتي او خپل سري يې شروع کړه چې بالاخره په زرګونو قومندانان په هر کلي او قريه کې بادشاهان مقرر شوه څه يې چې زړه غوښته هغه يې وکړل . کله کله به دهغه ګاونډ بادشاه (قومندان) دکوم کار مخه نيوله چې دا دجهاد او شرعيت خلاف کار دی دا

مکوه نو ددوارو په منځ کې به لويې لويې خونړي جنګونه پيښ شول  او بل داچې هر تنظيم به بل تنظيم کافر ګڼلو يو به ويل اصلي مجاهدين مونږ يو دانور لا څه تېوسان دي بل به ويل زمونږ مشر صحابي دی هغه بل به ويل زمونږ مشرامام الزمان دی او بل لا ويل زمونږ ليډر پيغمبر دی چې بيا په همدي تنظيمي جنګونو کې په زرګونو مجاهدين له منځه لاړل او ليډران يو هم نه پيغمبر شو او نه امام الزمان بلکه اکثره غلامان شول .
تر هغې نړيوال استخبارات ورپسې وه تر څو يې چې دافغانستان جهاد په شرمونو وشرماوه کله چې يوه شول نور نو قيادي تنظيمونه له پښو وغورځيدل دابابيل تو تکی ( طالبان ) يې پرې راتاو کړه او ټول يې له يو مخه جارو کړه خو دومره سوچ او فکر له دغو نابغه ګانو سره پيدا نشو چې راځی سره کينو سره يو شو کنه نو ختم به شو داسې سره والوته لکه دمرغيوپه سيل چې باز يا باښه راشي څه مرغې وخوري او څه له ډاره دونو پاڼو ته پناه يوسي پټې شي نو دا مجاهدين چې په حقيقت کې زمريان او دنيمې نړی فاتحان وه خوچې کله دالله پاک په نافرماني او خپل منځي اختلاف کې دخپل هوا او هوس تابع شول اوس څوک ديوه کافر ملک غلام شوه او څوک دبل کافر ملک غلام وګرځيده
۱۱ ـ دمجاهدينو دقوماندانانو دبې لاره کولو لپاره نړيوالو استخباراتو ډيرې طريقې پکار واچولې له يوې خوا يې پيسې پرې راخوشې کړې او له بل پلوه يې خارج ته دعوتونه ورکړل. شاه امان الله خان ډير ښه سړی وه علماوو انتخاب کړو په انګريزانو يې عمومي جهاد او قيام اعلان کړ او بيايې استقلال هم تر لاسه کړو خو چې کله ايټاليا ورته دعوت ورکړو اودی کفرې ممالکو ته په سفر ووته نو چې بيرته راتلو له ښځې څخه يې پرتوګ ايستلې وه او دافغانستان په تاريخ کې لمړنی بادشاه وه چې خپله ښځه ملکه ثرايا يې نيمه سکس (بربنډه) ميدان ته راوويسته
دمجاهدينواکثره مشران او قوماندانان په دی امتحان کې پريوته او که پخپله بچ شوه نو بچيان يې ورته خراب کړه  ديو مشر ځوی وګوره  مونږ افغانان ورته څومره داميد په انتظارناست وو چې دپلار ځای ناستی به شي هغه مشهوره ډمه( نغمه ) په نکاح واخسته او تر اوسه هم خپل کسب کوي او داستاد رباني دزوی په کور کې دشرابو ډک ډک کارتنونه راووتل  او له ځينو څخه مخفي فلمونه دبدکاری ډک شول او بيا ورته وويل شوه چې که زمونږ غلامي کوې ښه ده کنه نو دا فلم دی نشر ته باسو نو په هغه چې دوشمن څه کول غوښتل ويې کړل .








شاه امان الله خان سره له فاميله

دننګرهار پوهنتون يواستاد امريکا ته دلس ورځني سيمنار لپاره لاړه ۱۳ کسه وه ماتر ې وپوښتل دتګ په موخه کې مو څه حکمت وه هغه وويل دسيمنارموضوع زمونږ زده وه خپلو کې مو سره وويل ډير احتياط کوی په اطاقونو کې مخفي کمرې لګيدلي که شيطاني حرکت مو وکړ دغلامی حلقه په غاړه کې در اچوي ربښتيا هم کله به چې شپه شوه نو ټول ملګري به يې سره په ښارونو تقسيم کړو چې ښه  مطمئن شو يو بل نه وينو، دوهم داچې اوله ورځ دډوډۍ او خدمت لپاره هلکان راغله دوهمه ورځ ځوانې جنکې راغلې او لغړی وی هغوی به داسې حرکات کول چې نر ورته نشو

ټینګیدلی خو مونږ اوله ورځ ویلي وه چې احتیاط به کوو نو مونږ ترې ځان وساته کنه ټول شرایط دګناه راته برابر وه او اصلي موخه دسفر مو هم همدا وه . کفارو ملکونو جبهاتو ته دخبر نګارې او امداد رساني په بهانه ښځي راولیږلې دهغوی په ذریعه دوشمن غوښتل مجاهدین په زنا کې اخته کړي او بې لارې یې کړي .
یو کس ماته قصه کوله (نوم یې نه لیکم ) هغه وایي : دهجرت په دوره کې زه دیوه تنظیم (سید افندي اغا) د خارجیانو (خبرنګارانو او امدادګرانوپه نوم )کسانو دانتقال مسؤل ووم یوه خارجې ښځه راغله او ماته وظیفه راکړل شوه چې دا دکابل جبهاتو ته ورسوه د ۱۴ کسو باډیګاردانو سره له پیښوره روان شوم دحصارک غلجایي ولسوالي مربوط جوکان علاقې ته چې ورسیدو خارجې ښځې راته وویل کالي بدلوم او ځان مینځم حمام یا تشناب شته ؟ ماله یو سړي وپوښتل داسې قصه ده هغه وویل مونږ تشنابونه نلرو هغلته وړاندې یوه چینه ده هلته غسل کوو دی ښځې ته مادا خبره وکړه هغې وویل صحیح ده راځه چې دواړه لاړشو زه به ولامبم او ته مې پیره کوه کله چې داوبوچینې ته نژدی شو نوزه تقریباً دوه سوه متره ترې وړاندې ودریدلم ورته مې وویل هغه ده چینه لاړه شه هغې وویل نه دومره لرې مه ودریږه زه ډاریږم لږ نور ورنژدی شوم هغې بیا وویل نه چینې تر څنګ کینه کله چې هغې جامې وایستلې زما رنګ زیړ شودی ښځې بیرته زر جامې واغوستې او ماته یې وویل دوشمن ؟ ما ورته وویل نه نه!! ته دوشمن هغه راغله او زه یې غیږ کې ونیولم مچې یې کړم او اه یې کړه حوصیلی یې وایسته او وی ویل تا په دی خبره دومره په ځان تکلیف تیر کړو داخو عادي خبره ده نور سړی وړاندې لاړ نه شو او وایي بیا مې ترې دوه دری ورځې وروسته پوښتنه وکړه چې ته دی خطر ناک ملک ته ددومره لرې ځای نه دڅه په مقصد راغلې یې؟ هغې وویل ولې ته پوه نه شوې ؟تا چې څه وکړل دهمدې لپاره راغلې یم او له دی مونږ ته معلومه شوه چې ته زمونږ سړی شوی او ته زمونږ نورې خبرې هم منلی شي زمونږ لین کې داخل شوی دا وه زما دراتګ هدف . نو دا وه داختلافاتو ، انحرافاتواو ذوال دلایل چې مشت نمونه ای خروار مې درته بیان کړه چې راتلونکی نسل ددوشمنانو دتوطیو ښکار نشي ولې دا ځما یقین دی مونږ افغانان ډیر زر غولیږو تیرو تجربو ته نه ګورو بلکه خپلو جذباتو ته ګورواو څه مو چې دجذباتو مطابق زړه وغوښتل هماغه تر سره کوو کنه نو مخکې تاریخ مونږ ته داټولې خبرې واضح کړې خو بیاهم ترې پند او نصیحت نه اخلو یوبل په ډیره بې رحمې سره وژنواو ځما توصیه داده که په وژلو یوڅوک کامیابیدلی نو کمونستان به کامیاب شوې وه امریکایان به کامیاب شوي وه انګریزان به کامیاب شوي وه او داسې نور،ټول افغانان خپلو کې سره ورونه دي یوبل ته سره لاس ورکول پکار دي

# شپږم فصل

# دامریــکا او ناتــو یرغل

مخکې ماوویل چې کله مجاهدینو په ۱۳۵۸هـ ش کال د کمونستانو خلاف چې دوروسانو ( اتحاد جماهیر شوروي) مستقیم نظامي زبر زواک ورسره وه جهاد پیل کړ دغربي اواسلامي نړۍتول استخبارات دی جنګ ته متوجه شول ځکه دتولو دوشمن یو وو اود شکست فایده یې تولو ته رسیده خو له بل پلوه له مجاهدینو هم ویریدل که چیرې کامیاب شي مونږ ته یې هم درد سر شته نو ځکه یې تر فوکس لاندې ونیول .

دمجاهدینو جهاد د شورویانو سره دالله پاک په فضل او کرم کامیاب شو خو غربي نړیوالو مجاهدین په دومره توټو سره ویشلي او پاشلي وه چې دتولیدو امکانات یې نه په سترګو کیده او هر ګروپ داصلي فاتحینو دعوه کوله یو بل ته نه تسلمیده بالاخره ددوی ترمنځ تولې کفري نړۍ ددوشمني اور بل کړو هماغه داحمد شاه بابا دځامنو په شان هرې ډلې ته به یې ویل روسان تاسو مات کړه دانور څه تفوسان دي په زور حکومت لاندې کړه او هغه بل ته به یې ویل ددی خاورې اصلي وارثان خوتاسو یې دانور لا چا پکې راوړي مونږ ستاسو تر شا ولاړ یو داسې وهل ورکړه چې دنورو عبرت وګرځي او له بلې خوا کمونستان لا پخوا تقسیم شوي وه هر جنرال یادملیشو قومندان لا تر پخوا تنظیم انتخاب کړی پښتانه له پښتنو سره او فارسیوانان دفارسیوانانو تنظیمونو سره ودریدل هغوی چې په نظامي وسلو کې ښه ماهر وه یو پر بل یې مرګوني ګذارونه سره شروع کړل د تنظیمي جنګونو داور په لمبو کې تول ملت وسوځیده بالخصوص دکابل ښار یان تر دی چې کابل په کنډواله بدل شو امریکا او ناتو له وړاندې نظاره کوله دروسانو نه پاتې ډیپوګانې یې وخت په وخت تعقیبولې چې کله ښې تشې شوې ددی لپاره چې کومه مرمۍ ددوی له سترګو پټه پاته نه وي دهغې درایستلو لپاره په لټه کې شول ، موچي چې کله څپلۍ ګنډي اخره کې یو مقناطیس ورسره وي هغه خپل شاوخوا په زمکه پریوتي میخونو باندې تاو راتاو کړي څه میخونه چې تل پراته وي هغه تول راټول کړي بیایې بوتل یا قطعي کې واچوي ، دلته چې اوضاع نوره دومره خرابه شوه چې هر سړي به ویل چې کاش داسې څوک پیدا شي چې چرته سورۍ اوسپنه وي هغه هم تولہ کړي وسله خو لاڅه کوي امنیت بالکل خراب شو دطالبانو تحریک راپیدا شو دخلکو ارمان یې پوره کړو سورۍ اوسپنه یې هم پرینښوده لکه مچي چې مقناطیس ګرځوي داسې دوی هم تولې وسلې راټولې کړې نورو ولایاتو کې خبر نه یم خو دننګرهار په ولایت کې چې کومې وسلې راټولې شوې وې په امنیه قوماندانې کې ډیپوګانو کې پرتې وې اور یې واخستو یوه شپه او ورځ اور بل وه تولې مرمۍ او وسلې ختمې شوې زما په اند دا اور دفضانه ورته اچول شوی وه ځکه امریکا او ناتو زمونږ فضا لا هغه وخت څارله په شعاع یې وویشتې توله ډیپو یې تبا کړه طالبان غریبانان نه پوهیدل چې دااور له کوم ځایه شو.




کله چې امریکا او ناتو پوه شول افغانستان نور نو شودیاره او خاره شو دمقاومت لپاره پکې اسلحې خو لاڅه کوی سورۍ اوسپنې هم نشته نو دافغانستان داشغال او نیولو پلان چې لا پخوا زلمی خلیل زاد،زبېګنیو برېژنسکي، ویلیام بیمن اوفاول

**ولفویچ**جوړ کړی وه دتطبیق لاندې ونیوه یولسم دسپتمبر دنړیوالو تجارتي دوه لوړ پوړي بلډنګونه يې غیر مستقیم دمجاهدینو په ذریعه راونړول ټوله نړی یې راپه غوصه کړه او اشغال ته یې قانوني بڼه ورکړه دطالبانو حکومت يې راوپرزاوه او دخپلو یو څو همجنس ګرایانو پلویانو حکومت يې افغانستان کې جوړ کړو .
دوی (امریکا او ناتو) هم دخپلو کفري ملګرو ( انګریزانو او شورویانو) په څیر دافغانستان په ګرم شلغم خوله خښه کړه (یو وخت زمونږ دیو کلیوال له سپي څخه خلک په تنګ شوه په لاره به ترې ځوک نشوه تللی ، یوکس دشلغم یوه دانه په اور ګرمه کړه او بیا يې سپي پرې وویشتو دهغه سپي عادت داوه چې په هرڅه به دی وویشتو په هغه شي به يې خوله لګوله کله چې ګرم شلغم باندې یې خوله ولګوله شلغم یې غاښونو کې کلک ونښته هغه چې ګرم وه نو غاښونه یې پاخه شول په سبایې هم همداسي وکړل سپي بیا همغسي وکړل دسپي غریب ټول غاښونه په شلغم کې ووتل بیا به سپی غپیده خو خوراک به یې نشو کولی نوافغانستان یو ګرم شلغم دی نړیوال اشغالګر چې دلته راشي دسپي په شان خوله پرې ولګوي او په نتیجه کې یې غاښونه ووځي بیا غریبانان دسپي پشان غپیدای شي خو خوراک نشي کولی )
دشوریانو په شان دامریکایانو هم شل کاله پکې غاښونه نښتي وه او بالاخره ټول غاښونه يې ووتل اوس امریکا دسپي په شان غپیدی شي خو څه خوړلی نشي او بل داچې دافغانستان نیول اسانه دي خو هضمول يې سخت دي .




طالبانو چې کله ددی امریکایي بلاک خلاف جهاد شروع کاوه تش لاس وه ملت همدوی پخپل لاس خلع سلاح کړی وه بیا دیوی یوی مرمې پسي ګرځیدل ځینو مجاهدینو چې پخوا یې اسلحي په زمکه کې خښې کړې وی لږ لږ راویستلي او دوی په هغې جهاد شروع کړو ملت چې ټول مجاهد او مسلمان وه تر څنګ یې ودریده او په ټول توان او طاقت يې ورسره هرډ قرباني ته ملا وتړله تر دی چې دا غربي زبرځواک یې هم په ګونډو کړو.
خو زه وایم چې کاش زمونږ دجهاد مشران که هغه پخواني دي او که اوسني ددی ملت په قدر او اهمیت پوهیدلی چې دا ملت څومره قدرمن ملت دی دخپل سر او ځان په قیمت دخپلو مشرانو تر څنګ ودریږي خو مشرانو ته هم لږ سوچ پکار دی چې ددوی دورځني ژوند ابتدایي ضروریات خوراک څښاک ، تګ راتګ ، برق، تعلیم او شفاخانو سهولتونه خو لااقل ورته برابر کړي
اوس راځم خپل بحث ته چې امریکا او دناتو غړي هیوادونه څوک دي ؟ چې دومره جرأت یې وکړو له هغه وړاندې ځایه دلته زمونږ دزمریانو په کور ګران هیواد افغانستان یې حمله وکړه او په میلونونو افغانان یې شهیدان ، معیوبین او هم بندیان کړه .
متل دی ونې تبر ته وویل چې ارمان دا لاستی دی زما خپل نه وی تا دی بیا زه وهلې وای ؟ بل متل : یوسپې ډیر پریشانه وه چاورڅخه وپوښتل ولې ؟ سپي وویل هر چیرې چې زم خپل سپي راپسی غاپي له خپلو مې اور واخسته
ریښتیا هم شاه شجاع زمونږ خپل وه چې انګریزان یې راوسته اوداسی کمونستان (خلقیان او پرچمیان )هم زمونږ خپل افغانان وه چې شورویان یې راوسته اوبیایو څوهمجنس ګرایانو لکه خلیل زاد ، کرزی ، اشرف غني ، او دشمالي ټلوالی لنډغر زمونږ خپل وه چې امریکا او ناتویي افغانستان ته راوسته اوزمونږ غریبانه جونګړه یې پرې ډړی وړی کړه



دعکس تشریح: دښي طرف نه ۲ـ ولي محمد احمدزی ۵ـ عبدالستار میرزکوال ۶ ـ حلیمي وزیر حج واوقاف ۸ ـ بسم الله محمدي وزیر دفاع ۱۱ـ حمدالله محب مشاور امنیت ملي تر شا یې یونس قانوني۱۳ـ عمر داود زی ۱۴ ـ سرور دانش شیعیه معاون دوم رئیس جمهور۱۵ـ گل اغا شیرزی۱۶ـ معصوم ستانکزی ۱۷ ـ اشرف غني ۲۱ ـ عبدالله عبدالله ۲۵ـ سیاف ۲۳مسلم یار ۲۶ جلالي ۲۸ ـ نورالرحمن رحماني دپارلمان رئیس ۳۲ ـ کریم خلیلي شیعیه ۳۳ـ وحید عمر ۳۸ـ محقق شیعیه ۱۷ ـ ۴۵ ـ تادین خان دجنرال رازق ورور




**امریکا :**دامریکا متحده ایالات یو فدرالي جمهوریت دی له ۵۰ ایالتونو جوړ ېنځه خود مختاره سیمې او د۸،۹ میلونه کیلومتره مربع مساحت لري نفوس یې ۳۲۵ میلونه دی دنړی په سطحه څلورم پراخه او دریم پر جمعیته ملک دی پایتخت یې (واشنګتن دي سي) دی نیویارک ښار یې تر ټولو ډیر نفوس لري او ۴۸ ایالتونه یې دمکزیک او کانادا تر منځ پراته دي چې الاسکا ایالت یې شمالي امریکا دکانادا او روسیې په منځ کې او هاوایي ایالت یې د اقیانوس ارام په منځ کې چې دجزیرو لرونکی دی موقعیت لري .







امریکا په ۱۴۹۲م کال د ایتالیاوي لامبو وهونکي (کریستف کلمب) لخوا کشف شوه هغه فکر کاوه چې دا هندوستان دی خو ډیره موده وروسته ایتالیوي جهان ګشت (امریکو وسپوچي) دیوې نوې وچې په حیث اعلان کړه دامریکا اوسیدونکي ۱۰۰۰۰ لس زره کاله مخکې دسیبریا سره پوستي ښکارچي خلک وه په ۱۷۸۳م کال دپاریس دپریکړې په اساس دبرتانوي استعمار څخه خلاص او یو مستقل هیواد ونومول شو




اوسنی رئیس جمهور یې دونالد ترامپ دی کیدای شي دا څو ورځو کې جوباېدن شي

## دناتوسازمان NATO)(North Atlantic Treaty Organization:

دشمالي انتلانتیک سازمان دشوروي اتحاد کمونستانو په خلاف په ۴ اپریل ۱۹۴۹م کال کې جوړ او تعداد یې یې شلو هیوادونو امریکا ، کانادا، انګریز، فرانسه ، بلژیک، هالیند ، لوکز انبورګ ، ناروی

، دنمارک ، ایسلیند، ایتالیا، پرتګال او په دا ورستیو کې یونان ، ترکیه ، المان ،اسپانیا ، لهستان، مجارستان ،او چک ته ورسیده .
مرکز يې اول په فرانسه کې وه بیا بروکسل بلجیک ته انتقال شو ددی سازمان موخې دادي چې ددی هم پیمانانو ملکونو په هریوه حمله وشي ټول به يې دفاع کوي او نورې اقتصادي او سیاسي همکاری هم سره لري

# په افغانستان دامریکا او ناتو حمله

امریکا لا دمخه په افغانستان دحملې لپاره اراده او نیت کړی وه هغه وخت کله چې شوروي اتحاد په افغانستان کې د الله پاک په فضل او کرم سره دمجاهدینو په لاس ماتې وخوړه نو دامریکا او متحد ینو اوزمونږ ګاونډیو هیوادونو استخباراتو د KGBپه شمول مجاهدین په سمتي او نژادي ټوټو داسې تقسیم کړي وه چې دروغیدو نه وه او لا دمخه ورته په کمین کې ناست وه چې داسې نه دمجاهدینو یو قوي اسلامي او دټولو ګوندونو مشترک حکومت منځ ته راشي او له دغه ځایه امریکا او انګریزانو او ناتو ته درد سر جوړشی.
دشوریانو دماتې وروسته د KGB په هدایت کمونستان دوه ځایه شول ځنې يې حزب اسلامي حکمتیار ته تسلیم شوه چې دجنرال نبي عظیمي او جنرال دوستم ملیشي داحمدشا مسعود په طرف او دجبار قهرمان ملیشې دحکمتیار په طرف ودریدې چې بیا وروسته جنرال دوستم هم حکمتیار صاحب ته راغلو یعني دنجیب دوخت مسلح قواوي تقسیم شوی .
دننګرهار شیرزادو ولسوالۍ توتو منګې خیلو کلي یو تن اوسیدونکی مرحوم سیدمحمدخان استاد ماته یوه عجیبه قصه وکړه هغه وویل دډاکتر نجیب وخت کې زه دیو جنرال سره باډي ګارد ووم یو ډګروال راغی دجنرال میلمه شو (متاسفانه چې سید محمد خان اوس مړدی چې ماترې پوښتلې وای چې داجنرال څوک وه ) چای يې ورسره وڅښلو جنرال ورته وویل ډګروال صیب څنګه راغلی يې ډګروال ورته وویل جنرال صیب حالت خراب دی مجاهدین مو سرته راورسیدل څه وکړو جنرال ورته وویل ډګروال صیب ته بې غمه شه هیڅ خطر نشته خپله وظیفه اجراء کوه ډګروال لاړه دریمه ورځ بیا راغې چای يې وڅکه او هماغه خبره يې ورته تکرار کړه جنرال ورته وویل ډګروال صیب مونږ یو باز ساتلی چې وزرې يې دافغانستان له شماله تر جنوبه او شرق نه تر غربه خورې دي کله چې حالت اخري مرحلې ته ورسیده دهغه دوزرو لاندې به دواړه په امن کې اوسیږو هغه ډګروال ورته وویل داڅوک دی ؟ جنرال ورته وویل ته يې څه کوې سیدمحمد خان استاد وایي زه په دغه وخت کې ډیر متوجه شوم چې رښتیا هم دابه څوک وي په زړه کې مې تیر شول چې زمانه پټ به يې ورته وښايي خو ما داسې ځان پیښاو کړچې ګویا زه ستاسو خبره نه اورم ، ډګروال شله شو چې داڅوک دی هغه ورته وویل ولی ته يې نه پیژنې؟ احمدشا مسعود دی سید محمد خان وویل زما په دی خبره یقین رانغلو خو څورځې وتلې نه وی چې رښتیا هم دباز دوزرو لاندې ټول کمونستان ځای پر ځای شول
نو همدا وه چې دمجاهدینونړیوال ملاتړي تری قرار دخیر په غونډۍ کیناسته ، مجاهدین او ورته تسلیم شوې ملیشې يې په خپلو کې سره خوشې کړی افغانستان چې دشوروي راوړل شویو اسلحوګدام وه دهمدې وسلو پر مټ يې یو پر بل داسې بی رحمه حملې شروع کړې چې له شورویانو نه یو بل ته غټ کافر ښکاره کیدل




کله چې داسلحو امبار ختم شو په دی وخت کې طالبان راپیدا شول هغوی لکه مین پاکان دټولو مجاهدینو څخه يې وسلې ټولې کړې میدان پاک شو امریکا چې دهمدې لوبې ناظر وه پوره مطمئن شوه چې افغانان نورهم ستړي دي او هم يې وسله ختمه شوه نو ځکه يې حمله وکړه ددی کار لپاره

دامریکا غټ مشاورین څلور کسه زلمی خلیل زاد،زبېګنیو برېژنسکي، ویلیام بیمن اوفاول ولفویچ وه .

زلمی خلیل زاد چې دکارتر په وخت کې دشورویانو خلاف جنګ مشاور وه اوبیا دریګن په وخت کې ددی جنګونو سلاکار او مشاور پاته شوی وه کله چې طالبان راغله په ۱۹۹۸م کال یې په بل کلینتن اعتراضونه شروع کړه چې په طالبانو ولې حمله نه کوی بیا کلینتن په خوست ولایت دڅو بالستیک مزایلو حمله وکړه خو دهوایي برید امر یې ورنکړ کله چې دبوش اداره راغله نو دوی هلته لاره پیدا او اداري ته ورننوتل اوبیا دحملو ښه فرصت پلاس ورغلو دوی لادمخه نظرونه ورکړي وه چې دطالبانو حکومت باید له منځه لاړ شي خوبهانه یې نه برابریده هماغه وه چې داسامه خبره یې رامنځته کړه او له اسامه نه یې یوه لویه بلا جوړه کړه چې ګوری ټوله دونیاخوري.



او بیا یې په ۲۰۰۱م دسپتمبر یولسمه یوه ساختګي وړه نمونه دونیا والو ته دنیویارک تجارتي تعمیرونو نړول وښوده ناتو او نور ټول ملکونه یې په ځان راجمع کړه او په افغانستان یې بې شرمانه حمله وکړه.

. د زلمي خلیلزاد سره یوځای د پاول ولفوېچ چې د امنیت اداري مشر و دلیلونه پدې روان و چې په تانزانیا او نورو افریقایي او آسیایي سیمو کې د امریکا په سفارتخانو بریدونه وشول د طالبانو د ملاتړي اسامه بن لادن لخوا تنظیم شوي وه.

همدې سره یې پدې ټینګار درلود چې دوی په منځیني ختیځ کې په سوډان ، سومالیه او افغانستان کې دمجاهدینو کمپونه پرانیستي چې وګړي سختدریځۍ ته روزي.

په همدې وخت کې خلیلزاد د نظار شورا مشر احمدشاه مسعود سره څوځو ځلې ولیدل اوسلامشورې ورسره شریکولې .

په همدې مهال برهان الدین رباني هم د خلیلزاد لپاره ځینې سپارښتنې درلودلې چې وروسته یې د امنیت اداري (رېنډ کورپس)د یو کارکوونکي ډینیل بېمن سره یوځای منځیني ختیځ ته یې صدام حسین او ټولې نړۍ ته یې اسامه بن لادن خطرناک و بلل

دواړو د ( واشنګټن کوارټرلي )په یوې ژمني ګڼې کې یوه لویه لیکنه په ۲۰۰۰م کې چمتو کړې وه چې سرلیک یې داسې دی (Afghanistan consolidation of a Rougue State) .

په همدې لیکنه کې یې په ځانګړې توګه افغانستان ته د (۷) اووه ترحو په وړاندې کولو د بوش په اداري ټینګار کړی وو چې وخت رارسېدلی چې افغانستان د



ترهګرۍ ځالې څخه وژغوري .

(ولې باید موږ فکر وکړو؟)دېته په کتلو دواړو خلیلزاد او بېمن داسې لیکلي وه چې د متحدې امریکې د وګړو لپاره په هر ځای بهر کې وي اوکه دننه ډېر لوی ګواښ په مخکې شته چې په تېروخت کې بل کلنتن ورته پام نه ؤ کړی خو اوس د بوش اداره باید دېته پام وکړي او پرته له پوځي برید څخه ناشونې ده چې په منځني اسیا کې د ترهګرو ځالې ته د پای ټکی کېښودل شي .

## د بوش لپاره د ښاغلي خلیلزاد او ډینیل بېمن اووه ترحې داسې وې

**۱ــ د واک په موازنې کې بدلون!** خلیلزاد او بېمن دواړواستدلال کاوه چې دوی طالبان بې واکه کولی شي او دا کار د شمالي ټلوالې په ملاتړ شونې ده او بیا بېرته د حاکمو قبائیلي پښتنوځینې غړي په مقابل د طالبانوکې درول پکار دي . دا هاغه پښتانه باید وي چې د طالبانو څخه ځپل شوي وي. ترحه لیکونکو امریکې ته د قناعت ورکولو سره سم ویل چې امریکا باید د طالبانو پر ضد د روسیې ، چین، او ایران سره هماهنګي وکړي. او د خپلو غیرمتحدینو سره دې خپله ګټه ملګرې کړي تر دې چې د طالبانیزم د تګلارې د تبلیغ خپراوی بند شي او دوی بې واکه شي.

**۲ــ د طالبانو د تګلارې او نظرياتو مخالفت :** خليلزاد او بېمن سلا مشوره ورکوي چې د امريکا غږ راډيو خپرونه دې افغانستان لپاره وغځوي او لدې لارې اسلامي مادرېتان او نور د طالبانو مخالفين دې د طالبانو په مقابل چمتو او راوچت کړي.(چې بيايې نوم ورته دازادی غږ راديو ورکړاولس ميلونه ډالر يې ورته بوديجه ورکړه)

**۳ــ پاکستان د فشارلاندې نيول تر څو د طالبانو ملاتړ پرېږدي:** پاکستان د طالبانو تر ټولو مهم ملاتړی دی. د ليکوالانو د ليکلو څخه چې يې وېلي ؛ پاکستان خپل د دې ناوړي عمل مسئوليت په غاړه لري او کولی شي چې د طالبانو د حکومت په نسکوريدو کې يو ځانګړی رول ولوبوي . دې سره د پاکستان امريکا ته دا مشوره وه چې دوی دې د هند د پاکستان په لورې تګلارې باندې لګ څه فشار واچوي چې مخه بلې خواته کړي .

**۴ــ طالبځپلو خلکو سره مرسته:** خليلزاد او بېمن دااستدلال کاوه چې بشري مرستې د طالبانو د کمزورۍ لپاره يوه بله ذريعه ده.

**۵ ــ د ماډرېتو ملاتړ :** لکه څنګه چې دايوه برخه د دغو هڅو بلل کېده نو ترحه ليکونکيو په خپلومشوروکې داسې څرګندوله : چې د يوې لويې غونډې يا دوديزه ټولي يادول، چې <u>لويه جرګه</u> نوميږي اړينه ده. دا يوه عنعنوي د قبائيلود دود ټولنيزه بڼه ده او مجلس دی .لويه جرګه دې د افغانستان پخواني تبنتېدلي پاچا، <u>ظاهر شاه</u>تر څارنې لاندې راوغواړي .

**۶ــ د افغانستان اهميت پخپله کوروالو ته په وټه ورلوړول :** خليلزاد او بېمن ليکي، روان غفلت يا د بې پروايي يواځينی لامل د ګډوډۍ او د تشدد مانا ورکوي او دغه روانه بې پروايي چې د امريکې د ګټو لپاره به ګواښ اود ناراحتۍ سبب حتمي وګرځي. نو ځکه بايد په بېړه خپل اقدامات وکړي او د امريکايي دخل د ملاتړ لپاره په وټه ييزو مرستو د سيمې وړي خلک دېته چمتو کوي چې د هېواد اهميت ورته په امريکايي ملاتړ کې څرګند شي.

**۷ ــ د سختدريځه کړيو په مقابل نړيوال راپارول :** دواړو بېمن او خليلزاد دنړېوالو مرسته په پوځي او بشري اړخونو کې يوه اهمه وروسته له ماموريته مهمه بلله .

دخليل زاد او بيمن طرحې بلاخره د CIA له طريقه عملي شوې دی شبکې وکولی شوه دالقاعدې ۱۹ غړي استعمال او په نړۍ کې يو لويې طوفان جوړ کړي چې دادی داوړ لمبو يې نن تر شلو کلو دوام وکړ او په ميلونونو کسان په ټوله نړۍ کې بالخصوص افغانستان کې له منځه لاړل.

امريکا او ناتو دانګريزانو او شورويانو څخه درس وانخسته هم يې ځان تباه کړو او هم يې مونږ افغانان تباه کړو ما مخکې په همدې کتاب کې يو عنوان ليکلی (سپی او ګرم شلغم ) هغه ولولی افغانستان يو ګرم شلغم دی چې چاخوله پرې لګولې غابښونه يې پکې وتلي بيا دسپي په شان غپيدی شي خو څه خوړلی نشي

# دسپتمبر يولسمه ۲۰۰۱م = ۱۳۸۱هــ ش

شل (۲۰)کاله مخکې يعنی د ۲۰۰۱ ميلادی کال د سپتمبر دمياشتې په يولسمه (۱۱)نيټه د سپتمبر دمياشتې ديولسمې نيټې په نوم پيښه چې په امريکا او لويديځو هيوادونو کښې ورته ناين اليون (۹/۱۱)ويل کيږی رامينځته شوه .د۲۰۰۱ ميلادی کال د سپتمبر دمياشتې په يولسمه(۱۱) نيټه د القاعده ډلې نولسو(۱۹) مجاهدينو چې اکثره يې دسعودی عربستان،متحده امارات، مصراو لبنان اوسيدونکي وه دامريکا څلور(۴) تجارتی او مسافر وړونکی الوتکې وتښتولې او هغه يې په ارلينګټن ښار کښې د دفاع وزارت پينټاګان او په نيويارک کښې دتجارت له نړيواليو ودانيو سره وجنګولې .




دالقاعدي ۱۹کسیزه مجاهدینو چې دنړیول تجارتي مرکز ۱۲۰ پوړیزه ودانیوسره یې الوتکې وجنګولې



دغه پیښه له افغانستان نه په زرګونو کیلو میټرو لیرې واټن کې د داسې چاله خوا تر سره شوه چې په افغانستان پوري یې هیڅ تعلق نه درلوده ،خو امریکایانو دپیښې دقربانیانو دانتقام په خاطر په افغانستان برید وکړ. هغه کندواله افغانستان چې تازه یې دیوه بل یرغلګر ځواک (سرولښکروشوروي اتحاد) له اشغال څخه ازادي تر لاسه کړې وه.
په افغانستان باندې دبرید لپاره د امریکایانو پلمه داوه چې مونږ دسپتمبر دپیښې عاملین نیسو ؛ ځکه هغوئ زمونږ امنیت ګواښلی اوکه یي ونه نیسو نو دهغوئ شتون دټولي نړئ لپاره خطر دی ، **نوله دی وجه امریکایانو دسپتمبر دپیښې په پلمه دصلیبي ایتلاف تر چتر لاندې دجنګ ټالی وکړنګوله او د غربي نړئ ځواکونه یې په افغانستان رامرش کړل.** اوددې کارلامل یې په افغانستان کې دامنیت تامین، دحکومت جوړول، دمخدره موادو کنټرول،دافغانستان بیارغول اودافغانانو لپاره دیوه مترقي او هوسا ژوند زمینه مساعده ول وه
هو! یوڅو سګ شویانواوسکولرانواوپردي پالو تش په نوم افغانانوپرې اعتمادوکړوایي :(کوم غوایي وه خاوند یې خرڅولو قصاب یې ورته راوستو چې ویې ګوري قصاب دغوایي په ملا لاس کیښوده او کتلو یې چې څومره غوښه به پکې وي غوایي فکر کاوه چې کوم خواخوږی مې راغلې او ګورمې چې دا غریب وږی تکی دی خواږه به راته حواله کوي خبر نه وه چې قصاب دی او سبایې حلالوي ) همداسې په افغانانو داڅوم ځل دی چې کیږي اول دانګریزانو په وخت کې دشاه شجاع او ملګرو باندې دوهم دشورویانو په وخت کې په خلقیانو او پرچمیانوباندې دریم د امریکا او ناټو په وخت کې د شمالي ټلوالې ، کرزي، اشرف غني او افغانملتیانو او سکولرانوباندې داکاني وشوی
خو نن چې دسپتمبر له پیښې څخه پوره ۲۰شل کاله تیرشوي افغانان نه دامنیت څښتنان شوی، نه دیوه افغان شموله حکومت ،بلکې دهغه په ځای نن افغانستان دنړي په کچه لومړئ درجه فاسد اولومړئ درجه نا أمنه اوغریب هیواد ګڼل کیږي، نه مخدره مواد کنټرول شول او نه افغانانوته دیوې ګولې حلال رزق ګټلو زمینه مساعده شوه.
بلکې دهغه په ځای همدا اوس په افغانستان کې تر څلورو میلیونو زیات افغانان په مخدراتو اخته دي د وزګارو افغانانو شمیر په سلو کښې اویا نه تر اتیا پورې رسیږي ـ ډیرې میرمنې د ځان په خرڅولو ژوندئ دي ـ د رشوت او اداري فساد تله تر ټولو درنه او د ګوډاګیو بیروکراسي یواځې د اختلاس اوعامه شتمنیو دلوټولو په غوړو څرخي ،
داڅو ورځې مخکې ۱۴۰۰هـ ش کال ثور میاشت کې په تخار ولایت کې یوې ښځې دلوږئ او ناچارې اول خپله جونګړه وسوځوله اوبیایي درئ بچې سیند ته وروغوزځول او بیا پخپله یې هم سیند ته ځان ګوزار کړ( انا لله وانا الیه راجعون )
امریکایانو دسپتمبر دپیښې دانتقام په غرض په لکونواو میلونونه بیوزله افغانان شهیدان کړل ، له روسي اشغال نه روغې پاتې شوې خاورینې جونګړې یې ورته ورانې ، او دوئ یې په ګوانتنامو ،بګرام اونورو پټو زندانونوکې بندیان کړل ، خو هیڅا هم ددې پوښتنه تري ونه کړه چې ددغو بیوزلو افغانانو دقتل ،اسارت او کوروړانولو دلیل څه دی؟



دسپتمبر دپيښې  دانتقام په پلمه  دافغانانو په ضد دامريکايانو دوحشت او بربريت دغه لړۍ لاهم روانه ده ، هغه لړۍ چې په افغانانو سربيره يې خپله  امريکايان اونړيوال ايتلافيان هم دتباهۍ اوبربادۍ په کنده درولي.
دامريکا او ناتو په  لس ګونوزره  پوځيان دافغانانو دمشروع مقاومت  په نتيجه کې  وژل شوي ، په لکونو زخميان اومعيوب شوي او  همدومر نوريي په ذهني ناروغيواخته شوي  ، په تريلونونو ډالريې تاوان شوي  خو پايله يې داشوه چې هغوئ حتی دسپيني ماڼې په  ترټولو خوندي حرم کې هم دامنيت او ارامي  احساس نشي کولای.





هغه امريکايان چې ځان  دمتدنې نړۍ  ترټولو پوه او دبيان  له آزادي برخمن  عناصر بولي له خپلو چارواکو څخه ددې جرأت نه لري چې له هغوئ نه  داوپوښتي چې دا ټول بشري ، اقتصادي او اخلاقي  تاوانونه ولي او دڅه لپاره  په هغوئ تحميلږي ؟
دسپتمبر  ديولسمي حادثه  که نن امريکايان  دوير اوماتم  په مجلسونوکې لمانځي  افغانان يې هم دخپل هيواد او ولس لپاره  ديوې ترټولو توري ورځې په حيث  يادوي ؛
ځکه  ددغې  پيښې په پلمه  دافغانستان  اراضي تماميت  له منځه تللی ، دافغانانو عزت اوکرامت تر پښو لاندې شوي، هغوئ له خپلواک اسلامي نظامه پکې محروم شوي   او دهمدې ورځې په  پلمه وربانديې داسې  فاسد، بلواک او اجير نظام تپل شوی  چې فساد اوبې نظمي يې هغو امريکايانوته هم دمنلو وړنده  کومو چې ددې نظام دراوستلو لپاره  په  زرګونه امريکايان  قربان  او  په بلياردونو(تريلونونه) ډالريې  تاوان کړي.

## ايا دسپتمبر ۱۱ حمله يا پلمه خپله امريکايانو طرح کړې وه ؟

دلته هغه شواهد او مدارک راټولوو چې حمله څرنګه ترتيب شوې او څنګه تطبيق شوه اودڅه لپاره
۱ ـ دطالبانو په اوله دوره کې دننګرهارپه پوهنتون کې يو عرب استاد دابو خباب المصري چې دکيميا دپلار په نوم مشهور وه (يو تيوب کې معلومات شته ) پروت او زمونږ ګاونډی وه چې

دالقاعدې دريم سړی وه خو تر دغه دمه دالقاعدې له نوم سره مونږ اشنا نه وو له ده سره يوه زړه داتسن موتر وه زه له جلال اباد ښاره ددرونټې پوهنتون په طرف راتلم له ده سره په موټركې


ابوخباب المصري

راسپور شوم يوبل ځوان عرب هم ورسره تر څنګ ناست وه او تر شا يې يو سپې منډې وهلې چې هميشه به دا سپی له ده سره وه سرک خام وه موتر ډير په قلاره تلو دی دواړو عربانوخپلو کې سره مرکه کوله ما ورته غوږ نيولی وه دوی فکر کاوه چې دابه په عربي نه پوهيږي ابو خباب المصري خپل ملګري ته وويل چې له امريکا څخه څه کسان راغلي ديوه شکل بالکل دکلنتن په شان دی وايي په امريکا کې دلويو حملو لپاره کسان راکړی مونږ ورسره همکاري کووخو زمونږ پرې لږ شک شته چې دامريکاجاسوسي شبکې سي ای ای**CIA** نه وي رالیږلي او زمونږ مجاهدين چې په پروګرام کې ورسره ملګري کوو اختطاف نکړي نور زه پرې پوه نه شوم چې څه پروګرام به وي خوچې کله دسپتمبر يولسمې واقعه وشوه ماته هغه خبره رایاده شوه چې ابو خباب المصري کړې وه اودغه کسان چې دا طرحه يې راوړی وه خامخا به دسي ای ای سړی وه ځکه دوی هم پرې شکمن شوي وه چې غير مستقيم يې القاعده غړي استعمال کړه .

له فدايي مجاهدينو څخه يې ګروپ برابر او په برجونو يې حمله وکړه امريکايانو پخپله دانوع حمله نشوه کولای ځکه هغوی فدايان نلرل حمله يې په مسلمانانو وکړه (۱۹) نولس کسه سرتيري مجاهدين پکې له منځه لاړل دوهم په مسلمانانو يې دعملي کولو دلايل برابر کړل دريم داچې ربښتيا هم مسلمانانو حمله وکړه خو سی ای ای**CIA**دداسې مخفي لارې په القاعده مجاهدينو اجراء کړه چې القاعده پخپله هم پرې پوه نشول او مسؤليت يې اسامه بن لادن واخسته

۲ - پخپله امريکايی ځيرونکی هم په دی آند دی چی په دی پيښه کی د امريکا د هغه وخت د ولسمشر جورج ډبليو بش لاس وه ، دا د هغه د خونړي سياست يوه برخه وه چی غوښتل يی په دی بهانه او چل سره د افغانستان د ولکی کولو او بيا دهمدی لاری په نړيوالو طبيعی سرچينو او دمرکزی اسيا په هيوادونو ولکه وکړي . امريکايانو اټکل کړی و چی د شمالی ټلوالی د يوځو پلورل شوو عناصرو او د روسانو په خلاف په پاکستان کی د يوځو جوړکړل شوو بی بنسټه اوبی اساسه ډلو ټپلو په اخستلو او د يوځو بی سره پروفيسورانو په رانيولو به افغانستان د تل له پاره په خپله ولکه کی راولي . خودا خوب يې ګور ته يوړو ---!!

کله چې امريکايانو دطالبانو اسلامي امارت له منځه يوړواو دبن په خندونکي درامه کې دکرزي په مشری ديو لاسپوڅي نظام جوړښت اعلان کاوه دامريکا جمهور رئيس جورج ډبليو بش په ډيره خوښۍ وويل (مشن اس کمپلشن ) **(Mission as completion** زمونږ کاربشپړ شو )
هغه په دی ډير خوشحاله و چی ټول افغانستان يی د (۷۵ ميليونه ډالرو ) په مقابل کی واخست او خپلی مهری يی پری حاکمی کړی

۳ ـ د امريکا د فيډرال پوليسو ايف بی ای (FBI)، دکړکيچ د مديريت د موسسې او د سپتمبر دمياشتې د يولسمې نيټې په پيښې د غور دکميسيون لخوا ددغه تاريخی پيښې په اړه بيلابيل تحقيقات






وړاندې شوی دی خو دعلومو ساينس پوهانو له هغو تحقيقاتو سره چې دامريکا د حکومتی موسسو لخوا وړاندې شوی دی متفاوت تحقيقات ترسره کړی دی .
د علومو کارپيژاندی، معماران ، انجنيران ، فيزيک پوهان ، پايلوټان او د مخابراتو دعلومو ساينس پوهان د مهمو سندونو په وړاندې کولو سره د ولسمشر بوش دحکومت راپوررونه ناسم ګڼی .
اوس پوښتنه دا ده چې دکوم دليل پراساس يې داسې راپور او روايت وړاندې کړ چې د ساينس پوهانو له نظره سم نه دی .؟ د سپتمبر د مياشتې د يولسمې(۱۱) نيټې د پيښې په اړه په ترټولو

نویو علمی تحقیقاتو کښې د امریکاد دوو(٢) غبرګو برجونو په خاورو ښځلو کښې د نانو ترمیت (دغټو او ډبلو اوسپنو دذوب یا ویلې کیدو لپاره لکه دریل ګاډي پټلیو دجوړیدو لپاره دحرارت استفاده ترې کیږي ) په نوم دیوې قوی چاودیدونکی مادې کشفیدلو ته اشاره کولای شو . چې البته ددغه چاودیدونکو موادو کشفونکی هم په بیرمنګم پوهنتون کې استاد خپل کار له لاسه ورکړی ځکه چې هغه دغه مواد کشف کړی وو .

د بیرمنګم د پوهنتون داتومی فیزیک استاد پروفیسر استیون جونز د تجارت دنړیوالې ودانی له اوم (٧) نمبر ودانۍ او د دوو(٢) غبرګو برجونو له خاورو ښځلو چې درې واړه د ٢٠٠١ میلادی کال دسپتمبر دمیاشتې په یولسمه(١١) نیټه ونړیدلې څلور(۴) بیلابیلې نمونې او سیمپلونه ترلاسه کړل .

هغه نښې نښانې چې ښاغلی استیون جونز وړاندې کړې ددې سبب شوې چې په بیرمنګم پوهنتون کې له تدریس څخه منع شو او له کاره لیرې کړی شو .

استیون جونز د خاورو ښځلو د نمونو د ازمویلو پراساس دې نتیجې ته ورسید چې د امریکا د دوو(٢) غبرګو برجونو د تباه کولو لپاره د ( نانو ترمیټ ) په نوم قوی چاودیدونکی مواد استعمال شوی دی. ښاغلی استیون جونز او دهغه ډیر ملګری چې د امریکا د دوو (٢)غبرګو برجونو د نړیدا په دلایلو د تحقیق کولو په حال کښې وو باوری دی د الوتکو د پیټرولو له کبله حرارت هماغه ډول چې دامریکا په رسمی روایتونو کښې ورته اشاره شوی ده هیڅکله د دغو ودانیو د نړیدلو لپاره د ضروری انرژۍ درامینځته کولو لپاره کافی نه وو یعنی د تجارت په نړیوالو فولادی ودانیو کښې د نانو ترمیټ قوی چاودیدونکی مواد یوازنی دلیل دی چې دهغوې په ګمان کولای شی ددغو ودانیو نړیدل توجیه کړی .

نو اوس د دوو(٢) غبرګو ودانیو د نړیدا د څرنګوالی په اړه ترسره شویو علمی تحقیقاتو ته په پام سره معلومه شوه دامریکا دوه غبرګ برجونه په الوتکو سره نه دی نړیدلی بلکې په هغو چاودیدونکو موادو سره چې ددغو دوو (٢)غبرګو برجونو د ودانیو لاندې کیښودل شوی وو نړیدلی وې .



دا چې له القاعده ډلې په دغه اسلامی نړۍ ضد دسیسې کښې استفاده شوی ده او دغه ډلې په امریکا دحملو مسولیت هم پرغاړه اخیستی دی دتهران راډیو پښتو خپرونې په دې اړه د طالبانو په حکومت کښې د خارجه وزارت د هغه وخت د مرستیال ښاغلی وحید مژده نظر د ټیلی فون په لیکه معلوم کړی دی چې هغه په ځواب کښې ویلی دی هغه وخت چې تراوسه د ٢٠٠١ میلادی کال دسپتمبر دمیاشتې د یولسمې (١١)نیټې حملې نه وې شوی دطالبانو ډلې په سیاسی ټولنو کښې دغه موضوع ډیره مطرح وه چې القاعده ډله نیت لری په امریکا کښې ستر عملیات ترسره کړی .ښاغلی وحید مژده وویل القاعده ډله باوری وه چې په دغو عملیاتو سره به دامریکا نسکوریدل پیل شی .

ښاغلی وحید مژده جوته کړه امریکا هم له دې موضوع خبره وه خو مخه یې ونه نیوله .
دافغانستان تکړه لیکوال وحید مژده وویل امریکا یوې(۱) داسې پیښې ته ضرورت درلود چې مسلمانان پرې تورن کړی څرنګه چې د ۲۰۰۱ میلادی کال دسپتمبر د میاشتې




دیولسمې(۱۱) نیټې له پیښې وروسته چې تراوسه هیڅ تحقیقات نه وو شوی دامریکا د هغه وخت ولسمشر جورج ډبلیو بوش له یوې خوا په دغه حملې دالقاعده او د مسلمانانو په تورنولو سره **د صلیبی جنګونو ټالی وکړنګوله**او له بلې خوا د القاعده ډلې پخوانی مشر اسامه بن لادن هم د جارج ډبلیو بوش د ادعا په تائیدولو کښې ددغو حملو مسولیت پرغاړه واخیست .
دافغانستان دسیاسی چارو کارپیژاند وحید مژده وویل څرنګه چې د فولادو دجوړو ودانیو نړیدل یوازې په الوتکو سره ممکن نه وو نو ځکه خو دامریکا په دوو(۲) غبرګو برجونو د الوتکو له جنګیدا سره په یووخت ددغو دوو(۲) برجونو لاندې بم چاودنې هم وشوې.
هغه وویل القاعده د ۲۰۰۱ میلادی کال د سپتمبر د یولسمې نیټې په پیښه کښې یوازې د یوه(۱) عامل رول لوبولی دی .
د ویلو ده چې د طالبانو دحکومت د بهرنیو چارو وزیر ملا وکیل احمد متوکل چې په افغانستان کښې د القاعده ډلې دفعالیت سخت مخالف وو د ۲۰۰۱ میلادی کال د سپتمبر د میاشتې دیولسمې(۱۱) نیټې د پیښې درامینځته کیدا په موضوع پوهیدا سره هغه په پټ او غیر مستقیم ډول په پاکستان کښې هستوګنه امریکایانو ته وروښودله خو څرنګه چې امریکا په خپله د سپتمبر دمیاشتې دیولسمې(۱۱) نیټې دحملو پلانونکی وه د ملا وکیل احمد متوکل په راپور سترګې پټې کړې وې او امریکا دهغه راپور ته هیڅ توجه ونکړه د ویلو ده په سلګونو یهودیان چې


م وکیل احمد متوکل

دامریکا په دوو(۲) غبرګو برجونو او ودانیو کښې په تجارت او کار بوخت وو د ۲۰۰۱ میلادی کال دسپتمبر دمیاشتې دیولسمې نیټې دحملو په ورځ حاضر نه وو . (مقاله :لیکوال عاشق حسین طوری دتهران راډیو د پښتو خپروني مدیر)
(جیم هافمن) دتخریبکاری امریکایي محقق وایي:کوم ګرد او غبار چې ددی برجونو دنړیدو څخه تولید شوی هغه باید ۵۰ پنځوس زره کیلو واټه پوتنسایل انرژي وای ځکه ددی تعمیراتو همدا حجم او ذخیره ده خو دتعمیراتو ددغه تخریب په نتیجه کې ۲۴۵ زره کیلو واټه پوتنسیل انرژي تولید شوې چې ددغوتعمیراتو دغورزیدو له انرژی څخه څو چنده زیاته ده نو وایو چې منفجره مواد په تعمیراتو کې لادمخه ځای پر ځای شوي وه.
**په پنټاګان حمله :** دحکومت درسمي تحقیقاتو له راپوره ویل کیږي چې دامریکا ددفاع وزارت (پنتاګان) په یو اړخ هم ۳۸ متره وزرلرونکې طیاره غورزیدلې خو دپیلوټانو دتحقیقاتو ډلې وښودل چې داهم طیاره نه بلکه کروز مزایل دی ځکه دبوینګ وزرې او دا سورې سره فرق لري



( ډيويډ ري ګريفن ) او ( الکساندر دودني ) فزيک دانانو د (۱۱سپتمبر فزيک ) په نامه کتاب کې ډېر دلايل وړاندې کړې چې درسمي تحقيقاتو پکې رد شوي چې ددوی نظر الماني کيمیادان ( ګرمار رودلف) هم تائيد کړی او په دی واقعه يې شک ښودلی

**دافغانستان اسلامي امارت اوله دوره:** کله چې دشورويانو له ماتی وروسته مجاهدين د لروبرو ملکونو داستخباراتو په دامونو کې را ګير شول او پخپلو کې يې سره ښکرونه اړم کړه نو دافغانستان ټول ملک يوه بله ښه ونيوله ملک الطوايفي حکومتونه شروع شوه هر کلي کې جلا حکومت چليده او يوه دردونکي فضا رامنځته شوه خلک حيران شوه چې دا څه وشوه هيڅوک يې په چاره نه پوهيدل خلک له يوه کلي څخه بل ته په امن کې نشوه تلای په دغه وخت کې داحمد شا بابا او مرويس خان نيکه په څير ځوان مجاهد ملاصاحب محمد عمر ثالث سر راوچت کړاو ديو ځو طالبانوپه ملګرتيايې ټول ملت له غمه خلاص کړو .






(کابل پژواک، ۳۰ غويی۱۳۹٤هـ ش) ليکلي : د طالبانو اسلامي تحريک د اسلامي سياسي او پوځي غورځنګ نوم دی چې له ۱۳۷۵ لمريز کال څخه تر ۱۳۸۰ لمريز کال پورې په افغانستان کې واکمن و او د دوی د حکومت تر ړنګيدو وروسته، ياد تحريک له ۱۳۸۳ کال څخه راپدېخوا يوځل بيا په ډلو او ګروپونو کې سره راغونډ او د افغانستان د برحاله حکومت، امريکا او د ناټو ځواکونو پر وړاندې جنګيږي.

د دې ډلې مشر ملا محمدعمر مجاهد دمولوي غلام نبي زوی او دملا محمد رسول اخند لمسی دقندهار ولايت خاکريز ولسوالی چاه همت کلي اوسيدونکی چې په ۱۳۳۹هـ ش = ۱۹٦۰م کال زيږيدلی ښځه کلن وه چې پلار يې وفات شو او بيا دخپل تره چې دارزګان ولايت ده راوت دسيمې خطيب او ملا امام وه سره ارزګان ته لاړه ديني تعليم يې له خپل تره څخه کاوه چې کله شورويانو په افغانستان حمله وکړه ملا محمد عمر هم ورسره جهاد شروع کړچې څلور ځله په دی جهاد کې زخمي شوی او په څلورم ځل يې يوه سترګه هم په شهادت رسيدلې وه په کال ۱۳۷۱هش =۱۹۹۲م دمجاهدينو دکاميابې نه وروسته ده په قندهار ميوند ولسوالی ګيشانو کلي کې خپله مدرسه جوړه کړه په ۱۳۷۴هـ ش = ۱۹۹۴م کال دطالبانو دتحريک رهبر شو اوپه ۱۳۷۵ هـ ش کې يې کابل ونيوه او په ۱۳۷۶هـ ش = ۱۹۹۶م کال د افغانستان دزياتره مناطقو دنيولو وروسته دعلماوو لخوا دامير المؤ منين لقب ورکړل شو دنړی کفارو ونه شوه کولای چې افغانستان کې اسلامي نظام وزغمي نو له دی وجه يې په حشر سره د۴۵ملکونو لخوا پرې حمله وکړه او دطالبانو نظام يې ړنګ کړو ملا محمد عمر مجاهد افغانستان ته د امريکا او ناتو عسکرو تر راتلو وروسته، له افغانستانه ووته او په ناڅرګند ځای کې پټ وه ، د طالبانو تحريک په لومړي سر کې د ديني مدرسو او ښوونځيو د زده کوونکو، زده کړيالانو او عامو طالبانو له خوا جوړ شو چې لومړني غړي يې د هلمند او کندهار د ولايتونو لوستي مذهبي مشران وو، وروسته بيا د نورو هيوادونو نورو مذهبی ډلو او وګړو هم ورسره ملګرتيا وکړه چې د پاکستان له لوري د ګنوهيوادونو لکه سوماليا، ازبکستان، تاجکستان، چيچنيا، مصر، سعودي عرب او ترکمنستان او په خپله د افغانستان دننه نورو لږه کيو قومونو لکه هزاره ګان ، تاجکان ، ازبک او نورو څخه د طالبانو حرکت ته خلک ورګډ شول.د طالبانو جنګيالي په لومړي ځل په ۱۳۷۳ لمريزکال کې چې تقريبًا ۱۰۰۰ تنو ته رسيدل، د چمن په سيمه کې د افغانستان او پاکستان له ګډې پولې افغانستان ته راغلل او کندهار ولايت يی ونيو، په ۱۳۷۵ کال کې د طالبانو وسله والې ډلې کابل ته ورسيدي او د افغانستان پلازمينه يې ونيوله.

کله چې طالبانو کابل ونیو نو د کمونیست رژیم وروستی واکمن ډاکټر نجیب الله یې، د کابل په ښار کې د ملګرو ملتونو سازمان له دفتره را وویست او د ښار په آریانا څلور لارې کې یې له خپل ورور سره یوځای په دار وځړولو.



د کابل تر نیولو وروسته، د طالبانو مشر ملا محمد عمرمجاهد د افغانستان دولت نوم بدل کړ او " د افغانستان اسلامي امارت" نوم یې پرې کیښود،په هیواد کې یې اسلامي شریعت نافذ اعلان کړ،خو د دوی حکومت یواځې د پاکستان، سعودی عربستان او عربی متحده اماراتو له خوا په رسمیت وپیژندل شو،

پرافغانستان د طالبانود واکمنۍ په موده کې دلته د القاعدې سازمان هم وده وکړه او طالب مشرانو د القاعدې د مشرانو په مرسته افغانستان کې یو شمیر بهرنیو وسله والو ته د پوځي تمریناتو اډې جوړې کړې .

طالبانو پر افغانستان د خپلې واکمنۍ په موده کې په هیواد کې یو لړ اسلامي قوانین نافذ کړل چې له مخې یې باید هر نارینه ږیره درلودلای، د سندرو او موزیک غږولو اجازه نه وه، تلویزیوني خپرونې بندې وې، خلکو اجازه نه درلوده چې تلویزیون، فلم یا سندرې واوري، ښځو باید برقه (چادري) اغوستې وای، خلک به یې ځارل چې د ورځې پنځه وخته لمونځ کوي او که نه او له همدې امله نا مسلمانه وګړو باید پر خپلو جامو ژیړه نښه درلودلای.

د طالبانو د واکمنۍ په دوران کې د نجونو ښوونځي بند وو،خو د هلکانو تعلیم په دیني او عصري دواړو څانګو کې روان او ورسره په هیواد کې پوهنتونونه او د هلکانو مکتبونه هم خلاص وو، طالبانو یې پر وړاندې خنډ نه جوړاوه

په افغانستان کې د نشه يي توکيو کښت او قاچاق له طالبانو مخکې دود شوی و، ان دا توکي د ډاکټر نجيب د ولسمشرۍ په دوران کې ښه په شور و زور کرل کيدل، د مجاهدينو د واکمنۍ پر مهال دې کار ښه زور پيدا کړ. کله چې طالبان واکمن شول، نو په لومړي سر کې يې خلک له دې کاره منع نه کړل، مګر کله چې په نړيوال سياست پوه شول، نو د دوی د مشر يا امير المومنين ملا محمد عمر مجاهد په يوه کاغذي فرمان هر ډول نشه يي توکي په ټول افغانستان کې بند شول، په ۱۳۷۸ لمريزکال کې د ملګرو ملتو سازمان د طالبانو په خلاف اقتصادي بنديزونه اعلام کړل او تر هغه وروسته بيا طالبانو په ۱۳۸۰ لمريز کال کې د باميان په ولايت کې د بودا تاريخي مجسمه له منځه يوړه چې د افغانستان لپاره يې کلتوري او لرغونی ارزښت درلود.



له القاعده سره د طالبانو نږدې اړيکې او ددې سازمان مشرانو لکه اسامه بن لادن، ايمن الظواهري او نورو ته د طالبانو له خوا په افغانستان کې پناه ورکولو، له نورې نړۍ په تيره بيا له امريکا سره د طالبانو د اسلامي امارت اړيکې لانورې خرابې کړې.

په ۱۳۷۸ کال کې امريکايی پوځ د لرې وېشتونکو توغنديو په وسيله د افغانستان د خاورې ځينې برخې دالقاعدې سازمان د پوځي مرکزونو په نامه په نښه کړې او وروسته بيا په ۱۳۸۰ لمريز کال( ۲۰۰۱ ) کې القاعدې سازمان د نيو يارک په نړيوال سوداګريز مرکز بريد وکړ. په بريد کې تقريبا درې زره تنه ووژل شول. امريکا له طالبانو وغوښتل چې اسامه او د القاعدی نور مشران دوی ته وسپاري، خو طالبانو د امريکا دا غوښتنه ونه منله.

بالاخره د همدې ناندريو په ترڅ کې د امريکا دهغه وخت ولسمشر جورج ډبليو بوش پر افغانستان د هوايي او ځمکني بريد امر وکړ

چې په ترڅ کې يې د ۲۰۰۱ زيږديز کال د اکتوبر په اوومه ( د ۱۳۸۰ لمريز کال د ميزان په ۱۵مه ) امريکايي لښکرو پر افغانستان خپل هوايي بريدونه پيل کړل او د همدې کال د نوامبر په ۱۳مه ( د لړم په ۲۲مه ) امريکايی لښکرې کابل ته ورسېدې، د طالبانو حکومت ړنګ شو او ډېری مشران يې پاکستان ته په تېښته مجبور شول او يا د امريکايانو له خوا ونيول شول

په کابل کې د طالبانو د واکمنۍ تر ختمېدو وروسته که څه هم د دوی ځواک په ظاهره ختم شو او په افغانستان کې پر امريکايي سرتېرو سربېره، د ګڼو اروپايي هېوادونو د پوځيانو تر ځای پر ځای کېدو وروسته، داسې نه ښکارېده چې بيا به هم طالبان په قوت مطرح شي، خو له ۱۳۸۳ کال را وروسته، يو ځل بيا لومړی د هېواد په غرنيو او سرحدي سيمو او اوس اوس په ټول هېواد کې د طالبانو جګړې بيا زور واخسته .

امريکايان او ګڼ شمېر افغان چارواکي ادعا لري چې د طالبانو مرکزونه اوس هم د پاکستان د بلوچستان ايالت په کوېټه اويا هم کوېټې ته نږدې سيمه کې واقع دي، پاکستان کې د رهبري شوراګاني لري چې د کويټې د مشرتابه شورا يې ډيره واکمنه ده او له همغه لوري څخه يې لوژيستيکي او وسله وال ملاتړ کيږي، خو طالبان دا ادعا ردوي او وايي چې د دوی مشر تابه او قيادت د هېواد په دننه غرونو رغونو کې دی.

# داسلامي امارت دوهمه دوره جهاد

په۲۰۰۱ زیږدیز کال د اکتوبر په اوومه ( د ۱۳۸۰ لمریز کال د میزان په ۱۵مه ) جورج بوش نړۍ مخاطبه کړه چې یا موږ سره شئ یا له ترهګرو سره. ټولې مسلماني او غیر مسلم نړۍ د جورج بوش په پلوۍ د لبیک نعرې سر کړې .



دا ځل د هټلر خلاف نړیوالې جګړې په پرتله هم یو لوی ائتلاف ایجاد شو. دوهمه نړیواله جګړه کې د ایتالیا او جاپان سربېره ډېرو نورو هېوادونو هم د هټلر څنګ ونیوه خو دا ځل عمرثالث رحمة الله علیه د امریکا په قیادت دسره صلیب نړیوال ایتلاف ته په یواځې سر را ووت.شمال کې د امریکا او ناټو چورلکو له اسمان او نظار شورا د زمکې لاندې په ټانګونو سپاره طالب جنګیالي تر اور لاندې ونیول تر دی چې جنرال استاد برهان الدین رباني وویل امریکایان دی په طالبانو غټ غټ بمونه راوغورځوي په وړو وړو بمونو ددوی کار نه کیږي .
اوبیا د یوه لوی فریب او توطیې له مخې یې قلعه جنګي، کندز او لیلي دښتې کې زرګونه اسیر طالب ځوانانو لاسونه په خپلو لنګوټو تر شا وتړل او بیا یې کانتینرونو کې په هغه وحشي انداز قتل عام کړل چې اسمان او زمکه یې د اهونو ګواه وه.



د جنګیالیو روحیه په ټوله مانا ځپل شوې وه. تبلیغات دومره په اوج کې وو چې ټولو دا باور وو چې اسمان کې چورلکې په زروي او لایزري وسلو سمبال دي چې ټوپک او وسپنې ورسره په مخ کېدو ویلي کیږي. پداسې روحیه او داسې جنګیالو د ټولې نړۍ خلاف جګړه سخته وه.عمرعلیه الرحمه په کندهار کې د یوه ځایي سوداګر په کور کې مطرح طالب مشران راغونډوي څو تصمیم ونیسي چې راتلونکی ګام به څه وي.
اطاق کې ډېره خاموشي خپره وه. ټول ویرې په سر اخیستي وو نه د جګړې د دوام وس وو او نه هم د خپل امیر مقابل کې د دې احساس اظهار. بلاخره یو تن جرئت کوي، سکوت ماتوي او وایي چې اوس د نړۍ مقابل کې مقابله ګرانه ده. ډېرې غړي په سکوت سره له دغه نظره د تایید اظهار کوي.
خو برعکس؛ عمر په دماغو کې د مقاومت او مقابلې پلان لري خو اکثریت اراوو ته په احترام خپله پرېکړه په زور په نورو نه تحمیلوي. همدلته د طالبانو د اسلامي تحریک له مشرۍ لاس په سر کیږي او مشري همدې مجلس کې ملا عبید ته سپاري او درې ځله غږ کوي چې اوس د امارت مشر زه نه، ملا عبید دی. ټول پوه شواست؟! څوک خو اعتراض نلري!؟ ټول د تایید په پار خاموش وو. عمر کلاشینکوف په لاس، څادر په اوږه اچوي او همداسې له خدای په اماني پرته له خپلو څو باوري ساتونکو سره له کوټې وځي.
د بي بي سي داود جنبش یې پوښتي چې تاسې د امریکا د برید په اړه څه غبرګون لرئ.
عمر په عجیبه قوي اعتماد او ایماني جذبه د مقاومت خبره کوي او همدلته د جګړې په پیل کې د امریکا د ماتې زیری کوي او زیاتوي چې "تاسې یې منئ یا نه خو دا واورئ چې امریکا به د لښت له سره و د لیست و پای ته راځي". دا وینا په هغه وخت کې ډېره مسخره برېښېده او داوود جنبش په تعجبي شکل پوښتنه کوي چې تاسې د څه نویو وسلو بندوبست کړی څه بلا؟
ځواب کی یې وایي چې دا د وسلو خبر نده موږ به دا مېدان په الهي نصرت ګټو.
هو! ایمان ډېر لري او په کلام الله شریف کې د خدای دا وعده ډېرو اورېدلې او لوستي چې زه د مومنانو مرسته کوم، کوچنی د مومنو ټولی په لویو او ځواکمنو بریالی کوم خو یوویشتمه پیړۍ کې

چې انسان تر غیبو زیات پر عقل او شته امکاناتو متکي دی په خدای داسې قوي باور صرف عمري ایمان او هوډ غوښت.
طالب مشرانو د ملا عبید په مشری د وخت نوي تشکیل شوي حکومت سره د سولې خبرې پېل کړې. حامد کرزي ته د امریکا ځواب واضح وو چې طالب سره د سولې چانس نشته او دوه اپشنه دي چې زندان یا مرګ.
طالبان ناهیلي راځي خو امریکا، نظار شورا او د هغوی نور افغان ملاتړي د طالب په ماتې او کور کې پر کېناستو بسنه نکوي بلکه په کورونو یې یرغل وروړي، نیمه شپه کې یې د کور دروازې ماتوي او د بچیو مخکې یې په سر تورې خولۍ کش، په ډیر سخت شکنجه یې حالت لاس تړلي تر باګرام او ګوانتنامو بیایي.
طالبان د خپل ملنګ طبعیته او روحاني مشر حکمتي دریځ ته متوجه کېږي چې دوی لار ورکي شوي وو او ډېر ژر بېرته د خپل روحاني مشر لوی ملا صېب پر محور راځرخي او د هغه تر روحاني اقتدار او امامت لاندې د ازادۍ پاتې مزل ته ادامه ورکوي

# دشت لیلیه

دشت لیلی د جوزجان (شبرغان) زندان په څلور کیلو متری کې موقعیت لري او همدلته دطالب بندیانو دستجمعي قبرونه پراته دي چې په زرګونو طالبان پکې دفن شوي
په دی باره کې مې دا لاندې معلومات راخستي او ستاسو خدمت کې یې وړاندې کوم :
( عنوان : اسناد جنایات جنګي ـ لیکونکی : جیمي دوران (دبی بی سی تلویزون سابقه لیکونکی اومستند فلم بردارچې تر اوسه یې څوجائزی هم اخستي دغه فلم په نامه د « کشتاردستجمعي در مزارشریف » « Massacre in Afghanistan»یو مستند فلم دی چې په ډیر خطرناک حالت کې یې جوړ کړی ـ ترجمه له الماني ژبې : پروا ـــ نشریه : نهضت اینده ـ شپږ میاشتنی پلټنو معلومات او مستند فلم )


جیمي دوران اسکاتلیندی دبی بی سی خبریال ددشت لیلي د ۸۰۰۰ طالب بندیانو دشهادت ټول شواهد راجمع او مستند فلم یې تری جوړ کړی ۱۳۸۰هـ ش = ۲۰۰۱م

په دسمبرمیاشت ۲۰۰۱م کال چې دعقرب میاشت ۱۳۸۰ هـ ش کال سره برابره ده امریکا په افغانستان وحشیانه او له کبر او غرور نه په ډکه فضا کې حمله وکړه دافغانستان په شمال کې دطالبانو خلاف او دامریکایانو په ملګرتیا د جنرال عبدالرشید دوستم ، جنرال عطامحمد نور ، جنرال فهیم، جنرال استاد محقق دشیعه ګانو مشر اوجنرال استاد رباني په مشری یو ائیتلاف جوړ شو له هوانه پر طالبانو امریکایانو بمباردمانونه کول او له زمکی نه ددی ائتلاف پلویانو مرګوني حملې کولې چې بلاخره طالبانودوسلو دکمبود له وجه مزار ترک تالقانو ته او بیا له تالقانو نه کندز خواته ولاړل چې تعداد یې ۱۵۰۰۰ پنځلس زره کسانو ته رسیده چې ۱۵۰۰ طالبان دمزار په قلعه جنګې کې ژوندي ونیول شوه په کندز کې هم پرې کړی راتنګه شوه او هلته څه شهیدان شوه.
امیرجان چې ددواړو طرفونو په مینځ کې دلال وه وایي : زه هلته ووم چې ملافیصل ، ملا نوري او څه نورمشران طالبان د دجنرال دوستم، جنرال عطامحمد نور او جنرال محقق دلیدو لپاره دمزار شریف قلعه جنګي ته راغله چې هلته څه امریکاي او انګلیس جنرالان هم موجود وه له خبرو وروسته موافقه وشوه چې په قندوز کې محاصره شوي افغاني طالبان دی خپلې وسلې تسلیم کړي او دوی ته دی اجازه ورکړل شي چې خپلو کورونو ته لاړ شي او کوم چې خارجي القاعده دی هغه دی خلع سلاح او ملل متحد ته دی وسپارل شي ددی خبر په خپریدو سره دامریکا ددفاع وزیر رامز فلډ مطبوعاتي کنفرانس ته وویل د تأسف ځای دی چې دالقاعده چیچنایي او نور غړي دی چې دطالبانو

سره یو ځای جنګیدل اوس دی خپلو ملکونو ته حواله شي تر څو هلته تروریستی اعمال تر سره کړي ؟دوی دی ووژل شي دداخلي ائتلاف مشران چې په جزباتو کې راغلي وه او ټول مالي امکانات یې هم دامریکایانو لخوا اکمالیده داخبره پری ښه ولګیده . امیرجان واي چې مونږ عجله کوله تر څو زر ترزره موافقه وشي او دطالبان د ضا یع کیدو مخه ونیول شي په ۲۱نومبر ۲۰۰۱م تاریخ موافقه امضاء شوه او طالبانو دموافقې سره سم خپل ځانونه دشمال ائتلاف ته تسلیم کړه امیرجان وایي ما یو یو شمارل ټول (۸۰۰۰) اته زره کسان وه اول یې دمزار شریف قلعه زیني ته راوړل اوبیا یې وویل شبرغان ته یې وړو







تر څو له دوی نه امریکایي متخصین تحقیق وکړي او بیا فیصله وشي څوک دکیوبا ګوانتانامو ته انتقال کړي او څوک خوشئ شي .هماغه وه چې دکانتینرونو یو لوی قطار راغلو دشمال ټلوالې یو افسر وایي زه ددوی دانتقال مسؤل ووم ۲۵ کانتینره مې راوسته هر یوه کې مې تر دوه ۲۰۰ طالبان ځای پرځای کړه چې نه ورته رڼا ننوته او نه هوا طالبانو ډیرې زارۍ وکړې چې په مونږ رحم وکړی ددوستم ګلم جم ملیشوپه ډیره بې رحمانه ډول په بندو اوسپنیز کانتینرونو کې چې هر کانتینر کې له ۱۶۰ څخه تر ۲۵۰ کسانو په داسې حالت کې ورتخته کړه چې دګوتې دځایدو مسافه هم پاته نه شوه او دکانتینر دروازې ورپسې وتړل شوې




له څو دقیقو وروسته دطالب بندیانو دهوا له کمبود او دتنفس له بندیدوسره مخ شول نارې سورې یې شروع کړې دکندز نه تر شبرغان پورې تقریباً ۳۰۰ کیلومتره لاره ده دتیلر یو ډریور چې کانتنیر کې یې طالبان بار دي وایي : چې کله ددوی فریاد زیاد شو ددوستم امنیتي کسان چې زما سره ناست وه ګاډی ودرولو او په کانتینر یې دخپلو ماشینو په ذریعه ډزی وکړې ډریور وایې ماورته وویل ولی؟ هغوی وویل چې کانتینر سوری شي او هوا ورننوځي په داسي حال کې چې دا کار دکانتینر په پاس برخه پکار وه خو دوی لاندې حصه باندې ډزی وکړی طالبا ن چپ شول او له کانتینره دوینو جریان شروع شو






په لاره کې لمر ډیر تیز وه کانتینر ان داسې ګرم شوه لکه دیګ بخارونه ، لاره چې ډیره اوږده وه او دوی هم غوښتل په قراره انتقال شي ډیر وخت وروسته بیا چې کله شبر غان ته ورسیده اول یې بندیان محبس ته او بیا دشت لیلی ته راوړل






هلته یې کانتینرونه پنځه ورځې لمر ته ودرولي وه عیني شاهدان دکانتیر دوه ډریوارانو ویلي چې په دغو شپو ورځو کې دوی ته نه خوراک ورکړل شوی او نه ورته دکانتنیر دروازې خلاصې شوی په اخره کې چې کله دپنځه ویشتو(۲۵)کانتینرونو دروازې خلاصې شوې نو ټول بندیان څه په ډزو مړه شوي وه او څه هم دهوا له نشتوالي خفکي شوي وه دټولو غوږنې خوړینې شوی وی او یو له بل سره ګډی وډی شوی وي یو څو کسان سره له دومره مشکلاتو بیاهم داسې ژوندي وه چې ښوریدی نشوه هغه یې هم په دشت لیلی کې په ډزو وویشته





پلټونکي وایي : راځی چې داقصه پخپله دیو دوستم له ملیشه څخه واوروچې پخپله یې په دی قتل اعتراف کړی وایي : ما په کانتینر ډزی وکړې تر څو کانتینر ته هوا داخله شي چې په نتیجه کې یو تعداد بندیان ووژل شوه ، سوال: ایا تاپخپله خوښه دا ډزی وکړې که څنګه ؟ ځواب نه خیر زمونږ قوماندانانو راته امر وکړ. پلټونکي وایي مونږ کانتینرونه وکتل دډزو ټول سوري دکانتینر په وسط او بیخ کې وه نه پاس که ددوی هدف دهوا داخلیدل وای نو دکانتینر په پاس سطحه باید سوري شوی وای یو تکسي چلونکی چې دتیلو ټانګ ته تللی وه داسې قصه کوي : ما چې کله تیل پخپل موتر کې اچول یوعجیب بوی مې دماغو ته راغی دتیلو ټانک والا ته مې وویل دا څه بویې دی هغه وویل شاوخوا وګوره دغه وخت دری کانتینره ولاړ وه او وینې تر روانې وی ویښتان مې ځګه او بېرشوه غوښتل مې زر تر زره له دی ځایه ووځم خو لار او مخه مې بل باربري ګاډي بنده کړی وه دا تکسي وان وایي بله ورځ شبر غان کې دخپل کور ومخې ته ولاړ ووم چې بیامې څو کانتینره ولیده چې روان وه او وینې ترې جارې وی سخت ویرې او وحشت واخستم ،
امریکایانو شبرغان کې شمالي ائتلاف قوماندانانو ته وویل چې دا کانتینرونه دښار نه باندې کومې دشتې ته یوسې چې دمصنوعي سپوږمی نه عکاسي نه شي
بلټونکي وایي : مونږ دوه ډریوران چې دهمدی ځای ددومحلو وه پیدا کړه هغوی دوه ورځې جدا جدا په عین محل ددشت لیلی کې دریوري کړی وه په دی حادثه کې دوی دواړه په مستقیم ډول داخلیدو له وجه ډیر غمجن او متأثره معلومیده چې ددوی دا معلومات د زیني قلعه نه تر شبرغان او بیا تر دشت لیلی پورې تلل راتلل ډیر ټکان ورکونکی دی .
اول دریوروایي : ۲۵ کانتینره وه دبندي طالبانو وضعیت بیخي خراب وه ځکه هوا ورته نه رسیده او په کانتینرانو یې ډزې وکړې ډیر بندیان شهیدان شول کله چې شبرغان ته راورسیدو بعضې بندیان لا هم بیهوشه حالت کې ژوندي پاته وه هغه یې دشت لیلی کې په ډزو وویشتل ما دلته دری ځلې کانتینر راوړو او هر وار ۱۵۰ نفره او هر ځلې به چې برې ډزی کیدلې هغوی به چغې اوژړا کوله او زما نه په غیر لس پنځلسو دریورانو نورو هم دی انتقال کې برخه اخستې وه دا دریور وایي : دشبرغان په زندان کې ما ددوستم یا اوسني ( جنبش ملي اسلامي افغانستان ) دګوند مسلح کسان او امریکایي فوجیان یو ځای ولیده او امکان لري امریکایان په لاره کې هم ورسره یوځای راغلي وي

دوهم دریور وایي : زما بار وړونکی موټر دشمال ائتلافیانو په مزار شریف ښار کې په غصب ونیوه اوبیایې پیسې هم رانکړې یو کانتینر یې زما په موټر بار کړو چې له طالب بندیانو ډک وه له زیني قلعه نه تر شبرغانه او بیامې تر دشت لیلی پورې ورساوه چې په لاره کې ائتلافي عسکرو په کانتینر ډزی وکړې او زیات بندیان مړه شول او باقي یې دشت لیلی کې چې بیهوشه وه هغه هم په ډزو وویشتل چې ما شخصاً له ۵۵۰ څخه تر ۶۰۰ کسانو پورې راوړل ، مصاحبه کونکی له دی دریور څخه پوښتنه کوي چې کله تا دلته (دشت لیلی) ته بندیان راوړل ستاسو سره امریکایي عسکر موجود وه ؟ ځواب بلی زمونږ سره څوکسه امریکایان په دشت لیلی کې یو ځای وه ، مصاحبه کونکی : څونفره امریکایان به وه ؟ دریور واي ما په اول ځل چې دلته دشت لیلی ته طالب بندیان راوړل له دیرشو نه تر څلویښتو امریکایان راسره وه خو نورو پیرو کې مې بیا ونه لیدل .

پلټونکو لیکلي : ددی سفر په اخر کې مونږ ولیده چې بلدزرونو لویې لوي کندې ایستلې وی او دطالب بندیانو اجساد یې ټول په کنده کې خرواورنو خاورو لاندی وردفن کړي وه او زمونږ دمعلوماتو په اساس هغه بندیان چې ژوندي دامریکایانو پلاس کې پریوتې وه ددوی نه دهغوی حال لابد تر وه

دشبرغان یو عسکر وایي : زه ددی شاهد ووم چې امریکایانو دیو طالب بندي ورمیږ تاو کړو او هډوکي مات شوه کله به یې تیزاب پرې وشیندل .

دشمال ائتلاف یو جنرال چې هغه وخت په شبرغان کې وه وایي : داسې صحنې مې لیدلي چې امریکایانو به دساعتیری لپاره طالب بندیان راویستل او دبال په شان به یې لوبې پرې کولی او کله به یې له ګیري ونیول او تری وبه یې ایستله او په ځینو یې ژبې را ویستلی وی او په چاړه به یې ترې غوښې کړې او ځینې به یې چې دلوبو لپاره بیرون وایستل بیابه ژوندی رانغله ( دی شاهدانو په مستند فلم کې شاهدي ورکړی کله چې موقع مساعده شي دابه ټول صحنې ته راوړل شي

درویش او قاري فضل الدین سراجي خوږ ژبو نعت خوانانو او شاعرانو په زړه پورې ترانو کې وایي

ستا په سینه کې په مظلوم وشول فیرونه نړیدی ولې نه ؟ ودشت لیلی ژړیدې ولې نه ؟
څه لویي ماتم څه لویه غوغا وه تا هیڅ نه ویل ـ په تا کې جوړه کربلا وه وه تا هیڅ نه ویل
چې ریژیدل دپاک نبي دباغ ګلونه نړیدې ولې نه ؟ ودشت لیلې ، ژړیدې ولی نه ؟
ستا په سینه کې په مظلوم وشول فیرونه نړیدی ولې نه ؟ ودشت لیلی ژړیدې ولې نه ؟
ټوټې ټوټې پراته وه بي کفنه دا ستا په غیږ کې ـ بې له غمخوره بې مد فنه ستا په غیږ کې
لاسونه پښې په وینو سره لکه ګلونه ـ نړیدی ولې نه ودشت لیلي ژړیدې ولې نه ؟







ستا په سینه کې په مظلوم وشول فیرونه نړیدی ولې نه ؟ ودشت لیلی ژړیدې ولې نه ؟
دځنکدن اوبه یې غوښتې غمخور یې نه وو ـ سلګۍ یې وهلې ډیرې سختې غمخور یې نه وو
چې لمبید ل پخپلو وینو کې لکه لعلونه ـ نړیدی ولې نه ودشت لیلي ژړیدې ولې نه ؟
ستا په سینه کې په مظلوم وشول فیرونه نړیدی ولې نه ؟ ودشت لیلی ژړیدې ولې نه ؟

په ۲۶ اګست (نیوز ویک) خبري مجلې چې د ا ټولوژنه ددشت لیلی افشا کړه نو امریکا یانو ترې ناخبري وښودله او وی ویل زمونږ فوجیان په دغه وخت کې د شبرغان په زندان کې نه وه خو دوی (امریکایان ) له هر څه نه انکار کوي دوی دروغجن دي او ددوی خبره دباور وړ نه ده او نه ددی موضوع اصلي تحقیق کولی شي ځکه دشمال ائتلافی جنګسا لارانو مرهون دي همدوی وه چې دشمال ساحه یې امریکایانو ته له طالبانو ونیوله نو ځکه خو دلته هم پښې نیولې دي

امریکایان په ښکاره دژنیوا دکنوانسیون له وعدو خلاف عمل ترسره کړی او دجنګي جنایاتو مرتکب شوي امریکایانو ددی دافشاء کیدو وروسته په عجله سره دکانګرس لخوا نوی او جدید قوانین پاس کړه ترڅو ددوی عسکر محکمه نشي

پلټونکي ګروپ په مستند فلم کې ویلي چې : چې دامریکا دکانګرس یو وکیل ( اندریومګ اینتي ) دحقوق بشر او عفوی بین المللي سازمان پخوانی رئیسچې کله زمونږ مستند او دعیني شاهدانو شواهد وکتل او ولوستل داسی وویل : ددی موادو په وړاندی کیدو سره دا نتیجه پلاس راځي چې نوموړی ټول شموله او غیرجانبدار تحقیق تر سره شوی چې بندیان وژل شوي او بیا یې اجساد پټ کړی شوي دي په دی ځای کې یواځي دبین الملل دحقوقو نقض نه دی بلکه دا اعمال داروپایي ټولنې په نزد هم جنایات شمیرل کیږي او تر ټولو مخکې باید دامریکا متحده ایالاتو کې هم باید جنایت وشمارل شي چې داسي ټولوژنه په ویتنام کې په ۱۹۶۸م کې هم تر سره شوی وه اوهماغه عدلي قوانین اوس هم دخوشحالی ځای دی شته

# جنرال دوستم

عبدالرشید دوستم د عبدالرحیم زوی د جوزجان ولایت په خواجه دوکوه ولسوالی کې زیږیدلی, تر شپږم ټولګي پورې یې زده کړې کړي، په ۱۹۳۰م کال دشوروي له ظلمونو دمنځنۍ اسیا مسلمانان افغانستان ته را مهاجر شوه چې دده نیکه توردي هم له دغو مهاجرو څخه وو



په لومړیو کې یې د پلار سره پټیو کې کار کاوه، خو په ۱۳۵۸ لمریز کال کې یې د شبرغان ولایت غازو او تیلو په کان کې د مزدور په توګه دنده تر لاسه کړه.نومړي ته به خپلو دوستانو د {د دوستم ملګریه} خطاب کاوه، څکه په همدي نوم مشهور وو، او وروسته یې بیا همدا (دوستم) ځان تخلص غوره کړ، دري کاله وروسته د پرچمیانو له خوا جذب شو او له اجیری یې سربازی ته ارتقاء وکړه، د



دوستم ظلم او وحشت د دي سبب شو چې ډیر مشهور شي، د پرچمیانو خو همداسي کسان په کار وو له سربازۍ وروسته د ټولي قوماندان، او ورپسي د ولایت منشي او بیا د برید جنرال په لقب ونازول شو.

**د دوستم کارنامې :** دوستم او ډلي یې د تاریخ په اوږدو کې دومره ظلمونه کړي چې زما قلم یې د لیکلو څخه عاجز دی، مشت نمونه، خروار به یې د یو څو ظلمونو یادونه وکړم ؛

۱۳۷۲ هـ ش کال دوستم ډلي (جنبش) له جمعیت ګوند سره د مزار ښار د نیولو پر سر جګړه وکړه، په سلګونو بې ګناه کسان یې قتل عام کړه، مالونه او کورونه یې لوټ, او په ۵۰ ښځو یې جنسي تیری وکړ.

۱۳۷۴ لمریز کال د سنبلي دوه‌ویشمه؛ د بلخ ولایت د شولګري سیمې اوسیدونکي چې د دوستم له ظلمونو څخه تنګ راغلي وه, او غوښتل یې د دوستم ځایي قوماندان ته سزا ورکړي, د دوستم ډلي برید پري وکړ, د نرانو وژلو وروسته یې ۲۹ ښځو باندي جنسي تیری وکړ او وروسته یې ووژلي، وژل شویو کې د زانګو ماشومان هم وه.

۱۳۷۵ د ثور ۹ , د لوی اختر لومړی ورځ؛ د دوستم ډلي او اسلامي حزب تر منځ د تاشقرغان په خلم ښار کي جګړه ونښته د جګړي په پایله کې یې دوکانونو ته اور ورته کړ او په سلګونو بي ګناه خلک یې ووژل.

۱۳۷۶ لمریز کال د حمل/وري څوارلسمه؛ دوستم او ډلي یي د ګل سرخ میلي ځخه ۲۵ نجوني وتښتولي، او له جنسي تیري کولو وروسته یې تولي ووژلي.

**ترټولو لوی او ستر وحشت؛**

۱۳۸۰ لمریز کال لیلي دښته (دشت لیلي)؛ چیرته چې ۸۰۰۰ پښتانه بندیان د دوستم او ډلي له خوا په ژوندوني په ځمکه ښخ شول، او په لوډرونو یې خاوري پري راواړولي.

۱۳۸۲ لمریز کال د تلي/میزان څلورمه؛ د دوستم باډي ګارډ قومندان محي الدین له خوا د یوه روزنتون ځخه یوه ۸ کلنه نجلۍ وتښتول شوه، او دجنسي تیري وروسته یې د شبرغان په جنګل باغ کي ووژله.

۱۳۸۶ لمریز کال، د قوس لسمه؛ دوستم او ډلي یې د سرپل ولایت د سیداباد ولسوالی کې، ۵۰ کورنۍ چې اسحاقزي پښتانه وه، په زور او جبر له سیمې وایستل، کورونه او مالونه یې ورنه لوټ کړل، ۵۰۰ زره جریبه کرنیزه ځمکه یې غصب او خلک یې د وژلو وروسته په سپیو وخوړل.

له پورتنیو جنایتونو بغیر دوستم او ډله یې په زرګونو تښتونو، جنسې تیریو، وژنو، باج اخیستلو، چور، غلاوو او لوټماریو کې ګرم پیژندل شوي.

مظلوم افغان ملت له ۴۰ کالونو راهیسی د دوستم محکمې ته انتظار دی، خو د سزا ورکولو پر ځای لاندي لقبونه ورکول کیږي؛

- ډاکتر نجیب دوستم له عادي سربازی ځخه جنرالی ته ورساوه،
- صبغت الله مجددي د خالد بن ولید لقب ورکړ.
- برهان الدین رباني ورته د زوی لقب ورکړ.
- حامد کرزي د ستر جنرال په لقب ونازوه.
- اشرف غني اول لومړی مرستیال او بیا یې د مارشالی په رتبې ونازولو.

## په افغانانو دامریکا او ناتو ظلمونه

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یولسمی نه وروسته او دهمغه کال د اکتوبر د اومی سره سم ، یعنی کله چې امریکایانو افغان مظلوم ولس دخپلو پرمختللو بمی وسلو ، یورا نیمي او دبمونو دموراو ډول ډول بمباریولاندی ونیول















پورتنی بم د بمونو دمور په نامه چې لس ټنه وزن، ۹ متره اوږدوالی او۱۶ میلونه ډالره قیمت لري په ننګرهار اچین ولسوالیکې په۲۶حمل۱۳۹۶هـ ش دپنجشنبې ورځ ۷،۳۰اوه نیمې بجې ماښام دامریکا لخوا استعمال کړی شو چې ډیره پراخه منطقه یې تخریب او یو وحشتناک اوازیې تولید کړو چې سخت ویرونکی وه





دامریکا او ناتو عمومي قوماندان جنرال جان نیکلسون وایي : په افغانستان کې دبمونو مور دبمب استعمال زمونږ دمناسبې اسلحې په مناسب هدف کې تر سره شو




ددی بم داستعمال نه وروسته حامد کرزي وویل : دا دتروریزم په مقابل کې جنګ نه دی بلکه په غیر انساني او بې رحمانه ډول زمونږ هیواد کې داسلحو ازمایش او امتحانول دي

تر دی دمه چی د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر یولسمه یی شل کاله پوره کوی د افغانستان د ولس تر نیمایی زیات وګړی بی کوره شوی ، دغیر رسمی شمیرو له مخی په میلونونو کسان شهیدان شوی ، جایدادونه او شتمنۍ یی له منځه تللي ، کورونه او کلی یی هوار شوی ، عصمتونه او عفتونه یی د پردیو عسکرو ترپښو لاندی شوی ، فحشا ، نجاست ، لواطت ، قمار ، شراب .....هر څه په کی د امریکا او اروپا دکوڅو اوبازارونو څخه هم د ازادۍ تر نامه لاندی تر خپل اخری پولو پوری رسیدلی ، مافیایی عناصر او جنګی خونړي سالاران ،دوتابعه سګ شویان او لنډغر په کی حاکم دی.

## امریکایانو او انډیوالانو یې پر افغانستان پینځه سوه او شپیته زره ۵۶۰۰۰۰ د بي۵۲ الوتکو بمبارونه کړي دي او دا پرته دبمونو له مور څخه.











امریکا او ناتو په افغانستان کې ټولې هوايي او زمکنۍ اسلحې وازمايلې او زمونږ دغریب او فقیر هیواد هره دره هر کلي هر کور یې تر هدف لاندې راوسته بی ۵۲ ډوله ، هرقسم جټ ، بې پیلوټه او څرخکۍ الوتکې یې پکې استعمال کړې او دبمونو او راکټونودرانه بارانونه او دغنمو او جواروله دانو یې پرې زیات شل کاله مسلسل وورول

لکه دشورویانو په شان انسانان خو لاڅه کوی له دوی څخه هم یوه ونه او یوه تیګه په امان کې پاته نشوه چې په ذریعه یې زمونږ دګران هیواد افغانستان په لکونو او میلونونو شازلمي سپین ګیري زنانه او ماشومان په شهادت ورسیده خو لله الحمد کفارو ته تسلیم نشول داچین ولسوالۍ یو اوسیدونکي دیو خبرنګار سره په خبرو کې وویل امریکاته زه وایم داخو دبمونو مور وه پلار یې هم راولیږه ددی بم خوتاوان ډیر وه خو ګټه یې هم ډیره وه








د امریکا اوایساف نظامی تمځایونه دافغانی نجونو اوښځو دښکار مهم ځایونه ګرزیدلی اونن په هیواد کی همغه خلک ډیر مخته دی ، ډیر شتمن دی ، ډیر مخور دی چی په دغو کارونو کی په یوه ډول نه یوه ډول راښکیل شوی دی.او د امریکایانو په باد راوړی بودجه یی په لاسونو کی اوړی را اوړی .






**امريكايي زندانونه :**زمونږ تول هيواد د افغان ولس د ازادۍ د پتنګانو له پاره دګوانتانامو زندان ګرزيدلی وه ، د افغانانو دپاره خپل هستوګنځی ، او هغوی له پاره هم چی د امريکايانو په پښو کی يی خپله حيا او عزت ځار کړی ، يو ستر زندان ګرزيدلی ، نه يی ښځه ، نه يی کوچنيان او نه پخپله دازادو ګرزيدو اجازه لری . خو افغانستان يوازی د پرديو له پاره ازاد هيواد دی ، دهغوی له پاره دهغوی له اړخه دلاسپوڅی رژيم د وخت نا اهله ، او ناپوهه وزير عبدالله سند لاسليک کړی چی ( بيرونی ځواکونه چی هر څه کوی په کی ازاد دی او دهيڅ ډول عدلی تعقيب لاندی به نه راځی ). او طبيعی ده چی دا قانون به تر هغو پوری روان وی تر څو چی په هيواد کی يو انقلابی بدلون نه وی راغلی

امريکا او ناتو په افغانستان کې دافغان مجاهد ولس دځورولو ربړولو لپاره درې لويې زندانونه چې ګوانتانامو، بګرام او قندهارکې او څلورسوه واړه او خصوصي زندانونه جوړ کړه او ورسره دکابل پلچرخي لو يي زندان هم له بنديانو ډک کړو په لکونو مجاهدين يې دی زندانونو ته ورټيل وهل داددی لپاره چې دافغانانو جهادي ولوله خاموشه او چپ کړي ګرم او ناګرم يې نه کتل خو فقط چې چابه دکوم کس باره کې اشارتاً ورته وويل هغه به يې په ډيره بې رحمۍ او بې عزتې نيولو په کورونو به يې دشپې په توره تياره کې دوحشي ځناورو په څير چاپه وغورځوله په خواړه خوب اوده زنانه ماشومان سپين ګيري او ځوانان به يې راپاڅول ځينې به يې هملته دکور په انګړ کې دخپلو زنانه او ماشومانو په مخکې ماشيندارو غلبيل غلبيل کړه او ځنې به يې په سپيو وخواړه اونورو ته به يې پلاستيکي ولچکونه لاسوته واچول ان تر دی چې تر زندانه به رسيدل دپلاستيکي ولچک به يې غوښې او هډوکو ته کوز شول او دپاسه به يې توري خلطی ورواغوستې لاسونه به يې تړل شوي وه او سر سترګې به پټ وه بعضو به چې دزړه او يا فشار تکليف درلوده نو نيمايي لاره کې به دسا تنګی له وجه مړه شوه يوه ورځ په يوه تلويزون کې ديو امريکايي جګپوړي چارواکي نه چا پوښتنه وکړه چې دادومره ډير خلک مو ولی ونيول هغه په ځواب کې وويل چې هرچابه توره پګړۍ په سر کړې وه هغه مونږ ته دوشمن ښکاريده داځکه زمونږ افغاني دوستانو مونږ ته همدغه خلک په ګوته کړي وه چې دا طالبان دي نور مونږ څه پيژندل خو ستاسو خلکو مونږ ته ښودل

# ګـــوانـــتـــانامـــو زندان

## ګوانتانامو زندان څنګه جوړ شو؟(امان الله عطا عمران بی بی سي لندن٢١ مرغومی ١٣٩٠ـ ١١جنوري ٢٠١٢م بی

ګوانتامو شاوخوا يوه پيړۍ مخکې امريکا له کيوبا نه په ګرو نيولی وه، او دلته جوړه شوې اډه په لومړيو کې د زرګونو ناقانونه کډوالو لپاره، چې له کيوبا او هايتي نه امريکا ته تلل، چمتو شوې وه.

په دې ډول د امريکايي چارواکو په باور ګوانتامو مناسب ځای وو چې په افغانستان کې له القاعدې او طالبانو سره د تړاو په شک نيول شوي کسان ورولېږدوي.

د اسامه بن لادن له نه سپارنې وروسته امريکا د ٢٠٠١ کال د اکتوبر پر ٧ مه پر افغانستان بريدونه پيل کړل.دوه مياشتې بعد چې د امريکايي ځواکونو له لوري د القاعدې او هم طالبانو يو شمېر مجاهدين نيول شوي وو ددې بنديانو په اړه دامريکا ولسمشر جورج بوش يو پوځي فرمان صادر

کړ.او خپل د دفاع وزیر ډونلډ رمسفیلډ ته یې د یو مناسب ځای دکتلو امر وکړ چې غیر امریکایي وګړي له کوم تور پرته په کې تر ناټاکلې مودې پورې بندیانو محاکمه به یې پوځي وی هغه هم ګوانتانامو چې په کیوبا کې واقع ده او له افغانستان څخه ۱۲۷۸۰ کیلومتره مسافه لري




د ۲۰۰۲ کال د جنورۍ ۱۱ مه نېټه وه چې د ۲۰ تنو لومړۍ ډله بندیان په افغانستان کې له کندهار نه ګوانتانامو ته ولیږدول شول‌بندیان چې سرونو ته یې خلتې وراغوستل شوې وې، د الوتکې دننه هم پر خپلو څوکیو تړل شوي وو.
د امریکا د هغه وخت د دفاع وزیر ډونلډ رمسفیلډ ویل چې له نیولو کسانو سره به د جګړې بندیانو چلن نه کیږي.ځکه دوی د جګړې بندیان نه بلکې ناقانونه جنګیالان دي. همدا وجه وه چې ناقانونه جنګیالان د جینیوا تړون لاندې له هېڅ حقونو برخمن نه دي.




په ګوانتانامو کې له بندیانو سره چلن، له هغوی نه د پوښتنو ګروپړنو بنې له بشری حقونو سرغړونې بلل شوې او په امریکا کې دننه یې پراخې ناندرۍ راوپارولې.
ویکیلیکس چې په رازونو سپړونکې وېبپاڼې مشهوره شوې، د امریکا استخباراتو اروزنې یو پټ سند یې هم خپور کړی دی.
په دغه سند کې ویل شوي، له ټولو ۷۸۰ بندیانو چې په ګوانتانامو کې د امریکا له بند تېر شوي، ۲۲۰ یې خطرناک مجاهدین بلل شوي دي.
خو ۱۵۰ په کې بې ګناه افغانان او پاکستانیان ګڼل شوي، چې ډېر یې له کوم ښکاره دلیل پرته نیول شوي، او بیا خوشي شوي دي.

حاجي شاهزاده هم له هغو کسانو و، چې وايي له کوم تور پرته نيول شوی و:"د شپې کورکې ويده وم، يو مېلمه دوه مې هم درلودل، د شپې موږ ته خلک راغلل، امريکايان او کورنيان دواړه وو.موږ يې د ملا محمد عمر سرای ته بوتلو، چې له هغې مخکې مو هېڅ ليدلی هم نه و.













بيا مو يوه شپه وکړه، بيا يې د کندهار هوايي ډګر ته بوتلو، پنځه شپې مو هلته وکړې، پنځمه شپه يې له هغه ځايه بګرام ته بوتلو.بيا مو نژدې ځلورنيمې مياشتې هلته تېرې کړې. له هغه ځايه يې بيا ګوانتانامو زندان ته بوتلو. هلته مو بيا درې کاله يا څه د پاسه تير کړل."

# د ګوانتانامو زندان ديو بندي ترخه قصه

داقصه مېدحکمتيار صاحب له يوې رسالې (دګوانتانامو دزندانيانو پيغام : ليکونکې مستعار نوم شفيق ځدران ) څخه ټکي په ټکي رانقل کړې او ربښتوني قصه او واقعه ده چې هغه بندي حکمتيار صاحب ته تولـه قصه راليږلې او هغه ترې رساله جوړه کړې.

**مسيحي ديموکراسي مې په ګوانتانامو کې وليده :** زما کورنۍ په پيښور کې اوسيږي لاهور ته په يوکار پسې تللی ووم دشپې ناوخته له يوه ملګري سره په ريکشه کې ديوه دوست کره تلم چې ناڅاپي دلاهور پوليسو ريکشه ودروله او پلټنې يې پيل کړې په دی ورځو کې هر دګيري او پګړۍ خاوند ته دشک په سترګه کتل کيده خصوصاً هغه چې پښتون به وه امريکا دتروريزم په ضد جنګ اعلان کړی وه ، دنړۍ ټول هيوادونه يې ګوابنل چې يا به دتروريزم ضد روان جنګ کې دامريکا ترڅنګ ودريږي او يا خو به يې واشنګتن دتروريستانو ملګری ګڼي دمسلمانانو په نيولو کې پاکستان او ايران په خپلو کې سيالي شروع کړه چې نن به اسلام اباد اعلان وکړ پنځه سوه تروريستان مو نيولي او امريکايانو ته موسپارلي سبا به دايرانله تهرانه اعلان وشوچې مونږ تر اوسه پنځه سوه پنځوس دالقاعدې غړي نيولي دي او خپلو خپلو هيوادونو ته يې استولي .






اوس نو په پاکستان کې هر ږیري خاوند مسلمان تروریست ګڼل کیدو دپاکستان حکومت غوښتل امریکایانو ته ثابته کړي چې په دی جنګ کې تر هر چا مخکې او په لومړۍ کرښه کې دتروریستانو په خلاف جنګیږي دوزیر ستان جګړو او په پرویز مشرف ځوبریدونو خو داجګړه نوره هم تنده او تیزه کړه په هر صورت بندي وایي مونږ یې تهاڼې ته بوتلو او تولہ شپه مو تر وهلو ټکولو لاندې تیره کړه سهار یې په دی شرط دپریښودو وعده راکړه چې لس زره کالدارې ورکړو مونږ چې څه لرلې هغه یې لا دمخه دنیولو وخت کې راڅخه له جیبو ایستلې وی او اوس یې نورې هم غوښتې خو زمونږ وس نه رسیده او نه مو څوک پیژانده چې ترې پور یې کړو . دا پولیسان مو وپیژندل چې شییعه ګان دي نو فکر به مو کولو چې دمذهبي تعصب له وجه زمونږ سره داسې زور زیاتی کوي او دومره مو ځوروي او دا شک موهلته زیات شو چې پر مونږ یې دسپاه صحابه تور ولګاوه او دوی ښه پوهیدل چې په افغانانو کې سپاه صحابه تنظیم والا نشته او بله داچې شیعه ګان په عراق کې او هم پاکستان کې دامریکا یانو سره ملګري شوي دوزیر ستان دمسلمان او مظلوم ولس په ضد دفوځي عملیاتو قومانده هم دیو شیعه جنرال پلاس کې وه او FBI تر قوماندې لاندې چې کوم پاکستاني پولیس او کوماندو دمخالفینو دنیولو عملیات تر سره کوي هغوی هم شیعه ګان دي په تیرو صلیبي جنګونو کې هم شیعه ګان له دوښمن سره یوځای شوي وه او اوس هم نو معلومه شوه چې داطبقه (شیعه ګان ) ددوشمن ذلیله خادمان او غلامان دي .






پولیسو ته ماوویل زما اسناد وګورې زه افغان یم او له هیڅ پاکستاني تنظیم سره اړیکي نلرم هغوی راته مخ کړ او وی ویل: ښه نو ته حتماً دالقاعدې غړی یې بیایې موږ د سی ای ای پولیسو ته حواله کړو ، درې ورځې مو هلته دسختو وهلو ټکولو لاندې تیرې کړې چې هغوی پرمونږ هیڅ جرم ثابت نشو کړای او نه یې راڅخه دکومې ډلې سره په اړیکو اعتراف ترلاسه کړ ، مونږ یې بیرته هغې تهاڼې ته ولیږلو پولیسانو بیاهم دپیسو غوښتنه کوله او په دی به یې ډارولو که پیسې رانکړۍ نو فوځیانو ته مو حواله کوو پوره شل ورځې یې تر راز راز وهلو ټکولو او تعذیبونو لاندې وساتلو او هره ورځ به زمونږ دځورولو په خاطر یې صحابه کرامو ته کنځلې کولې شل ورځې وروسته ګورو چې یو تور جیپ راغئ او له هغې څخه څو تنه چې ښې ږیرې یې درلودې او ظاهراً متشرع او دکوم اسلامي تنظیم غړي معلومیدل راکوز شول ورپسې څو کسه ټوپک والا هم را کښته شول مونږ چې دوی ولیدل دا راته معلومه شوه چې زمونږ لپاره دلته راغلي نو ډیر خوشحاله شوو او ګمان مو وکړ چې ښایي دکوم اسلامي تنظیم غړي به وي او زمونږ دخلاصون لپاره به راغلي وئي کله چې هغوی

زمونږ خواته اشارې کولې او زمونږ په رابطه يې دپوليسانو سره خبرې کولې نو زما پوخ يقين شو چې همداسې به وي او نور به زمونږ دزحمت شپې او ورځې ختمې شوې وي ، هغوی زمونږ په طرف راغلل خو درسيدو سره سم يې زمونږ سترګې وتړلې او لاسونه يې تر شا راوتړل بيا يې همدې جيپ ته پورته کړو لږ مزل وروسته يې ديوه کوچني زندان په داسې اطاقونو کې واچولو چې تقريباً يو متر يې عرض او يونيم متر يې اوږدوالی وو، ډير ګرم اوتياره چې نه يې چراغ لرلو او نه يې بهر ته درنيا او هوا دوتو ننوتو کومه چوله ، تشناب يې هم نلرلو دضرورت درفع کولو لپاره يې يو سطل په کنج کې ايښی وه ، شپه مو تيره کړه سبا تقريباً نهه يالس بجې وې چې څلور کسان راغلل زما سترګې يې راوتړلې او لاسونه ته يې ولچک راوا چول او له دې ځايه يې اوباسلم ، لږه شيبه وروسته يې په يوه لوی اطاق کې زماسترګې راخلاصې کړې ، په اطاق کې تقريباً لس کسان ناست وه ټولو ګيرې درلودې او عامې شخصي جامې يې اغوستې وې ، داسې نه معلوميدل چې دوی به فوجيان وي چې وروسته ددوی په حکله دوه خبرې راته معلومې شوې ، يوه داچې دوی دفوج داستخباراتو غړي وه او دوهمه داچې دوی هم شيعه ګان وه ، ددوی يو کس چې په پښتو يې سمې خبرې کولی شوې ماته وويل : دانسان په ژبه درسره وغږيږو او که دحيوان؟ ماورته وويل زه خو انسان يم او دانسان په ژبه پوهيږم نه دحيوان هغه وخندل او په ډيره مينه يې راته وويل دلته کښينه پوښتنه يې وکړه چې چای څښې ؟ ما ويل نه مننه ، هغه قلم راواخست او ماته يې وويل : ته ووايه او موږ به يې ليکو ، ما ورته وويل څه ووايم ؟ هغوی وويل : موږ ته دعربانو ، طالبانو او نورو مخالفينو کورونه راوښايه ، موږ له تا سره هيڅ مشکل نلرو يواځې دا معلومول غواړو چې تاسوزمونږ دوستان يې او کنه ، که هغه خلک راوښيې چې زموږ ملک ته مشکلات جوړوي نو تاسو به زموږ دوستان وی هسې هم زموږ او ستاسو هدف يو دی ، موږ او تاسو په ګډه جهاد کړی اوس به يې هم کوو ، دمخالفينو په هکله به هم په ګډه معلومات راغونډوو !! ما ورته وويل : ماته خو نه دکوم عرب او طالب کور معلوم دی او نه داسې کور چې په هغې کې عربان او يا دمجاهدينو نور مشران پټ وي زه په دې باره کې هيڅ معلومات نلرم او هيڅوک نه پيژنم دهمدې خبرې سره دوی خپلو کسانو ته اشاره وکړه او زه يې بل اطاق ته بوتلم، هلته يو کټ پروت وه په دې کټ يې کلک وتړلم او سملاسي يې زما پر وهلو پيل وکړ هغوی ځينو په کيبلو ، ځينو دبانس په لرګيو او ځينو په داسې پايپونو وهلم چې په منځ کې يې ځنځيرونه وه ، ددوی ظاهری شکل او قيافې دښو مسلمانانو غوندې وی ، واږه بريتونه او په جيبونو کې يې مسواکونه ، خو زړونه يې تر ليوانو او يهوديانو ډير سخت وه ، ما پخپل ژوند کې نه داسې بې رحمه انسانان ليدلي وه او نه مې په خيال کې تيريده چې انسان به هم دومره بې رخمه وي ، څو څو ځله رابانديې بې هوشي راغله هر څومره به چې مې له دوی څخه درحم غوښتنه کوله او الله او رسول به مې ورته پيش کولو ، همدومره به ددوی غصه او قهر لا زياتيدو ، تقريباً دشپې يولس بجې يې زه بيرته هماغه اظاق ته بوتلم ، دوه ورځې وروسته يې بيا وروغوښتم هماغه وينا ، ګواښونه او وهل ټکول وه بيا هم پر ما څو ځلې بې هوشي راغله دشپې دولس يا يوه بجه به وه چې زه يې له پښو او لاسو ونيولم او خپل اطاق کې يې واچولم ، له يوې ورځې وقفې نه وروسته يې بيا هماغه اطاق ته بوتلم چې مخکې يې وروستی ووم ، هماغه کسان ناست وه زما حالت ډير خراب او بې سده غوندې ووم ، نه سم تلی شووم او نه سم ودريدی شوم په دی حالت کې زما په ليدو ټول په خندا شول او راته يې وويل اوس خو به انسان شوی وې کنه ؟ ماورته وويل : له الله نه وويريږې او په ما رحم وکړې هيڅ ګناه مې نده کړې له هغو کسانو هيڅ خبر نه يم چې تاسو يې له ماڅخه پوښتنه کوی ، په دی وخت کې يې يوه کس ته ګوته ونيوله او راته يې وويل داسړی وينې ، څرنګه سړی درته ښکاري مسلملن که نامسلمان ؟ زه هغه ته ځير شوم سره بخونه ګيره او شنې سترګې يې وی ، ظاهر يې په شريعت برابر وه له ځيرې اوجامو نه مسلمان معلوميده ، په فارسي غږيده فارسي هم زده وه او په اردو يې هم خبرې کولی شوې دا

ګومان پرې راغی چې ښايي دپنجشير دشورای نظار غړی به وي ما وويل: ما ته خو ښه سړی ا ومسلمان بريښي هغوی راته وويل :هو دا مسلمان دی ، خو که مونږ همدا اوس ورته ووايو چې خپلې خوينډی راوله چې ناروا عمل ورسره کوو هغه يې مني او که ورته ووايو چې خپله ښځه راوله چې دا ناست کسان ورسره بد عمل وکړي هم يې مني نو ځکه زمونږ دسترګو تور دی ، موږ له تا نه داغوښتني نه کوو يو اځې دا درنه غواړو چې له موږ سره ملګرتيا او مرسته وکړه هم به ازاد شې هم به له دی تکليفونو نه خلاص شی او هم به دی مونږ ښه ونازوو، بيايې هماغه سور ګيری سړی راته مخ کړ او دنصيحت په توګه يې راته وويل : ورو‌ره اوس مجبوري ده ، رښتيا ووايه او ځان له دی مصيبت نه خلاص کړه !! ماوويل : ستا له خواخوږی نه مننه !! خو زه داسې څه نلرم چې دوی ته يې ووايم او ځان پرې خلاص کړم که له ماسره څه وای نو ايا له دغو عذابونو سره سره مې هغه پټ ساتلی شوه که په درواغو څه ورته ووايم نو سبا به دوی ته څرګنده شي چې ما ورته دروغ ويلي وه ، زما له دی وينا سره سم دی بې رخمو خپلو کسانو ته اشاره وکړه او زه يې په څلورو کسانو راونيولم جامې يې راڅخه وايستې دټولو په مخکې يې بربنډ کړم ټولو په ما مسخرې کولې او پخپلو کې يې په کړس کړس خندل ، بيايې په همدې حالت کې پښو ته پړي راواچول او له چت نه يې سرکونډی راځوړند کړم او تر سختو وهلو لاندې يې ونيولم چې داخل يې تر مخکې هم زيات ووهلم ، په داسې وخت کې يې وهل بس کړه او له چت نه يې راکوزکړم چې نور نو زه بې سده شوی ووم نه مې خبرې کولی شوې او نه مې چغې وهلی شوی ، دا سخته ورځ په سختو دردونو او کړاونو راباندې تيره شوه چې نژدې يوه مياشت يې زما سره همدا لوبه کوله يوه يا دوه ورځې وروسته به دلته راوستم او تر مخکې به يې لازيات تر نويو نويو عذابونو لاندې نيولم هغه عذابونه چې په مايې تير کړي ځما قلم هغه نشي ليکلی ، دا ارمان به مې کاوه چې کاش ددوی پر ځای دوړو ليوانو منګولو ته پريوتی وی ، کاش کوم غټ مار چيچلی وی چې زهرو يې ختم کړی وی ، داخو تر ليوانو او مارانو هم ډير بې رحمه دي ، دمظلو مانو له وهلو ، داړلو او ځورولو خوند اخلي ، او چيچل يې نه ختميږي زهر يې درد لري او مرګ نلري .

يوه مياشت وروسته په داسې وخت کې زه نور له خوځيدو او حرکته لويدلی او دی ته نژدې وم چې خپل حواس او اعصاب له لاسه ورکړم راته يې وويل : څو کسه ميلمانه راغلي غواړي تا وګوري ، ددوی خبره په زمکه مه اچوه ، ستا خير په دی کې دی چې هغوی ته مثبت ځواب ورکړې ، همکاري وکړې نو مشکل به دی حل شي ، پام کوه چې له مرستې نه انکار ونکړې کنه نو بيا به دتل لپاره پيښيمانه وی .

له دی نصيحتونه نه وروسته يې زه بل اطاق ته بوتلم هلته دوه امريکايان ناست وه يوه ښځه اويو نارينه ، هغوی دترجمان په ذريعه ماته وويل : موږ ته رښتيا ووايه ، دحکمتيار، ملاعمر او اسامه په هکله معلومات راکړه تابه خوشې کړو ، له رنګ نه دی ښکارې چې ډير ځوريدلی يې موږ به دی ضمانت وکړو او ازاد به شئ ما دوی ته وويل : باور وکړی چې زه په دی هکله هيڅ معلومات نلرم زه يې دلارې نه راوستی يم ما يوه شپه هم په کوم سنګر او تنظيم کې نه ده تيره کړې ، زه به څنګه د عربانو ، اسامه ، ملا عمر او حکمتيار داوسيدو له ځايه خبر ووم ؟ که له ما سره ددوی په هکله کوم معلومات وی نو خامخا به مې مخکنيو تحقيق کوونکو ته ورکړی وو ، ددومره عذابونو په وړاندې څوک مقاومت کولی شي ؟ بيايې ټينګار وکړ چې ضد مکوه ، همدا دی دخلاصون لار ده خو کله چې دوی له مانه مايوسه شول زه يې بيرته فوځيانو ته حواله کړم ، هغوی ډير په قهر شول او دا ځل يې دنورو ځلونو په نسبت ډير وکړولم داخل راباندې داسې حالت راغی چې دپښو نه فلج شوم او بولې مې پخپل اختيار کې نه وې او مايې دټينګولو توان نه درلوده ، بيايې ډاکتر راته راووست او زما تداوي ئې شروع کړه خو له دی سره بيا هم تعذيب روان وو هغوی په دی حالت کې نه وهلم

خونورې شکنجې ئې راکولې ، لکه بې خوبي ، دین او شریعت ته ښکنځلې اوسپکاوی ، صحابه وو کرامو ته ښکنځلې ، دا سلسله روانه وه .
داتوله صحنه داسې راته ښکاریده لکه دا فوځیان چې ټوله خواري ددغو په اصطلاح میلمنو لپاره باسي ،دپاکستان اصلي واکمنان دغه میلمانه دي ، فوځ او پولیس ددوی په خدمت کې زمونږ نیول وهل او ځورول ددوی دخوشحالولو لپاره ، دوزیرستان جنګ اوپر بې ګناه خلکو بمونه ورول ددوی په امر او ددوی دراضي کولو لپاره ، داسې مې ګڼله لکه زه چې کوم ښکارشوی زخمي ووم ، دامیلمانه زما ښکاریان او دا فوځیان ددوی ښکاري سپي .
دا خبره دیادولو ده چې کله ما دا رساله لیکله نو دخبرې رسنیو له لارې دواشنګتن پوست په هغه کاریکا تور ګرم بحثونه او تبصیرې روانې وې چې پاکستاني چارواکې یې دښکارې سپي په څیر انځور کړې وه ، په کاریکاتور کې ښکاریده چې یو ښکاري سپي دابو الفرج په پښه خوله لګولې ده او امریکاي افسر ورته وایي دابوالفرج له نیولو وروسته اوس داسامه وار دی !! ګورئ چې یواځې ماته نه بلکه امریکایانو ته هم هغه کسان دښکاري سپیانو په څیر بریښي چې دڅو ډالرو لپاره مسلمانان نیسي او دوی ته یې سپاري !! له دغو خبر و نه زما انتباه دا وه چې ښایي دکشمیري مجاهدینو په هکله به هم دغه کسان دامریکایانو له لارې هندي چارواکو ته معلومات ورکوي ، او دهمدې لپاره په دی ورستیو کې دکشمیري مجاهدینو ډیر غړي ونیول شوه او ډیر یې په شهادت ورسیدل ، دالږی له هغه وروسته تنده شوه چې پاکستان FBI او CIA ته دفترونه ورکړل . هر چا ته داخبره معلومه ده چې امریکایان کشمیري هم تروریستان ګڼي او تل له اسلام اباده غواړي چې له دوی سره مرستې بندې کړي .
یوه شپه یو کس زما اطاق ته راغی داسې ښکاریدو لکه مخکې مې چې چیرته لیدلی وي ، غالب ګمان مې داوو چې په افغانستان کې به مې لیدلی وي له قد نه لوړ وه کالي یې سپین او ګیره یې توره وه له سلام ویلو سره داخل شو ما دسلام ځواب ورکړپه فارسي یې خبرې شروع کړې په نرمه لهجه او مینه مینه غږیدو ، ما په تیرو دوو میاشتو کې چیرې هم په مینه او نرمه لهجه خبرې نه وی اوریدلې ، تل مې ګواښونه ، ښکنځلې، ستغې ستورې خبرې مې اوریدلې وی ددامې چا په انتظار کې ووم چې زما خبره په سړه سینه زما خبره واوري او ماته فرصت راکړي ، ده زما خبرو ته غوږ ونیوه ، ظاهراً زړه سواندی معلومیده ، زه ډیر ژوبل ووم دحرکت نه ووم پښې مې فلج غوندې وی زغم می پای ته رسیدلی وواوښکې می له سترګو تویې شوې، او په ژړا کې مې دخپلې بې ګناهۍ قصه ورته پیل کړه ، زما مظلومیت او پریشانه حالت هغه هم په ژړا کړ، راپورته شو په داسې حالت کې چې په سترګو کې یې اوښکې رغړیدې زه یې په سر او مخ ښکل کړم او راته یې وویل : صبر وکړه نور به تا څوک نه وهي ، خیر دی الله پاک به تاته اجر درکړي ، بس داېوه ابتلا وه ، له صبر نه پرته بله چاره نشته ، نور نو ستا خلاصون ډیر رانژدې شوی بیایې راته وویل: اوس به له ماسره دلته نژدې لاړ شی هلته ستا څوک لیدل غواړي کله چې روانیدو نو زما سترګې او لاسونه یې راوتړل بیایې یو لوی اطاق ته داخل کړم هلته مې په انګلیسي خبرې واوریدې ګمان مې وکړ چې ښایي بیا هماغه امریکایان وي چې سترګې یې راخلاصې کړې خبره هماغه وه دوه امریکایان یو نارینه او بل ښځینه په چوکیو ناست وه هغوی زما عکسونه او دګوتو نښانونه واخستل او راته یې وویل: ته تروریست یې ؟ ما ځواب ورکړ : نه زه یو غریب سړی یم ، له رکشې یې راکوز کړی یم هیڅ جرم مې نه دی کړی له هیڅ سیاسي ډلې سره تعلق نلرم ، له هغو خلکو څخه خبر نه یم چې ستاسو تر تعقیب لاندې دي ، بیرته یې خپل اطاق ته ولیږلم څو ورځې هلته نور هم پاته شوم خو پرته له وهلو ټکولو دتعذیب لړۍ بنده شوی وه ، زما پر زخمونو یې پټۍ ولګولې ، دوا یې راکړه ، او په همدې حالت کې هلته وساتلم ، بیا یوه ورځ څوکسه مسلح راغلل ، زما سترګې یې راوتړلې دتورو شیشو یو موټر ته یې پورته کړم تقریباً نیم ساعت وروسته یې سترګې راخلاصې کړې متوجه شوم چې موټر مو داسلام

اباد په لور روان دی کله چي اسلام اباد ته نژدی شوو بيايې سترګې راوتړلې څه ځنډ وروسته موټر ودريده ، او زه يې ترې راکښته کړم په يو لويې اطاق کې يې سترګې راخلاصې کړې ګورم چې دامجهز او لوکس اطاق دی نه زندان ، دلته هر څه پريمانه وه ، ښه خوراک ، يخې اوبه ، شربت، ميوې لکه زه چې کوم ميلمه ووم نه کوم معتوب او زنداني ، له ځان سره مې وويل:ښايي ما خوشې کړي ، ښايي داټول ظلمونه هير کړم او دمنني له احساس سره له زندان نه ووځم ، په دی نه پوهيدم چې دا يوه بله ابتلا ده تر مخکنۍ هم سخته ، او زما دايمان او عقيدې لپاره تر مخکنيو ابتلاګانو هم ډيره خطرناکه ، مخکې خو له ما سره داسې څه نه وه چې دوښمن ته يې ګټه رسيدی او زه يې له عذابونو خلاصولی شوی ، خدای خبر که له ماسره داسې څه وای نو مابه صبر کړی وو او کنه خو دابتلا دادور داسې وو چې يواځې دالله پاک په فضل او پيرزوينې بريالی ترې وتلی شوی ، خو الحمدلله چې زما مهربان رب زما سره مرسته وکړه او په دی سختې ابتلا کې يې له ناکامی وژغورلم او خپل رب ته تور مخی نه شوم ، دهغې ورځې په سبا بيا يو کس راغی ، توره ګيره يې وه دريشي يې اغوستې وه په فارسي ژبه يې خبرې کولې ظاهر يې دښه سړي وو ماته يې وويل: نور به ته خپل کور ته لاړ شې نن به له تا سره څوک ګوري هغوی به ستا دخلاصون پريکړه کوي چې څه يې درته وويل هغه ومنه ، خبره يې پر ځمکه مه غورځوه ستا خير په همدې کې دی بيايې سترګې او لاسونه راواړل او په موټر کې يې واچولم ، له لږ ځنډ وروسته يې يو تعمير ته داخل کړم هلته بيا امريکايان په چوکيو ناست وه ، له مانه يې تحقيق شروع کړو زما دشخصي ژوند په هکله يې راڅخه تفصيلي پوښتنې وکړې او ديوښتنو په پای کې يې راته وويل : که له موږ سره دمرستې او ملګرتيا ډډه وکړې نو دټول عمر لپاره به دی زندان ځای وي ، نه به دی څوک غږ اوري او نه به دی څوک احوال اخستی شي او نه به دی څوک خلاصولی شي ، او يا داچې له موږ سره تعاون وکړه موږ دانه غواړو چې ته موږ لپاره جنګ وکړه يواځې دڅو خبرو معلومات راکړه موږ تاته دژوند ټولې اسانتياوی برابروو ، موټر، پيسې ، کور، ښځه او که غواړې په امريکا کې ژوند وکړې نو موږ هلته کور او کار هم درکوو او که غواړې په افغا نستان کې ژوند وکړې نو موږ تاته ښه کور او په حکومت کې ښه دنده درکوو ، ته فقط دملا عمر ، اسامه او حکمتيار معلومات راکړه چيرې دي او څنګه نيول کيدای شي ، موږ ته دعربانو داوسيدو ځای او نښه راوښيه همدې عربانو ستاسو وطن وران کړی دوی هم ستاسو دوښمنان دي او هم زمونږ ما ورته وويل : زه يو غريب سړی يم په وس کې مې هيڅ هم نشته په دی کار کې ستاسو هيڅ مرسته نشم کولی او ددوی داوسيدو له ځايونو هيڅ خبر نه يم په ډيره غصه سره اوچت شول او راته يې وويل : دوه ورځې درته مهلت دی ښه فکر وکړه ، ابدي زندان دی خوښ دی او که هوسا ژوند که عقل لرې نو له دی فرصت نه به استفاده وکړې په همدی سره له اطاقه ووتل او زه يې بيرته مخکني ځای ته بوتلم ، هلته بيا هماغه فارسي ژبی راغی او دا نصيحتونه يې راته پيل کړه چې ګوره خپل ژوند مه تباه کوه ، زه خو تاته حيران يم ولی له خپل ژوند سره لوبې کوی ددوی خبره ومنه ستا په دی کې څه تاوان دی ---!! ، زه چې ډير پريشانه او ژوبل ووم نه پوهيدم څه وکړم يوې خواته مې کريدلي مور او پلار او واړه بچيان او بلې خواته دګوانتانامو اوسپنيز قفسونه بلې خواته دا کړاونه .

دالله تعالی له درباره پرته نورې ټولې دروازې مې په مخ تړلې وې ، دخلاصون هيڅ لار په نظر نه راتله بلې خواته دوعدو دازرغونه باغونه ، يوې خواته پر ايمان ټينګار خو له داسې ازموينو سره چې فولاد ويلې کوي او بلې خواته دخلاصون زړه راښکونکې وعدې خو دکفر سره دملګرتيا په بيه په همدې اضطراب او پريشانی کې خوب يوړم ، په خوب کې ګورم چې دقران تلاوت کوم کله چې راويښ شوم له پيردار نه مې قرانکريم وغوښته ، هغه راته دتفهيم القران يو جلد راوړو له پرانستو سره مې سم د سورت يوسف په دی ايت سترګې ولګيدې (رب السجن احب الى مما يدعو نني اليه ) ای ربه ! ماته دازندان تر هغه څه ډير غوره دی کوم ته چې دوی ما وربلي ، په دی ايت سره ما

دخپل ځان دقناعت لپاره ځواب وموندلو ، ماته خپل قران دایمان لاره وښوده او په داسې حالاتو کې دایمان خاوند باید کومه لاره غوره کړي ، لومړی مې ددی ایت تفسیر او بیامې ټول سورت ولوسته ، الله تعالی زما په زړه داسې یوه عجیبه سکینه او ډاډینه واچوله چې زه یې دبیانولو لپاره الفاظ نلرم ، ډیر مطمئن شوم او دامې یقین شو چې دیوسف علیه السلام په څیر به مې له زندانه خلاصوي ، سبا چې هماغه سړی راغی او بیایې راته هماغه نصیحتونه شروع کړه ، ماورته وویل : له ما هیڅ طمع مه کوې زه هیڅوک نه پیژنم او زه ستاسو پوښتنو ته هیڅ نوی ځواب نلرم ، دهمدې خبرې سره هغه له اطاقه ووت او له لږ ځنډ نه وروسته پیره دار راغی توره خلته یې زما په سر راواچوله او له دی اطاقه یې ویستم او ددهلیز یو اطاق ته یې بوتلم په دی دهلیز کې اته وړی وړی توری کوټې وی هلته نور بندیان هم وه چې اکثره یې عربان وه ، دالومړی ځل وه چې له دوه نیمو میاشتو وروسته دځان په څیر نور بندیان وینم هغوی هم زما په څیر بلکه له ما څخه ډیر ځورول شوي وه او دا لو مړی ځل وه چې په داسې انسانانو مې سترګې ولګیدلې چې ظاهر او باطن یې یودی له دی مخکې مې دکفر خدمت کې منافقان او کافر امریکایان لیدل چې داسلام سره یې نه پخلا کیدونکې او سخته دوشمني وه په دی ځای کې مې شل ورځې تیرې کړې ، دلته وهل ټکول پوښتنې او ګروېږنې نه ویې ، او په بل لوري دلیږلو لپاره انتظار شپې او ورځې تیرول وه.

دشلو ورځو وروسته دمازدیګر څلور بجې وی مونږ ټول چې پنځه دیرش (۳۵) کسان وو په موټر کې واچولو او هوایي میدان ته یې بوتلو داد پنډی کوم عسکري میدان وه هلته یې امریکایي فوځیانو ته تسلیم کړو ، باور وکړی چې پر خپل ځان مو د ومره رحم نه راتلو لکه پر پاکستاني فوځیانو ، دوی امریکایي فوځیانو ته داسې لاس په نامه ولاړ وه لکه یو ذلیل غلام چې دمغرور بادار په وړاندې !!! ددی دردونکي حالت په لیدو سره مې اوښکې په سترګو کې راغلې چې دادی پاکستان ، داداسلام قلعه ، نن دصلیبي ځواکونو په یوې نظامي اډې بدل شوی او فوځ یې دامریکایانو تر قوماندې لاندې داسلام او مسلمانانو په ضد جنګیږي !! ماته دامریکا داټارني جنرال هغه خبره مخې ته ودریده چې ویلې یې وه :پاکستانیان دی ته تیار دی چې خپله مور هم په لس ډالره وپلوري !! ماخپل کمونست روشنفکران لیدلې چې دروسانو دخوشحالولو لپاره هغوی دخپل ولس او هیواد سره څه کول خو دپرویز مشرف روشنفکره ملګري مې نه وه لیدلي ، چې دا مې ولیدل نو راته معلومه شوه روشنفکران هر ځای کې او هر هیواد کې ورته او یو شانته خلک دي ، څوک چې دخپل ملت نه پردی او دبل غلام شي نو بیا ددوی دخوشحالولو لپاره هرې دوسې ته تیار وي دین پریښودل او هیواد پلورل ورته بیا هیڅ ارزش نلري .

دازما دژوند یوه عجیبه ورځ وه لاس پښې مې تړلي په تذکره کې دیو مړي په څیرامریکایي فوځیانو ته سپارل کیږم ، هو!! روشنفکره منافق مسلمان مې مسیحي دیموکرات ته سپاري ، امریکایانو ډیرې چغې ووهلې خوښۍ او نڅاګانې یې کولې له دوی سره چې کوم سپي وه هغوی هم غپیدل ، موږ یې په ډیر بد حالت طیارو ته پورته کړو هر یو یې په کرسې پورې په ځنځیرونو کلک پلک وتړلو سرته مو امریکایي فوځیان ودریدل چې څوک به لږ وخوځیدو نو په سر به یې دسوکانو باران جوړ شو !! دالومړی ځل وه چې زه امریکایان په فوځي جامو کې وینم او ددوی دین ، مذهب ، اخلاق او دیموکراسي په خپلو سترګو ګورم ، ما ګمان نه کاوه چې امریکایان به دومره ذلیل ، رزیل ، بد اخلاقه بې رحمه او حیوان صفته به وي ، دالله پاک قول دی ( اولئک کالانعام بل هم اضل ) دا کفار په په شان دچارپایانو دي بلکه له هغوی هم بدتره ، او دومره بې زړه او کم ظرفه دي چې زمونږ پښې او لاسونه تړلي وه دمعمولي خوځیدو نه به هم ډاریده او سخت وحشیانه عکس العمل به یې ښودلو .

طیاره دبګرام هوایي میدان ته ورسیده زما ګومان داوه چې دا به بل ځای وي خو بګرام وه دلته د ولاړو امریکایانو څخه یې سپي ډیر وه سپیو راته غپل او دوي په سر سر په سوکانو وهلو، زه چې مخکنیو تعذیبونو ډیر خراب کړی ووم پخپلو پښو نشوم تللی په کشولو کشولو یې په یوه انګړ کې

واچولم ، دخپلو ترجمانانو په ذریعه یې مونږ ته وویل : پام کوی چې دلته څوک ځان ونه خوځوې که مو لږ بې ځایه حرکت وکړ نو دا سپي به درپسې خوشې کړو او څیرې څیرې به مو کړي ، نیم ساعت وروسته یې یو یو کس له دی ځایه یو اطاق ته بوتلو ، هلته یې زمونږ دتن جامې څیري کړې او بیا یې دریشیکانې راواغوستې او سمدستي یې راڅخه بیا پو ښتنې شروع کړې : حکمتیاردی اخیري ځل چیرې ولیده ؟ اسامه او ملا عمر دی اخیري ځل چیرې ولیده ؟ دوی چیرې اوسیږي ؟ په بګرام کې دامریکایانو وحشت بربریت دلاهور او اسلام اباد نه کم نه وو، دلته دزندان په هغه لوی انګړ کې ووچې دروسانو له وخته پاته شوی ووامریکایانو په دی انګړ کې دازغن سیم داسې قفسونه جوړ کړي وه چې هر یوه کې یې دشلو نه تر دیرشو بندیان پکې ځایده .

دټولو په لاسونو او پښو کې ولچک او زولنې وی دلته دا FBI او CIA مطلق العنانه پادشاهي وه څارونکي او مامورین یې اکثره ښځې وی چې دومره بې رحمه ، بې حیاء او بد اخلاقه وی چې دنړی پر مخ به یې هیڅیرې مثال ونه مومې .

دهغو معلوماتو له مخې به یې پوښتنې کولې چې له افغاني جاسوسانو او منافقینو نه به یې تر لاسه کړې وی ، که څه هم په دی وخت کې دلته دتحقیقاتو په دوران کې دوهلو او ځوړولو مخکینی لړی په دی خاطر بنده شوې وه چې دنړی مطبوعاتو وربانډې سختې نیوکې وکړې ، دډیرو کسانو دوژل کیدو راپورونه په رادیو ګانو او اخبارونوکې خپاره شول ، زړه بوږنونکي عکسونه یې نشر شول نو مجبور شول دا سلسله موقتاً بنده کړي ، وهل ټکول نه وه خو نور تعذیبونه ښه ډیر وه لکه : په شپوشپو خوب ته نه پریښودل تر لسو او شلو ساعتونو پورې مسلسل ځای پر ځای داسې ودرول چې لاسونه به یې پاس تړل شوي وه ، قران عظیم الشأن ته توهین او سپکاوی او دارنګه یو له بل سره خبرې او لیده کاته منع وه ، داودس او غسل کولو اجازه نه وه ، ماته په په پاکستان او بګرام کې پنځه میاشتې چا داودس او غسل اوبه رانکړې ټول لمونځونه مې په تیمم کړي دکالیو بدلول هم نه وه ، په لوړ غږ دقران کریم تلاوت منع وو که چا به سر غړونه وکړه نو سخته سزا به یې ورکوله چې یوه نمونه یې هم دا ده : دبندي یو لاس او دوه پښې به یې وتړلی تر دیرش کیلو وزن داره ځنځیرونه به یې غاړه کې ورواچول او دده په هغه خلاص لاس کې به یې دیوې لویشتې په اندازه وړوکی برس ورکړ او دیو لوی میدان په جارو کولو به یې وګمارلو ، هغه خوارکی به په ساعتونو ساعتونو لګیا وو او خولې به ورنه بهیدې ، دغو امریکاي ښځو به ډیر ځلې ځانونه کاملاً بربنډ کړل دبندیانو په خوا کې به یې په خپلو کې لوبی کولې او پر بندیانو به یې ملنډې وهلې ، په قران کریم به دپاسه کیناستې په لغتو به یې وواهه او دتوپ په څیر به یې یوی بلې خواته غورځاوه .

دوه میاشتې وروسته یې زمونږ ګیرې او سرونه راوخریيل او بیا یې له دی نه دوه ورځې وروسته دکیوبا په لوري ګوانتانامو ته وخوځولو دا سفر تر ټولو سخت ، هیبتناک او له زغم نه پورته وو، څلرویشت ساعته دطیارې مزل وه ، زموږ لاسونه یې دملا پورې داسې کلک تړلي وه چې ډیر لږ مو هم نه شوه خوځولی ، پښې یې راته په ځنځیرونو تړلې ، پخپل خپل ځای یې هر یو داسې کلک کلک تړلي ووچې دبدن هیڅ غړی مو نه شو خوځولی داسې دستکشې یې راغوستې وی چې خپلې ګوتې مو نشوی خوځولی ، په سترګو یې پټی راولګولې او غوږونه یې هم رابند کړه ، نه مو څه لیدی شوه او نه اوریدی ، زما حالت ډیر خراب وه دناستې توان مې نه درلوده زه یې په یوه تذکره کې څملولم او بیایې په ځنځیرونو وتړلم دځنځیر وزن ډیر زیات وه سخت یې ځورولم ، خوله سترګې او غوږونه یې راته په داسې څه تړلي وه چې ډیر یې تکلیف کړی ووم سا مو سمه نشوه اخستی، په طیاره کې ډیره یخني وه دومره په تکلیف وو چې وار وار مو دوعا کوله یا الله دا طیاره وغورځوې او موږ له دی کړاو نه وژغورې تر دی په سل کاله بند او بالاخره مرګ راضي وو ، دا یواځې زه نه ووم چې دی حالت ته رسیدلی ووم هریو همداسې وو دسفر په اخره کې معلومه شوه چې ټولو دادوعا غوښتې وه چې طیاره سقوط وکړي .













کله چې ګوانتانامو ته ورسیدو او له طیارې یې راکوز کړو دهغه ځای ساتونکې امریکایي فوځیانو دبري داسې چغې او نارې شروع کړې چې تابه ویل چین او وروس یې فتح کړی ، ځنې یې ګډیدل او ځینو هسې ټوپونه وهل او ځینو یې مونږ ته ګوابنونه کول او ځینو مونږ په سوکانو او لغتو وهلو ددی لباره چې په مونږ هیبت او رعب واچوي او مونږ دا فکر کاوه چې البته دلیوانو اودوحشي ځناورو یوې کندې ته راوغورځیدو ، څو ساعته یې په سره لمر کې ودرولو او د خپلو ترجمانانو په ذریعه یې دا بار بار په جګ اواز وویل چې دامو اخري ځای او مسکن دی ، له دی ځایه ستاسو بیرته تګ ناشونی دی ، دخلاصون یوازې یوه لاره په مخکې لرې او هغه داچې ربنتیا ووایې او له موږ سره ملګرتیا او مرستې ته چمتو شئ ، کنه نو ټول عمر به دلته وی .





زما حالت ډیر خراب شو سختې تبې نیولی ووم ، ذهني توازن مې هم نور له لاسه ورکړی وونوځکه یې زه دهغه ځای روغتون ته بوتلم په دی وخت کې پر ما بې هوشي راغله په ځان پوه شوی نه یم کله چې په هوش شوم په یوه لویه خیمه کې پر کټ پروت ووم لاسونه او پښې مې تړلې وې چې همدا ددی زندان روغتون وو د ډاکترانو وضعیت ښه وو خو دسرو عسکرووضعیت له روغ او ناروغ سره یوشانته وحشیانه او بې رحمانه و، ماته یې په لاسونو کې سیروم لګولی وو او دخولې او پزې له لارې یې اکسیجن راکا وه ، یقین وکړی چې په همدې حالت کې هم د **CIA** بې رحمه او بې عاطفې مستنطقین راغلل او داکسجن دقطع کیدو سره سم یې له مانه پوښتنې شروع کړې هماغه پوښتنې چې په لاهور اسلام اباد اوبګرام کې کړې وی بیا تکرار کړې ملا عمر ، حکمتیار او اسامه چیرته دي او چیرته اوسیږي تا کله او چرته ورسره لیدلي ؟ زما ځوابونه هماغه پخواني ځوابونه وه یوه اونۍ وروسته یې له روغتون نه زندان ته بوتلم ، په اول کې یې مونږ په انفرادي توګه قفسونو ته ورته اطاقونو کې واچولو چې داقفسونه دکانتنر څخه جوړ شوي وه دهریوه قفس اوږدوالی او سور ۱۸۰ سانتي متره وو کړکۍ یا دریچه یې نه درلوده دیوالونه یې اوسپنیزې پنجرې وی ، په

ژمي کې ډېرې سړې او په اوړي کې ډېرې ګرمې وې دلته دابيت الخلاۍ انتظام هم نه وه خاص سطلونه به يې راکول ، خو له بګرامه يې په دې خاطر وضع ښه وه چې دلته مو اوبه درلودې ، په سر کې دلته هم ډېر سخت قيودات وه ، يو بل ته کتل او خبرې کول منع وه.




خوبيا دالله تعالى په فضل سره داقيودات مات شول هغه داسې چې يو مجاهد ورور درې ځلې سر په سر خوب ليده چې پيغمبر عليه السلام ورته وايي : جګ شه اذان وکړه ده ورته وويل : يا رسول الله دڅه شي اذان وکړم په لومړي او دوهم ځل يې ځواب نه وو ورکړی خو په دريم ځل پيغمبرعليه السلام ورته وايي : اذان بالفرج : دازادۍ اذان ، دا وخت دشپې دوه بجې وی دا مجاهد جګ شو او په ډېر لوړ غږ يې الله اکبر الله اکبر وويل او بيايې په ټولو بنديانو اواز وکړ چې پاڅيږۍ رحمان رب ته سجده وکړۍ چې مونږ ازاد شوو ، موږ ټولو دتکبير نارې اوچتې کړې له حالت نه سم خبر نه وو خو هر چا دبل ناره بدرګه کوله ، دغه شور ځوړ امريکايان سخت وارخطا کړل له کمپ نه بهر ووتل او شاوخوا يې مورچلې ونيولې ، ټانګونه اوتو پونه يې مونږ ته مخامخ کړل او په لوډ سپيکرو کې يې نارې کړې چې چپ شې کنه نو دقلعه جنګي حادثه به دلته تکرار کړو ، بنديان مجاهدين چپ نه شول دلمانځه تر وخته موچغې وهلې امريکايان هم وارخطا وه او نه پوهيدل چې څه وشول تر لمر ختو پورې له يوې خو اتکبيرونه او له بلې خوا ګواښونه او تهديدونه ، ورو ورو بنديان په خبره پوه شول او تکبيرونه بند شول ، خو دتکبيرونو نتيجه داشوه چې دزندان هغه مخکينی رعب او سکوت مات شو ، په جيګ غږ تلاوت او په جهر لمونځونه شروع شول نور نو دامريکايانو ګواښونو ته چا اعتنا نه کوله ، يوه مياشت مو په دغه انفرادي قفسونو کې تيره کړه بيايې عمومي زندان ته انتقال کړو

هلته هم وړې وړې کوټې وې دقفسونو په څير هريوه يې ۱۸۰ په ۱۸۰ سانتي مترو کې وه ، دلته په يوه بلاک کې اته څلويښت اطاقونه وه له کلکو پنجرو او مثلث شکلو پريرو جاليو څخه جوړ شوي وه ، خو په دې اوسپنيز قفسونو کې تشناب او چپرکټ هم ووخو دلته لوي مشکل دپردې وو له بهر نه دقفس هرڅه له ورايه معلوميده مجاهدين له دې اړخه ډېر ځوريدل له دې قفسونو نه يې په اونۍ کې يواځې دوه ځله دشلو شلو دقيقو لپاره بهر ايستلو هغه هم يو بل لوی قفس ته چې چت يې دجالۍ وه او دلمر وړانګې به پرې لګيدلې چې په اونۍ کې دغه څلويښت دقيقې لمر موپه سترګو ليدلو دا لوی قفس تقريباً لس په لسو مترو کې به وه او دا هم دمستنطيقونو په لاس کې وه ځينو ته به يې دلته دمختصر سپورت اجازه هم ورکوله خو په چا به چې غوصه وه هغه به يې له دې نه محروم کړو د اکثرو سور پوستو امريکايانو داسلام او مسلمانانو سره سخته کينه وه ، اسلام او قران ته بې حرمتي به اکثره دوی کوله چې په مقابل کې به يې بنديانو کلک غبرګون ښودلو ، کله به مو دتکبير په نعرو او مظاهرو لاس پورې کړ او کله د ډوډۍ نه خوړلو په اعتصاب ددوی اعتصاب به کله کله ډېر اوږد شويو ځل خويې څو اونۍ دوام وکړاو خبر يې دنړۍ په مطبوعاتو کې هم په پراخه پيمانه منعکس شو، خودزندان دوضعيت په بدلولو کې يې اغيز ډېر لږ وو، ځينې عرب مجاهدين خو بيا داسې هم وه چې کله به يې لاس پرې بر شونو په دغو امريکايانو به يې بريد کاوه کله به يې تر پوزې او غوږو ونيول او کله به يې لاسونه پرې تاو کړه الله شاهد دی چې امريکايان زمونږ له مظاهرو او تکبير نارو له وهلو نه ډېر ډاريدل ، دمظاهرو په وخت کې به بلاکونو څخه ووتل او

شاوخوا به يې مورچلې ونيولې ، خو له مظاهرو وروسته به يې په يوه او بله پلمه خپل غچ اخستو ، ډوډۍ به يې راکمه کړه (ډوډۍ خو هسې هم ډيره کمه وه او هغه هم ډيره خرابه چې ترش بوی به ترې خوت) او کله به يې يوکس وايستو او په داسې حال کې به يې بيرته راوستو چې سر ، ږيره ،بريتونه او وروځې به يې ورخريلی وې ، دلته زمونږ وضعيت داسې وو چې زما وزن له اويا کيلو نه پنځه حلويښت کيلو ته راکښته شوی وو چې دهر بندي وضع داسې.



وه دزندان ساتونکي فوځيان په بيلو بيلو فرقو پورې مربوط وه ، سور پوستي چې د۹۴ فرقې مربوط وه ډير بې رحمه ،شريراو وحشيان وه او له اسلام او مسلمانانو سره يې سخته کينه وه يوه بله ډله يې اسپانوي توکمه وه دوی ډير شريف خلک خو بې زړې وه له موږ سره يې ښه سلوک کولو بالخصوص له عربانو سره يې ډيره مينه کوله او زمونږ په حالت به يې ژړل مونږ به دافغانستان او عراق حالات ورته بيانول چې بيا ډير پکې مسلمانان شول دوی به چې کله دامريکايانو هغه وحشيانه ظلمونه او په مقابل کې يې دمجاهدينو مقاومت ته کتل نوله هغوې به يې کرکه زياتيده او له موږ سره به يېترحم او عاطفه ورځ په ورځ زياتيده له مونږ نه به پوښتل داتاسو په کوم دين ياست ؟ په څنګه خدای باور لرې ؟اسلام څنګه دين دی ؟ تاسو دڅه لپاره دا ټول کړاونه په ځان منلي ؟ زمونږ لخوا دځوابونو ويلو سره به مسلمان شوه او ځينو بيا دافغانستان په هکله ډير معلومات درلوده هغوی به ويل که ستاسو سياف او رباني د يرغلګروامريکايانو سره يو ځای شوي نه وای او کمک يې ورسره نه وای کړی دامريکايانو پلار په افغانستان حمله نشوه کولی ديرغل اصلي عاملين همدا وه او دوی به ويل چې دامريکا اخري انجام به دشورويانو په څير وي او دامريکا زوال او ماتې يې ډيره نژدی ګڼله .

دتور پوستو امريکا يانو وضعيت هم اسپانويانو ته ورته او ښه وه له موږ سره يې ډيره خواخوږي ښودله او له سور پوستو يې سخته کرکه لرله دوی هم دامريکا ماتې او زوال ته په انتظار وه .

ګوانتانامو زندان کې امريکايانو بنديان په څلورو برخو ويشلي وه له هرې برخې سره يې جلا جلا امتيازي چلند کولو :

اوله درجه بنديانو ته يې داسهولتونه برابر کړي وه په اونۍ کې څلور ځلې دسپورت او تفريح اجازه ، کمپله ،توشک ، څادر، کاغذي ګيلاس ، دغاښونو برس او کريم .

دوهمه درجه بنديانو ته په هفته کې درې ځلې دتفريح او سپورت اجازه له څادره پرته نو رپورتني لوازم

دريمه درجهبنديانو ته تردی لږ راکم

څلورمه درجهبنديانو ته فقط يو نيکربه يې په تن وه نور له هرڅه يې محروم وه

دټولو مجاهدو بنديانو په منځ کې ډيره مينه ، اخلاص او صميميت وه زندان زمونږ يو کور وه او موږ ددی کور غړي او پخپلوکي لکه ورونه او زندان يوه علمي ، روحاني مدرسه وه دقران درسونه دعقايدو بحثونه ، وعظ او نصيحت ، په جمع لمونځونه چې هر چا به دخپل قفس څخه دامام پسې

اقتداء کوله درنګ ،ژبې او مذهب په سر اختلافات نه وه او دنړی له مختلفو ملکونو مجاهدین هلته راټول شوي وه دامامت لپاره به هغه څوک مخکې کیده چې تر ټولو به ډیر غوره وو مهمه نه وه چې دی دکوم هیواد دی په منځني قفس کې دی که په مخکیني او یا وروستني قفس کې .




وروسته بیا اشغالګرو امریکایانو څلورم نمبر نوی کمپ جوړ کړو دی کمپ ته به یې هغه کسان بیول چې څه موده وروسته به خوشې کیدل په دی کمپ کې بندیانو ته لاندې تسهیلات او امتیازات ورکول کیده : کافي خوراک، یخې اوبه، دسرو او ګرمو جامو پر ځای سپین کالي ، دورځې شپږ ساعته دتفریح اوسپورت لپاره فرصت لسکسان په ګډه په یوه اطاق کې اوسیدل ، دغسل او رفع حاجت لپاره مناسب ځایونه ، دګرمۍ په موسم کې پکی او داسې نور ، په دی کمپ کې څلور بلاکونه وه او په منځ کې یې یو پراخ میدان دلته نږدی سل کسان اوسیدل داکمپ اصل کې ددی لپاره جوړ شوی ووچې له وتلو نه مخکې بندیان موقتاً دلته وساتي دکړاونو او ځورونو نښې یې له ځیرو نه محوه شي هم بندي ترخې ورځې هیرې کړي او هم خبریالان ددوی په ځیرو کې دبې رحمانه ځورونو نښې ونه ګوري او هیڅوک دا خبره ونه مني چې وحشي او بې رحمه امریکایانو له بندیانو سره دبشري حقوقو خلاف چلند کړی ، دخوشې شوي بندي ځیرې ته په پام سره هیڅوک دده ادعا ونه مني چې په زندان کې ورسره دومره ظلم او زیاتی شوی .







داهڅه به یې هم کوله چې له دی نه دځینو بندیانو داغوا او په خپل دام کې داچولو لپاره هم استفاده وکړي دوی ته به یې ویل : څوک چې مونږ ته رښتیا ووایي له موږ سره ملګرتیا وکړي دی کمپ ته به یې انتقالوو او هر رنګه اسانتیاوې به ورته برابرو ،یوه ورځ یې څلور کسان چې سپینې جامې یې وراغوستې وی دخدای پامانۍ په نامه په ټولوبلاکونو وګرځول دایې ویل چې دی کسانو موږ ته

رښتیا وویل دادی له زندانه ازاد شول او خپل کور ته روان دي !! دالومړی ځل وه چې دګوانتانامو له زندانه څوک خوشې کیدو خو دا دخوشې کولو دلړۍ شروع وه هر دوه درې میاشتې وروسته به یې څه کسان دی نوي کمپ ته وړل او بیا به یې ازادول .
ددی کمپ ترڅنګ یې **دایکو په نامه یو بل کمپ**هم جوړ کړو چې دسمندر په غاړه وو او وضعیت یې ډیر هیبت ناک وو، هغه کسان به یې دی کمپ ته بوول چې یا به یې دتحقیق په دوران کې له خبرو نه ډه ډه کوله او هیڅ ځواب به یې نه ورکاوه او یا به یې پر ساتونکې حملې کولې ، دداسې کسانو دښه ځورولو او زیات تعذیب لپاره یې داکمپ جوړ کړی وو، ما هم دلته څو میاشتې تیرې کړې ، دکمپ اطاقونه دصندق په څیر وه دننه یې مطلقاً تیاره وه درڼا ننوتلو ټولې لارئې او چولې یې بندې وې ، یو له بل په ډیره فاصله کې پراته وه نه مو څه لیدل او نه مویودبل غږ اوریدو .







له دی وروسته یې **دپنځم کمپ**په نامه یو بل زندان هم جوړ کړو ددی کمپ له داخلي وضعیت نه خبر نه یم او دی بند ته یې پنځه اویا بندیان انتقال کړه شپاړس پکې افغانان او نور ټول عربان وه په افغانانو کې لاندې کسان شامل وه عزت الله دسروبي دحاجي نصرت زوی ، شاولي دقندهار دضابطجلیل ورارہ ، قوماندان چمن ، عبدالکریم او محمد نبي دخوست ، حاجي روح الله دکنړ دمولوی جمیل الرحمن ورارہ ، ملا فضل او یو پکې هغه تنکی ځوان غازي چې دپل خشتي مسجد تر څنګ یې داشغالګرو په موټر دلاسي بم برید کړی وو او څو کسه یې بکې مړه کړي وه نوم یې سخي پادشاه او مشهور په جواد وه دا په ټولو بندیانو کې کم عمره وه خو ډیر زړه ور او دکلک ایمان خاوند ووده په لیدو به هرچا تمنا کوله چې کاش داسې ورور یا زوی درلودی .
دپنځم کمپ په باره کې چا یو څه او چا بل څه ویل چا ویل دمحکې لپاره هلته وړل شوي او چا ویل دتعذیب لپاره هلته وړل شوي .
په زندان کې یو بلاک یې درومیو په نامه مسمی کړ دایې دهغو کسانو لپاره خاص کړی وو چې دوهمه درجه سرکشه ګڼل کیده دوی ته به یوازې نیکر ورکول کیده نه به یې کمیس وو نه پرتوګ او نه دځان پټولو نور څه په ژمي او اوړي کې به بربنډ پراته وه ددوی حالت ډیر دردونکی وو، په تیر ژمي کې به دډیرې یخنۍ له وجه تکتور اوښتي وه ، خو باور وکړی چې ددغه بلاک بندیانو دومره قوي ایمان او مضبوطه اراده درلوده چې ټولو مجاهدینو به په ډیره درنه سترګه او احترام ورته کتل او ددوی دعظمت په وړاندې یې ځانونه واړه ګڼل ، یو یې هم دوښمن ته تسلیم نشو امریکایانو به چې کله ساتونکې بدلول او نوې عسکر به یې دلته راوستل نو هغوی ته به یې ددغو بندیانو په هکله دډیر احتیاط او ځان ساتنې سپارښتنه کوله چې له دی خلکو ډیر ځان ساتی ، دزندان په هرو شپږو میاشتو کې ساتونکي بدلیدل ددی لویه وجه داوه چې ددوی خواخوږي به ورو ورو له بندیانو سره زیاتیده انساني ترحم او عاطفه به یې تحریک شوه له بندیانو سره به یې ناسته پاسته زیاته شوه او ددوی دشخصیت ، خبرو او دعوت تر اغیز لاندې به راغللاو ډیر یې مسلمان شول خو کله چې د کمپ

مسؤلين له دی بهیر نه خبر شول نو فیصله یې وکړه چې دا تبدیلي بهیر چټک کړي نو هرو درې میاشتو کې به یې نوي ساتونکي راوستل ،
یوه تور پوستي امریکایي له مسلمانیدو وروسته موږ ته وویل که امریکا په افغانستان او عراق کې ماتې وخوړه نو مطمئن اوسي چې دامریکا ډیر خلک به مسلمانان شي مخکې خلک له اسلام نه سم خبر نه وه ، دشوروي له ماتې وروسته دی خواته دخلکو پام راواوښت دافغانانو او عراقیانو مقاومت ددوی توجه او اهتمام لا زیات کړ ، ډیرو داسلام په هکله مطالعه ، څیړنې او تحقیقات شروع کړل ، خلک دامریکا له اوسني نظام نه ستومانه دي ، مسیحیت له خرافاتو نه ډک دین دی او له کلیسا نه کرکه او نفرت لري ، کشیشانوته په دی سترګه ګوري چې له دین نه یې دام جوړ کړی خلک غولوي اوپیسې ترې شکوي دادین نه له انساني فطرت سره او نه دانسان له عقل سره اړخ لګوي.
له انسان نه یې خدای جوړ کړی وي او بیا یې دصلیب دپاسه ځوړند کړی او په لاسو او پښو یې ورته میخونه وهلي وي او بیا واي داد خدای زوی دی ، خدای به دده په قربانۍ او طفیل سره ټول مسیحیان وبخښي ، یعنې دخدای په دربار کې عدالت نشته هلته به هم یواځې هغه څوک بخښل کیږي چې واسطه لري ، جنت یوازې دیو قوم لپاره خاص دی کشیشان دجنت اسناد خرڅوي ددی دین له مخې به هغه جنت ته ځي نو دوی په داسې خرافاتو سر دي .
زه له دیرشو میاشتو بند وروسته ۲۰۰۵ م کال په لومړیو کې له بنده خلاص شوم ، کله چې له مجاهدو بندیانو ورونو څخه رخصتیدم نو ټولو په جګ غږ راته وویل زمونږ سلامونه دسنګر ټولو مجاهدینو ته ورسوه هغوی ته ووایه چې سنګرونه پرینږدي ، الله پاک به امریکایان هم د شورویانو غوندې له ماتې او زوال سره مخامخ کړي .
ما ددی لپاره دغه دخاطراتو یوه بیلګه ټولو مسلمانانو او مجاهدینو ته وړاندې کړه چې دګوانتانامو دزندانیانو امانت پیغام درته ورسوم او زه دالله په نامه لوړه او قسم کوم چې په دی خاطراتو کې مې نه قصداً او یا عمداً کوم دروغ ویلي او نه کومه مبالغه بلکه پخپلو سترګو لیدلي واقعات او پخپلو غوږونو اوریدلي خبرې مې لیکلي ( مستعار نوم شفیق ځدران ۱۳۸۴/۲/۱۵ هـ ش )

## دګوانتانامو زندان دظلمونو باره کې غبرګونون( انعام الله احمدزی جنوري ۱۳، ۲۰۱۴).

په لومړی ځل د ۲۰۰۴ کال د جون په میاشت کی د آی سی آر سی (سره صلیب) موسسی څارونکو د ګوانتانامو له زندان څخه لیدنه وکړه. هغه راپور چی د همدی موسسی له لوری د جولایی په میاشت کی ترتیب شوی و او ورسته بیا نیو یارک ټایمز اخبار تر لاسه کړ په هغه کی له بندیانو سره د ناوړه او بد چلن یادونه شوی وه. پدی راپور کی ویل شوی و چی په دی زندان کی د بندیانو د اذیتولو لپاره له مختلفو شکنجو نه کار اخستل کیږی. پدی شکنجو کی بندیان خوب ته نه پریښودل، په لوړ اواز سره د سندرو غږول یا شور کول، غیر معمولی حرارت کی بندیان ساتل، وهل ټکول او نور روانی اذیتونه شامل و. د ۲۰۰۵ کال د جون په ۲۱ نیټه نیویارک ټایمز په خپله مقاله کی د ایف بی آی د یو مامور له قوله لیکلی و چی:څو څو ځلی زه د تحقیقاتو اطاق ته په داسی حال کی داخل شوی یم چی هلته می بندی په لاسو او پښو کی ولچک شوی په ډیر بد حالت کی په فرش پروت لیدلی. نه چوکی وه، نه خوراک او نه هم اوبه. ډیر وخت داسی شوی چی بندی د تحقیقاتو په خونه کی له ۱۸ نه تر ۲۴ ساعتو یا له دی څخه هم زیات وخت پوری په دی اطاق کی همداسی تړلی پریښودل شوی. دوی به حرکت نشو کولی او په همدی ځای او په همدی حالت کی به یی متیازی کولی.
همداشان د تحقیقاتو په جریان کی د بندیانو د مذهبی او کلتوری ارزښتونو د توهین کولو راپورونه هم ورکړل شوی دی. په ۲۰۰۵ کال کی په لومړی ځل د ګوانتانامو څخه د قرآن کریم د بی حرمتی راپورونه خپاره شول چې امریکایي عسکرو دقران کریم پاڼې په کمود کې غورځولي وی .

له نوموړی زندان څخه دوه ځلی د خوړلو د اعتصاب راپورنه هم په مطبوعاتو کی خپاره شول. په ۲۰۰۵ کال کی د امریکایی ځواکونو له لوری زندانیانو سره د ناوړه چلن په ضد بندیانو د خوړلو اعتصاب وکړ. ویل کیږی چی ددی اعتصاب له کبله د بندیانو وزنونه تر ۴۵ کیلو پوری راښکته شول. د ۲۰۰۵ کال د جولای په ۲۱ نیټه د دفاع وزارت ویاند اعلان وکړ چی د نه خوړلو په اعتصاب کی ۵۰ کسان شامل وو. زندانیانو ۲۶ ورځو پوری خپل اعتصاب ته دوام ورکړی و. د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کی زندانیانو یو ځل بیا د نه خوړو اعتصاب وکړ. ویل کیږی چی په دی وروستی پیښه کی ۱۵ کسان شامل وو چی دوی ټولو ته د پایپ په ذریعه خوراک ورکول کیده.

په تیر دسمبر میاشت کی امریکایی چارواکو اعلان وکړ چی نور به د خوراکی اعتصاب په اړوند د خبرونو د خپریدا مخنیوی کوی. چی دا هم د نړیوالو قوانینو خلاف یو بل ګام دی.

د ۲۰۱۴ کال د جنوری ۱۱ مه نیټه د ګوانتانامو د زندان د ۱۲ می کلیزی سره برابره ده. په دی ورځ په لسګونو کسانو د سپینی مانی مخی ته لاریون وکړ او له امریکایی چارواکو یی غوښتنه وکړه چی ژر تر ژره دی نوموړی زندان وتړی. دی ته ورته لاریونونه د امریکا په شیکاګو، میامی او نورو ښارونو کی هم تر سره شوی. باید زموږ په هیواد کی هم پدی ورځ پراخ لاریونونه شوی وای. په همدی حال کی د بښنی نړیوال سازمان هم اوباما ته یو لیک استولی او غوښتنه یی تری کړی چی د ګوانتانامو زندان باید وتړی او بندیان یی یا خو خوشی کړی او یا هم محکمی ته وړاندی کړی.




ددی زندان د پرانستل کیدو ۲۰ کاله پوره شول. له دی زندان څخه د خلاصو شویو زندانیانو قصی ډیری دردونکی او بوږنوونکی دی. ددی زندان پرانستی ساتل د دیموکراسی او بشر دوستی د دعویدارانو په تنده تور داغ دی. د امریکا دولت ته پکار دی چی ژر تر ژره دا زندان وتړی. دا د افغانانو او په مجموع کی د ټولو واقعی بشر دوسته انسانانو غوښتنه ده.

## د ګوانتانامو د یو بل زنداني غم لړلې کیسه(احمد جرسدسمبر ۱۲, ۲۰۱٤ )



د سي ای اې د شکنجو او ظلمونو څه نا څه راز خو د امریکا مشرانو جرګې څرګند کړ، مګر د سمیر ناجي کیسه به مو نه وي اورېدلي. ناجي د دې بدمرغه داستان یو لوبغاړی دی .سمیر ناجي، چې دیارلس کاله یې د ګوانتانامو په زندان کې تېر کړلدیمن اوسیدونکی دیارلس کاله وړاندې سي ای اې د اسامه بن لادن سره د اړیکو په تور نیولی و او ۲۰۰۹م کال کې امریکایي چارواکو له هر ډول تورونو بې ګناه وباله، مګر بیا یې هم په یاد زندان کې ساتلی و او له راخلاصېدو وروسته یې د سي ای اې له کرغېړنو شکنجو پرده پورته کړه. سمیر وایي، چې د امریکا سنا د سي ای اې د ظلمونو په اړه یو راپور خپور کړی، مګر ده سره، چې کوم ظلمونه او تېري شوي، د امریکایي کانګریس له راپوره ډېر متفاوت دي او د امریکا د سنا راپور یوازې یو لومړنی راپور بلل کیږي.د امریکا د سنا راپور د دې وحشتناک زندان د تړلو پیل دی.

ګوانتانامو زندان اوس هغه وحشي ځای دی، چې هر وخت سړی په کې د وېرې او وحشت احساس کوي او د هیڅ ډول مرستې په تمه نه وي او هر ساعت د هر ډول ظلمونو او شکنجو وېره وي او له هر ډول مرستې، کورنۍ او دوستانو له خواخوږۍ بې برخې وي.سمیر ناجي وايي، چې د ګوانتانامو زندان کې د تېرو دیارلسو کالو په ترځ کې به هره ورځ او د هر تحقیق پر مهال به امریکایي چارواکو پر ده چیغې وهلې، شکنجې به یې ورکولې، پر مخ به یې پر سوکانو او لغتو واهه او د بدني تعذیب سربېره به یې رواني تعذیبونو ورکول او بندیان به یې خوب ته نه پرېښوول.
سمیر زیاتوي، چې یو امریکایي به ماته ستن ولګوله او له هغې وروسته به بې هوشه شوم او چې راپورته به شوم، نو امریکایي عسکرو به د حیواناتو په څېر چیغې وهلې او بیا به ولاړل. که ما به له خوراکه انکار کاوه، نو امریکایانو به د خوراک لوښی د ده پر سر ویشتل او واهه به یې او بل امریکایي ته به یې امر کاوه، چې خوراک په زوره پرې وخوري او له هغې وروسته به دوه امریکایان راغلل او زما په دواړو متو کې به یې په ستنو سوري وکړل او له بدنه به مې وینې روانې شوې او کله به یې داسې وکړل، نو پر ملا به راوختل او ټوپونه یې راباندې وهل«. سمیر د خپل غم لړلي داستان په ترځ کې وايي، چې کله به یې د متیازو تکلیف محسوس کړ، نو امریکایي چارواکو به اجازه نه ورکوله او کله به چې تکلیف زیات شو، نو امریکایانو به ورته په کړس کړس خندل او خپل ژباړونکي ته به یې ویل، چې که پتلون کې یې متیازې وکړې، نو جنسي تېری به پرې وکړې.
سمیر زیاتوي »کله ناکله به یې یو سینما هال ته بوتلو، نو هلته به یې پر بندیانو د ظلمونو او تېریو ویډیوګانې راښوولې او راته به یې ویل، چې ورته وګډیږي او کله مو چې انکار وکړ، نو د جسم نازک ځایونو کې به یې تکلیف راکاوه«.
د باران پر مهال به یې زولنو سره په ختو کې ګرځېدو ته مجبوراوو او چې کله به یې انکار وکړ، نو په ختو کې به رغړاو.
سمیر وايي، چې تر ټولو غمجن حالات لا هغه و، چې د فحش فلمونو ویډیو به یې د ده پر وړاندې ولګوله او هلته به یې له ده جامې وویستې او د ویډیو کتلو ته به یې مجبوراو او د اسلام سپکاوی به یې کاوه او دی به یې اړوېست، چې د ځناورو په څېر نارې ووهي او کله به یې چې انکار وکړ، نو یخ ژمي کې به یې سړې اوبه پرې تویې کړې او دغه ټوله صحنه به یې ریکارډ کوله.
سمیر زیاتوي، چې د دیارلسو کالو له سختو ظلمونو او تېریو وروسته شپږ میاشتې وړاندې امریکایي چارواکو ته جوته شوه، چې له هر ډول تورونو پاک دی، نو د امریکایي استخباراتو څلور مهم کسان راغلل او د ده قضیه یې له سره وڅېړله او د هغو له وروستۍ پرېکړې وروسته یې دی خوشې کړ.
»زه وایم، چې امریکایي چارواکو زه دیارلس کاله له هر ډول تورونو پرته د ګوانتانامو په کرغېړن زندان کې وساتلم او زما په څېر د زرګونو بندیانو د بند ژوند د امریکا لپاره تاریخي شرم دی«.
سمیر ناجي د خپل داستان په پای کې وايي، چې اوس هم د ده په څېر ۱۳۶ بې ګناه بندیان د ګوانتانامو په کرغېړن زندان کې د امریکایانو وحشي ظلمونه ګالي او د امریکایي چارواکو هغه دعوې چې د میډیا له لارې ځانونه د بشریت خواخوږي بولي، مګر د ګوانتانامو او نور زندانونه د امریکایي څېرې رښتونې هنداره ده.

## د جنرال رازق په شخصي زندان کې څه تېرېدل( د زندانیانو له خولې)هلال احمدجولای ۲۰، ۲۰۲۱

حافظ سعید: د طالبانو له خوا د بولدک دنیولو سره همدلته د شخصي زندانونو د کشف خبرونه هم خپاره شول، له یادوو شوو شخصي زندانونو داسې بندیان را خلاص شول چې کلونه کلونه یې له مرګ او ژوند څخه کورنۍ خبر نه درلود، په دې زندانونو کې د طالب جنګیالیو تر څنګ ولسي هیوادوال هم وو، چې په مختلفو پلمو نیول شوي وو، کلونه کلونه د زندان د تورو تمبو شاته پراته

وو او وخت په وخت به د جنرال رازق انډيوالانو دهمدې اسيرانو له جملې ځينې يې شهيدانول او ځينې به يې د ډېرو پيسو په بدل کې خوشي کول.
ملا جندالله چې څلويښت کلن ځوان ښکارېده، د ښايسته اخلاقو خاوند يو مينه ناک انسان و،په لومړي وار ليدلو يې داسي روغبړ راسره وکړ لکه ډير وخت چې مو انډيوالي سره کړې وي، نوموړی د کندهار د ژړۍ ولسوالی اوسيدونکی يو طالب ډلګی مشر دی، درې کاله مخکې د جنرال رازق وسله والو د ربګ په سيمه کې نيولی و او د طالبانو له خوا د بولدک په نيولو سره له همدې زندان څخه راخلاص شو.










له نوموړي سره څلور انډيوالان هم اسيران شوي وو، يو يې موټر چلونکی او بل د ملا محبوب په نامه، همدا دوه ملګری موږ ونه ليدل، خو دوه نور بندي شوي انډيوالان يې( احسان الله او شفيع الله) مو و ليدل، شفيع الله چې ۲۲ کلن ځوان معلوميده، د جنرال رازق عسکرو دومره سخت وهلی و، چې د شکنجو او ځوروني نښې له ورايه معلوميدې او د مظلومو څېرو په ليدلو يې د کتونکو زړونه کبابېدل!!
ملاجندالله اخند ته مو وويل چې که د زندان حالات په لنډ ډول راسره شريک کړې، ويل يې بيخي سمه ده: کله چې د جنرال رازق وسله والو ونيولو، دنيولو سره سم يو عسکر زموږ پر ملګري د پيکاضربه ووهله، خدای جل جلاله يې وخت نه و پوره کړی، ملګري ته هيڅ تاوان ونه رسيده، يو بل عسکر زما پر نس ثقيل(پيکا) راونيو، ماشه يې ووهله، خو مرمۍ پوچه شوه، دوه – درې واره يې همداسي وکړل، خو پيکابه ډز نه کاوه، نو سخت يې ووهلو او بيا يې د بولدک سرحدداری ته راوړو.

**د جنرال رازق شخصي زندانونه:**د جنرال رازق ورونو او ملګرو يوازې په سپين بولدک کې څو شخصي محبسونه درلودل، د رازق او ايوب کاکی په کورونو کې زندانونه وو، په کنډک کې زندان و، سرحدداری کې زندان و او د شېر ګوټي حاجي احمد شاه زندان بيا بيل و. دلته يوازې د سرحدداری د زندان حالات د زندانيانو له خولې ليکو:

**د سرحدداری زندان:**د سرحدداری په زندان کې دننه يو کانټېنر، درې کوچنۍ کوچنۍ کوټې او يوه لويه خونه او هال وو، چې بنديان به يې سزا کول کانټېنر کې يې اچول او په نورو وختونو کې به په جلاجلا کوټو او يا يوه لويه خونه کې اوسيدل. زموږ د بند په موده کې سرحدداری ته درې مشران يو په بل پسې راغلل، عصمت افغان،بياعطاء الله او په اخرو دوو کلونو کې سردار خان چې د جنرال رازق او تادين ډير نژدې ملګری و،د همدې ځای مشر و. همداراز د سرحدداری د زندان مشران هم بدل رابدل شول،زلمی، پايند او علاوالدين يو په بل پسې د همدې زندان مشران وو.
موږ چې يې سرحدداری ته راوستلو د سرحدداری مشر عصمت افغان په وهلو کې لاسونه رامات کړل، د خپل تن په وينو يې رنګ کړو، بيا يې هر يو په جلا جلا کوټو کې بنديان کړو، کوټې دومره تنګې وې چې سيده پکې څوک پرېوتلای نشوای، تقريبا دوې مياشتې په همدغو کوټو کې وو، په دې دوې مياشتنۍ موده کې نه د ټېونو د وچيدو لپاره يوه ګولۍ راکول شوې او نه يو ټوکر يا پټۍ چې زخمونه په وچ کړو او يا يې په وتړو، په شوارو کې يې يو ځل مازيګر دباندې رايستلو، پنځه دقيقې وخت يې راکاوه، په همدې تنګ وخت کې به مو قضايي حاجت او اودس کاوه، همدا دوې مياشتې مو هماغه په وينو لړلي کالي هم اغوستي وو، نه يې غسل ته پرې ايښي يو او نه يې هم د جامو مينځلو اجازه راکړې ده. همداراز تر څو مياشتو پورې يې د سر د ويښتانو د کمولو او د بدن د

اضافه ویښتانو د لیرې کولو لپاره چاړه او غوچي نه راکوله، په دغه ډول بندیز سره یې اسیرانو ته پر اذیت سربیره بل مقصد داوو چې همدا اسیران به یې کله شهیدان کړل،نود زندان وحشت به سخت ځپلي وو، د مخونو بڼې به یې بدلې شوې وې، دسر او نور بدن ویښتان به یې لوی وو، بیا به عسکرو ویل چې د دوی شکلونو ته وګورئ دا نه افغانان او نه هم مسلمانان دي!!د نورو هیوادونو څخه ترهګر او جاسوسان راغلي وه چې په خپله سزا ورسیدل.

ملا جندالله وايي دزندان په ټوله موده کې په شپه او ورځ کې دوې وچې ډوډۍ راکول کیدې نور هیڅ هم نه وو او دشپې او ورځې، په ویښه او خوب مو زولنې له پښو نه دې خلاصې شوې. په تېر کوچني اختر کې مو د یو عسکر څخه مبایل واخیست او له کورنۍ سره مو رابطه وکړه، خو کله چې سردارخان خبر شو، نهه ویشت ورځې یې په کانټېنر کې بند کړو، عسکرو ته یې ویل په درو ورځو کې نیمه ډوډۍ ورکوئ او یو ځل یې تشناب ته راباسئ!




**ځان ته مو په خپلو لاسونو قبرونه وکیندل:** عسکرو به وخت ناوخت راته ویل چې تاسي نیکمرغه یاست دلته هیڅ کس هم دومره وخت نه دی تېر کړی، ربښتیا هم زموږ د بند په موده کې یې ډیر کسان دلته راوستل، خو څه وخت وروسته به یې شهیدان کړل، په موږ یې هم زموږ لپاره دوه څاګاني یا کویان وکیندل، یو درې متره او بل اووه متره، خو چې تقدیر کې مو دې دنیا کې لا د ژوند څو ورځې پاته وې، نو قبرونه مو ځان ته وکښل، خو ژوندي ځنې راووتللو.

**د جمهوريت د قوماندانانو اخلاق:** د پاینده په نامه یو عسکر ویل یوه ورځ مو د بولدک په مربوطاتو کې چاپه ووهله، ډیر ملکي خلک مو راوستل،یو سړي اقرار نه کاوه، سردار خان راته وویل ونیسه لواطت ورسره وکړه، ورته ومې ویل سردار صاحب داټول خلک وژلای شم،فقط امر راته وکړه، خو دا(بل کار) مې وجدان نه مني، پایند ویل سردار خان ته چې به عسکرو هر څوک راوست، که به سپین ږیری و او یا ځوان، سردار به ورته ویل ووایه، څو واره دې .... ورکړې ده، کوم کس چې به په دې باره کې څه نه ویل سخت به یې واهه، ورته ویل به یې چې زما خبره دې را ځواب کړې نه وي، نه دې پرېږدم، بالاخره به یې سړی دې ته مجبوره کړ چې یو څه ووایې!!



ملا جندالله ویل :عسکرو چې به کوم کسان وهل زموږ د کوټو پر کړکۍ به یې پرده کش کړه، څوک مو لیدلی نشوای، خو نارې، چیغې او خبرې مو اورېدې.

**د ابو دجانه (دجنرال رازق قاتل) د ضامن عسکر خپلوان:**کوم عسکر چې د رازق د قاتل ابودجانه ضمانت کړی و، د نوموړي عسکر اکا او دوه میرني ورېرونه( حاجي نور احمد، خالد او شاه فیصل) یې زندان ته راوستل، د سرحد داری مشر عصمت پخپله دې کسانو ته یو داړونکی لېوه ذاتی سپی ور خوشي کړ، دې کسانو به نارې وهلې چې دخدای روی ته وګوره، دا سپی راڅخه وګرځوه، عصمت چې به د دوی فریاد واوریده سپی به یې پر ملا وټپاوه، ورته ویل به یې ونیسه لېونیه! سپی به بیا ور ایله شو، همدا کسان یې اول په سپي زخمي زخمي کړل او له څو ورځو سختو شکنجو وروسته یې درې واړه شهیدان کړل.

**له عامو لارویانو او تجارانو سره:** یو ورځ یې درې تنه سپین ږیري تجاران راوستل، سخت یې ووهل، دوی د عصمت د ملګري او یو بل سړي تر منځ په کاروبار کې دهغه بل تن ضمانت کړی و او هغه کس تر ټاکلې نیټې یوه ورځ پیسې ځنډولې وې. بله ورځ یې بیا درې تنه کابلیان چې عسکرو ډیرې پیسې ورسره لیدلي وې، زندان ته راوستل، همدا کسان ویش او بولدک ته د کمپیوټرانو او

مبايلانو د اخيستلو لپاره راغلي وو، د سرحدداری مشر عصمت ورته وويل شپږ لکه به راکوئ، په همدې کسانو يوه ورته وويل چې زه محکمې ته ځم، شکايت کوم،عصمت چې دا خبره واوريده، تر ويښتانو يې ونيو سر يې د سميټي ديوال سره ور وجنګاوه او ورته ويې ويل له اشرف غني تر عبدالله د ټولو په ښځه کې ....... محکمه چېرې وه!! همدا کابليان يې دشپې تر ډيره و وهل، دوی ويل عصمت به شراب وڅښل او بيا به يې وهل راباندې شروع کړل، سهار يې عصمت ته شپږ لکه ورکړې او خوشي يې کړل.

د عصمت ورور جانان يو نفر د تحقيق پر مهال سخت شکنجه کړ، وروسته يې توپنګچه پرې راوايستله او پر پښه يې وويشت،همداسي بې درملنې يې په کانتېنر کې وغورځاوه او وروسته يې شهيد کړ.

سردار خان پر خپل ورور د ماين چاودنې په تور درې تنه ملکي وګړي راوستل، څو ورځې يې شکنجه کړل او بيا يې درې سره شهيدان کړل. بله ورځ يې بيا د هدې غره د بېدک د کلي څخه ديرش نفره ولسي وګړي راوستل مختلفې شکنجې يې ورکړې او بيا يې د کندهار مرکزي محبس ته ولېږل.

**د وحشت انتهاء :** د سردار خان ورور دمحمد نبي په نامه د يو ملکي سړي خايې( خصيتين) په ډير زور سره ورېټاوه کړې او دخالقدار په نامه له يو بل کس څخه يې خايې وکښلې، خالقداد د کرېټ په تخته د خپلې کوټې دېوال سوری کړ او دولسمه ورځ له زندان څخه په تيښته بريالی شو.

يو تن يې د حافظ مولوي حسن په نوم زندان ته راوست، يوه پښه يې قطعه شوې وه،عصمت سخت وواهه، بيا يې سپی ور خوشي کړ، سپي نور هم پسې ټپي ټپي کړ، اخر يې په همدې حالت کې چې د ژمي يخه شپه وه، دباندې په سړه هوا کې تر يوې بجې پورې په يوه پښه راوځړاوه،بيا يې دننه زندان ته راوست، وروسته يې حافظ حسن زموږ څخه جلا کړ، کله چې مو د نوموړي په اړه له يو عسکر څخه پوښتنه وکړه، ويل يې چې هغه يې د ډيرو پيسو په بدل کې خوشي کړ.

د پهلوان په نامه يو کس يې راوست، سخت يې وواهه، عسکر يې په نس کې ور وغورځېدل، تر ډيرې شکنجې وروسته يې کانتېنر کې واچاوه،د شپې يې له دردو نارې وهلې، سهار ته شهيد شوی و، له کانتېنر څخه يې بهر وايست، يوه روځ يې همدلته لمر ته غورځولی و، بيا عسکرو په موټر کې واچاوه په يوه دښته کې يې غورځولی و.

دعسکرو له قوله، شپږ ګوټي حاجي احمد شاه يو سړی داسي سخت وواهه، چې ټول بدن يې زخمي زخمي شو، بيا يې په چريکې بستره کې واچاوه، زنځېر يې پسې بند کړ،لمر ته يې وغورځاوه، دوه ويشت ورځې يې همدا سزا ورکړه، چې همدا سزا يې ختمه شوه، د بندي د ټپونو غوښې ورستې شوې وې او دماغ يې خراب شوی و.

يو بل عسکر ويل دادو نامي يوه شپه يې يو بندي داسي سخت وواهه،چې سهار ورغلو مړ شوی و،سهار چې د سرحدداری مشر سردار خان خبر شو دادو ته يې پنځه سوه انعام ورکړ!!

د پای محمد تحقيق پوره يو کال شروع و او هره شپه به يې واهه، عسکرو راته ويل بيخي سخت سړی و، هر څومره چې مو واهه اقرار يې نه کاوه، پای محمد بيا خوشي شو.

**دعسکرو فرياد:**زموږ زندان ته به يې کله ناکله ځينې عسکر هم د بنديانو په توګه راوستل، يو عسکر چې د سردار خان له اجازې پرته خپل کور ته تللی و، چې راغلو زموږ سره يې بندي کړ، عسکر ډير ژړل او فريادونه يې کول ، ويل به يې يا خدايه چې دې ځای ته دې راوستلم، تر دې مخکې به دې په يو ماين کې الوزولی وم،سردار خان د پاچاه په نامه يو عسکر تر شکنجو وروسته وويشت، خو موږ پرې پوه نشو چې څه يې کړي وو.

**د عسکرو کفریات:** د دادو په نامه يو عسکر د يو زنداني ږيره ور خريله، زنداني په ډېر مظلومانه اواز ورته  وويل: وروره مکوه، ږيره مه راخريه،دادو ورته ويل، ماته په ورور مه وايه، زه کافر يم.
زموږ والدين د ملاقات لپاره راغلي وو، درې  شپې يې انتظار کړي وو، وروسته چې يې راوستل، ليرې ليرې يې سره ودرولو، ستړي مشي مو لا يو تربله سره ونه کړو، بيرته يې زموږ والدينو ته وويل ځئ ولاړ شئ،همدا مو ملاقات شو، په دې وخت کې د يو بندي ملګري سپين سرې مور ګوره چې په دې حالت به څومره زياته ځوريدلې وه، عسکرو ته وويل تر تاسي خو هغه کافران( امريکايان) لا ښه دي، په دې وخت کې عسکرو په خورا وياړ سره ورغبرګه کړه، کافران تر موږ ښه دي، هغوی قانون مني او شريعت نه مني، خو موږ نه قانون منو او نه شريعت منو.
**مبشرات( زيري) او اطمنان:** ملا جندالله او ملګرو يې ويل په زندان کې مو څو واره  الله تعالی، نبي عليه السلام او موسی عليه السلام په خوب کې وليدل. همداراز دمجاهدينو فتحې او د خلاصون خوبونه مو بار بار ليدل، ملا جندالله وايې يوه شپه يې خوب ليده چې طالبانو بولدک او همدا ځای چې موږ پکې بنديان وو هم نيولی وي.
په بخاري او مسلم شريف کې د أبي سعيد او أبي هريره رضی الله عنهما څخه روايت را نقل شوی، چې ترجمه يې ده: «د مؤمن بنده خوب د نبوت د ۴۶ برخو څخه يوه حصه ده.«قالَ النَّبىّ صلى الله عليه وسلم: (رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ).
همداراز په يو بل حديث کې  حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايې:  له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې واوريدل چې ويل يې:« کوم څوک چې ما په خوب کې وويني، لکه په ويښه يې چې ليدلی يم، بې شکه شيطان زما تمثيل نشي کولای« قال ابوهريرة سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:(( من رآني في المنام فكأنما رآني في اليقظه، فان الشيطان لا يتمثل بي((
د جندالله ملګري احسان الله ويل په دې اخرو وختونو کې د خلاصون څخه لږ مايوسه غوندي شولو،په خوب کې مې الله تعالی وليدی راته ويل ستاسي دعاوې قبلومه.
ملا جندالله ويل دفتوحاتو د خوبونو په لړ کې مې يوه شپه يوه ډله خلک وليدل، توري لنګوټې يې تړلې وې، ډېر لوړ قدونه يې وو،راته وويل شول چې دا د ټول افغانستان تشکيل دی، ما دې کسانو ته و ويل چې تاسي څومره لوی لوی خلک ياست، دوی راته ويل چې ستاسي قوم بيا ډېر ښايسته دی.
جندالله وايې يوه بله شپه مې خوب ليده نبي عليه السلام ته ډېره غوسه ورغلې وه، راته وايې ستاسي سفير ته ووايه چې ژر راشه. ملاجندالله اخند ويل خوب وينم د روژې مازيګر دی، اودس مې وکړ او و مې ويل السلام عليکم يارسول الله، د سلام ځواب راکړل شو، داسمان له طرفه يو کس راکښته شو، په غيږ کې مې ونيو، لاسونه مې ورمچ کړل،پر چوکی کښېناست،ټليفون يې وکړ، وروسته يو شخص راښکاره شو، ويل يې همدا نبي عليه السلام دی، د مبارک عليه السلام سره مو مجلس وکړ، تر مجلس وروسته نبي عليه السلام  وويل زه ځم ناخوني ته( د پنجوايې ولسوالی يو کلی دی) هلته مې مجاهدين راټول کړي دي څه خبرې ورته کوم.
جندالله او انديوالانو يې( احسان الله او شفيع الله) ويل خوبونه مو بيخي ډېر ليدلي دي، دا دوه خوبونه به خاص دمجاهدينو لپاره درته ووايو:« جندالله وايې يوه شپه خوب  وينم  د نبي عليه السلام يوه چاړه په لاس کې وي او  يو کس  يې تر ږيره نيولی وي لکه سزا چې ورکوي، پوښتنه مې وکړه چې دا ولې؟صحابه کرامو راته وويل چې اطاعت نه کوي. احسان الله ويل ما هم يو شپه خوب ليده، مجاهدين لاندې ولاړ وو، چې نبي عليه السلام پر چت لوړ راپورته شو، ويل يې بغض مه کوئ سخته ګناه لري!! يو بل  خوب کې بياد الله تعالی په حضور کې د استغفار ويلو او ذکر کولو تلقين راکول کيده.

مجاهدین ورونه باید دخپلو امیرانو اطاعت وکړي، له بغض څخه ځانونه وساتي او د نورو نیکو اعمالو تر څنګ د استغفار ویل او ذکر کول په هیڅ صورت هم باید هېر نه کړي، ځکه همدا په دنیا او اخرت کې د نجات او کامیابۍ لوی لاملونه دي.

**د ژوندانه څو ورځې مو لا پاته وې:** په اخرې ورځ چې مجاهدینو په ویش او بولدک کې ځینې ځایونه نیولي وو، خو سرحدداري لا نه وه نیول شوې، یو عسکر راغلو، ویل را ووځئ وخت او وعده مو پوره شوه، کندک چهار ته یې بوتللو، د یو ځاه\ کوهي خولې ته یې ودرولو شهیدانولو یې،یو بل عسکر راغلو همدغو عسکرو ته یې یوه پټه خبره وکړه، وروسته یې د یو بل ځاه خولې ته نژدې ودرولو،خو الله تعالی مو وخت او وعده نه وه پوره کړې، په همدې وخت کې جنګ زور واخیست، د ډزو اوازونه ډیر رانژدې شول، د همدې ځای دوه ټاوران وویشتل شو، د نورو ټاورونو څخه عسکر را کښته شول، منډې یې کړې په څو موټرو کې سپاره شول، ووتل، په دې وخت کې یو عسکر راته وویل ځئ تاسي هم ولاړ شئ، زولنې مو ماتې کړې دباندې راووتللو.

**د مجلس پای:**دمجلس په پای کې ملا جندالله اخند یو وار ماته وکتل بیا حبیب الله مولوي صاحب ته او په ډاډمن انداز یې وویل زندان مو ایمان لا قوي کړ، نور مو هم پر خپله مبارزه باور زیات شو، د جهاد لار به په هیڅ صورت نه پرېږدو او دخپلو امیرانو اطاعت ته به دوام ورکوو.

**له ازاره چاه بازار موندلی نه دی:** د بولدک دنیولو څخه دوې ورځې وروسته د کندهار له طرفه عسکرو د بولدک د بیا نیولو په هدف عملیات پیل کړل،خو د دوی د اټکل برعکس د طالبانو له خورا قوي غبرګون سره مخامخ شول،دلسګونو کماندویې عسکرو سره یو ځای د سرحدداری مشر سردار خان او دکماندویې عسکرو قوماندان صدیق کرزی هم ووژل شول، په دې جګړه کې طالبانو ته زیات وسایل او وسایط هم په لاس ورغلل. په سترو اسویلو به یې ځواني لمبه لمبه شي ـ خندا به یې سلګی شي په ازار د لېونو





صدیق کرزی

## امریکا د سپتمبر د یولسمې نیټې څخه لاسته راوړنې

**۱ ـ امریکا** خپلو هدفونو ته درسیدا لپاره د ۲۰۰۱ میلادی کال د سپتمبر د یولسمې(۱۱) نیټې له پیښې په ښه ډول استفاده وکړه .هغه جرمونه چې امریکا د ۲۰۰۱ میلادی کال د سپتمبر دمیاشتې دیولسمې نیټې د مرموزې حملې د غچ اخیستلو په پلمه ترسره کړل په دوو (۲)غبرګو برجونو له حملو څو برابره زیات وو او ترټولو ښه بېلګه یې دا ده چې امریکا د هیګ نړیوالې محکمې ته ګواښ کړی که چیرې په افغانستان کښې د واشنګټن د پوځیانو د جنایتونو په اړه تحقیق وکړی نو د امریکا حکومت به دغه محکمه بایکاټ کړی .

دامریکا پوځ په تیرو شلو(۲۰) کلونو کښې د نړۍ په اکثرو هیوادونو کښې په زرګونو انسانان وژلی دی .امریکا د افغانستان، د عراق ، د سوریې او دلیبیا تاریخی اثار وران او غلا کړل او دغه هیوادونه یې وران او لوټ کړل . امریکا دنړۍ په ملتونو کښې دښمنۍ رامینځته کړه چې اوس دغه ملتونه په خپلو کښې سره په جنګ دی . امریکا په نړۍ کښې ارزښتونه تر پښو لاندې کړل او د ځنګل قانون یې واکمن کړ او د شلو (۲۰)کلونو په تیریدا سره اوس هم امریکا خپلو جنایتونو او ناوړه کارونو ته دوام ورکوی . دجرمنی یو خبریال یورګن تودنهوفر صحیح وایی د ۲۰۰۱ میلادی کال دسپتمبر د میاشتې په یولسمه (۱۱)نیټه په امریکا کښې په دوو(۲) غبرګو برجونو حملې کښې ددغه هیواد درې زره (۳۰۰۰)کسان ووژل شول خو امریکا یوازې په عراق او افغانستان کښې تر ۲۰۱۴ میلادی کال پورې کابو څو میلونه کسان ووژل او د خلکو دغه وژنه او ورانی اوس هم دوام لری . د ۲۰۰۱ میلادی کال دسپتمبر د میاشتې د یولسمې(۱۱) نیټې پیښې امریکا ته دغه پلمه په

لاس ورکړه چې د افغانستان په شمول دنړۍ ستراتیژیکې سیمې ونیسی او په ټوله سیمه کښې خپله استخباراتی لومه پراخه کړی او هغه کسان چې غلام ذهنونه لری په خلکو وروتپی لکه حامد کرزی او اشرف غني او دشمال ټلواله .



خو دتیروشلو(۲۰) کلونو پیښو دنړۍ خلکو ته دامریکا اصلی څیره وروښودله او دغه هیواد رسوا شو . داسې هیواد (امریکا)چې له ترهګرۍ سره یې د مبارزې شعار ورکړی وو اوس د هیڅ نړیوالې محکمې ته ګواښ کوی چې په افغانستان کښې د امریکا په جنایتونو دې غور او تحقیق نه کوی . دنړۍ ډیر هیوادونه د امریکا ددغه جنګی لیونتوب په مقابل کښې دریدلی وو او بشریت ځپل شوی او دافغانستان مظلوم خلک په دې هیله ژوندی دی چې نور د امریکا بدمعاشی پاې ته ورسیږی او دغه تور پراونه او ویرې د تل لپاره ختمې شی .لیکوال عاشق حسین طوریدتهران راډیود پښتوخپرونې مدیرد۲۰۱۸ میلادی کال دسپتمبر دمیاشتې دولسمه نیټه Sep ۱۲, ۲۰۱۸ ۱۲:۵۵ Asia/Kabul

دامریکا لیکوال او دسیاسی مسایلو کارپیژاند کریستوفر بولین چې په ۲۰۰۱ میلادی کال کښې دسپتمبر دمیاشتې دیولسمې(۱۱) نیټې دحملو په باره کښې یې یو شمیر تحقیقات کړی دی وویل په دنیا کښې ترهګرې حملې ډیرې شوی دی او زیاتې حملې په هغو هیوادونو کښې شوی دی چې امریکا د ترهګرۍ پرضد دمبارزې په چوکاټ کښې هلته لاسوهنې کړی دی . دامریکا دغه لیکوال وویل دترهګرۍ پرضد جنګ کښې دامریکا سیاست د بې کفایتۍ په وجه بې نتیجې وو اودامریکا حکومت تل د ترهګرو ډلو اصلی ملاتړی وو او دی .

**۲ ــ مواد مخدر :**په افغانستان کې د امریکا تر ټولولویه او غټه ګټه دمخدره موادو له قاچاق څخه وه په ۲۰۱۳م کال کې د تریاکو تولید په افغانستان کې ۸۳۰۰ متریک ټنه وه



دافغانستان رئس جمهور کرزي څو کاله مخکې په یوه بیان کې وویل په افغانستان کې امریکایان دکال له ۶۰ څخه تر ۱۰۰ ملیارده ډالرو ګټه له تریاکو څخه تر لاسه کوي یوه سروی ښایي چې په دی تجارت کې دامریکا استخباراتي شبکه هم دخیله ده او له دی لارې هرکال ۵۰ ملیارده ډالر تر لاسه کوي امریکا دمخدره موادو په ضد د مبارزی په نامه یو وزارت جوړ کړی چې دهغې په دیارلس کلونو کی تقریبآ (۷،۸) ملیارده امریکایی دالره دنشه یی توکو دمخنیوی په مخه په افغانستان کی په خرڅ رسیدلی مګر نتیجه یی ناکامه ده داسی فکر کیږی چی دا پیسی ګوندی د نشه یی توکو دمخنیوی لپاره نه بلکی د نشه یی توکو دزیاتوالی لپاره خرڅ شوی وی ځکه کوم افغاني تجاران چې دافینو تجارت یې کاوه هغه اکثره یې ونیول شوه او شل شل کاله قید یې پرې ورکړواوړو تجارانو امریکایي تجارانو ته مالونه راټولول یعنې دغه اوه ملیارده ډالر دافغاني تجارانو په کنترول ولګیدی ؟

دامریکا یوه بل شناند استیون جونز هم وویل امریکا د سپتمبر دیولسمې(۱۱) نیټې له حملو په مینځنی ختیځ کښې د جنګ د شروع کولو لپاره دیوې پلمې په توګه استفاده کړی ده .

دغه راز دفرانسې خبریال تیری میسان هم وویل امریکا د سپتمبر دیولسمې (۱۱)نیټې له پیښې په مینځنی ختیځ کښې دهغو هیوادونو پرضد چې دامریکا خوښ نه دی داقداماتو د توجیه لپاره استفاده کوی .






# دامریکا او ناتو د زوال دلایل

په۱۳۸۰ هـ ش =۲۰۰۱م کال کې پر افغانستان د امریکا په مشرۍ د نړۍ له څلویښتو زیاتو هېوادونو مستقیماً یرغل راووړ او د افغانستان د تسلیمولو په اراده یې د نړۍ د خطرناکو وسلو له استعماله بیا تر بې مخینې رسنیزې او تبلیغاتي جګړې ونشو کولی چې د دې ملت د غلام ګرځولو په هدف کې بریالي شي او دې ملت یې تر هغه خپل مقاومت روان وساته چې بلاخره د ۲۰۲۰م کال د فبرورۍ په ۲۹مه د یرغل سرلارې امریکا د ټولو اشربانو په استازولۍ د قطر په دوحه کې د نړیوالو په حضور کې د طالب مشرانو په وړاندې د افغانستان اشغال پای ته رسول ومنل او له هېواده وتلو ته غاړه ایښیدونکي شول؛ خو دا هغه وخت چې د دې ملت د مقاومت په وړاندې د امریکا دریو ولسمشرانو په خپلو څلورو دورو کې د بشپړ او بېدرېغه وس کارولو وروسته او د ټرمپ وروستۍ ستراتیژۍ هم پایله ناکامه ثابته شوه او په زور او زر سمبالې نیړدې نیمې نړۍ د افغانانو په مقابل کې له شل کلن جنګ کولو او بشپړ وس کارولو وروسته ماته خوړل ومنل او دلایل یې دادي :



دکتور سید حسام(مل) ګاري لوف

**اول دلیل :** ددی مطلب دوضاحت لپاره مو دګاري لوپ مقاله چې سید حسام (مل) دکونتر پوچ په وسیله په ۲۰۱۰/۷/۲۲م نیټه ژباړلې را نقل کړې هغه وایي: اوس هرڅوک په ښکاره او عملي بڼه پوه شوی چې دافغانستان جګړه لا دخرابیدو په لور روانه ده ددی معنی یوائې دانه ده چې طالبان قوي شوي دي او یا خارجي دښمنان یې کمزورې شوې دي بلکه اصلي عامل دافغانانو دازادۍ غوښتلو رواني

سيکالوژيکي نه تسلميدونکي جذبات او هغه عکس العمل دی چې ددوی په کورونو او کليو باندو يرغل او دبمونو غورځول او دډيرو بې ګناه وطنوالو يې دله منځه تللو سبب شوی
ميخايل ستيل دامريکا دجمهوري خواهانو دګوند مشر بيا وايي : امريکا نه غوښتل په داسې جګړه کې ښکيل شي خو ښکيل شوه دا ولې؟ ځکه -مونږ دافغانستان او عراق دناوړه جنګونو په اړه په تخطيو او غلطيو پرده اچوله خو د بوش اداره داسلام دنفوذ او لا پراختيا له ډاره د۱۹۹۹م کال په اوايلو کې پر عراق حمله وکړه







کله چې په افغانستان شورويانو حمله وکړه او په خلاف يې جهاد اعلان شو دامريکا رئيس جمهور کارترملي امنيت سلاکار برژنسکي وويل : اوس بايد دروسانو وينې هغسې تويې شي لکه چې زمونږ وينې يې ويتنام کې تويې کړې وی.
نو ددی هدف دترلاسه کولو لپاره دمجاهدينو تحريک او بيا په وروسته کې دالقاعدې تحريک د CIA لخوا دجهاد تر عنوان لاندې کنترول او تمويليده تر دی چې شوروي ماتې وخوړه دمجاهدينو خپل منځي جنګونه راغله او بيا طالبان رامنځته شوه




چې دهغوی ۹۰٪ خاوره دافغانستان پلاس کې وه ښه امنيت او کراري موجود وه خو امريکايانو داسلام دنفوذ له ويرې ديولسم سپتمبر پلمه ديو څو کسانو لکه : پاول اولفوتز (paual wolfwitz)، ددفاعی چارو نوماند دونالد رامسفلد ، د سکرتريت اصلی همکار اومعاون اسکوترليبی (Libby)ددفاعی چارو د پاليسی جوړونکی بورد مشرريچارد پريل ، او ځنی نورو واړه اوګمنام شخصيتونه وه دالوبه يې تنظيم او جوړه کړه او دتيلو غټو سوداګرو او ملياردرانو لکه پخپله جورج بوش ، ديکس چيني ، کاندو ليزه رايس وزير خارجه ، رامسفلډ وزير دفاع ، کولن پاول وزير خارجه او بولتن وزير امنيت ملي هم په دی کې شامل وه په افغانستان يې حمله وکړه
بو ش هغه سړي ته چې دده بيوګرافي يې ليکله داسې وويل : ځما پلار عراقيان له کويته ويستل




خو ځه چې په لاس ورغلي وه هغه يې ونشوه ساتلی او زه غواړم برعکس که داسې چانس ماته دحملې پلاس راشي زه به هغه سرمايه چې پلاس راځي وساتم او بالاخره زه غواړم چې يو ښه جمهور رئيس واوسم
نو دبوش ددی نظريې او خود خواهي دلرلو په اساس لا دپخوا نه دداسې حملې انتظار وه چې بالاخره ديولسم دسمبر نه وروسته يې په لیږې فاصله کې په افغانستان حمله وکړه اوبيا يې خپلو خلکو (امريکايانو) ته په اسانه لهجه دجنګ توضيحات داسې ورکړه :
مونږ تر حملې لاندې راغلو ---!! هغوی يعني دنړی مسلمانانو په پوره پوهاوی او کامل احساس پر موږ حمله وکړه اوس ددی وخت دی چې په متقابل جنګ او يرغل لاس پورې کړو ، مونږ چې په افغانستان کې ديوګروپ ميشته خلکو لخوا تر حملې لاندې راغلو دهغوی دله منځه وړلو په نيت بايد حمله وکړو.
سره له دی چې طالبانو بار بار وويل چې اسامه دی په دريم اسلامي ملک کې محکمې ته حاضر شي خو امريکايانو چې دحملې پلان درلوده حمله وکړه !!
امريکايی ګاري لوپ وايي : په (۱۹۹۶م) کال کی کله چی طالبانو په افغانستان کی قدرت تر لاسه کړواسامه بن لادن په افغانستان کی وه اوهغه يوځل بيا له يوی اوږدی مودی څخه د خپل

**شوروی ضد جهاد نظامی اډه (افغانستان) چې په کال ( ١٩٨٠) کی پرانستی وه بیرته قوماندہ تر لاسه کړه اود افغانانو د پښتونولی د ویاړنی په پوهیدو سره کوم چې هغوی تل میلمه پاله او اسلامپاله دی اوځان ملزم ګڼی چې میلمه پالنه وکړی ګټه تر لاسه کړه اوخپل فعالیت یې د افغانستان په دننه کی د طالبانو سره په ګډه تر سره کولو اوپه عین زمان کی یې د طالبانو سره مالی مرستی هم کولې.**

**اوس یو لړشواهد تر لاسه شوی چې طالبانو ددی چمتوالي درلود چې بن لادن امریکی ته وسپاری مګر دا هغه وخت وه چې امریکایانو په ډیره بیړه سره د افغانستان د نیولو بندوبست کړی وه او په چټکتیا سره پر افغانستان باندی خپل نظامی یرغل تر سره کړځکه چې ددوی اصلي مطلب دافغانستان نیول وه نه اسامه نیول داخو صرف بهانه وه**

**طالبان چې دپاکستانی دولت په پوره ملاتړ اود کتنی وړ مرستی سره په قدرت ورسید له عمومی وضیعت ځخه دا سی معلومیدله چې هغوی یعنی طالبان دامریکی سره کوم مخالفت اوضدیت نه درلوده**

**ګاري لوپ داهم لیکلي چې : کولن پاول طالبانو ته د٢٠٠١م کال په اوایلو کې یو میلون ډالر مرسته وکړه چې د کوکنارو کرل بند کړي .**

**طالبانو هیڅکله پر امریکی باندی د یرغل نیت نه درلوده اونه هم د بل چا سره پرامریکی باندی د حملی د مرستی ژمنی درلودې هغوی نه غوښتل چې په نړیواله کچه دمسلمانانواودامریکی ترمینځ جګړه پیل شی لکه کوم چې د القاعدی دښکاره اهدافو ځخه ګڼل کیده له بل پلوه طالبانو د خپل هیواد په دننه کی دخپل دتسلط دټینګیدو په فکر کی وه کوم چې دشوروی پلوه رژیم له نسکوریدوځخه له کال(١٩٩٢)نه وروسته چې د ګلبدین حکمتیا ر اودشمالی ټلوالو (١٩٩٣-١٩٩٦م) قوتونو ترمینځ جګړو کې خلکو ته زیات تاوان رسیدلی وه نو ځکه طالبانو د پوره اخلاقی اصولوپه نظرکی نیولوسره د مجاهید ینوسره په پرتله ځان مکلف ګڼل چې سم چلند وکړی.**

**دسعودي عربستان لخوا دافغانستان لپاره دشوروي جهاد خاص استازی او داستخباراتو رئیس ترکي الفیصل ،په امریکا کې د دستراتیژیکو او نړیوالو څیړنو په مرکز کې یې دترهګری په اړه ٢٠١١م کې خبرې**




**کولې وویل :د روان کال ٢٠١١م دمی په لومړی نېټه امریکایي ځواکونو بن لادن په ایبټ اباد کې له منځه یوړ ، خو داوباما حکومت هیڅا ونه ستایه ،امریکا ته په کار وه ،چې دبن لادن له ترورځخه یې ډیره ګټه پورته کړې وه اواعلان یې کړې وای ،چې موږ دافغانستان جګړه وګټله او له دې هېواده نور راوځو او لامل یې دهمدې بن لادن وژنه په ګوته کړای وای ، خو امریکا له یو ډول ولسي مقاومت سره مخ ده او وضعیت نور هم ترینګلي کیږي. نوموړی زیاتوي : په ګرده نړی ان په امریکا کې هم دبن لادن دترور ښه هرکلی ونشو ، د بن لادن وژنه دامریکا لپاره یو ښه چانس و ،چې ستاسي ولسمشر ویلای وای ... زموږ دنده ترسره شوه او موخه مو تر لاسه کړه او له افغانستانه یې دراوتلو**




**مهالویش اعلان کړې وای او دافغانانو لپاره یې دپرمختګ هیله غوښتې وای ، خو دا ډول هیڅ یو کار ونشو**

**ترکي الفیصل وایي : زه بیا خپله خبره تکراروم ، چې دبن لادن له وژلو سره جوخت باید اوباما له افغانستانه دخپلو سرتیرو دسمدستي راویستلو اعلان کړې وای او له افغانستانه راوتې وای زما موخه دا نه ده ،چې تاسي خپل سفارت وتړې او اقتصادي مرستې مو بندې کړې ، خو په افغانستان کې دسرتیرو میشتیدل داسي یوه چاره ده ،چې هیڅکله یې ګټه نه ده کړې . ترکي الفیصل زیاتوي : زه اندېښنه لرم ،چې امریکا به په نږدې راتلونکي کې له افغانستانه راووځي ، خو دبن لادن د وژنې مهال ډېر ایډیالي و ، چې امریکا له افغانستان سرلوړې راوتې وه**

**ترکي الفیصل وایي: اوس جګړه تر طالبانو محدوده نده او نه یواځي پښتانه دطالبانو ملاتړ کوي بلکه ټول افغان ولس بهرنیان نه غواړي چې ددوی په هیواد کې دی میشت وي**

**جګړه ورسره کوي اوس دامریکایانو پر ضد یوازې پښتانه نه جنګیږي ، بلکي جګړې ملي بڼه غوره کړې ده . نوموړی وایي : سپینه یې وایم ملا عمر اوس د دویمي درجې کس دی ماته ټول رارسیدلي معلومات وایي : ملا**

عمر اوس په افغانستان کې نشته د پاکستان په کومه سیمه کې به غلی وي ، خو جګړه اوس ملي شوې ده او دهېواد نورو برخو ته هم غځیدلې ده او ملا عمر به دهغو کسانو له ډلې یو وي ،چې مقاومت کوي

د امریکا د دفاع پخوانی وزیر رابرټ ګیټ ویلی وو ، چې مونږ په افغانستان کی نظامی تمځایونه نه غواړو اونه نور اردو ته معاش ورکولی شو ځکه هغوی وایی چې مونږ د ډیر بد اقتصادي بحران سره مخ یو چې د اردو دمیاشتینو معاشاتو لړۍ تر شپږ میلیاردو ډالرو زیاتیږی او د امریکا د مالی سرچینو په کمښت سره به دغه په زور راوړل شوی عسکر هم خپلی دندی پریږدی . همدا دوه ورځی مخته د ناټو اوایساف راپور خپورشوی چې په کی یی ویلی دی چی یواځی په تیرو شپږو میاشتو کی د ملی اردو ۲۴زره کسان داردو څخه تښتیدلی دی ،

انګلیستان وایی چی په دی تیرو لسو کالو کی یی پنځوس زره عسکر په سختو روانی ناروغتیاو ککړ شوی ، امریکایان خودا شمیره ان تر یوسل او دیرش زرو پوری څرګند ه کړی ، نور اروپایی اودناټو غړي هیوادونه خپلی دغه څرګندونی دخپلو ولسونو څخه پټی ساتی

یو وخت یوی افغاني ښځینه وزیر ی وویل چی ( دا امریکایان ډیر ناپوهه دی ، دوی چی وځی نومونږ چاته پریږدی ......)



**دوهم دلیل : اشرف غني احمدزی افغان الاصله چنګیز چې دپلار نوم یې شاه پسند په قوم احمد زی او په**

۱۳۲۸هـ ش کال لوګرولایت کې زیږیدلی ابتدائي او متوسطه تعلیمات یې کابل او عالي تحصیلات یې لبنان بیروت امریکایي پوهنتون انسان پیژندنه کې کړي ښځه یې (رولاء )لبنانی او عیسوی ده یوه لور دمریم په نامه اوزوی یې دطارق په نامه چې دواړه عیسویان دي او امریکا یي تابعیت لري .




کله چې اشرف غني په ۱۹۸۳م کال فارغ شو بیا په کالیفورنیاکې دبرکلي پوهنتون او جانز هایکنزپوهنتون کې تر ۱۹۹۱م پورې استاد وه له هغې وروسته یې بانک جهاني کې کار کاوه کله چې د۱۱ سپتامبر۲۰۰۱م واقعه وشوه دافغانستان لپاره دملل متحد خاص نماینده اخضر ابراهیمي

مشاور شوچې دطالبانو نه وروسته دافغانستان دنوي دولت دلاربښود او نقشې جوړونې طراح وه په ۱۳۸۸هـ ش کال انتخاباتو کې درئیس جمهور په حیث ودریده چې ٪۳ ووټ یې واخسته او ناکام شو بیا په ۱۳۹۳هـ ش کال ودریده چې ۳۷،۶ ٪ووټ یې واخسته چې دعبدالله عبدالله سره برابروه نو انتخابات دور دوم ته لاړه چې هلته اشرف غني ٪۵۶ ووټ خپل کړه چې عبدالله پرې قانع نه شو او هغه وویل ده درغلي کړی بالاخره لانجه روانه وه اخر دامریکا خارجه وزیر جانکیرې راغلو او دواړه یې کامیاب اعلان کړه چې دوه سره حکومت او نوم یې ورته ملي وحدت کیښوده چې اشرف غني رئیس جمهور او عبدالله رئیس اجرائیه تعین شو، جانکیري پخپل کتاب کې لیکلي اشرف غني دغرب طرفدار او ناسو نالست پښتون او همیشه په ژبه تکنوکراتیک اصطلاحات یادوي جان کیري وایي : اشرف غني سیاست کې کم تجربه او دخپل ځان په نفع منحصر ورکوټې مدیریت خوښونکی وه چې همیشه به دده په نفع نه تمامیده .

دده په دوره کې مذهبي او قومي سیاسي او نژادي تبعیض په افغانستان کې ښه وده وکړه امنیت هره ورځ تربلې بدتر شو په مقابل کې طالبانو ښه پرمختګ وکړ ولایتونه لکه غزني او کندز او ولسوالیانې یو دبل پسې سقوط او دطالبانو لاس ته پریوتې او دنظامیانو تلفات بې حده ډیر شول ،



اشرف غني په یوه غوره کې دامریکایانو سره راغی او په ډیر افتخار سره یې وویل ستاسو دواشنګتن او نیویارک ښارونو دساتنې په منظور چې تروریستان پرې حمله ونکړي مونږ په دا ځلور کلنه دوره دریاست کې ۴۵۰۰۰ پنځه څلویښت زره افغان شازلمي عسکر له لاسه ورکړل په داسې حال کې چې دتلفاتو دا شمیر تر (۹۰۰۰۰) نوي زرو هم زیات وو.

داشرف غني په دوهمه دوره دریاست جمهوري کې دسروې له مخې هره ورځ ۲۰۰ دوه سوه افغان اردو او پولیس دطالبانو سره په مقابله کې مړه کیده چې بیا په ۱۴۰۰هـ ش کال دشروع کیدو سره ددی عسکرو دله منځه وړل هره ورځ تر ۶۰۰ شپږ سوو پورې ورسیده چې همدومره دطالبانو طلفات هم ښودل شوي چې په دی حساب سره هره ورځ ۱۲۰۰ دولس سوه افغانان له منځه تلل او په نړی کې افغانستان دانسانانو دوژلو یوه لویه قصابخانه جوړه شوه

اشرف غني دافغانستان تش په نامه او جعلي انتخاباتوله لارې رئیس جمهور او دپوهنتون استاد ، په خپله خبره مین ، مغروره ، کبرجن ، دغاصبینو ملګری او غوصه ناک سړی دی تر دی چې نژدی ملګري یې هم تری ویرېږي او دافغانستان په تاریخ کې به دومره غصب چې دده په وخت کې وشو نه وه شوی ټولې دولتي او حتي شخصي زمکی دزورواکو لخوا غصب شوی چاپکې شهرکونه جوړ او چاپه بیع خرڅې کړې دده په وخت کې نور خلک خو لا څه کوی چې په غصب زړور شول د پوهنتون استادانو هم دا دغصب ګناه وکړه هغه داچې په ننګرهار پوهنتون کې دپوهنتون د استادانو او مامورینو ګډ ښارګوټی قیام الدین خادم په نامه جوړ شو رېیس جمهورامر ورکړ کار اصلاحات اداري او شاروالی نه هم راخلاص شو نقشه جوړه شوه کله چې توزیع کیدله داخرنی منظوری لپاره بیا دتوشیح امر اخستل کیږي دننګرار پوهنتون استادانو دمامورینو او غریبو کاریګرانو نومونه تری وایستل او ټول یې دخپل ځان په نامه کړوشاروالی چغې کړې چې نقشه جوړه شوې دڅلورنیمو بسوه یې نمرواو تاسو اوس دنهه بسوه یې نمرو توزیع کوی او مامورینو او کاریګرانو ډیر اعتصاب وکړ چایې عرض وانه اوریدو او ټولو په یوه خوله وویل زمونږ حق دی دوی غصب کړو مونږ یې ورته نه ښو نوله دی وجه دغصب په زمکه کې لمونځ نه کیږي او دقیامت په ورځ به انشاء الله دادغریبو مامورینو او کاریګرانو څلورنیمې بسوی زمکه به دجهنم اورشي اوددوی دهریوه په غاړه کې به پرته وي

اشرف غني ته دنړی اشغالګرو امریکایانو او متحدینو یې په لمړي سرکې ورته ډیر تبلیغات وکړل چې دا نړیوال دوهم مفکر دی خلک ډیر ورته خوشحاله وه خو خبر نه وه چې د قصاب په زړه کې یوه زره رحم هم نشته او تر چنګیز وروسته ده هم دوهمه درجه مرګ وکړو یو چا پوښتنه وکړه چې اشرف غني خو دوهم نړیوال مفکر دی دا اول مفکربه څوک وي بیایې وویل اول نړیوال مفکر چنګیز وه او دوهم اشرف غني دی ځکه دنړی اکثره کفري هیوادونه دافغانانو دوښمنان دي او څوک

یې چې ډېر وژني هغه دوی ته مفکر ښکاري نو چنګيز خان په لکونو افغانان په شهادت ورسول او په دی کار کې ده تر کمونست ډاکترنجيب احمدزي ښه ورواړوله او چنګيز خان ته يې ځان او نمبری ورنژدي او دوهم نمبر يې ترلاسه کړو کنه ډاکتر نجيب دوهمه درجه وه هغه دده په راتلو دريمې درجې ته عقب نشيني وکړه

اشرف غني دخپل ځان او مفسد باند په نفع دافغانستان د مالي عوايدوراټولولو لپاره ډېرې طرحې لرلې چې په هغې سره يې وکړای شول خپل ټول انډيوالان مالامال کړي او د ملت غريب او بيچاره اولس يې فقر نيستئ او بيکارۍ په يو لوي تغر کښيناوه يوه طرحه يې داوه چې دمبايل دهر کريدت کارت ٪۱۰ دده کوډ ته ورتلې دورځې ميلونونه افغانۍ ورجمع کيدې دده په وخت کې اداري فساد او رشوت خوري اوج ته ورسيده امنيت بيخي خراب شو هره ورځ غير حق په کوڅو او بازارونو کې خلک وژل کيده چور او چپاول اخري حد ته ورسيده چې په ټوله نړۍ کې افغانستان دفساد له نقطه نظره اوله درجه وګڼل شو اوبالاخره داحمدزيو پښتون قوم چې يو وخت يې نوم او برم لرلو په شرمو وشرمولو او په افغانانو دکفنکش قصه تکرار شوه هغه داچې اول ډاکتر نجيب احمدزی وه چې په لکونو افغانان يې دشورويانو درضاکيدو او کمونيزم دپلي کيدو لپاره داور په بټۍ کې وريت او ځينې يې ژوندي په پوليګونونو کې تر خاورو لاندې کړل دهغه نه وروسته په ټيټه کچه زرداد احمدزی، قلم اوچمن احمدزي راپيدا شوه دوی دکابل جلال اباد په لويه لاره دمسافرو دچور او چپاول ترڅنګ په انساني سپيو داړل له هغې وروسته اشرف غني احمدزی راپيدا شو داد احمدزيو کفنکشانو دريمه درجه کفن کش دی کفن هم درڅخه اوباسي او په ( )دی موګي هم درمندي

**داشرف غني سر تمبګی او کم عقلی له وجه** طالبانو تقريباً په دوو مياشتو کې د افغانستان شاوخوا دوه سوه ولسوالۍ ونيولې او اوس دا دی وار د ولايتونو تر نيولو ورسېد، چې د اګست له ۶مې يې بيا د همدې مياشتې تر ۱۱مې پنځه ورځو کې (۱۸)اتلس ولايتونه، نيمروز، جوزجان، کندوز، سرپل، تخار، سمنګان، فراه، بغلان او بدخشان ، زابل ، کندهار ، هرات ، بادغيس ، روزګان ، هلمند ، غزني ، غور ، لوګر په خپل کنترول کې راوستي.

د کابل اداري مشر اشرف غني ويلي و، که بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي، په خبره يې حکومت به يې په شپږو مياشتو کې سقوط شي.

همدا تېره مياشت په مسکو کې د طالبانو د سياسي دفتر غړي شيخ شهاب الدين دلاور وويل چې که وغواړي کولی شي په ۱۴ ورځو کې ټول افغانستان ونيسي

واشنګټن پوسټ د يو شمېر امريکايي نظامي چارواکو له قوله ليکلي، چې تر دې وړاندې تمه وه د بهرنيو عسکرو تر وتلو وروسته به کابل حکومت له شپږو مياشتو تر يوه کال پورې د طالبانو په وړاندې مقاومت وکړي؛ خو اوسنی وضعيت ښيي، چې حکومت به ښايي په نوي ورځو او يا هم حتی په دېرشو ورځو کې د طالبانو په وړاندې را وپرځيږي چې همداسې وشوه دزوال په نتيجه کې امريکا او ناتو ناکامه شوه .



**هغه ولسمشر چې د باګرام د لیدلو اجازه یې نه درلوده:** د ۲۰۱۹ کال د نومبر ۲۸مه- د امریکا مخکېنی ولسمشر ډونلډ ټرمپ په یوه ناڅاپي سفر باګرام هوایي اډې ته راغی اشرف غني بی واکه بادشاه اګر چې دباګرام دلیدو اجازه یې نه درلوده خو ترامپ ته یې وویل چې امریکا ته خومې نه غواړې خیر دی دلته خودلیدو اجازه راکړه بیا چې کله باګرام ته ورغلو نو ده ځان ورته ډېر سکنی معرفي کولو او کله چې ترامپ دامریکا ولس مشر خپلو فوجیانو ته خبرې کولې اشرف غني یې تر څنګ ودریده ترامپ په ډېره بد سترګی سره ټیله کړو شاته دامریکایي عسکرو سره یې ودرولو داصحنه مونږ په تلویزون کې په خپلو سترګو لیدله قسم په الله چې تر دی مرګ ورته بهتر وو چې اشرف غني مړ شوی وای او نه دومره بي عزته چې په خپل ملک کې ورته واړول شوه تاسو داتصویرونه وګورې دهغوی عسکر هم خفه شول چې دیو رئیس جمهور سره داسې وشوه ویې وګورې اوبیا یې تعبیر کړې خو دا سیاسي غلامي ده  الله دی ورکه کړي چې نوم به دی رئیس جمهور وي اونور به غلام وی




اشرف غني دترامپ ترڅنګ ولاړوو کله چې ترامپ  متوجه شوشاته یې دعسکرو په طرف ډکه کړو

د امریکا ولسمشران (جورج ډبلیو بوش ( ۲۰۰۶م )، بارک اوباما ( ۲۰۱۴م )او ډونلډ ټرمپ (۲۰۱۹م ) د خپلو واکمنیو پرمهال بګرام هوایي اډې ته راغلي وه.




افغانستان کې د جګړې په تودېدو بګرام زندان کې د امریکایي ځواکونو لخوا د نیول شویو بندیانو شمېر هم ډېر شوی چې دا اډه د (افغانستان ګوانتانامو) وبلل شوه چې د القاعدې شبکې غړي هم پکې ساتل کېدل او د ځینو مشکوکو بندیانو د ربړولو رپوټونه هم ورکړل شوي وو.

**دوستم ،محقق او عطا نور د طالبانو پر ضد د مقاومت ژمنه:** ک





د افغانستان دریو مهمو سیاسي او پوځي څېرو، د جنبش اسلامي ګوند مشر مارشال عبدالرشید دوستم ، د بلخ پخواني والي عطا محمد نور او دشعیه ګانو لوړپوړی مشر محقق ټینګار کړی چې تر وروستۍ شېبې به د بلخ ولایت دفاع کوي او د طالبانو د پرمختګ مخه به نیسي.
د دې دریواړو مشرانو د جمعې پر ورځ مزار ښار کې خبریالانو ته وویل، بلخ کې افغان امنیتي ځواکونه او ولسي پاڅونوال چمتو دي چې د طالبانو پر ضد ودرېږي.دوی دا څرګندونې مزار ښار کې تر یوې مهمې ناستې وروسته وکړې.په دې ناسته کې پرېکړه شوې چې عطا محمد نور به د طالبانو پر ضد د مقاومت مشري او مارشال عبدالرشید دوستم به یې څارنه کوي.
غونډه کې همدا راز پرېکړه شوې چې مزار ښار کې د ولایت مقام به د دې مقاومت د قوماندې مرکز وي.
مارشال دوستم ادعا وکړه چې شاوخوا ۲۵۰۰ تجربه لرونکي کسان یې د طالبانو پر وړاندې مقاومت لپاره چمتو کړي او ډېر ژر به وضعیت بدل شي.
د بلخ پخواني والي عطا محمد نور خبریالانو ته وویل، د جمعې پر ورځ مزار ښار کې د افغان امنیتي ادارو او د سیاسي ګوندونو استازو په یوه ګډه غونډه کې ژمنه وکړه چې د طالبانو د پرمختګونو پر وړاندې بهدرېږي.عېه ورته مهال د افغان ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح پر خپله ټوېټر پاڼه لیکلي، د جمعې پر ورځ کابل کې د ولسمشر محمد اشرف غني په مشرۍ د ملي امنیت جلسه کې پرېکړه وشوه چې د طالبانو پر ضد به درېږي او ملي مقاومت به پیاوړی کوي.دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان یو بل جهادي مشر تورن اسماعیل خان د جمعې پر ورځ له خپلو یو شمېر پلویانو او د هرات ځینو چارواکو سره ځان طالبانو ته وسپاره. طالبانو ویلي، د اسماعیل خان په ګډون دوی ته ور تسلیم شوي ټول دولتي چارواکي خوندي دي او ښه چلن ورسره کیږي.دې ډلې د هرات، کندهار او ځینو نورو مهمو ولایتونو له نیولو وروسته پر افغان چارواکو او امنیتي کسان غږ کړی چې له جګړې ډډه وکړي او وسله کیږدي.طالبانو په تېرو ۴۸ ساعتونو کې په ګڼو ولایتونو کې چټک پرمختګ کړی او دا مهال پر نږدې شلو ولایتي مرکزونو د ولکې ادعا کوي

## د اشغال پاتې شوني د نامعلوم برخلیک پر لور:

وایي چې "ازموده را ازمودن خطا است" او (یو ظالم له بل نه عبرت نه اخلي)، د حقایقو پر بنسټ، د خپل شل کلن نیواک پر مهال دامریکایانو د بې شمیره اشتباهاتو او جنایتونو څخه یو دا هم و چې د روسي اشغال بدنام او خونړي پاتې شوني یې د خپلو نوکرانو سره یو ځای پر افغانانو د اوسپنې او اور پر مټ وروتپل. هغوی چې پرون د روسانو د اشغال پر مهال د خپلو شخصي ګټو، واک او ځواک تږي وو. له امریکایي نیواک څخه یې د دوهم چانس په توګه په پوره مکارۍ سره کار واخیست. له سمڅو راووتل، له غرونو راښکته شول، له کولاب نه راپورې وتل، او د هیواد په شمال، مرکز او پلازمینه کې یې د پردیو د چوپړ په بدل کې د مظلومو افغانانو د وینو په قیمت د داسې واک، ځواک او شتمنیو څښتنان شول چې چا یې تصور هم نه شو کولی. د خارجیانو د وتلو سره سم دوی هغه مهال د غفلت له خوارړه خوب څخه راویښ شول چې د مزدورې ادارې په استازیتوب د اشرف غني په مشرۍ امریکا ته تللی هیئت ددوی د هیلو بر عکس ناهیلی راستون شو. دغه هیئت هلته ډیرې پراخه کتنې درلودې. د جوبایډن سره تر کتنې مخکې ددغه هیواد د دفاع له وزیر، د ملي امنیت شورا له سلاکار، د کانګریس له ښځینه مشرې، په افغانستان کې د پخوانیو امریکایي سفیرانو او همدارنګه نورو لوړ رتبه امریکایي مامورینو سره لیده کاته وکړل.



دعکس تشریح: دښي طرف نه ۲ـ ولي محمد احمدزی ۵ـ عبدالستار میرزکوال ۶ ـ حلیمي وزیر حج واوقاف ۸ ـ بسم الله محمدي وزیر دفاع ۱۱ـ حمدالله محب مشاور امنیت ملي تر شا یې یونس قانوني۱۳ـ عمر داود زی ۱۴ ـ سرور دانش شیعیه معاون دوم رئیس جمهور۱۵ـ ګل اغا شیرزی۱۶ـ معصوم ستانکزی ۱۷ ـ اشرف غني ۲۱ ـ عبدالله عبدالله ۲۵ـ سیاف ۲۳مسلم یار ۲۶ جلالي ۲۸ ـ نورالرحمن رحماني دپارلمان رئیس ۳۲ ـ کریم خلیلي شیعیه ۳۳ـ وحید عمر ۳۸ـ محقق شیعیه ۱۷ ـ ۴۵ ـ تادین خان دجنرال رازق ورور






د کابل اداري هيئت تمه دا وه چې له امریکا څخه به د یادې ادارې د فوځي ځواک لپاره دهوايي ملاتړ، پر پاکستان د فشار، د سولې خبرو ته د طالبانو د حاضرولو، اوربند او داسې نورو حساسو مسایلو په اړه ضمانتونه تر لاسه کړي. همدارنګه هيئت هیله مند و چې که طالبان په زور د افغانستان ښارونه نیسي نو امریکا باید داسې غبرګون وښایي چې دا کار د امریکا او طالبانو تر مینځ د قطر (دوحې) د تړون دنقض په معنی تلقي شي . او نړیواله ټولنه پرې طالبان مجازات کړي.

خو له بده مرغه چې هيئت دا هیڅ هم تر لاسه نه کړل او ناهیلی تش لاسونه بیرته کابل ته راستون شو. کابل ته تر ستیندو وروسته اشرف غني او د هيئت ګډونوالو د رسنیو له لارې د خپلې ناهیلی د پټولو لپاره دغه ناکام سفر ګټور وباله چې ګواکې دوی په سپینه مانۍ کې د جوبایډن په څیر یو ښه ملګری لري. ۳,۳ ملیارده ډالر مرسته به ورته تصویب کړي. خو دغه مرسته جوبایډن د خپلې طرحې په توګه د هيئت له سفر څخه میاشت مخکې کانګریس ته پیشنهاد کړې وه.

د ډیپلوماتیک دود له مخې باید تر ناستې وروسته دواړه ولس مشران یو ځای خبري ناستې ته راغلي وای او په شریکه یې د یوبل ترڅنګ د خپلې ناستې جزئیات حاضرینو او نړیوالو ته په ډاګه کړي وای، او د خبریالانو پوښتنو ته یې ځوابونه ویلي وای. مګر جوبایډن دا کار ونه کړ. غني مجبور شو چې د خپل سفر د ناکامی د پټولو لپاره د واشنګټن د ولیج په هوټل کې یو طرفه خبرې ناستې ته ویناوکړي، او یوازې له ده سره د تللي هيئت له غړو مننه وکړي.

امریکا له هیڅ کومې استثناء پرته لا تر اوسه په خپل تاریخ کې داسې بیلګه نه لري چې له غلامانو سره دې یې وفا کړې وي. دغه استعمارګر هیواد چې د ایران له رضا شاه پهلوي سره وفا ونه کړه نو له هیچا سره یې هم نه کوي. عطا محمد نور له بي بي سي سره په یوه تازه مرکه کې له ژړا او فریاده ډک حواس بایللي ځوابونه ورکړل، لکه چې وایي: "مونږ نړیوالې ټولنې یوازې پریښودو، د افغانستان ستونزه نظامي حل نه لري، که د طالبانو له خوا پر مونږ جګړه وتپل شي نو د لومړني مقاومت په څیر د دوهم مقاومت پیلولو ته هم پوره چمتووالی لرو، تر څو د هیوادوالو د ځان، مال او ناموس نه دفاع وکړو"

حيرانونکي خو داده چې له اشغالګرانو دا ګيله چې ولې يې نن مونږ يوائې پريښودو؟ دوی بايد له مونږ سره په همغږۍ وتلي وای. په دې حقيقت يو څرګند اعتراف دی چې دوی له يوې خوا ځانونه د نيواکګرو پاتې شوني او له بله پلوه ورسره ددوو لسيزو په جنايتونو کې ځانونه شريک بولي، ټول پوهيږي چې نيواکګرو او ددوی داخلي نوکرانو تل په داسې يو نظامي حل ټينګار کاوه، چې د ترحم، عاطفې او بشريت په نوم يې هيڅ هم نه پيژندل. د هغه مهال خبره ده، چې د روژې په مياشت کې هم بايد جګړه ونه درول شي او دا کار د امريکا پخواني ولس مشر بوش د ثواب کار باله. خو اوس پوښتنه داده چې د اشغال په تيرو دوو لسيزو کې جوماتونه، مدرسې، ودونه، جنازې او داسې نور عامه تم ځايونه بمبارول، شپنې چاپې او د داسې نورو ډلوژنو پيښنو پر مهال يې ولې په سوله ايز حل ټينګار نه کاوه، هغه مهال يې ولې خپلو ښځو ته وسلې په لاس کې ورنه کړې تر څو بهرنۍ دښمن له هيواد څخه وشړل شي؟ دا ځکه چې هغه مهال ددوی شخصي ګټې د اشغال په سيوري کې خوندي وې.

که د عطامحمدنور سره يې خپله حافظه خيانت ونه کړي او د اشغال لومړنۍ يوويشت ورځې يې په



ياد وي کله چې دښمن يوازې هوايي بمبار کاوه او دوی يې د ځمکني فوځ دنده ترسره کوله ، بالآخره ددوی لومړنی مقاومت د ((B٥٢ جنګي الوتکو پر مټ ددوی له خوښې سره سم د بريا تر بريده ورسيد. خو نن چې د دوهم مقاومت خبره کوي دا به بيا د کوم بهرني اشغالګر په راتګ او د يوې بلې نيابتي جګړې پر مټ بريا ته رسوي؟. کله يې چې په (بن) کې يو طرفه ناستې درلودې آيا هغه مهال يې هم فکر کړی و چې طالب هم ددې خاورې بچی دی چې بايد په ګډه ورسره د هيواد د راتلونکي په باب يوې شريکې حل لارې ته ورسيږي؟

د اشغال پاتې شوني هر يو يې له رسنيو سره په مرکو کې په ډيرې وارخطايۍ سره داسې د غم مرثيې زمزمه کوي چې شيعه ګانو به د محرم په مياشتو کې هم نه وي زمزمه کړي او په يو بې نوم حسين (چې د منصب، شهرت او شخصي ګټو څخه عبارت دي) اوښکې تويوي. دوی له ملت نه ويريږي، او د بيولوژيکي ميکروبونو په څير يې تل په خوسا ډنډونو کې رشد او وده کړې او کوي يې ، آزاده روغتيايي او سالمه فضا کې بيا له مينځه ځي، له همدې امله غلامۍ ته په ازادۍ ترجيح ورکوي.

ددوی لپاره به د خلاصون ښه لاره دا وي چې خپلې پتمنې خويندې او لوڼې سرتورې نه کړي، هغوی ته وسلې په لاس ورنه کړي، او په دې کار سره د نړيوال استکبار د عاطفې او شفقت د توجه د راجلبولو ناکامه هڅه ونه کړي ځکه نور نو دښمن هم پرې باور نه کوي. دوست او دښمن ته يې بزدلي او ځان غوښتنه معلومه ده، بې ځايه يې د تمساح اوښکو تويولو ته اړتيا نشته.



طالبان ډير مهربانه خلک دي، دوی چې پرون له هغوی سره به دښت ليلي او قلعه جنګي کې څه وکړل، هغوی د دا ډول غچ اخيستنې اراده نه لري البته د جنايتکار او بې ګناه په تفکيک سره به محاسبه کوي. هغوی به ورسره د مکې د فتح په رسم عمل کوي (اذهبوا فأنتم الطلقاء) خو که خپل لجاجت ته د پای ټکی کيښږدي، ښايي محاسبه يې د دوه چنده پر ځای درې چنده (د روسي اشغال جنايتونه+د امريکايي اشغال جنايتونه+د يوې بلې نيابتي جګړې خوبونه) شي. پاتې شوه د ملت له

**ناموس نه د دفاع خبره، هغه ازموینه خو دوی لا پخوا د خپلې پرونی نویمې لسیزې د حکومتدارۍ پر مهال ورکړې ده.**
**کله چې دوی پر کابل واکمن وو، پتمنو پیغلو د خپل ناموس د حفاظت په خاطر د تعمیرونو له سرونو ځانونه راوغورځول، رقص مرده ، د ملت د پاک لمنو میرمنو سینې پرې کول، او په لویو لارو کې د ماشوم د زیږون وحشیانه کړنې ننداریې ته وړاندې کړې، خو نن چې ورسره د ملت د محاسبې وخت راغی نو د خپل نامعلوم برخلیک په څلور لارې کې ولاړ د خپلو شخصي ګټو له لاسه د وتلو په غم کې مرثیې لولي. خو دا د طبیعت قانون دی چې هر ظالم به یوه ورځ د محاسبې میز ته ورتلونکی وي. هغه ورځ لیرې نه ده چې دا ډول جنایتکاران او د پروني او اوسني اشغال پاتې شوني د خپلو اعمالو حساب ورکړي** ( نشرونکی :عبد الرحمن : جولای ۱۱, ۲۰۲۱= ۱۴۰۰/۴/۱۱ هـ ش (کابل تکی کام)استاد دلاور خان سیلاب ) .

# امریکا او ناتو اخر هم ناکام شوه

**تاریخ ثابته کړې کله چې زمونږ دقهرمانومجاهدینو وطن ته غاصبین ، وحشیان ، ادم خواره ،فرعونیان ، انسان وژونکي دخپلو ټولو نظامي تاژ باخت سره په ډیر غرور او تکبر راغلي دڅه مودې په تیریدو سره ځینې یې همدلته لکه خرو غوندې مردارشوي او پاتې بیا لکه ګیدړان سرتیټي اوسرکوزي مخ توري له دی وطنه تښتیدلي په دی وخت کې هغه منافقین چې دوی ته یې دخپل وطن دورانولو لارې کوڅې ښودلې وی هغوی خپلو بادارانو ته په ژړا سر شي چې تاسو اوځی مونږ چاته پرېږدې غاصبینو چې دتیښتې موزې اغوستې وي شاته ددوی ژړاګاني واوري نو ددرواغو وعدې ورکوي چې نه مونږ کله وځو تاسو مه وارخطا کیږي په نیمه نیمه یې پوهوي چې زمونږ وتل حتمي دي خپله چاره وکړې خو داخلي برېښې بیا هم په خبره نه پوهیږي او هغوی هم له دی مجبوریته سره له دی چې دا ډار ورسره وي که دوتلو ټولې لارې بندې شي څه به کوو بیاهم دسولې په نامه افغان مجاهد قوم ته دراګیرولو دامونه په مختلفو اشکالو دطرحو په نامه وړاندې راوړاندې کوي افغان مجاهد ملت چې په زړه کې صادقه دي هیچا ته دغلطۍ اراده نلري فکر وکړي چې دوی به رښتیا وایي بیا یې راګیر کړي څه چې لاس ته راوړي وي هغه ټول یې له خولې وباسي واک او اختیار تش په نامه افغان او تش په نامه مسلمان ته حواله کړي .**

**۱ ــ** **که تیر تاریخ ته وګورو کله چې انګریزانو شکست وخوړ نور یې دلته دپاتې کیدو چانسونه ختم شول نو دخپلو منافقینو افغاني انډیوالانو او جیره خوارانو په ذریعه یې هلې ځلې شروع کړې ترڅو ملت دڅو کسانو دزعامت په سر سره پخپلو کې واچوي او بالاخره کوم چې دوی ته مطلوب وي هغه ورباندې مقرر کړي چې هلته هم همداسې وشول امیر عبدالرحمن خان ته چې دواک وړی تږی انسان وه زمینه برابره کړه او واک ته یې ورساوه او هغه اهداف چې دوی غوښتل دده له طریقه تر لاسه کړه چې دهغوی له جملې یوه هم دډیورنډ منحوسه او دپښتنو قوم ددوه ځایه تقسیمولو او ددوو ملکونو په منځ کې د سل کالو لپاره یوه متنازعه موضوع مینځ کې واچوله چې ددی فاجعې اضرار تر نن پورې دوام لري .**

**۲ ــ** **کله چې شورویانو په افغانستان کې شکست وخوړه او نور یې غوښتل پښې سپکې کړي ډاکټر نجیب ته یې رمز کې ویل چې مونږ نور ځو خو هغه په نیمه نه پوهیده او زارۍ یې ورته کولې چې مه ځې خو هغوی نور داسې وهم وهلي وه چې نور یې په افغانستان کې طاقت نه کیده او هلته ورته په کور دننه ډیر مشکلات پیدا شول چې بالاخره دسولې نغارې یې شروع کړې دژنیو تړون یې جوړ کړو چې دمجاهدینو هیڅوک پکې نه وه شامل شاوخوا ملکونه راجمع شول یو مبهم او عبوري حکومت یې جوړ کړو مجاهدین یې خپلو کې سره واچول تردی چې افغانستان یې تبا او برباد کړو دمجاهدینوله اتلانو څخه یې ګیدړان او له ګیدړانو څخه یې اتلان جوړ کړه .**

اوس چې امریکا دشل کالو جنګ او کمپیوترایز وسلو ، شپې دوربینونو ،ډرون طیارو ، بي ۵۲ ډوله جټ طیارو ، کروز مزایلو ، سلفري او اتومي یا یورانیمي بمونو حتی دبمونو له مور او پلار څخه یې په کار اخستو بیا هم شکست خوړلی نور دتیښتي په حالت کې دي غلامان او داخلي منافقین ، سګشویان، دیموکراتان او سکولران ورته ژاړي زاري ورته کوي چې مه ځې.








فوزیه کوفي دبدخشان ولایت نه دپارلمان غړې او دطالبانو سره دخبرو مرکچې پلاوي عضوه یوځل په ۱۳۹۹/۳/۲۲ هـ ش تاریخ وویل : (خروج نیروهای امریکا از افغانستان پیش از وقت است ) بل ځل په ۱۴۰۰/۱/۱۰هـ ش وایي امریکا دی زمونږ شرایطو ته په کتو له وخته مخکې و نه واوځي او که اوځي نو مونږ چاته پریږدي

دسنا مجلس رئیس مسلمیار وویل : تو او خدای چې اندیوالي همداسي وي چې مونږ په نیمایي لار کې پریږدې.

عزیزالله ستانکزي په یوه تلویزوني مرکه کې وویل : دا هیڅ امکان نلري چې امریکا دی له افغانستانه ووځي زه ټول ملت ته داډ ورکوم چې امریکا دځو شپو ورځو لپاره نده راغلې .




وحید فقیري سیاسي تحلیلګر دامریکا څخه داریانانیوز تلویزون نسرین شیرزاد سره په ۱۴۰۰/۵/۲هـ ش تاریخ ژوندی مرکه درلوده هغه وویل : چې دامریکا رئیس جمهور دا څوم ځل دی چې واي : ما څوځو ځله اشرف غني ته وویل مونږ له افغانستان څخه اوځو زه حیران یم چې دوی زما په خبره څنګه نه پوهیږي اوکه باور پرې نه لري ؟ ،
فقیري صاحب داهم وویل زه ژوندی شاهد یم چې دا سناریو ډاکتر نجیب الله احمدزي هم تکراروله او دروسانو په خبره یې ځان نه پوهولو اخر څه پرې وشول دادی اوس یې اشرف غني احمدزی هم تکراروي ګورو به چې څه کیږي اود دواړو په ملت زړه نه خوږیږي پردي بچي دی وژل کیږي



اشرف غني احمدزی هم پخپل نوبت دیو هیئت په مشرۍ دهمدې مطلب لپاره امریکا ته لاړه که امریکایان له خپلې پریکړې په شا شي سوال زاری یې ورته وکړې خو هغوی خپله بستره نوره ترلې اودتیښتي موزې یې اغوستي وی

افغان ولسمشر محمد اشرف غني د جمعې پر ورځ واشنګټن کې له خپل امریکایي سیال سره سپینه ماڼۍ کې وکتل. دواړه مشران افغانستان کې پر روان وضعیت، د افغان سولې بهیر او د دواړو هیوادونو پر خپلمنځي اړیکو غږېدلي دي.(۴چنګابن ۱۴۰۰ - ۲۵ جون ۲۰۲۱)
امریکایي ولسمشر جو بایډن سپینه ماڼۍ کې ورتولو خبریالانو ته وویل، افغانان به خپل برخلیک پخپله ټاکي، خو امریکا به یې ترڅنګ ولاړه وي.
د سپینې ماڼۍ د جمعې ورځې خبرپاڼه کې راغلي، چې امریکا په ۲۰۰۲ کال کې د افغان نجونو او ښځو د ملاتړ د ۷۸۷ میلیون ډالر، د ۳۶ میلیون ډالر د نا پوځي او نژدې ۳,۹ میلیارد بشردوستانه مرستو په ګډون له افغانستان سره نژدې ۸۸ میلیارد ډالره مرسته کړې ده.



دامریکا رئیس جمهور جوبایدن په ۱۴۰۰/۵/۲۰هـ ش تاریخ په طلوع نیوزاو اریانا نیوز تلویزوني خپرونو کې یو ځل بیا تکرار کړه چې زه په خپله پریکړه چې له افغانستانه به خپل فوځونه وباسو پښېمانه نه یم مونږ حتماً وځو افغانستان ساتنه دافغانانو کار دی نه زمونږ بس دی مونږ یو تریلیون ډالر(۱۰۰۰ملیارده ) مصرف وکړ او ۳۵۰۰۰۰ دری لکه پنځوس زره ملي اردو مو ورته تربیه کړه او په زرګونو(۲۴۰۰۸۸) دوه لکه څلویښت زره اتاتیا خپل عسکرمو عراق او افغانستان کې قرباني کړه او ۲۰ زره زخمیان شول او دری نیم لکه په رواني ناروغی اخته شوه ولسمشر غني د امریکا دفاع وزیر لوید استین ، د ملي امنیت سلاکار جک سالیون او د امریکا د استازو جرګې له مشرې نانسي

پلوسي او یو شمیر نورو چارواکو او سناتورانو سره وکتل چې زاریو یې هیڅ فایده ورنکړه .امریکا تک تنها له طالبانو سره په دوحه کې تړون وکړ معاهده له دواړو طرفونو امریکا او طالبانو لخوا امضاء شوه سره له دی چې امریکایانو دخلیل زاد په مشری اتلس میاشتې له طالبانو سره ډغرې ووهلې تر څو خپل دلاس نیالګي او ایجنټان دحکومت په چوکاټ کې رسماً نصب کړي خو وسع یې ونشوه او بالاخره پخپل سر دتلو پریکړه یې وکړه

**امریکایي سناتورانو څه وویل:** امریکایي سناتورانو د بایډن پر اداري غږ کړی چې له خپلې پریکړې په شاه نه شي چې پرون ناوخته غني او بایډن ملاقات وکړ او ویل کیدل چې ممکن غني ترې د ځواکونو ایستلو لړۍ د ځنډولو غوښتنه وکړي.

**چې بالاخره دامریکا او ناتو ۵۱ ملکونو دوتلو لړۍ شروع شوه هلمند کې د »انتونیک« پوځي اډې څخه امریکایي ځواکونه ووتل:** (یکشنبه، ۱۲ غوايي، ۱۴۰۰ل)(مئ اوله۲۰۲۱م):








**امریکایي ځواکونو نن د هلمند ولایت په واشیر ولسوالۍ کې د «انتونیک» په نوم پوځي اډه تخلیه کړه د بنورابک(انتونیک) پوځي اډه چې ستر هوايي ډګر هم لري د افغانستان په سویل کې د بهرنیو ځواکونو تر ټولو دریمه درجه ستره پوځي اډه بلل کیږي، چې یو وخت په کې لسګونو زره بهرني پوځیان او د هغوی قراردادیان میشت وو.**






**د شنبې په ورځ(مئ اوله۲۰۲۱م) افغانستان څخه د پاتې بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر رسما پیل شو او ټاکل شوې ده چې راتلونکو درې میاشتو کې زرګونه بهرني عسکر له افغانستان څخه ووځي د امریکا مرکزي قومنداني وايي، تر دې دمه ۳۰۰ الوتکې له نظامي توکو ډکې له افغانستانه وتلې دي او دیارلس زره قطعې تجهیزات د تخریب لپاره لوژستیک ځانګې ته لیږل شوي دي.د سینټکام د اعلامیې په بنسټ، شپږ امنیتي مرکزونه هم د کابل حکومت دفاع وزارت ته سپارل شوي.**



**له باګرام هوايي اډې هم امریکایان ووتل :** دباګرام هوايي اډه په ۱۹۵۰ م کال چې دظاهرشاه

**بادشاهي وه دامریکایانو لخوا جوړ شواو په ۱۹۸۰م کال دروسانو لخوا داشغال په وخت کې هغوي تر استعمال لاندې ونیوچې لس کاله هغوي ترې ټول افغانستان تر بمبارد لاندې ونیوه چې په لکونو خرواري بمونه له همدې میدانه دافغانستان په هرکلي او بانده استعمال شوه یونیم میلون افغانان شهیدان شول چې بیا په ۱۳۷۱ هـ ش کال دمجاهدینو لاس ته پریوته ۱۳۸۰ هـ ش کال یا ۲۰۰۱م تاریخ چې کله امریکایانو افغانستان اشغال کړو او دطالبانو حکومت یې له منځه یوړو نو له همدې هوایې هډې پر ټول افغانستان یې بمبارد شروع کړو پوره شل کاله په لکونو خرواري بمونه**

**دافغانستان په لویشت لویشت د افغانانو په خلاف استعمال کړه دبگرام هوايي اډه دا وخت دپخوا پرتله پنځه برابره پراخه شوې وه .**







**نږدې شل کاله وړاندې امریکا او متحدینو یې په ډېر غرور پرافغانستان یرغل وکړ، لسګونه زره عسکر، ډولډول پرمختللې وسلې، بې شمېره جنګي وسایط او خورا پرمخ تللې بم غورځوونکې**

الوتکې يې ځای پرځای کړې. د پلازمينې کابل په شمال پروان ولايت کې يې د باګرام ستراتيژيکه ستره پوځي اډه په نړيوالو معيارونو جوړه او له مخکې پنځه برابره پراخه کړه.



د بګرام پوځي اډې نوی افغان قومندان وايي، امريکايي پوځيان د شپې په تياره کې، او افغان لوري ته له خبر ورکولو پرته، له دې اډې ووتل.جنرال اسدالله کوهستاني بي بي سي ته وويل، امريکايان د جمعې د سهار پر ۳ بجو ۱۴۰۰/۴/۱۱ هـ ش له اډې وتلي وو، خو افغان لورى څو ساعته وروسته د دوی له وتلو خبر شو.




ياده دې وي چې په بګرام پوځي اډه کې يو زندان هم شته او د رپوټونو له مخې شاوخوا ۵ زره طالب بنديان پکې ساتل کېږي.



جنرال کوهستانی وايي، اټکل يې دا دی چې طالبان به پر بګرام اډې هم برید وکړي.
نوموړي بګرام کې خبرياالنو ته وويل، وار د مخه يې داسې رپوټونه ترلاسه کړي چې طالبانو بګرام ته نژدې سيمو کې پرمختګونه کړي.
د هغه په خبره، افغان پوځ د امریکایانو په څېر تجهیزات نه لري، خو هڅه به کوي چې د خپلو خلکو امنیت خوندي کړي. بل لور ته افغانستان کې د امریکايي پوځ ویاند ډګروال سوني لېګېټ وايي، افغانستان کې له بېلابېلو پوځي اډو د امریکايي پوځ د وتلو په اړه يې له افغان مشرانو سره سلا مشوره کړې او هغوی ته يې حال ورکړی و.




افغان ملت، چې په تاریخ کې يې هيڅ ځواک ته سر نه دی ټيټ کړی، د امریکا او متحدينو پر وړاندې يې نا اندوله او له عقل پورته مبارزه پيل کړه. اشغالګرو سره يې ځواک د هيڅ راز پرتلې وړ نه و. د طالبانو په مشرۍ افغان ملت په تش لاس خو د الله د مرستې په امید او کلکې ارادې دغې خارق العاده مبارزې ته ورودانګل، د شلو کلونو پرلپسې سختې مبارزې وروسته يې د الله تعالی په مرسته او د بې سارې قربانيو په برکت اشغالګر اړ کړل، چې ټيټ سر له افغانستان څخه ووځي.





دبګرام په هوايي اډه کې امریکایانو له دو څرخه الوتکو څرخونه لرې کړي او په نورو غټو الوتکو کې يې امریکا او نورو ملکونو ته انتقال کړی
















**امریکایان د شپې په تیاره کې او له حال ورکولو پرته له بګرام اډې ووتل**
**تاریخ۱۴۴۲/۱۱/۲۲هـ ق =۱۴۰۰/۴/۱۱هـ ش = ۲/۷/۲۰۲۱م**





افغان پوځي بګرام کې له امریکایانو پاتې شوي وسایل ګوري
له افغانستان د بهرنیو پوځیانو وتلو سره هم مهاله طالبانو په وروستیو اوونیو کې ګنو سیمو کې پرمختګ وکړو او ادعا کوي چې شاوخوا ۱۵۰ ولسوالۍ یې نیولې دي.
پخپله بګرام اډه کې یو مهال لسګونه زره بهرني پوځیان مېشت وو، خو اوس یوازې ۳ زره افغان پوځیانو ته پاتې شوه. شنونکي په دې باور دي چې افغان پوځیان د بهرنیو هغو په څېر تجهیزات هم نه لري او ښایي له طالبانو سره جګړه او د بګرام اډې ساتلو کې له ستونزو سره مخ شي. د افغانستان په شمال کې هم د وروستیو جګړو پر مهال له زرو ډېر افغان پوځیان تاجکستان ته تښتېدلي.بګرام پوځي اډه تېرو څو لسیزو کې د افغان جګړې پر مهال بیا بیا لاس په لاس شوې ده.
نن ټکی اسیا : (سه شنبه، ۱۵ چنګاښ، ۱۴۰۰ل = جولای ۶, ۲۰۲۱) لیکلي: د امریکایي پوځ مرکزي قومنداني «سینټکام» وایي، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو لړۍ نوي سلنه بشپړه شوې.
اود امریکا د ولسمشر له امر سره سم په منظم ډول له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو لړۍ روانه ده او په همدې لړ کې ۹۸۴ الوتکې په نظامي توکو بار له افغانستانه ایستل شوې او ۱۷۰۷۴ قطعې توکي بیا د تخریبولو په موخه د امریکایي پوځ لوژستیک ته سپارل شوي.




پرون د افغانستان د زندانونو چارو د سمون اداري وویل، د بګرام زندان اود افغانستان د ټولو زندانونو د مدیریت مسؤولیت د زندانونو چارو د سمون له اداري سره دی خو اوس‌مهال بګرام یوازینی زندان دی چې مدیریت یې له ملي دفاع وزارت سره دی.





عکس سرچینه، ACAA.GOV.AF
د افغانستان دولت ته له امریکایي ځواکونو د بګرام زندان د مسؤولیت د سپارل کیدو پر مهال د ۳ زرو او ۸۵ بندیانو د ساتلو مسؤلیت د افغانستان د دولت په غاړه وو او یوازې ۶۰۰ افغان بندیان او پنځوس بندیان چې د نورو هیوادونو وګړي وو لا هم دامریکا مسؤلیت پاتې شوی و.
د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي په ۲۰۱۴ کال کې پر امریکا سخته نیوکه کړې وه او بګرام بند یې د طالب جوړولو کارخانه بللې وه.
ښاغلي کرزي هغه مهال وویلي وو: "د هغو معلوماتو له مخې چې زه یې لرم، بګرام د طالب جوړولو کارخانه ده. بګرام داسې ځای دی چې هلته بیګناه وګړي ور وړل کیږي او له هغوی ته له خپلې خاورې او خپل دولته کرکه ورسپارل کیږي... د توهین او شکنجې له لارې. بګرام داسې ځای دی چې د افغانستان بیګناه خلک هلته اچول کیږي او له هغه ځایه د خپل هیواد پر ضد لمسول کیږي." بګرام هوایي اډه افغانستان کې د امریکایي پوځیانو تر ټولو لویه اډه وه

هغه ویلي وو چې په ۲۰۰۸م کال کې افغانستان ته د امریکا د سنا د یوه پلاوي د سفر په جریان کې د دغې جرګې یوه غړي هغه ته ویلي وو: موږ که پر چا لږ شک هم ولرو نو بندي کوو یې. ما وویل چې دا داسې کار دی چې شورویانو په افغانستان کې وکړ او په افغانستان کې د سترې بلوا او بغاوت او جهاد لامل شو. ویل یې نه موږ ستر بنسټونه رغوو او ستاسو د خاورې ډېر خلک بندیانوو. ما وویل چې نه پرېږدم چې تاسو دا کار وکړئ. ویل یې: ته یو کس یې نشې کولی چې زموږ مخه ونیسې."

خو په دې وروستیو کې د امریکا ولسمشر جو بایډن د افغانستان په اړه له بیا بیا پوښتنو وروسته له خبریالانو وغوښتل چې د منفي پوښتنو پر ځای د خوشاله موضوعاتو په اړه ترې وپوښتي.

## امریکایانو کابل هوایي ډګر کې د CIAدفتر په بمونوواولوزولو

امریکایي رسنیو خبر ورکړی، چې امریکایي ځواکونو په کابل کې د سي ای اې د څارګرې اداري دفتر او ټول تجهیزات په بمونو الوزولي.د واشنګټن ایکزماینر د معلوماتو له مخې امریکایي ځواکونو د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د ترهګریزو فعالیتونو د څارنې لپاره د سي ای اې څارګرې اداري یو مجهز مرکز او ټول تجهیزات له منځه وړي دي





.واشنګټن ایکزماینر نشریې د پنټاګون د چارواکو په حواله ویلي، چې دا مرکز یې ځکه له منځه وړی، چې طالبان یې استخباراتي معلوماتو ته لاسرسی پیدا نه کړي.په ورته مهال داسې راپورونه هم خپاره شوي چې امریکایي ځواکونو د وړمې ورځې په چاودنو کې د اتلس میلیونه ډالرو په ارزښت د هوایي ډګر ګڼ شمېرتاسیسات هم له منځه وړي دي.کابل ټکی کام (شنبه ۱۴۰۰ال(۲۰۲۱ )

## امریکا خپل ډیپلوماټان او د سفارت مامورین له کابله وباسي: وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې

لیکلي، د امریکا حکومت په کابل کې د خپلو ډیپلوماټانو او د سفارت نورو مامورینو د ویستلو پر بېړني پلان کار کوي د ورځپاڼې په وینا امریکایي چارواکي په دې باور دي، چې د کابل حکومت د طالبانو د بریدونو او پرمختګ مخه نه شي نیولی دا رپوټ وروسته تر هغه خپورشوی، چې امریکایي او ناټو ځواکونه وړمه شپه له هر ډول رسمي تشریفاتو پرته له ترټولو سترې بګرام پوځي اډې وتلي وود بګرام پوځي اډې له خالي کولو ښکاري، چې د ټولو بهرنیو پوځیانو د وتلو وخت رانږدې شوی دی.

امریکایي او ناټو ځواکونو په داسې حال کې بګرام پوځي اډه خوشې کړې، چې د هیواد په شمال، مرکزي ولایتونو او جنوب کې طالبانو بې ساري پرمختګونه کړي او په دا لنډه موده کې یې لسګونه ولسوالۍ او پوځي قرارګاوې په زور سره نیولي دي.

د امریکا دفاع وزارت «پنټاګون» ویاند جان کربي ویلي، متحده ایالتونو پرېکړه کړې، چې د اګسټ میاشت تر وروستۍ نیټې خپل ټول پوځیان له افغانستانه وباسي هغه دا هم ویلي، چې په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قومندان جنرال سکاټ میلر هم له افغانستانه تللی او په

افغانستان کې د امریکا او ناټو ځواکونو پوځي ماموریت د امریکایي ځواکونو مرکزي قومندانۍ ته سپارل شوی چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر تر بشپړېدو وروسته به په افغانستان کې د امریکا تر ټولو ډېر تمرکز د خپلو ډیپلوماټانو د امنیت په خوندیتوب، د کابل هوایي ډګر په ساتنې، د ترهګرۍ ضد ماموریت پر دوام او د افغان عسکرو پر روزنه وي.


دناتوعمومي قومندان
جنرال سکات میلر



**په بګرام کې دزندانیانو حال** (فاتح عبیدجولای ۲, ۲۰۲۱ )نن ټکی اسیا (جمعه، ۱۱چنګاښ، ۱۴۰۰ل):

تېره شپه د بګرام له میدان او نظامي اډې څخه امریکایي ځواکونه وتلي او بګرام یې داخلي عسکرو ته سپارلی دی چې د وتلو پر مهال یې د خپلو برقي وسایلو په وړلو سره په دې کرغېړن زندان کې د نورو وحشتونو او ظلمونو ترڅنګ پر مظلومو بندیانو برق او اوبه هم بندي کړي دي






داسې مهال چې امریکایي عسکر له دوو لسیزو حضور وروسته په افغانستان کې له تر ټولو ستري پوځي اډې «بګرام» څخه وتلي دي، طالبان وايي، هغوی خپل برقي وسایل له ځانه سره وړي دي او پر بندیانو یې برق او اوبه بندي کړي دي، چې له امله یې یاد زندان کې ګڼې ستونزې راپورته شوې دي. د طالبانو اړوند د بندیانو د تنظیم او خلاصون چارو کمېسیون له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې امریکایي عسکرو د برقي وسایلو په وړلو سره په زندانیانو اوبه او برېښنا بنده کړې چې له امله یې «ټول بندیان په تیمامه اودسونه کوي او هم په تشنابونو کي د کانالیزاسیون سیستم خراب شوی، چې دا د بندیانو د ناروغۍ او د ماحول د مکروبي کیدو سبب کیدلای شي.په اعلامیه کې د بشري حقونو پر بنسټونو غږ شوی چې د بندیانو د حقونو د ساتنې لپاره غږ پورته کړي او ددې تر څنګ ټینګار شوی، چې بندیان باید له بګرام څخه د څرخي پله مرکزي زندان او یا هم د اړوندو ولایتونو بند خونو ته یووړل شي.

د اعلامیې له مخې، بګرام کې د برېښنا او اوبو د سیستم د ژر رغېدو نښې نه تر سترګو کېږي؛ نو بشري بنسټونو ته ښايي، چې دې موضوع ته ځانګړې پاملرنه وکړي.بندیان داسې مهال د اوبو او برېښنا له نشتون سره مخ کېږي، چې په بګرام کې مېشت امریکایي ځواکونه تېره شپه له کومو رسمي تشریفاتو پرته له یادې پوځي اډې په بشپړ ډول ووتل او واک یې کابل حکومت ته وسپاره.په دې زندان کې زرګونه طالب او نور سیاسي بندیان شته.له لویه سره هم په نظامي اډو

کي د بندیانو ساتل د نړیوالو قوانیونو څخه ښکاره سرغړونه وه، موږ د نړۍ او په خاص ډول په افغانستان کي د بشر د حقوقو پر ادارو باندي غږ کوو چې د بندیانو په اړه نړیوال قوانین په نظر کي نیولو سره د بګرام په زندان کي ټول بندیان یا خو خپلو ولایتونو ته او یا هم مرکزي زندان پلچرخي ته را انتقال کړي ، په دې برخه کې یادې ادارې باید خپل غږ پورته کړي او خپل مسئولیت ادا کړي.
دا معلومه نه ده چې د بګرام د برق او اوبو مشکل به تر څه وخته دوام وکړي ځکه د ژر جوړیدو څرک یې نه تر سترګو کیږي، نو ځکه له اړوندو حقوقي ادارو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د بندیانو مشکل او تکلیف ته خاصه پاملرنه وکړی تر څو هغوئ ته د څښاک او اوداسه اوبه ژر تر ژره ورسیږي. والسلام
د بندیانو د تنظیم او خلاصون د چـــارو کمېسیون۲۲/۱۱/۱۴۴۲هـ ق =۱۱/۴/۱۴۰۰هـ ش = ۲/۷/۲۰۲۱م

# امریکایان د شش درک له نظامي مرکز څخه په پټه وتلي

## جولای ۳۰, ۲۰۲۱= (جمعه، ۸ زمری، ۱۴۰۰ل):



ششدرک دامریکا هغه استخباراتي اډه وه چې له دی ځایه دبې پیلوټه په ذریعه ټوله اسیا کنټرولوله
له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو په دوام وړمه شپه امریکایي ځواکونه د کابل ښار په زرغونه سیمه «شش درک» کې له خپل تر ټولو لوی نظامي مرکز څخه په پټه وتلي دي.د کابل حکومت ددفاع وزارت چارواکي که څه هم په دې اړه له څه ویلو ډډه کوي؛ خو یوې باوري سرچینې رسنیو ته ویلي، چې امریکایي او د سي آی اې ځانګړي ځواکونه وړمه شپه ناوخته د شش درک له نظامي مرکز څخه په داسې مهال وتلي چې افغان چارواکو ته یې په دې اړه هیڅ معلومات نه وو ورکړي.شش درک چې د کابل ښار زرغونه سیمې او د ارګ په څو کیلومترۍ کې موقعیت لري د امریکایي اشغال پرمهال د ګڼو امریکایي او نورو بهرنیو هیوادونو پوځي او استخباراتي مرکزونو ترڅنګ د کابل حکومت د لوړ پوړو چارواکو کورونه او استخباراتي دفترونه په کې فعال وو.
دا مهال د افغانستان په کچه د سي آی اې ترټولو ستر مرکز هم دلته فعال و، چې له دې ځای څخه یې د مرکزي آسیا او شاوخوا هیوادونو څارنه هم د جاسوسي الوتکو او وړو سپوږمکیو له لارې کوله.
دا لومړی ځل نه دی چې امریکایي ځواکونه د شپې په تیاره کې او د کابل حکومت له خبرولو پرته او پټه خپل یو لوی پوځي او استخباراتي مرکز تخلیه کوي، بلکې تردې وړاندې د بګرام، مزارشریف، هرات او کندهار هوایي اډو څخه هم امریکایي او بهرني ځواکونه د شپې په تیاره کې د کابل حکومت له خبرولو پرته تللي وو، چې دا کار د کابل حکومت او امریکایي چارواکو ترمنځ د بې باورۍ د اوج ښکارندويي کوي.

# شپېتو بار وړونکو الوتکو د امریکا پوځیان له افغانستانه انتقال کړه

**فاتح عبیدمي ۵, ۲۰۲۱نن ټکی اسیا (چهارشنبه، ۱۵ غویي، ۱۴۰۰ل):**

**له افغانستانه د امریکایي او ناټو ځواکونو د وتلو د لړۍ په دوام د امریکایي پوځ مرکزي قومندانۍ «سینټکام» وایي، شپیته بار وړونکې الوتکې چې د پوځیانو نظامي وسایل او وسایط پکې بار وو، له افغانستانه راوتلې دي**







**د امریکا د مرکزي قومندانۍ یوه تن چارواکي رسنیو ته ویلي، چې له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو د پریکړې په اساس شپېتو امریکایي بار وړونکو الوتکو، چې هره یوه یې نږدې اتلس زره فونډه بار لېږدولای شي، له افغانستانه د پوځیانو نظامي توکي را انتقال کړي او همدارنګه ۱۳۰۰ برخې توکي چې د انتقال وړ نه وو، د لوژستیک مرکز ته وړل شوي، تر څو له منځه یووړل شي.**




**له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د ایستلو د ماموریت مشر «هیډګون» ویلي، چې امریکا افغانستان کې د شته نظامي توکو یوه برخه ویجاړوي، بله یې افغان ځواکونو ته سپاري او پاتې یې له افغانستانه وباسي، چې ښایي ځیني یې اروپا ته ولېږل شي او ځیني نور یې په هغو سیمو کې چې امریکا پکې امنیتي مرکزونه لري، ځای په ځای کړل شي، تر څو د امریکایي پوځیانو اړتیاوې پوره کړي.دده له قوله، ټول هغه نظامي توکي چې ارزښت یې ټیټ او له افغانستانه د وړلو وړ نه دي، هغه په همدې هیواد کې پرېښودل کېږي.ورته مهال کابل حکومت بیا تمه لرله، چې امریکا به په افغانستان کې ازمایلي نظامي تجهیزات دولتي عسکرو ته پرېږدي.**



**نژدی شل اشغالګرو هیوادونو اوبرطانیې خپل اخري عسکر له افغانستانه په ۷/سنبلې /۱۴۰۰هـ ش =۲۸/اګست /۲۰۲۱م تاریخ وایستل او برطانیې خپل ۱۳۰۰۰ دیارلس زره افغاني جاسوسان ، ترجمانان او چاپه ماران هم له ځان سره یوړل**

**امریکا په ۱۰/سنبلې /۱۴۰۰هـ ش = ۳۱/اګست /۲۰۲۱م خپل اخري عسکر او یو لک او نولس زره داخلي جاسوسان او چاپه ماران یې له ځانه سره یوړل**




# ایا امریکایان یوازې د شلو کلونو لپاره افغانستان ته راغلي وه؟

اوس چې د امریکا او ناټو ډېر عسکر له افغانستان څخه وتلي او په نژدې راتلونکي کې به دغه بهیر بشپړ شي، پوښتنه داده چې ایا امریکایان یوازې د شلو کلونو لپاره افغانستان ته راغلي وه، چې له پوره کېدو وروسته یې د پلان له مخې وځي او دلته یې اوږد مهاله پوځي، سیاسي او اقتصادي موخې درلودې او کنه ؟

د امریکایانو تاریخ، ژورو پلانونو او افغانستان کې په اساسي ډول جوړو شویو مرکزونو ته که وکتل شي، ښکاري چې امریکا دلته د څو کلونو لپاره نه، بلکې د اوږدې مودې پوځي حضور په نیت راغلې وه. دلته یې د چین، ایران، روسیې او نورو مخ پروده هیوادونو د پرمختګ مخنیوي او خپلو ګټو د تامین په برخو کې اوږدمهالي پلانونه درلودل.

د امریکا په تاریخ کې دغې تر ټولو اوږده جګړه کې زرګونه امریکایي عسکر ووژل شول، په ټریلیونونو ډالر لګښت یې وشو، خو د افغان ملت نه ستړې کېدونکې مبارزې پرېنښودل، چې خپلو اهدافو ته ورسیږي. امریکایان په داسې حال کې له افغانستان څخه وځي، چې هیڅ لاسته راوړنه،

نه لري، نړیوال اعتبار یې د بل هر وخت په پرتله ډېر لویدلی او اقتصادي وده یې ډېره ټکنی شوې. امریکایان پوه شول، چې له دغه نه ماتېدونکي ملت څخه جګړه نه یوازې کټلی نشي، بلکې که جګړه او پوځي حضور یې دوام کوي، نړیوال اعتبار ته یې نورزیان هم رسیږي، همدا لامل دی، چې له ډېرو امیدونو او اوږدمهالو پلانونوسره راغلي اشغالګر ناکام او سرټیټي خپل پوځي حضور پای ته رسوي.

د امریکا دغه ډول وتلو د افغان ملت او نورو خلکو غبرګونونه راپارولي او دغه اقدام ډېری خلکو ستایلی او دا یې د افغان ملت د ازادۍ او خپلواکۍ لپاره ستر ګام بللی، ځینو سیاسیونو په ټولنیزو رسنیو کې له باګرام هوایي اډې څخه د امریکایانو په پټه وتل د تأسف وړ بللي او ویلي یې دي چې که چېرې امریکا د خپل یرغل په لومړیو کې فکر کړی وای او له افغانستان سره یې موضوع د مذاکراتو او تفاهم له لارې حل کړې وای، نو له یوې خوا به سلګونه زره افغانان نه وژل کېدل. او نه به هم افغانستان ته په دومره لوړه کچه اقتصادي، ودانیز او هر اړخیز زیانونه اوښتل له بلې خوا به امریکایان نړۍ ته دومره رسوا او سپک کېدل نه چې له دومره ستر ببس څخه په پټه ووځي. بلکې اوس مهال که په افغانستان کې له یوه ځواکمن نظام څخه برخمن وای دا اوسنۍ ناخوالې به بلکل نه وای او د امریکا نړیوال قوت به هم ثابت پاتې وای.د یادونې وړ ده چې افغان ملت پوره شل کاله له بګرام هوایي اډې څخه سخت وځورېده، په چاپو، ډرون بریدونو او بمباردونو کې له همدې اډې څخه کار اخیستل کېده خو دا دی بلاخره د اشغال د بشپړې خاتمې په ترڅ کې له دې وروستۍ اډې هم امریکایي ځواکونه ووتل.د امریکایي ځواکونو بیرنیو وتلو که یوه لور ته د افغانانو مثبت غبرګونونه له ځان سره لرل او دا د افغانانو په ګټه بولي، له بلې خوا د کابل حکومت د چارواکو لپاره خورا بد خبر دی چې له امله یې په یادو وګړو بد تاثیر غورځولی او دغه خلک یې د وارخطایۍ تر څنګ چور کولو ته هم هڅولي دي.

دا چې په افغانستان کې به له دې وروسته د طالبانو په لاس بشپړ شرعي نظام راځي او اسلامي حدود به جاري کیږي نو د کابل حکومت چارواکي چې لاسونه یې دافغان مظلوم ملت په وینو سره دي او په غلا، چور، فساد او غدر کې یې لوی رول لرلی دی، نو د حساب او کتاب له مېز سره مخامخ کېدونکي دي او ځانونه پړه بولي، له دې امله ده چې دغه وګړي د غربیانو تر وتلو وروسته په بېسونو کې پاتې سامان چور کوي او تېښتي.

نو ویلی شو چې د باګرام هوایي اډې ناڅاپي تخلیې د افغان ملت دخوښۍ احساسات راپارولي دي او دا یې د ملت د ازادۍ غوره ګام بللی دی خو پر کابل حکومت یې منفي اغېز کړی دی او له یوې خوا یې د یادې ادارې د پرځېدو په اړه د طالبانو روحیات نور هم قوي کړي او بلخوا دغو وګړو ته په افغان ملت کې ځانونه پردي ښکاري، ځواکونه یې تسلیمیږي او ځانونه یوازې بولي نو له دې امله اوس مهال د تېښتې هڅې کوي، تر څو د افغان ملت له محاکمې بچ پاتې شي.

## تبصیره:

دا چې په دویمه لویه اروپایي جګړه کې میلیونونه اروپایان ووژل شول او میلیونونه ورک شول، ټولو اروپایي هېوادونو د ملګرو ملتونو په نوم یوه داسې اداره رامنځته کړه چې ظاهرًا یې غوښتل، که چېرې د دوو هېوادونو تر منځ هر ډول ستونزې رامنځته کیږي نو دغه د ملګرو ملتونو په نوم اداره به یې د مذاکراتو او تفاهم له لارې حل وفصل کوي.

د ملګرو ملتونو په نوم د ادارې په رامنځته کولو کې لوی رول امریکا، بریتانیا، روسیې او نورو ابر قدرتو هېوادونو درلود خو دا چې انساني فطرت دی کله چې سړی زورور شي نو طبعًا یې په ماغزو کې غرور ټالونه وهي، پر خپلو وسائلو تکیه کوي، کمزوري ملتونه، اشخاص او انسانان ورته هیڅ هم نه ښکاري.

د دغه ډول هېوادونو له جملې څخه دغه مهال امريکا وه، چې له يوې خوا يې د سرې جګړې پواسطه حريف هېواد (روسيه) له منځه تللې او له زوره لوېدلې وه، له بلې خوا يې د نړۍ زياتره هېوادونه تر قرضونو او اقتصادي زورواکۍ لاندې وو او بل داسې قوي هېواد په نړۍ کې نه ؤ چې له امريکا سره دې ډغره ووهي.

له دې امله امريکا راميدان ته شوه او لومړی ځل يې په افغانستان کې سترګې خښې کړې، دغه مهال که څه هم امريکا په افغانستان کې د روسانو شکست مشاهده کړی او ليدلی ؤ خو د غرور نشې يې په ماغزو کې تفاهم ته ځای نه ورکاوه. طالبانو که هر څومره د تفاهم له لارې د مسائلو دحل وفصل خبرې ورته کولې، امريکا نه منله او ويل يې چې دوی يوازې د جګړې په ژبه پوهيږي.

دغه مهال د نړۍ ټول هېوادونه چې د ملګرو ملتونو هر ډول اصول يې په سر او سترګو منلي وو، يوه قطبي شوه، په ملګرو ملتونو کې ټولو امريکا ته پر افغانستان د يرغل رائيه ورکړه، ټولو هېوادونو د امريکا له وېرې طالبانو په اړه سپن هم نشو کولی او د طالبانو او افغان ملت د سرکوبولو له تصور پرته يې بل څه په ذهن کې نه ورتلل.

په ۲۰۰۱م کال پر تجهيزاتو، تخنيک، اتوم بم، ټکنالوژۍ، اقتصاد او نورو جګړه ايزو وسائلو مالامال امريکا او د امريکا له امر او جبر مجبورې ناتو پر افغانستان خپل ناروا يرغل وکړ، په لومړي سر کې چې ځينو هېوادونو د امريکا مشر جورج بش ته وويل چې: يوه لوري ته د بشري حقونو نړيواله دعوه او بل لور ته په کيوبا، باګرام او نورو زندانونو کې له طالب بنديانو سره غير انساني چلند متضاد دي، په دې اړه غور وکړئ او يوه سالمه پرېکړه وکړئ! خو دغرور پر نيلي سپور او مغرور بوش په ډېر غرور سره ورته وويل چې: په باګرام، کيوبا او نورو زندانونو کې له موږ سره بنديان طالبان د انسانيت په تعريف کې ځای نلري او نه هم د بشر په کټګورۍ کې ځايږي. ځکه نو زموږ عسکر ورسره غير انساني چلند کوي.

هغه مهال به که چېرې چا د امريکايي يرغل د ماتې تصور کاوه نو خپل ځان به يې په دې تصور ملامتاوه او دامريکا ظاهري قوت، زور، ټکنالوژۍ، اقتصاد او نورو اسبابو ته په کتو سره به يې د ماتې تصور باطل باله.

امريکا ځان له هره اړخه بسيا او پوره باله، خو په دې نه پوهېده چې جنګ په وسائلو نه بلکې په ايمان، ايډيالوژۍ او عقيده ګټل کيږي، له همدې امله دا دی پر ځان بسيا امريکا په افغانستان کې ماتې وخوړه، له طالبانو يې د وتلو فرصت وغوښت خو هغه يې هم له خپلې ناپوهۍ ضائع کړ، اوس مهال د دې پر ځای چې نړۍ ته وروپوهوي چې په افغانستان کې يې اهداف تر لاسه کړي، بلکې پټ په داسې ډول وځي چې هيڅوک هم په ځان نه خبروي، ټول عسکر يې له افغانستان څخه ووېستل، کابل حکومت يې يوازې پرېښود.د امريکايانو له وتلو سره سم دا دی طالبانو د يو سل او شپېتو په شا او خوا کې ولسوالۍ ونيولې او دهېواد اتيا فيصده برخه يې تر خپل کنټرول لاندې راوستله، په ټولو ولسواليو کې يې سوله، امن او سکون راوستی.

# امريکا او ناتو الله تعالی ووهل که طالبانو؟

کله چې مغروری امريکا اوناتو دفرعوني خدايي دعويدار د طالبانو دنسکوريدو لپاره داسامه او نړيوالو برجونو دانتقام په بهانه نړيوال مشروعيت تر لاسه کړ او په افغانستان يې حمله شروع کړه دالله ولي او فقير امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په ډيره عاجزۍ سره ورته وويل چې له خدايه وويريږئ!! افغانستان ته مه راځئ موږ غريب او فقير افغانان پريږدئ لږ ددمې ساه واخلو دشوروي په شان سوپر طاقت څخه مو هم ځان خلاص کړو او هم تاسو او که بيا راځئ نو الله پاک به دربانديې

زلزلې او طوفانونه راولي (داوينا ما په خپلو غوږونو دامير المؤمنين له خولې واوريدې: مؤلف) هماغه وه چې الله جل جلاله  په دی شلو کلونو کې په امريکا او متحدينو يې داسې سخت عذابونه راوستل چې ډير يې هلاک شول چې تر ټولو سخت عذاب دکورونا وباوه چې يواځې په امريکا کې تر دوه ميلونو زيات انسانان پکې مړه او تر دوه ديرش ميلونو زيات يې نيولی وه په دی جنګونو کې چې چا ډير سهم او فعاله ونډه اخستې وه هغوی ته الله پاک سخت عذاب ورکړو لکه برتانيا اروپايان جرمني او نورو او هند چې دمړو تعداد يې په دی وبايي مرض تر څلورنيم ميلونو هم اوښتی وو ان تر دی چې نور خلک او حکومتونه دمړو په ښخولو کې پاته راغله او خپل مړي به يې سيند ونه ته غورځول اوځينوبه په يو يو قبر کې دوه سوه دری سوه مړي اچول دهندوانو په هندو سوزان کې لرګي ختم شوه تازه ونې به يې اره کولې او مړي به يې سوځول ټوله دونيا دی عذاب په سر واخسته فقط مرګ اومير په اسلامي ملکونو کې کم وه او ټوله نړی په مياشتو مياشتو قرنطين شوه  په دی دوره دښيرا کې په امريکا تر سلو زيات طوفانونه راغلل نيمه امريکا يې له پښنو وغورځوله لوی لوی ښارونه يې غرق شوه او لوی لوی ښارونو يې اور واخسته او په زرګونو او لکونه خلک يې مړه او بې کوره شول په مليياردونه تاوانونه ورواوښتل  دهغې له جملې يو ښار دپاراډايس ( جنت فردوس) ښار وه (دجنت په شان باغونه ، جنکې او هلکان پکې وه د فحاشۍ مرکز وو )چې مکمل ختم شو











په ۹/سنبلې /۱۴۰۰هـ ش تاريخ چې دافغانستان دامريکايي اشغال څخه دازادی له ورځې سره سمون خوري ويريجنيا ايالت باندې داسې طوفان راغی چې په تيرو شپيتو کلونو کې يې ساری نه وو ليدل شوی په يو مخ ښارونه يې ختم شوهماغه وه چې نور په ځان پوه شوه چې ټول غرق کيږو له افغانستان څخه يې دوتلو هلې ځلې شروع کړې تر دی چې سياسي هلو ځلو يې نتيجه ورنکړه دافغانستان له ښارونو څخه په پټه دشپې شپې وتښتيدل کله چې امريکا او ناتو نور نو طالبانو سره دجنګ توان له لاسه ورکړ او الهي عذاب دهلاکت کندې ته ورغورځول نو دسولې ډنډوره يې وغږوله دکال اته سوه ميلونه ډالر يې پرې مصرفول اته کاله يې دوام وکړ چې بالاخره په امريکايانو او متحدينو يا ناتو له يوی خوا دطالبانو ضربه ای جنګونو او له بل پلوه دالله پاک اسماني عذابونه راسرشوه او د۲۰۲۱ م کال دمی له اول تاريخ څخه يې دخپلو فوځونو دايستلو نيټه اعلان کړه اخري نيټه يې داګست مياشتې اخر تعين شو

# اخر هم طالبان کامياب شول

دامريکا لاس پوځي او نړيوال فاسدترين انسان اشرف غني رئيس جمهور ډير کوشش او سوال زاری وکړی چې امريکا يان به راوګرځي خو ونه شوه بيايې غوړې دربې شروع کړې چې مونږ په يواځې ځان دخپل ځان دفاع کولی شو او دشمال لنده غر ټلواله ، دوستم مليشه او شعيه هزاره ګان هم ورسره ودريده جنګونو زور واخسته يو څو ورځې داسې شوی چې يوبل به لاندې باندې کيدل خو چې کله امريکا له بګرام هوايي هډې څخه په ۱۱/سرطان/۱۴۰۰هـ ش =۲/جولای/۲۰۲۱م تاريخ دشپې يوه بجه په پټه دجنرال سکاټ ميلر په مشری وتښتيدل او دبګرام هډې ټول ګروپونه يې مړه کړه او خپله په طيارو کې وتښتيدل تر دی چې لاس پوځی حکومت يې هم خبر نکړو نو له هغې ورځې داشرف غني دګوډاګي حکومت مورال ختم شو او په راپرځيدو يې شروع وشوه طالبانو په ټولو ولاياتو کې دولسواليو په نيولو شروع وکړه په دوه مياشتو کې څه دپاسه ۲۰۰ دوه سوه ولسوالي او تقريباً له سلو ۱۰۰زيات بيزونه يې ونيول څوک چې ورته تسليميده دهغوی يې ډير قدر کولو کالي او کرايه او خرچه يې ورکوله او ګلان به يې ورته په غاړه کې اچول او مشرانو علماؤ به غيږ کې نيول او چې چا مقاومت کولو له تيغه يې تيرول خو اشرف غني تردی دمه هم له خپلو غورو دربو ونه ګرځيده سخت مقاومت يې کاوه طالبانو بيا بيا دصلحې پيشنهادونه کول چې زمونږ په زرګونه بنديان راخوشې کړې اوربند به وکړو او ګډ اسلامي حکومت به جوړ کړو خو داشرف غني پلويانو ونه منله اخر طالبان مجبورشوه دولاياتو په نيولو يې شروع وکړه چې په نتيجه کې لوی لوی

ښارونه فتح او د طالبانو لخوا ونيول شوه اشرف غني خپل نهايي زور وکاروه لکه څنګه چې امان الله خان او ډاکتر نجيب په خپل دور کې کارولی وه خو بالاخره نور نو ژوندی لکه ډاکتر نجيب په شان نيول کيده ځکه خو وتښتيده

## ۱ ـ ترټولو اول نيمروز ولايت زرنج ښار ونيول شو په ۱۵/۵/۱۴۰۰هـ ش =

۶/اګست/۲۰۲۱م پنجشنبه دوه بجې دماسپيښن يې دنيمروز تاريخي او لرغونی ولايت مکمل ډول طالبانو ونيوه نيمروز د افغانستان سوېل لوېديځ لوري ته پروت لوی سرحدي ولايت دی چې لوېديځ ته له ايران او سوېل ته له پاکستان سره اوږده پوله لري، ختيځ ته يې هلمند او شمال ته يې د فراه ولايتونه موقعيت لري.د زرنج ښار د دې ولايت مرکز دی، چې د ولسواليو په نسبت وړه سيمه ده.د زرنج اصلي نوم "زرنګ" وه، چې د عبدالرحمان ابن سمرة رض په مشرۍ صحابه کرام د اسلام د تبليغ لپاره له سيستان وروسته دې سيمې ته راغلل.د نيمروز زرنج ښار د جليل القدر صحابي عبدالرحمان بن سمرة رضي الله پر لاس په ۳۵ هجري کې فتحه شو او په زرنج سربيره يې د کابل تر ښاره ساحات فتحه کړل.د ساسانيانو له ماتې وروسته، دلته د يعقوب بن ليث صفاري په مشرۍ دغه ښار کې د صفاريانو واکمني قايمه شوه، چې تر څه وخت وروسته يې د تعليم او تربيې لړۍ پراخه، ځوانان يې ښه وروزل، سيمې يې آبادې کړې او پراخ خدمات يې وړاندې کړل.ابو يوسف يعقوب د ليث صفار زوی د معدل لمسی د افغانستان هغه ميړنی واکمن دی چې په اتمه ميلادي پيړۍ کې يې د صفاري دولت بنسټ کيښود.






## ۲ ـ جوزجان ولايت (شبرغان ښار) ونيول شو: په ۱۶/اسد/۱۴۰۰هـ ش= ۷ /اګست /۲۰۲۱م

دجمعې ورځ سهار لخوا طالبانو دشبرغان ښار ونيوه

## ۳ ـ کندز ولايت ونيول شو :په ۸/اګست /۲۰۲۱م = ۱۷/اسد /۱۴۰۰هـ ش تاريخ کندز ولايت

طالبانو ونيوه

## ۴ ـ دسرپل ولايت ونيول شو:په ۸/اګست /۲۰۲۱م = ۱۷/اسد /۱۴۰۰هـ ش تاريخ دسرپل ولايت

طالبانو ونيوه

## ۵ ـ دتخار ولايت تالقانو ښارونيول شو:نن ټکی اسيا (يکشنبه، ۱۷زمري، ۱۴۰۰ل= ۸/اګست

/۲۰۲۱م طالبانو د خپلو بې ساري پرمختګونو په لړ کې نن مازديګر ناوخته د تخار ولايت مرکز تالقان ښار کې د ولايت مقام، امنيه قومندانۍ، د استخباراتو مرکز، محبس او ټولې دولتي ودانۍ نيولي دي.د تخار ولايت خبريالانو او امنيتي سرچينو ويلي، چې طالبانو تالقان ښار په بشپړ ډول نيولی او په ښار کې وضعيت نورمال دی.د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد هم ويلي، د دوی جنګياليو په تالقان ښار کې د ولايت مقام سربيره ټولې دولتي ودانۍ نيولي، ټول ښار تر بشپړ کنټرول لاندې دی او حکومتي عسکر په تيښته بريالي شوي دي.طالبانو ټولو تښتېدلو عسکرو ته په خپل پيغام کې ويلي، چې له مزاحمت څخه لاس واخلي، له طالب جنګياليو سره يو ځای شي او خپل ژوند

خوندي کړي.ښاغلي مجاهد ټولو دولتي مامورینو، د مختلفو ټولنو فعالانو، خبریالانو او نورو خلکو ته ډاډ ورکړی، چې په ارامه له هر ډول ګواښ او خطر پرته خپل ژوند ته دوام ورکړي.
ذبیح الله مجاهد زیاته کړې، چې د دوی ټولو جنګیالیو ته د ښار امنیت ساتلو لارښوونه شوې، د هېچا د نیولو او ځورولو اجازه نه شته او نه به هم د چا کورونو ته ورځي.طالبان وایي، د دوی جنګیالي د تالقان ښار په امنیت ساتلو او پوځي چارو بوخت دي.د نن ورځې په اوږدو کې له کندوز او سرپل وروسته تخار دریېیم ولایت شو، چې طالبانو له ټولو ملحقاتو سره ونیوه.
طالب جنګیالیو تېره ورځ د جوزجان ولایت مرکز شبرغان او وړمه ورځ د نیمروز ولایت مرکز زرنج ښار نیولي وو.
له تېرو شاوخوا دوو میاشتو راهیسې طالبانو له دوو سوو زیاتې ولسوالۍ او سلګونه پوځي مرکزونه نیولي او زرګونه پوځیان ورته تسلیم شوي دي.
خو له تېرو درې ورځو راهیسې د ولایتونو د نیولو لړۍ پیل شوې او تر اوسه یې پنځه ولایتونه په بشپړ ډول نیولي

**۶ ــــ سمنګان ولایت دایبک ښار ونیول شو:**۱۴۰۰/۵/۱۸ هـ ش له سختې جګړې وروسته دوشنبې ورځ یولس بجې دطالبانو لخوا دسمنګانو ولایت دایبک ښار ونیول شو

**۷ــ فراه ولایت ونیول شو :** نن ټکی اسیا (سه شنبه، ۱۹ زمري، ۱۴۰۰ل): د فراه ولایت مرکز تر یوې ورځنۍ جګړې وروسته په بشپړ ډول د طالبانو لاس ته ولوېد.
له تېرې ورځې را پدیخوا د یاد ولایت د امنیه قوماندانۍ، امنیت ریاست، مرکزي زندان او ورسره نورو دولتي تاسیساتو تر نیول کېدو وروسته تازه د فراه ولایت مقام هم د طالبانو لاس ته لوېدلی او حکومتي ځواکونه په بشپړ ډول د یاد ولایت له مرکز وتلي دي.
د طالبانو ویاند "قاري یوسف احمدي" پر ټویټر لیکلي، چې د فراه مرکز یې نیولی او په ځینو سیمو کې په عسکرو پسې تعقیبي عملیات روان دي. فراه اووم ولایت شو چې په تېره یوه اوونۍ کې په بشپړ ډول د طالبانو لاس ته لوېږي. نیمروز، تخار، سمنګان، جوزجان، سرپل او کندز ولایتونو مرکزونه تر دې وړاندې د طالبانو تر ولکې لاندې راغلي. حکومت لا تر دې دمه د فراه د نیول کېدو په تړاو څه نه دي ویلي

**۸ – د بغلان ولایت مرکز پلخمري ښار طالبانو ونیولو:** نن ټکی اسیا (اګست ۱۰, ۲۰۲۱سه شنبه، ۱۹ زمري، ۱۴۰۰ل): د بغلان ولایت ځایي اوسېدونکي او طالبان وایي، چې نن ماښام د ولایت مرکز پلخمري ښار د طالبانو لاس ته لوېدلی دی. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد نن ماښام د یو لړ ټویټونو له لارې ویلي، چې د پلخمري ښار دفاعي کمربندونو له ماتولو او یو لړ نښتو وروسته یې د ولایت مقام، امنیه قوماندانۍ او د ملي امنیت د ریاست په ګډون ټول دولتي تأسیسات نیولي دي.نوموړی زیاتوي، د ښار په پاتې برخو کې یې په دولتي عسکرو پسې تعقیبي عملیات دوام لري او هغوی ته یې درنه مرګ ژوبله اړولې ده. سیمه ییزې سرچینې هم تاییدوي چې دولتي ځواکونه له پلخمري ښار څخه د کیله ګي دښتې خواته په شاتللي دي.
دا په تیرو پنځو ورځو کې اتم او د نن ورځې په جریان کې دویم ولایت دی چې طالبان یې په نیولو بریالي کیږي. طالبانو نن ماسپښین ناوخته د فراه ولایت مرکز هم ونیولو او همدا اوس د بدخشان ولایت مرکز فیض آباد ښار دفاعي کمربندونو ماتولو وروسته نوموړي ښار کې له دولتي عسکرو په جګړه بوخت دي. د تیرې جمعې ورځې راهیسې طالبانو د نیمروز، جوزجان، کندوز، سرپل، تخار، سمنګان او فراه ولایتونه نیولي او د هرات، کندهار او لښکرګاه په ګډون یې د ۱۲ ولایتونو مرکزونه تر کلکې محاصرې لاندې راوستلي دي

**۹ـ د بدخشان مرکز فیض آباد هم طالبانو ونیولو:** نن ټکی اسیا : اګست ۱۱, ۲۰۲۱(چهارشنبه، ۲۰ زمري، ۱۴۰۰ل): له یوې میاشتې کلابندۍ او څو ورځو سختو نښتو وروسته طالبانو تیره شپه د بدخشان ولایت مرکز فیض آباد ښار په بشپړه توګه نیولی دی. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد رسنیو ته په استولې خبرپاڼه کې څرګنده کړې چې په فیض آباد ښار کې یې د ولایت مقام، امنیه قومنداني، د ملي امنیت ریاست او ټول دولتي تأسیسات نیولي دي. نوموړی زیاتوي، د فیض آباد ښار د نیولو په عملیاتو کې هیڅاته د سر او مال زیان نه دی اوونښتی؛ خو په تېښتېدلو دولتي عسکرو پسې یې د «تعقیبي» عملیاتو د دوام خبره کړې ده.د بدخشان ځایي سرچینو هم تایید کړه چې یاد ولایت د طالبانو لاس ته ورغلی او دولتي چارواکي هوایي ډګر ته تېښتېدلي دي.
د تیرې جمعې ورځې راهیسې طالبانو د نیمروز، جوزجان، کندوز، سرپل، تخار، سمنګان، فراه، بغلان او بدخشان په ګډون د نهو ولایاتو مرکزونه نیولي او د بلخ، فاریاب، هرات، کندهار، هلمند، زابل، غزني، پکتیا او لغمان په ګډون یې د ګڼو ولایاتو مرکزونه تر کلکې محاصرې او تهاجمي عملیاتو لاندې نیولي دي.
د پورته یادو ولایتونو له جملې څخه د هرات، کندهار، لښکرګاه او غزني ښارونو یو شمېر سیمې طالبانو نیولي، یوازې د ولایت مقام، امنیه قومنداني او یو شمېر تأسیسات له دولتي عسکرو سره پاتې دي

**۱۰ ـ غزني ولایت هم ونیول شو :**۲۱ /اسد / ۱۴۰۰هـ ش = ۱۱/اګست / ۲۰۲۱م )

لږ مخکې غزني ښار کې د ولایت مقام، امنیه قومندانی، محبس، ریزرپ قطعه، دریمه حوزه، د چټک غبرګون مرکز،قلعه جوز، علي لالا، روضه او صفر ۶ قطعې مرکز په بشپړه توګه فتحه شول.ګڼ عسکر قتل، لسګونه نور تسلیم، ډیره وسله او تجهیزات و نیول شول.یوسف احمدی

**۱۱ـ د ننګرهار ولایت جلال اباد ښارونیول شو:**۲۳/اسد/ ۱۴۰۰هـ ش = ۱۳/اګست/۲۰۲۱م

شول طالبان په سوله یز ډول له هر ډول جګړې او مرګ ژوبلې پرته د ننګرهار ولایت مرکز جلال اباد ښار ته داخل شوه .د ننګرهار والي ضیاءالحق امرخېل، د ولایتي شورا غړو او نورو مسؤولینو په ګډه پرېکړه کړې، چې جلال اباد ښار له جګړې وژغوري او ښار له جګړې پرته طالبانو ته وسپاري.
طالبانو هم ویلي، دوی نه غواړي، چې د جلال اباد په شمول هېڅ ښار او کلی وران شي او نه به هېڅ چارواکي سره ناوړه چلند وشي.






له تېرې ورځې راهیسې د ننګرهار، شېرزادو، کږه، پچیر اګام، سره رود، کامه، دره نور او نورې ګڼې ولسوالۍ د طالبانو لاسته لویدلي او تاکل شوې، چې په لنډو شېبو کې د ننګرهار ولایت قصر، امنیه قومندانی، د ملي امنیت ریاست او د تورخم دروازې په شمول ټولې دولتي ادارې د طالبانو لاسته ولویږي. حکومتي چارواکي او طالبان په ګډه هڅه کوي، چې ښار کې د ناامنیو، جګړې او چور مخه ونیسي

**۱۲ ــ هرات لوی او تاريخي ښار ونيول شو:** ۱۲/اگست/۲۰۲۱م = ۲۳/اسد/۱۴۰۰هـ ش طالبان وايي جهادي قومندان اسماعيل خان او د هرات ځينې چارواکي دې ډلې سره "يو ځای شوي"
**هرات کې د طالبانو پر ضد د حکومت پلوه ولسي وسلوالو قومندان محمد اسماعيل خان او څو نور دولتي چارواکي د طالبانو لاس ته لوېدلي دي.**




وسلوال طالبان وايي، پر هرات د دې ډلې له ولکې وروسته هلته مشهور جهادي قومندان اسماعيل خان، د کورنيو چارو وزارت مرستيال عبدالرحمان رحمان، د ظفر قول اردو قومندان نبي احمدزی او د هرات والي عبدالصبور قانع او د دې ولايت امنيت رييس حسيب صديقي دې ډلې سره "يو ځای شوي دي".

## ۱۲ ــ له ننگرهار وروسته ، د وردگو، نورستان او دايکندي ولايتونه ونيول شول:

۲۴زمري، ۱۴۰۰هـ ش=۱۵/اگست/۲۰۲۱م په دی تاريخ ياد ولايتونه ونيول شوه چې له دی مخکې دمزار شريف هرات ، کندهار او جلال اباد ښارونه ونيول شوه

**طالبان د کابل په څنډو کې؛ غربيان خپل بکسونه تړي او د امريکا سفارت خپل »حساس مواد« سوځوي**

(شنبه، ۲۳ زمري، ۱۴۰۰ل)اگست ۱۴, ۲۰۲۱: له تيرو څو ورځو راهيسې طالبان د خپلو بې ساري پرمختگونو په لړ کې د کابل څنډو ته راورسېدل او په عين حال کې غربيان هڅه کوي، چې خپل بکسونه وتړي امريکا هم د خپلو ډيپلوماټانو د وېستلو پرېکړه کړې ده او غواړي، چې د سفارت ټول «حساس مواد» وسوځوي.

تېره ورځ طالبانو کابل ته پنځوس کيلومتره نږدې د لوگر ولايت مرکز پل علم ښار نيولی، اوس يې جنگي خط کابل ته لس کيلومتره نږدې په سنگ نوشته کې پروت دی.

طالبانو په اتو ورځو کې د هېواد اتلس ولايتونه له ټولو ملحقاتو سره نيولي او د نور پرمختگ په حال کې دي.

امنيتي مسؤولينو غربي رسنيو ته ويلي، چې طالبانو په هلمند، کندهار، غزني او نورو ولايتونو کې والي او امنيتي مسؤولينو ته خوندي لارې ورکړي او ډېری دغه ولايتونه له جگړو او مرگ ژوبلې پرته نيول شوي دي.

طالبان، چې اوس د لوگر له لوري کابل ته نږدې شوي، همدارنگه د کابل ښار له غرب څخه د ميدان وردگو ولايت مرکز ميدانښار ته هم رارسېدلي، تېره شپه يې پر ميدانښار پرېکنده جگړه پيل کړې، يو شمېر مهم پرمختگونه يې کړي او ښايي نن د ورځې په اوږدو کې دغه ولايت هم سقوط شي.

## د کابل ښاريانو انديښنې

سره له دې، چې طالب مشرانو په خپلو غږيزو پيغامونو او رسمي خپرو شوو اعلاميو کې ټول عسکرو، پوليس، اربکيانو او استخباراتي کسانو ته د عمومي عفوې اعلان کړی او ملکي مامورينو

ته یې امر کړی، چې خپلو دندو ته دوام ورکړي، خو بیا هم د کابل ښاریان په اندېښنه کې دي، چې ښایي د دوی سیمې د جګړې په لومړۍ کرښه بدلې شي.



د کابل حکومت د مشر اشرف غني لومړي مرستیال امرالله صالح تېره ورځ رسنیو ته ویلي و، چې حکومت د طالبانو د بریدونو پر وړاندې د مقاومت پرېکړه کړې ده.



امرالله صالح زیاته کړې وه، چې تېره ورځ په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د ولسمشر غني په مشرۍ امنیتي غونډه کې د طالبانو پر ضد د مقاومت پرېکړه وشوه.

د صالح په وینا د طالبانو پر ضد د مقاومت لپاره به امنیتي ځواکونو او پاڅونوالو ته هر ډول اسانتیاوې برابرېږي.

د هېواد په کچه دوهم ستر ښار کندهار په شمول په ټول افغانستان کې اتلس ولایتونه طالبانو نیولي او د پلازمېنې کابل په شمول د هېواد په شمال کې د بلخ ولایت مرکز مزار شریف او په ختیځ کې د ننګرهار ولایت مرکز جلال اباد ښار د حکومت په ولکه کې دي.

په جنوب لویدیځ کې حکومت تر ټولو ډېره هیله د هرات پخواني جهادي قومندان امیر اسماعیل خان ته وه، چې په جنوب غرب کې به د طالبانو پر ضد د ولسي پاڅون مشري وکړي، خو نوموړی تېره ورځ له خپلو ټولو جنګیالیو سره طالبانو ته تسلیم شو او غوښتنه یې وکړه، چې نور باید په هېواد کې د سولې او ورورولۍ فضا رامنځته شي.

د هلمند په مرکز لښکرګاه او شاوخوا سیمو کې طالبان پراخ ولسي ملاتړ لري او د حکومت د سختو مرګونو بمباریو سربېره هم طالبانو یاد ولایت ونیوه او اوس په کې خلک عادي ژوند کوي.

د لښکرګاه اوسیدونکي وایي، د ښار ډېره برخه د حکومتي بمباریو او جګړو له امله ویجاړه شوې، خلک خوراکي توکو ته په اسانه لاس رسی نه لري.

طالبانو وروسته تر هغه د هېواد په لر و بر کې خپلو بریدونو ته زور ورکړ، چې د امریکا او طالبانو له تړون وروسته څو ځله یې حکومت ته د بامعنا سولې خبرو وړاندیز وکړ او غوښتنه یې وکړه، چې د دې خبرو لپاره باید زمینه برابره شي، د دوی اووه زره بندیان خلاص او د مشرانو نومونه یې له تور لیسته وویستل شي، خو حکومت د طالبانو یاد وړاندیز ته منفي ځواب ووایه او د هېواد په ګڼو برخو کې یې د طالبانو پر ضد ځمکني او هوایي عملیات زیات کړل

خو چې په تېره مې میاشت کې د امریکا ولسمشر له افغانستانه د ټولو بهرنیو پوځیانو د ویستلو او د شل کلنې جګړې د پای ته رسولو پرېکړه وکړه، طالبانو هم خپل بریدونه زیات کړل، په لومړیو وختونو کې یې د ولسوالیو نیول پیل کړل او بیا یې د ولایتونو پر مرکزونو بریدونه شروع کړل او تر اوسه یې اتلس ولایتونه نیولي دي.

د کابل حکومت چارواکو او یو شمېر پخوانیو امریکایي جنرالانو پر ولس مشر جو بایډن نیوکې وکړې، چې ولې یې له افغانستانه خپل پوځیان وویستل، خو ولسمشر بایډن وویل، چې د پوځیانو

ويستلو په پرېکړه نه دی پښېمانه او نه غواړي، چې د امريکا بل نسل هم د راتلونکو شلو کالو لپاره په جګړه کې ښکېل پاتې شي.



د طالبانو د چټکو پرمختګونو په لړ کې امريکا او برتانيې له افغانستانه د خپلو ډيپلوماټانو د ويستلو پرېکړه کړې ده.

سپيني ماڼۍ په خپل ټويټ کې ويلي، چې ولسمشر بايډن پرون د جمعې په ورځ د بهرنيو چارو وزير انټوني بلينکن، د دفاع وزير لويډ اسټن او د ملي امنيت سلاکار جيک سوليوان سره د افغانستان روان وضعيت او د يو شمېر ملکيانو د وېستلو په اړه خبرې کړي دي.

امريکايي رسنۍ وايي، دفاع وزارت «پنټاګون» پرېکړه کړې، چې د خپلو ډيپلوماټانو د ويستلو لپاره به ۳۰۰۰ پوځيان د کابل هوايي ډګر ته لېږي.

د پنټاګون وياند جان کربي ويلي، چې ۳۵۰۰ پوځيان به د بېړنيو حالاتو د کنټرول لپاره کويت ته هم لېږل کيږي.

د جان کربي په وينا دوی کولای شي، چې هره ورځ زرګونه کسان د هوا له لارې له افغانستانه وباسي، خو د کابل وضعيت دومره هم ترينګلی نه دی، چې خلک دې اندېښنه وکړي.

**استخباراتي اټکل:** سي ان ان ټلويزون ويلي، چې په کابل کې د امريکا سفارت په يوه يادښت کې خپلو مسؤولينو ته سپارښتنه کړې، که چېرته طالبان پر کابل واکمن کيږي، نو ټول حساس مواد بايد وسوځول شي .سي ان ان د امريکايي استخباراتو په حواله ويلي، چې ښايي تر راتلونکې يوې اونۍ او يا هم تر ۷۲ ساعتونو پورې طالبان د کابل ښار تجريد کړي پوليټيکو امريکايي مجلې هم د سرچينو په حواله ويلي، چې پنټاګون د ټولو امريکايي ډيپلوماټانو د راويستلو پلان جوړ کړی دی.د سرچينې په وينا منځپوړي امريکايي چارواکي له افغانستانه د ټولو امريکايي ډيپلوماټانو د ويستلو پرېکړه حتمي بولي.

په عين وخت کې برتانيې هم اعلان کړی، چې د خپلو اتباعو د راويستلو لپاره شپږ سوه عسکر کابل ته لېږي.

د جرمني، هالنډ، فنلنډ، سويډن، ايټاليا، هسپانيا په ګډون يو شمېر نورو دولتونو هم تېره ورځ ويلي و، چې په افغانستان کې د خپلو ډيپلوماټانو شمېر راکموي.

د ناروې او ډنمارک په شمول يو شمېر هېوادونو ويلي، چې د لنډې مودې لپاره په افغانستان کې خپل سفارتونه تړي.

دا پرمختګونه په داسې حال کې راغلي، چې درې ورځې مخکې د قطر پلازمېنې دوحه کې د افغان سولې په تړاو د ملګرو ملتونو او افغاستان د همکارو هېوادونو درې ورځنۍ غونډه وشوه، خو کومه ځانګړې پايله يې ونه ليدل شوه.

امريکا، اروپايي ټولنې، چين او پاکستان ويلي، دوی به په افغانستان کې هغه حکومت په رسميت ونه پيژني، چې د زور له لارې نيول شوی وي.

## ۱۴ــ کابل هم ونيول شو :يکشنبه۲۴ /اسد / ۱۴۰۰هـ ش= ۱۴/اګست / ۲۰۲۱م

طالبان کابل ولايت دافغانستان پايتخت اوزړه ته فاتحانه ننوتل په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر وياند ډاکټر محمد نعيم ويلي، په افغانستان کې جګړه پای ته ورسيده، د کابل فتحه د افغانستان په تاريخ کې ستره تاريخي ورځ ده او ټول ولس ته يې د دې سترې فتحې او د امريکايي ښکيلاک پر ضد د شل کلن جهاد او مقاومت د بريا مبارکي ويلې ده.










ډاکټر محمد نعيم زياته کړې، چې ټول ولس د دې تاريخي ورځې د ليدو په هيله وو، موږ اوس دې فتحې ته رسېدونکي يوو، دا يوه ستره بريا ده، موږ په افغانستان کې د اسلامي نظام د راتلو په هيله يو او موږ ټول به د يوه بيرغ لاندې په ګډه ژوند کوو.
د يوې پوښتنې په ځواب کې، چې ايا طالبان به اسلامي امارت قايم کړي، ډاکټر محمد نعيم وويل، چې راتلونکو ورځو کې به دا هر څه روښانه شي او اوسمهال په دې اړه څه ويل له وخت مخکې دي.
په افغانستان د بهرنيو سفارتونو او ډيپلوماټانو د خونديتوب په اړه د قطر دفتر وياند وويل، چې دوی په هېواد کې د ټولو ډيپلوماټانو او سفارتونو د امنيت په اړه جدي دي او د دې لپاره لازم تدابير لري.


ذبيح الله مجاهد

د سياسي روغې جوړې په اړه ډاکټر محمد نعيم وويل، چې دوی له ټولو سياسي جهتونو سره خبرو ته چمتو دي، هېڅوک دې د نهيلۍ فکر نه کوي، ټول د همدې خاورې اوسېدونکي يو او په ګډه به د روان بحران د پای ته رسېدو لپاره هلې ځلې کوو.
ښاغلي نعيم زياته کړې، چې د افغانستان اسلامي امارت د نورو هېوادونو په چارو کې د لاسوهنې نيت نه لري، هېچا ته به اجازه ور نه کړي، چې د افغانستان خاوره د بل چا پر ضد وکاروي او نه هم په خپلو کورنيو چارو کې د نورو هېوادونو مداخله مني.
ښاغلي نعيم وويل، چې د دوی ځواکونه د پلازمېنې کابل په شمول ټولو ولايتونو ته په سوله‌ييز ډول ننوتي، دوی له ولس سره هېڅ ستونزه نه لري، بلکې ټوله جګړه او دښمني يې له اشغال او غلام نظام سره وه


فهيم دشتي


احمد مسعود


امرالله صالح

**١۵ ـ پنجشير هم ونيول شو :**سپتمبر٦, ٢٠٢١م = (دوشنبه، ١۵ وږي، ١۴٠٠ل):
طالبانو ويلي: د مزدور دښمن وروستۍ ځاله پنجشېر ولايت په بشپړ ډول د اسلامي امارت تر واک لاندې راغلی او ولس يې د ياغيانو له شره خلاص شو.

**د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد په خپل ټویټ کې ویلي، د الله تعالی په مرسته او د ولس په ملاتړ په هېواد کې د بشپړ امنیت پر لور وروستی هڅې هم نتیجه ورکړه او پنجشېر ولایت په مکمل ډول ونیول شو او ګڼ شمېر یاغیان او د شریر باند مشران وځپل شول او پاتې نور یې په تېښته بریالي شول.طالبانو د پنجشېر ولس ته ډاډ ورکړی، چې تر دې وروسته دې په ډاډه زړه ژوند وکړي، هغوی یې خپل وروڼه بللي او ژمنه یې کړې، چې د پنجشېر ولس سره به هېڅ ډول توپیري چلند نه کیږي.ښاغلي مجاهد زیاته کړې، چې د پنجشېر په شمول ټول ولس به په ګډه د یوه هېواد او یوه هدف لپاره خدمت کوي.**

**طالبانو ویلي، چې د وروستیو هڅو په پایله کې هېواد په مکمل ډول له جګړو راووت او تر دې وروسته به ټول هېوادوال په بشپړ ډول د خپلواکۍ او ابادۍ په فضا کې سوکاله او ارام ژوند وکړي.**

**د یادونې وړ ده، چې د افغانستان اسلامي امارت د کابل له نیولو وروسته د پنجشېر له علماوو، قومي مخورو او یو شمېر سیاستوالو سره څو ځله ناستې وکړې او له هغوی یې په ټینګار سره غوښتنه وکړه، چې د پنجشېر موضوع باید له سوله‌ییزې لارې حل و فصل شي.**

**سره له دې، چې علماوو او قومي مشرانو ډېرې هڅه وکړې او اسلامي امارت هم بشپړ ډاډ ورکړ، خو د پخواني نسکور شوي رژیم مرستیال امرالله صالح او د نامسؤولو وسله‌والو مشر احمد مسعود د سولې فرصت څخه د ګټې اخیستو پر ځای جګړې ته مخه کړه او بالاخره د څو ورځو جګړو وروسته طالبانو وروستی ولایت پنجشېر هم په بشپړ ډول ونیوه.فهیم دشتي دمقاومت ډلې ویاند وه هم ووژل شو**






**په پنجشیر کې هغه مهمات چې له څلویښتو کلونو دپنجشیر واکمن احمد شاه مسعود او دهغه ځوی احمد مسعود دشورویانو ، فرانسویانواو امریکایانو ورته هدیه کړې وه ټول یې دافغانستان اسلامي امارت ته په لاس ورغلې**

| | | |
|---|---|---|
| سلام سلام، دادی راورسیدم (۱)<br>زغره په تن، په لاس کې توره بابا<br>ستړی بچی دې یم، مرقد ته ولاړ<br>سر کړه راپورته، امپراطوره بابا | دښمن یوازې وطن نه و اشغال<br>ایمان، وجدان، حیا غیرت یې هم ووړ<br>ته یې ډاکو د هندوستان بللې (۸ )<br>د ستا تاریخ د پاني پت یې هم ووړ | څه د باروتو ږلی واوریدې (۱۵)<br>څه د کلسترو ټکې پریوتلې<br>څه قامتونه مو را ونړیدل<br>څنګه پګړی له ځمکې پریوتلې |
| دا زه چې نه وم ته خبر یې که نه ؟ (۲)<br>وم له نړۍ سره په شر اوښتی<br>د پاني پت تاریخ دې بیا تازه شو<br>بیا وم د کفر په اشر اوښتی | غربیانو داسې لاتیان وزیږول (۹ )<br>چې نه یې دین، نه یې تاریخ پیژندو<br>نه دخپل دینفرهنګ پهخوندپوهیدل<br>نه یې ذلت له زهرو تریخ پیژندو | بابا خو موږه هم د ستا بچي وو<br>مونږه ( عمر ) مونږه(جلال) درلودو<br>لکه ( منصور) له اوره نه ډاریدو<br>مونږه باور په لایزال درلودو (۱۶) |
| ته به خبر وې، که به نه وې خبر ؟ (۳)<br>چې ستا انګړ ته وو پردي راغلي<br>د کندهار درنو کوڅو ته بابا<br>وو د بیزو او خوګ بچي راغلي | د ستا جهاد یې ترهګري بلله (۱۰)<br>د ستا دستار ته یې په سپکه کتل<br>ستا کارنامې یې پیغورونه ګڼل<br>هر افتخار ته یې په سپکه کتل | پای مو د لوی الله په لویه مرسته<br>د تیریګرو مرکندۍ ماتې کړې (۱۷)<br>چې ستا په پاک وطن یې پل ایښی و<br>موږ یې ښنګري او پُښتۍ ماتې کړې |
| یو نه و، دوه نه و، لس شل هم نه وه<br>دا ځل بې شمیرو ، و یرغل راوړی (۴ )<br>ګبر و ترسا، ملحد، زندیق واړه وه<br>چا و تلمود، چا و بایبل راوړی | د ستا (حافظ) ته یې (رحمت) نه ویل<br>فقیر الله صاحب یې خپل نه ګاڼه<br>له(میا عمر) تر( ملا عمره) پورې<br>هیڅ یو اتل یې هم اتل نه ګاڼه (۱۱) | دا دی بیا ستا سر ته سرلوړی ولاړ<br>درته مې زیری د حریت راوړی<br>د ستر ازمون غشي مې خښ پر بدن<br>مګر ایمان مې سلامت راوړی (۱۸) |

| | | |
|---|---|---|
| بابا د ستا زړه به يې نه ومني<br>چې څنګه ټول جهان راوبلوسېده (۵)<br>د افغان سر او مال يې لوټ اعلان کړ<br>ځمکه تبې شوه، اسمان وغورېده | بابا ارمان چې مې شل ژبې وای نن<br>چې له شل قسمه ناکردو غميزو<br>مې شل او زر داستانه تير وای درته<br>د شل کلنو حماسو، غميزو ( ۱۲ ) | نور به د ستا د پاک مزار له څنګه<br>د اشغالګرو شوبلې نه غوريږي (۱۹)<br>نور به دې روح د دې سرلوړي وطن<br>په محکوميت او اشغال نه ځوريږي |
| يو خوا نړۍ، لښکر لښکر سياهي<br>له توپ تخنيک، وسلو ډالرو سره (۶)<br>بل خوا د ستا د پيروانو لنډ صف<br>له زنګ وهليو، تورو زغرو سره | څنګه د اور په مخکې ودريدو (۱۳)<br>څنګه شوې ماتې د نمرود ارادې<br>څنګه د حق په توره دوه نيمه شوې<br>د عاد، شداد او د ثمود ارادې | بابا وعده ده، د سعيد ژمنه ده (۲۰)<br>ستا د همت او غيرت لار به ساتو<br>جهان که هر څه کوي، کړي دي، خو موږ<br>په لاس نيزه په سر دستار به ساتو |
| موږ د الله په نوم جګړه پيل کړه<br>بې له الله، بله اسره مو نه وه<br>توره مو وه، خو زنګ وهلې غوندې (۷)<br>ستا غوندې ځلنده نيزه مو نهوه | څنګه تنکي زلمي په موسکو شونډو<br>د لمبو غيږې ته په مينه لاړل (۱۴)<br>څه ګلورين ژني فدا شول په دين<br>څه پاک ارواح تر عليينه لاړل |   |

## اشرف غني يا افغان الاصله چنګيز وتښتيدو (يکشنبه ۲۴/اسد/۱۴۰۰هـ ش:)

اشرف غني دافغانستان نام نهاد رئيس جمهور او دامريکا غلام او لاس پوڅی وروسته له ډير مقاومته چې هره ورځ تر شپږ سوه زيات دده طرفداره افغاني نظاميان وژل کيده او په سونو طالبان او ملکي خلک په شهادت رسيدل چې دتلفاتو تعداد يې لکونو ته ورسيده او مقابل لوری طالبان کابل ته فاتحانه ډول داخل او هغه اشرف غني چې ويل به يې ای خلکو ما وپيژنئ زه دتيښتي سړی نه يم او دا سينه زما ضد زري ده هغه وخت چې امريکايان له ټول افغانستان نه ووتل او دکابل هوايي ميدان خواجه رواش يې لا پلاس کې وه دی له دوی څخه مخکې په تيښته بريالی شو.

د تهران-ايرنا له قوله - دروسيې ديپلو ماتيک دفتر وياند نيکيتا ايشچينکو ووېل :اشرف غني سره له دوه سوه ملګرو يې ديکشنبې په ورځ ۲۴/اسد/۱۴۰۰هـ ش تاريخ له افغانستان څخه اول تاجکستان او بيا دوبۍ ته په داسې حال کې وتښتيدو چې څلور زروي ګاډي يې له ډالرو ډکې له ځان سره يوړې، ۸ صبح کابل مجلې په ۳/سنبلې/۱۴۰۰هـ ش تاريخ ليکي چې اشرف غني يوه هليکفتر او څلور زروي ګاډي دډالرو ډکې وړي






نن ټکی اسيا (چهارشنبه، ۳وړی، ۱۴۰۰ل): داسې مهال چې له کابله د اشرف غني په تګ لس ورځې اوړي او ويل کيږي، له ډالرو ډک بکسونه يې له ځانه سره وړي؛ امريکايي سناتوران وايي، نوموړی دې د افغانانو د شتمنۍ تښتولو په جرم محکمې ته را کش کړل شي.د امريکا دوو جمهوري غوښتونکو سناتورانو «جيمز کامر او ګرات مېن» د امريکا لوی څارنوال او د بهرنيو چارو وزير ته په ليږل شوي ليک کې چې يوه کاپي يې فاکس نيوز ته رسېدلې ليکلي، چې «اشرف غني له افغانستانه د تېښتې په مهال دومره ډيرې پيسې له ځانه سره وړې دي، چې دده په هليکوپتر کې نه ځاييدې او اړ شو چې په فرشونو يې وغورځوييادو سناتورانو د امريکا د بهرنيو چارو وزير ته د اګست مياشتې تر وروستۍ نېټې وخت ورکړی او له هغه يې غوښتي چې ياده موضوع وڅېړي او په اړه يې کانګرس ته معلومات وړاندې کړي.سناتورانو په ليک کې ټينګار کړی، چې که غني ريښتيا هم پيسې تښتولې وي، نو بايد محاکمې ته را کش کړل شي او د مجرم په حيث چلند ورسره وشي.

# موترسایکل د بي ۵۲ ډوله الوتکو سره څنګه مقابله وکړه ؟

امریکا او ناتو بلکه دنړۍ ۵۱ کفري ملکونو پر افغانستان دخندق دغزا په شان په یو اتحاد په ډیر تکبر او بې رحمانه ډول په ۲۰۰۱م =۱۳۸۰هـ ش کال داشغال بې اندوله یرغل راوړچې په ټولو مدرن جنګي وسایلو رینجر موترې ،بی ام ټانکونو ، زد زري غولپیکر ټانګونو، زد زري کروزین ګاډو ، هلیکاپترو، جټ الوتکو ، ام سي او ام ټي بار بردارهالوتکو،بې پیلوټه طیارو،کروزتوغندیو،شپې دور بینونو او لایزري وسلو او په بي ۵۲ ډوله الوتکو سمبال وه،

**امریکایانو او ۵۱ انډیوالانو یې پر افغانستان پینځه سوه او شپیته زره ۵۶۰۰۰۰ د بي۵۲ الوتکو بمبارونه کړي دي او دا پرته دبمونو له مور څخه.**

خو بل خوا دطالبانو فقیرانه لښکر چې په هیڅ وسله سمبال نه وه تش لاس میدان ته راووتل ډیر وخت داسې تیر شو چې فقط چیرته به یې بارود پیدا کړل او یا به یې د کیماوي سرو نه جوړ کړل دهغې په ذریعه به یې یو نیم ټانګ والوزولو بیا ورته دروسانو دوخت زړو مجاهدینو هغه اسلحې چې یووخت یې دهمدوی له ویرې په زمکه خښې کړې وی راوویستې هغه هم زنګو وهلې وی په دی مقابله شروع کړه طالبان به پټ په کورونو کې اوسیدل اکثره به دداخلي جاسوسانو لخوا حکومت او امریکایانو ته په لاس ورکړل شوه هغه به زندانونو ته ویوړل شوه هلته به په کلونو کلونو بندیان وه او ځینې به له وهلو لاندې شهیدان شول او نورو خپل همت له لاسه ورنکړ داسې واړه هلکان پکې پیدا شول چې یو یو یې دامریکایانو شل یا دیرش ټانګونه واولوزول داسې ډیر زیات دي دهغوی له جملې یو مجاهد طالب دخوګیاڼو ولسوالې نملې دکلي اوسیدونکی رحمن الله چې لا یې ګیره هم نه وه راغلې او یو امریکایي عسکر ته یې لور (داس) په غاړه کې واچاوه اوبیایې ځان په لور پورې راځوړوند کړ له امریکایي یې په څو ثانیو کې سر غوڅ کړو تر څو چې نور امریکایان پرې خبریده دی وتښتیدو له اتلس عرادو ټانګونو اولوزولو څخه وروسته دی هم په بمبارد کې شهید شو دده دنیولو لپاره امریکایانو ډیرې روپۍ انعام وټاکلو خوچې کله به امریکایان راغلل دی به ورسره خواکې ګرځیده راګرځیده هغوی نه پیژانده او بل چا هم ورته نه ښودلو او امریکایانو دده دعمر په وجه نه پیژانده چې دا سې واړه به هم زمونږ مقابله کولی شي ، بیا دڅه وخت په تیریدو امریکایان له اطرافونو منع شول ساحې په ګوډاګي حکومت هم راتنګې شوی دغه وخت دالله لښکرو دابابیل توتکیو طالبانو موتر سایکل یو یو راپیدا کړه بیابه یې پرې سفرونه کول له یوه ځایه بل ځای ته به یې اسلحې او مهمات پرې انتقالول امریکا او ناتو ځواکونو دګوډاګي حکوت په ذریعه په ډیرو ولایتونو کې دموتر سایکل ګرځول بند اعلان کړه خودوی بیاهم ګرځول ان تردی چې دالله جل جلاله په نصرت دټولو ولایاتو په سونو ولسوالۍ فتحه شوې اوبیا په یولسو ورځو کې دکابل په شمول ټول ولایات ونیول شول




B52




بي ٥٢ دوله الوتكي
B 52

طالبان دخپلو موټر سايکلو او په ولسواليو کې لاسته راغلي موټرو او ټانګونو کې دافغانستان مرکز او ټولو ولاياتو ته داخل شو او اشرف غني سره له بادارانو او لاس لاندې غلامانو وتښتيده .
اوس امريکا او ناتو دنظامي ماهرينو يو کميسون جوړ کړی چې په دی خبره تحقيق وکړي چې موټر سايکل څنګه دبي ۵۲ ډوله بم غورځونکو غټو الوتکو مقابله وکړه او موټر سايکل کامياب شو ؟
دوی به تحقيق کوي خدای خبر څه اوتي بوتي به ولي خو داسلام له نظره دلنډ تحقيق نتيجه داده چې دموټر سايکل چلونکی طالب مسلمان اوددايمان خاوند او دبي ۵۲ ډوله الوتکې چلونکی کافر او بې ايمانه دی .
دننګرهار ولايت خوګيانيو ولسوالي نمله کلي کې يومعلم ماته وويل : دلته امريکايان مکتب ته راغلل هلکان له صنفونو ورته راووتل دوی ورته چاکليت تقسيمول يو ماشوم متعلم ورته وويل داپورته طيارې چې جټ او هليکافترې دې او ددوی په سرګرځيدې ستاسو سره رابطه لري ؟ ترجمان امريکاي افسر ته دا خبره وکړه هغه وويل هو! لري يې ماشوم وويل ورته ووايه چې لږ ښې راټيټه شي امريکايي وويل ولې؟ ماشوم ورته وويل چې سيل يې وکړوامريکايي افسر حيران شو چې داخو مونږ ددی لپاره ګرځوو چې دوی يې له اوازه وډار شي خو برعکس دوی يې سيل کوي نو معلومه شوه چې دی خلکو سره نه کيږي

# په يوه پيړۍ کې د دريوو امپراطوريو ماته!

که د افغانستان جغرافيايي موقعيت، تاريخي موقف او سياسي قدامت په غور وکتل شي نو له ډېرو يرغلونو سره د مخ کېدو علتونه يې ډېر ژر موندل کيږي.
دغه هېواد د موقعيت له مخې خورا مهم او ستراتيژيک اهميت لري، د اسيا په کچه اوږد تاريخ لري، غيور قومونه لري او په مختلفو وختونو کې يې په ډېرو سيمو واک چلولی او پخپله هم له ډېرو تاړاکونو او يرغلونو سره مخ شوی. چې تر ټولو مهم يې د شلمې پيړۍ له پيل راهيسې بيا تر نن پورې درې يرغلونه دي.
لومړی هغه يې د انګريزانو يرغل دی چې د نولسمې پيړۍ له لومړي سره يې پيل کړی ؤ او د شلمې پيړۍ تر لومړي سره يې پر افغانستان درې يرغلونه کړي، دريم يرغل يې خورا مهم ؤ، ځکه چې له يوې خوا دافغانستان واکمن امير حبيب الله خان وفات شوی ؤ او زوی يې امان الله خان تازه واک ته رسېدلی ؤ چې له دې امله د افغانستان زعامت له يوه ډول ګونګ حالت سره مخ ؤ، له بلې خوا د امير عبدالرحمن خان د غدر له امله له افغانستان څخه د ډيورنډ ترون پواسطه زياتې سيمې بېلې شوې وې ځکه نو د انګريزانوپه وړاندې دافغانستان سرحداتوته په راتګ کې هيڅ مانع نه ؤ.
انګريزانو زرګونه لښکرې په ډاډه زړه راوستلي او په دريوو مهمو نقطو کې يې ځای پر ځای او د جګړې لپاره د تيارسۍ امر ورته وکړ، لومړۍ مهمه نقطه يې له ننګرهار سره د ډيورنډ پورې غاړې ته وه، چې د افغان مجاهدينو له لوري مات او تر جمرود پورې وځغلول شول، دويمه مهمه نقطه يې له پکتيا سره مخامخ د ډيورنډ پورې غاړې ته وه چې تر ټل پورې د مجاهدينو شديدو بريدونو په شا کړل او دريمه نقطه يې د سپين بولدک مخامخ د ډيورنډ پورې غاړه وه چې دلته هم مجاهدينو تر چمن پورې پسې واخيستل.
له نظامي اړخه په دغه جګړه کې که څه هم برې د افغانانو په برخه شو، خو په سياسي اړخ کې يې د امان الله خان پواسطه ټولې لاسته راوړنې له لاسه ورکړې، په دربواړو نقاطو کې چې افغان مجاهدينو پرمختګ کړی ؤ، د امان الله خان له لوري مفتوحه سيمې بېرته انګريزانو ته وسپارل شوې.

کله چې په اروپا کې دوه ستري جګړې پېښې شوې او په دغو جګړو کې تر ټولو ستر رول برتانیا لوباوه، نو له دې امله يې له هند، پاکستان او نورو سیمو څخه پښې سپکې کړې چې له دسیسو او توطئو څخه يې د افغانستان په شمول ټوله سیمه پاکه شوه.
دا چې د برتانویانو له یرغلونو او دسیسو څخه افغانستان څو لسیزې په امن شوی ؤ، دا ځل د روسانو په سر کې د غرور څپې راغلې او د افغانستان د نیولو هوډ يې وکړ، د افغان کمونستي عناصرو په مرسته يې پر افغانستان یرغل وکړ او میلیونونه انسانان يې ووژل، سلګونه زره يې ورک کړل او لسګونه زره يې نور ژوندي تر خاورو لاندې کړل. خو د افغان ملت قهرمانیو، سرښندنو او مبارزو روسان هم تېښتې ته اړ کړل او بلاخره له افغانستان څخه په تېښته وتښتېدل او په کابل کې يې خپل اجیر ډاکټر نجیب یوازې پرېښود.
د یادونې وړ ده چې د افغان مجاهدینو له بریا وروسته زاړه کمونستان راپاڅېدل او د مجاهدینو له لوري يې له عفوې سوء استفاده وکړه، له ځانونو يې پاټکیان جوړ کړل او د میلیونونه شهیدانو، زخمیانو، کونډو او یتیمانو ارمان چې د اسلامي نظام نفاذ ؤ، له خاورو سره خاورې کړ او په هېواد کې يې د ملوک الطوائفۍ او پاټکسالارۍ نوی وحشت پیل کړ، د هېواد لر او بر يې په سر واخیست.
دا ځل مو هم په سیاسي لحاظ افغانستان د یوه سالم او مسلمان زعامت څښتن نشو، بلکې له تجزیې سره مخ شو.
خو د دوو انقلابونو د ثمرو ضائع کېدو د هېواد دیني قشر دا ځل د فکر کولو او انتظار کېناستلو پر ځای جدي اقدام ته اړ کړل، چې له امله يې مرحوم ملاصاحب دریم عمرتر خپلې مشرۍ لاندې د طالبانو اسلامي تحریک پیل کړ، له هېواده يې د پاټکیانو ټغر ټول کړ او پنځه کاله يې اسلامي نظام قائم کړ.
دا چې تازه افغان ملت د جهاد ثمره تر لاسه کړې وه خو خورا لنډ مهاله وه، نو امریکایي یرغلګرو په مختلفو بهانو سره پرې یو داسې یرغل وکړ چې په تاریخ کې يې ساری نه لیدل کېږي، اسلامي نظام يې ړنګ او پر ځای يې دسکولرانواو له هره اړخه نیمګړې کابل اداره رامنځته کړه، د هېواد په مختلفو لویو ښارونو کې يې څو داسې نظامي اډې جوړې کړې چې د ورانولو يې هیڅ تصور نه کېده، بلکې ټولو اړخونو دا نظر درلود چې د افغانستان له لویو اډو څخه به امریکا د اسیا زیاتره هېوادونه کنټرولوي.
خو دا دی سږ کال ۱۴۰۰/۴/۱۱هـ ش مخکې له دې چې یا رسمي تشریفات تر سره کړي او یا هم د خپلو افغان همسنګرو سره مشوره وکړي، دباګرام په څېر لوی بېس يې هم خالي کړ، په پټه توګه يې یوازې خپل سرونه ژوندي وېستل
دا چې امریکایان په ۲۰۱۴ م کال کې په دې پوهېدلي وو چې افغانستان نشي کنټرولولی او نه هم دلته خپلې جوړې شوې پایګاوې ساتلی شي، نو يې د واک د انتقال تر عنوان لاندې ځانونه د هېواد له اطرافي سیمو او بېسونو څخه لویو اډو ته را ټول کړل او خپل تجهیزات يې ټول دغو لویو اډو ته رانقل کړل، د جګړې په ډګر کې يې خپل اجیران یوازې پرېښودل او په دې يې وغولول چې ګواکې تاسې نور په یوازې ځان له افغان ملت سره د جګړې توان لرئ!
امریکا هماغه وخت هم مذاکراتو ته حاضره وه تر څو د وتلو مصؤونه لار ورته ورکړل شي، خو له یوې خوا له نړیوال شرم سره مخ وه او له بلې خوا يې نه غوښتل چې افغان ملت ته داویاړ او برم ورپه برخه کړي چې په یوه پېړۍ کې يې درې امپراطورۍ ماتې کړې نو له همدې امله يې مذاکرات وځنډول چې دا دی په ۲۰۲۰ کال کې يې له طالبانو سره توافق وکړ او بیا يې تر توافق د ځواکونو د وتلو وخت نور هم تمدید کړ او د ۲۰۲۱ میلادي کال تر سپټمبر پورې يې دغه نېټه وغځوله، خو اوس چې لا دغې تمدید شوې نېټې ته څو میاشتې پاتې وې، د امریکا او ناټو زیات

**شمېر پوځيان ووتل او بېسونه او لويې اډې يې تشې پرېښودلې، د ځواکونو وتل يې په داسې حال کې دي چې اجيره اداره يې بلکل خبره کړې نه ده او نه يې هم تماس ورسره نيولی دی.**
**د امريکايانو پټ وتل ځرګندوي چې نور يې د افغان ملت تاريخ په غور کتلی او دا هېواد يې له دې وېرې تخليه کړ چې هسې نه پاتې عسکر يې همدلته دمرګ په خوب ويده شي.**
**په وړاندې يې افغان ملت يو داسې نړيوال او تاريخي وياړ خپل کړ چې په يوه پېړۍ کې يې درې نړيوالې امپراطورۍ ماتې او درې وړې کړې او له هېواده يې وېستلو ته اړ کړې.**
**د يادونې وړ ده چې افغانانو د انګرېزانو امپراطوري په ١٩١٩ ميلادي کال کې ماته کړه او د روسانو امپراطوري يې په ١٩٨٩ ميلادي کال کې له پښو وغورځوله او امريکا + ناټو يې په ٢٠٢١ ميلادي کال کې د لست له سره د لست وپای ته راښکته کړه. کفارو دتير په څير هر ځل چې اسلامي انقلاب منځ ته راغلی په مختلفو پلمو او دسيسو دکاميابۍ دوام ته نه دی پريښی چې داځل هم داسلامي امارت دکاميابۍ ددوام دمخنيوي لپاره يې مختلفې ستراتيژيانې پکار اچولي**
**١ــافغانستان په رسميت نه پيژندل : چې ددی سره دطالبانو اړيکې له دونياوالو سره شلېږي او تګ راتګ هيچرته نشي کولی چې دا يواقتصادي بنديز دی او له دی سره په ملک کې بحران رامنځته کيدای شي**
**٢ــ دافغانانانو دټول بيت المال کنګلول او بندول : له دی سره په ملک کې اقتصادي بحران رامنځته کيږي او ټول ملت له طالبانو خفه کولی شي ماشونه پخپل وخت نه اجراء کيږي چې ټول افغانستان تقريباً ٢۶ لکه يا ٢،۶ ميلونه مامورين ، معلمين ، دپوهنتونونواستادان او کاريګران معاش خواره لري او دوی خپل ټول فاميل له دغه درکه پالي**
**٣ ــ دښځو دحقوقو په نامه تبليغات او په حکومت کې دهغوی شاملول : چې دوی ورته شل کلنې لاسته راوړنې واي دفرانسې رئيس جمهور ماکرون يوه تلويزوني مرکه کې وويل چې طالبان به لويه بيه پريکوي ترڅو چې دښځو ازادي ونه مني مونږ يې په رسميتو نه پيژنو**
**۴ ــ دداعش په نامه ګرنجی دطالبانو غاړه کې وراچول : دی موضوع ته لا له وړاندې پراخ تبليغات شوي او ټوله مډيا همدا ډنډوره غږوي چې افغانستان کې داعش دی او طالبان به ټول وخوري په داسې حال کې چې دداعش ډلې کسان دګوتو په شمار خلک دي ددی تر شا دنړۍ ټول کفري طاقتونه کولی شي چې اوبه خړې او ماهيان پکې ونيسي لکه سوريه يې چې په همدې نامه تبا او برباد کړه اوس طالبانو ته پکار وه چې عمومي عفوه شوې وه بيا د داعش دډلې په نامه کسان يې نه وژلی ، محبسونو ته يې نه اچولی وهل او ټکول يې نه ورکولی بلکه دجوش پر ځای يې له هوشه کار اخستی وای دا يوه نړيواله توطيه ده چې طالبان يې ورسره بيا مخ کړل لکه څوکاله مخکې يې چې ورسره مخ کړي وه اوس به دنړۍ استخبارات انفجارات کوي او داعش به يې په غاړه اخلي بس داګرنجی به تر هغې کرنګوي تر څو چې کفار خپل هدف ته ورسيږي هغه داچې بيا به وايي ګوری ملايان حکومت نشي کولی افغان ملت به ځوريږي کړيږي او له منځه به ځي کفار به يې له ورايه سيل کوي، په دی جنګونو کې چې له ننګرهار ولايت اچين ولسوالی نه شروع شوه په زرګونو طالبان او په زرګونو دداعش يا خلافت والا له منځه لاړل په دی کې دواړه طرفه لوي لوي علماء، شيخان او مفتيان هم شهيدان شول او دا لړی لا روانه ده شيخ متوکل په کابل کې ، شيخ رحمت شاه جلال اباد کې ، شيخ سردار ولي کابل کې ، شيخ مجيب الرحمن هرات کې او شيخ رحيم الله کابل کې او داسې نور په لسګونوشيخان او علماء کرام دهمدې خپل منځي جنګونو قرباني شول افغانان يې لکه چرګان سره په جنګ اچولي داسيناريو به تر هغه دوام کوي تر څو چې دامجاهد ملت دشورويانو څخه دازادۍ اوه اسلامي تنظيمونوپه سرنوشت نه وي اخته شوی بيا به اوبه له ورخه تللې وي لاسونه به مروړو خو يو به هم کاميابۍ ته پرينږدي له دی څخه دوتلو لار يواځينی داده که چيرې**

تیرو اوه اسلامي تنظیمونو خپلو کې سره جوړ جاړی کړی وی یو بل یې نه وژلی هر تنظیم ته دافغانستان په اندازه بادشاهی او ملکونه په برخه رسیدل ځکه هغه وخت مرکزي اسیا دیو باو سره تسلمیده او اوس هم کله چې طالبان راغلل فقط دیوې ورځې سره داملکونه تسلیمیده بیا به چاچې غوښتلو خلافت جوړکړي چا چې غوښتلو امارت جوړ کړي جوړ کړی به یې وه بسته بسته ملکونه ورته پلاس راتله اوس افغانستان یو بې غوښې هډوکی دی نه ترې امارت جوړیږي او نه ترې خلافت جوړیږي او یوه ورځ به الله دی نکړي داسې راشي چې یو به هم نه وي ځکه تاریخ ثابته کړې دا تاریخ ټول ولولی معلومات به درته وشي

د ۱۴۰۰ هـ ش کال میزان ۲۶ تاریخ دروسیې رئیس جمهور پوتین دتلویزون له لارې یوې خارجې غونډې ته وویل چې دافغانستان شمال ته ۲۰۰۰ داعش راغلي دي پوتین هم ورته

ډ ول(ډهل) ووهلوچې بیا داسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد داخبره رد کړه



**تبصیره :**احمد جرسجون ۲۳, ۲۰۲۱لیکوال: دوکتور احمد موفق زیدان- د

الجزیرې ټلویزون خبریال، چې نږدې درې لسیزې یې د افغانستان وضعیت له نږدې څارلی ژباړه: نن ټکی اسیا

د پخواني شوروي یرغل او غربیانو د ماتې تر منځ نژدې درې لسیزې واټن دی، چې د امریکا په مشرۍ ۳۸ ایتلافي هېوادونو په افغانستان کې ماتې وخوړه. ځینې فکر کوي، چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې پر افغانستان د امریکایي یرغل له پیله تر اوسه وضعیت کې ډېر بدلون نه دی راغلی، خو زه فکر کوم، چې نه، ډېر بدلونونه راغلي دي؛ ځکه چې د روسي او امریکایي عسکرو له وتلو سره د افغانانو چال چلند او تعامل تر منځ بنسټیز توپیرونه شته او دغه توپیرونه د دې لامل کیږي، چې پر افغاني، پاکستاني، سیمه‌ییز او نړیوال ډګر څو بعدي او ژور اغېز پرې باسي.

زه له افغانستانه د شوروي سرو لښکرو د وتلو عیني شاهد وم، چې د ۱۹۸۸ م کال په اګسټ کې پیل او د ۱۹۸۹ په فبرورۍ کې بشپړ شو، هغه مهال ما ټول تفصیلات تر رسنیز پوښښ لاندې راویستي وو او دا دی، نن ورځ زه د امریکا متحده ایالتونو په مشرۍ د غربي پوځیانو وتل هم په خپله څارم. سره له دې، چې د دواړو قوتونو د پوځیانو وتل به په ظاهره یو ډول ښکاري، خو ځمکني حقایق بیا وایي، چې د دواړو د وتلو تر منځ بنسټیز توپیرونه دي او ځینو ته دا خوند ورکوي، چې د دواړو ځواکونو وتل ماتې وبولي. زه غواړم دلته د دواړو بهرنیو پوځیانو د وتلو تر منځ توپیرونو ته اشاره وکړم او ښایي دا اشاره د پرېکړو له خاوندانو چارواکو سره مرسته وکړي، چې حقایق په سمه توګه وپیژني.

په ۱۹۸۹ کال کې شوروي لښکرو د پاکستان او شوروي اتحاد تر منځ د مذاکراتو په پایله کې له افغانستانه وتل پیل کړل او ورپسې واشنګټن او مسکو په دې موضوع مذاکرات وکړل، چې په پایله کې یې شوروي لښکرې ووتلې او یا یې هم ماتې وخوړه، خو مجاهدین له نږدې او یا هم له لرې په دې خبرو کې طرف یا دخیل نه وو او حتی د جنیوا تړونونه، چې ملګرو ملتونو د امریکا او نړیوالې ټولنې په ضمانت د پاکستان او افغانستان تر منځ لاسلیک کړل هلته هم مجاهدین طرف نه وو بلل شوي. هغه حالت له افغانستانه د امریکایي عسکرو له وتلو سره په بشپړ ډول توپیر لري؛ ځکه چې افغان حکومت په بشپړه توګه د مذاکراتو له مېزه ګوښه ساتل شوی او د طالبانو تحریک په یوازې توګه د افغان مقاومت د استازي په توګه په کې ګډون کړی و، په داسې حال کې، چې د شوروي لښکرو د وتلو پر مهال د جهادي ګوندونو شمېر اتو ته رسېده، چې اووه یې سنیان او یو یې د حزب وحدت په نوم د شیعه ګانو و او دا ځل طالبانو ونه غوښتل، چې پاکستان د دوی پر ځای د سیاسي بدیل په توګه په دې مذاکراتو کې ګډون وکړي او دې کار د طالبانو لپاره په سیمه‌ییز سیاست کې د پراخ ګام اخیستو چانس په لاس ورکړ. له همدې امله د سیمه‌ییزو او نړیوالو قوتونو له لوري د

طالبانو په حساب د افغانانو لپاره د حکومت جوړولو پایله به ستره ناکامي وي، په داسې حال کې، چې واشنګټن طالبانو ته مخه خوشې کړې ده.
طالبانو د دولت، قانون او دستور په اړه ځانونه په غربي کليشو نه دي بوخت کړي او دا هم نه وايي، چې حکومت به يې پراخ بنسټه وي او که نه، لکه څرنګه، چې هغه مهال افغان مجاهدين پرې بوخت وو، چې له امله يې د مجاهدينو ګوندونو تر منځ ډېر اختلافات رامنځته شوي وو او د هرې ډلې لپاره خپل شرعي او سياسي ليډلوري و. خو طالبانو په تېرو شلو کلونو کې په يوازې ځان «د مقاومت مشروعيت» له ځان سره ساتلی او تر اوسه په دغو تفصيلاتو کې نه دي داخل شوي او ټول ټينګار يې يوازې پر پوځي عملياتو او فکر دی. پر دغه ډول اختلافي موضوعاتو بوختيا پوځي هڅې کمزورې کوي او له همدې امله طالبان تر ډېره پر پوځي ځواک تمرکز کوي.
داسې ښکاري، چې د امريکا او طالبانو تر منځ داسې پټې خبرې هم شته، چې د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته به امريکا له افغان حکومت سره هوايي مرستې نه کوي او دا خبره اوس پر ميدان هم روښانه ده او موږ ګورو، چې هره ورځ ګڼې ولسوالۍ د طالبانو لاسونو ته لوېږي. د دې سربېره د امريکايي چارواکو اشارې او څرګندونې هم بې څه نه دي، چې د افغان حکومت د سقوط د امکاناتو په اړه خبرې کوي.
بل پلو په عملي ډګر کې د حکومتي جبهو پرله‌پسې ماتې رواني دي، په داسې حال کې، چې طالبانو له هغې ژمنې ځانونه يوه کونج ته کړي، چې ستر ښارونه به نه سقوط کوي. دا هغه دام دی، چې په ۱۹۸۹ کال کې په کې د مجاهدينو ډلې ونښتې او ناکام شول. طالبانو نن سبا د واورې پنډوسکي او يا هم د مېږي د مزل ستراتيژي غوره کړې ده، په دې معنا، چې طالبان ولسوالۍ او حکومتي سيمې په تدريجي توګه نيسي او غواړي د حکومت له لوري د مقاومت ړنګېدنولي په عملي ميدان کې ناکامه ثابته کړي. دوی غواړي، چې د واورې دا پنډوسکی نور هم غټ کړي، خپل ځواکونه په نوو وسلو او تجهيزاتو غښتلي کړي او په مقابل کې د خپل دښمن ځواک وځپي او دغه حالت د حکومت او د هغه د ملاتړو لپاره ستر رواني ګزار دی.
په سيمه‌ييزه کچه د افغانستان په اړه تر ټولو زيات فکر کوونکی هېواد پاکستان دی او د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي له طلوع نيوز سره په وروستۍ مرکه کې د طالبانو په وروستيو فتوحاتو خپله خوښي څرګنده کړه او د پاکستان لومړي وزير عمران خان هم په پاکستان کې د امريکايي اډو قضيه يو طرفه کړه او په څرګندو ټکو يې وويل، چې هېواد به يې په راتلونکي کې د افغانستان پر خلاف امريکا ته هېڅ ډول اډې ور نه کړي.
اوس ټوله اندېښنه دا ده، چې افغانستان به يو ځل بيا د سيمه‌ييزو قوتونو تر منځ د ټکر په مرکز بدل شي، بلکل هماغه شان، چې د شوروي لښکرو له وتلو وروسته څنګه حالات رامنځته شوي وو. روسيه او ايران داسې هيلې لري، چې د امريکا له ماتې وروسته په افغانستان کې د خپلو موقفونو لپاره پلانونه جوړ کړي.

## په افغانستان کې د امريکا شل کلن اشغال ته يوه کتنه (احمدشاه راشد د پوهنتون استاد)

پوره شل کاله وړاندې د سپټمبر په يوولسمه نېټه د القاعدې ډلې نولس غړيو د يونايټډ او امريکن هوايي شرکتونو ۴ الوتکې برمته کړلې او د امريکا پر نيويارک او واشنګټن ښارونو يې بريدونه وکړل. چې د دې بريدونو په پايله کې شاوخوا ۳۰۰۰ کسان ووژل شول او همدا بريدونه په افغانستان کې د امريکا د جګړې د پيل يوه مهمه پلمه وګرځېده، چې له امله يې امريکا پر افغانستان بريد وکړ او ( ۱۴۰۰۰۰ )يو لک او څلوېښت زره امريکايي پوځيان يې له ترهګرۍ سره د مبارزې تر نوم لاندې افغانستان ته راولېږل.
په افغانستان کې د امريکا له لوري د پيل شوې جګړې ۲۰ کاله پوره شول؛ او د ۲۰۲۰ م کال د فبرورۍ په ۲۹ مه نېټه د افغانستان د اسلامي امارت او امريکا ترمنځ د اوږدو خبرو په پايله کې په

دې وتوانېدل چې د افغانستان د اشغال د پای لپاره هوکړې ته ورسيږي او امريکا د ۲۰۲۱ م کال د اګسټ مياشتې په ۳۱ مه نېټه د خپل آخري سرتيري په وتو سره په افغانستان کې خپل اشغال پای ته ورسولو او اسلامي امارت د افغانستان بشپړ واک په خپل لاس کې واخيست او دا ورځ د امريکا په تاريخ کې يوه توره ورځ او د افغانانو لپاره د وياړ ورځ وبلل شوه.د سپټمبر ۱۱مې له پېښې را وروسته پر افغانستان د امريکا د بريد څرنګوالی، په افغانستان کې د امريکا جګړه او دا چې په ټوله کې د سپټمبر ۱۱مې له پېښې را وروسته په افغانستان کې امريکا د جګړې له امله د اوښتو مالي او ځاني تاوانونه؟ او په افغانستان کې د امريکا ماتې هغه موضوعات دي، چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

**۱ ــ پر افغانستان د امريکا بريد:** د شوروي اتحاد د يرغل پر مهال يو شمېر عرب وګړي په افغانستان کې مېشت وو او له افغان مجاهدينو سره يې په بېلابېلو برخو کې مرستې کولې. د طالبانو د اسلامي امارت د جوړېدو پر مهال هم، ځينې عربان، د اسامه بن لادن او د ده د ملګرو په شمول، په افغانستان کې مېشت وو، چې له طالبانو وړاندې د استاد رباني حکومت پناه ورکړې وه. اسامه بن لادن هغه څوک و، چې پر سر يې د طالبانو او امريکا ترمنځ شخړې پيدا شوې او په ۱۹۹۸م کال کې څو ځله د امريکايانو لهخوا پر افغانستان توغنديز بريدونه هم وشول؛ خو څه کم درې کاله وروسته کله چې په امريکا کې د سپټمبر ۱۱مې پېښه رامنځته شوه، يو ځل بيا د اسامه پر سر جنجال زور واخيست.د امريکا د هغه مهال ولسمشر"جورج ډبليو بش" له طالبانو څخه د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر په ۲۰مه وغوښتل چې دوی ته د القاعدې ټول غړي وسپاري، ټول بهرني بنديان خوشې کړي، د وسلهوالو جنګياليو روزنيز مرکزونه وتړي او امريکا ته د "ترهګرو" د ټرېننګ مرکزونو ته لاره ورکړي، څو دوی هلته خپلې څېړنې وکړي؛ خو طالبانو د امريکا دغه وړانديزونه رد کړل او په ځواب کې يې وويل چې امريکا په دې پېښه کې د اسامه د ښکېلتيا هېڅ ډول ثبوت نه لري.
که څه هم وروسته طالبانو امريکا ته وړانديز وکړ چې دوی چمتو دي، څو اسامه پاکستان ته وسپاري او هلته محکمه شي؛ خو دغه وړانديز د پرويز مشرف له لوري رد شو. دغه راز د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر پر ۷مه طالبانو يو ځل بيا وړانديز وکړ، چې دوی چمتو دي په افغانستان کې دننه په يوه محکمه کې پر اسامه پرېکړه وکړي. خو په همدې ورځ امريکايانو پر افغانستان هوايي بريدونه پيل کړل او روانه خونړۍ جګړه يې پيل کړه.

**۲ ــ په افغانستان کې د امريکا حضور:** امريکا ظاهراً دا وېلې چې دوی په افغانستان کې د ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره راغلي دي او اصلي موخه يې د القاعدې ډلې د مشر اسامه بن لادن له منځه وړل دي خو په تآسف سره بايد ووايم چې دوی دلته په افغانستان کې د واک چارې هغه تش په نامه افغانانو ته وسپارلې چې دوی د افغانستان سره هېڅ ډول خواخوږي نه درلوده او دلته يې هسې په نامه د ډېموکراسۍ نمايشي کارونه تر سره کول د تېرو شلو کلونو په جريان کې ۴ وارې ټاکنې تر سره شوې، په ټاکنو کې بريا د هغه چا وه چې امريکا به غوښته د خلکو رايو ته هېڅ نوع توجه نه کېده هسې د ملت او نړېوالو د غلطولو لپاره به يې تش په نامه ټاکنې تر سره کړلې د ترهګرو په نامه يې ډېرې افغانان ووژل او يا يې هم په افغانستان يا هم د ګوانتانامو په زندانونو کې بې دې کوم موجه دليل څخه بنديان کړل، په دې دوران کې د افغانانو په دين، مذهب، قوم، ژبه ملنډې ووهل شوې او د يو خاص قوم تورن کېدل په دې چې دوی ټول ترهګر دي سخت ظلمونه يې پر وړاندې تر سره شول، فساد، بې کاري، اقتصادي ستونزې، ظالم حاکمان، بې کفايتي او د کېپټلېزم سيستم تقويه کول هغه داسې چې د بيت المال هر څه د يو څو ډلو په لاس کې ورکړ، نور ملت له لوږې سره مخ و هېڅ نوع خدمات چې بايد تره سره شوي وی تر سره نه شول هر څه نمايشي وو ښه بېلګه يې د کابل په ميدان هوايي کې د صفر يو او امريکايانو له لوري د بيت المال د شيانو له منځه وړل وو چې دا

ثابتوي چې امریکایان افغانستان ته د آبادۍ او سوکالۍ لپاره نه بلکې د خپلو شومو موخو د تر لاسه کولو لپاره راغلي وو.

**۳ ـ د شل کلن اشغال مالي او ځاني تاوانونه:**ظاهراً پر افغانستان د امریکا برید له "ترهګرۍ" سره د مبارزې تر نامه لاندې وشو؛ خو د شل کلونو په تېرېدو نه یوازې دا چې "ترهګري" ختمه نه شوه، بلکې په افغانستان کې نورې بېلابېلې وسلهوالې ډلې هم را پیدا شوې. جګړې ورځ تر بلې زور واخیست او پر ښکېلو لورو سربېره لسګونه زره عامو افغانانو ته هم پهکې مرګـژوبله واوښته.

په ټوله کې د شلو کلونو په تېرېدو سره په افغانستان کې د امریکا د جګړې پایلې په لاندې ډول ټکو کې بیانولی شو:

**لومړی؛** پر افغانستان د امریکا له برید وروسته د شلو کلونو په تېرېدو نه یوازې چې دوی په دې جګړه کې بر لاسي نشول بلکې امریکا، متحدین او په کابل کې د دوی له لوري د حاکم حکومت د سقوط او د افغانستان د شل کلن اشغال د پای سبب شول. او د تېرو شلو کلونو د جګړې په جریان کې ملکي وګړو، د اسلامي امارت مجاهدینو، د امریکایانو له لوري د کابل حکومت طرفدارو ځواکونو، امریکا او متحدینو څخه زرګونه کسان وژل شوي دي، په دې لړ کې د امریکایانو او متحدینو له لوري د افغانانو په ودونو، مسجدونو، جنازو، کورونو، غونډو، درندې او ړندې بمبارۍ تر سره شوي دي، د افغانستان په جګړه کې د ښکېلو خواوو له لوري د جګړې اصولو ته نه پاملرنه، ړندې بمبارۍ او په ټولیز ډول قصداً د وحشت خپرول، هغه څه دي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې زیاتوالي ته یې لاره هواره کړې وه.

**دویم:** د طالبانو د رژیم له سقوط وروسته، افغانستان کې د امریکا په رهبرۍ د نړیوالو ځواکونو له لوري د نوي نظام بنسټ کېښودل شو؛ یاد نظام د اول سره یې تهداب د قومونو، ژبې او سمت په خلکو ووېشل شولو او د تېرو شلو کلونو په جریان کې د فساد، د چارواکو بې کفایتي، د واک انحصار، چور چپاول، ملي او دیني ارزښتونو له پښو لاندې کولو پرته بل هېڅ کار تر سره نکړ او افغانستان به تل د نړۍ د فاسدو هېوادونو په اول قطار کې قرار درلود.

**دریم :** افغانستان ته د نړیوالو ځواکونو له راتګ سره، ۲,۲۶ټرېلیون ډالر هم دغه هېواد ته راغلل؛ خو د مشخصو کړیو او کسانو جیبونه ترې ډک شول. اوس شاوخوا ۷۰ سلنه افغانان د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي، دغه راز نږدې دوه میلیونه افغانان چې د کار کولو په شرایطو برابر دي، بېکاره دي او په تېرو څو کلونو کې سلګونه زره لوستي او نالوستي افغان ځوانان د بېکارۍ له کبله بهرنیو هېوادونو ته کډوال شول، چې ډېر یې له رسېدو وړاندې د سختو او مرګونو لارو له کبله د مرګ کندو ته ولوېدل که چېرې د پیسو اندازې او د وخت ته وکتل شي هغه څه چې اړتیا وه پراختیایي، زېربنایي، تعلیمي، روغتیایي او په ټوله کې د ټولنې د پرمختګ لپاره نه دي تر سره شوي خو بیا هم ځیني داسې برخې شته چې په هغه کې یو څه اندازه کار تر سره شوی دی.

**څلورم :** څه هم لا معتبره نړیوالو مراجعو خپلې وروستۍ شمېرې نه دي خپرې کړې، خو اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس څو ورځې مخکې په افغانستان کې د وژل شویو کسانو شمېر په لاندې ډول خپور کړی و:

وژل شوي امریکایي عسکر: ۲۴۴۸ په دې ډله کې د اګسټ د ۲۶مې په چاودنه کې ۱۳ وژل شوي امریکایي عسکر نه دي حساب شوي.

وژل شوي امریکایي قراردادیان: ۳۸۴۶

وژل شوي افغان ملي اردو او پولیس: ۶۶ زره کسان

وژل شوي نور متحدین، د ناټو د نورو غړو په شمول: ۱۱۴۴

**وژل شوي افغان ملکیان: ۵۱۱۹۱ ،د اګست د ۲۶ نېږدې ۱۷۰ تنه په کې نه دي شمار شوي.**
**وژل شوي مرستندویه خلک: ۴۴۴**
**وژل شوي خبریالان: ۷۲**
**همدا ډول د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدینو د شمېرو په اړه څه نه دي ویل شوي ممکن د هغې په اړه خپله د اسلامي امارت اړوندې ادارې یې شمېرې شریکې کړي.**

# د امریکایي اډو د تخریبولو راز

**امریکا له ویتنام څخه خپل عسکر په اپریل ۱۹۷۵ م کې و ایستل، هلته د امریکایي اشغال پای په داسې عجله او وارخطایي کې وشو چې امریکا ته یې دا فرصت په لاس ور نکړتر څو پر ویتنامیانو د شویو مظالمو نښې نښانې له منځه یوسي، له بلې خوا ویتنامیان یو ویښ او بیداره ولس دی، خپل تاریخ یې مسخه کیدو ته پرینښود. هغوی د نورو کلونو پشان سږکال هم د کرونا او نورو ستونزو سره سره د خپلې بریا او امریکایي اشغال د شکست پنځه څلویښتمه کلیزه په شاندارو دولتي او ولسي مراسمو ولمانځله! ویتنام اوس د امریکې سره ښې اړیکې لري او امریکا ورسره ډیرې اقتصادي او نظامي مرستې کوي خو دې مرستو پر ویتنامیانو د شویو مظالمو د اظهار، د خپل تیر تاریخ د ساتنې او نوي نسل ته د هغې د رسونې مخه ډب نه کړای شوه.**






**هغوی ستر موزیمونه هم جوړکړي چرته چې یې د امریکا او ویتنام د جګړې ټولې نښې نښانې خوندي ساتلي تر څو سیلانیان او خپل راتلونکی نسل د امریکایي اشغال له ظلمونو، وحشت او تعذیبونو څخه با خبره وساتي! په افغانستان کې د بګرام، کندهار، ننګرهار او نورو امریکایي بیسونو هم زندانونه او تعذیب ځایونه لرل چې د امریکایي وحشت، ظلم او بشر ضد جنایتونو ښکاره بیلګې وې. امریکا د ویتنام له جګړې څخه د پند او تجربې پر اخیستلو نه غوښتل افغانستان د هغوی د وحشت او بربریت ژوندی نندارتون شي نو ځکه د هرې ممکنې لارې هڅه کوي ترڅوپخپلو ظلمونو پرده واچوي، خپل جنایات پټ او نښې یې له منځه یوسي.**




امریکا به پر ځای پرېږدو، د کابل په اداره کې هم له دې وطن سره دومره دلسوزي نه وه چې د امریکا سره د امنیتي پیمان، ستراتیژیک تړون او اوس د جواینټ ډیکلریشن په کوم کونج کې یې دا جمله ورزیاته کړې وه چې د خارجي قواو د وتلو پر مهال د هغوی په غیر منقوله املاک کې د تصرف حق یواځې د افغانستان د دولت دی چې په دې صورت کې بیا هغوی دا تعمیرات نه شو ورانولای.




ښایي د هغوی په خوب او خاطر کې به هم دا نه ګرځیدله چې د ابابیلو دا کمزوری، بې یاره او مددګار ټولی به د پیلانو لښکر تیښتې ته اړباسي!
له بده مرغه د امارت په سیاسي ګروپ کې هم دا درایت نه و موجود چې له امریکایانو سره د اشغال د خاتمې په اتلس میاشتنیو مذاکراتو کې یې دې مسئلې ته پام کړی و او پر امریکایانو یې فشار وارد کړی و چې د فوځونو د انخلا په صورت کې به ټول هغه څه چې هغوی یې له ځان سره نه شي وړای، د تخریب پر ځای افغان ولس ته پرېږدي!!
په ۲۰۱۴م کال یوکس سره ډیرې قیمتي دموټرو بطرۍ وی موږ تری پوښتنه وکړه دامو څرنګه له امریکایانو ترلاسه کړی هغه وویل زه یوشرکت سره کار کوم چې هغه شرکت دامریکایانو هغه ټانکونه او زروي موټرونه او اسلحې تخریبوي چې نه غواړي افغانانو ته پاته شي دی شرکت داسې ماشینونه او الاجیګانې راوړلې چې بسته موټر یا ټانک ورواچول شي ټوټه ټوټه یې کړي لکه مالوچ په شان دی موټرو او ګاډو نه فقط موږ ته دبطرۍ ایستلو اجازه شته نور مو یو شي ته هم نه پریږدي کنه ډیرې قیمتي پرزې پکې دي خو دهغې رایستلو ته مو نه پریږدي چې په دی تخریب دوسایطو او بیزونو امریکا په ملیاردونه ډالرولګول

# اافغانستان او څو مهم واقعات s

۷ اکتوبر ۲۰۰۱:د امریکا په مشرۍ ټلوالې په افغانستان کې طالبانو او القاعدې پر ضد هوايي بریدونه پیل کړل. پر کابل، کندهار او جلال اباد کې هدفونه په نښه شول. طالبانو امریکا ته د اسامه بن لادن له ورسپارلو انکار وکړ.
۱۳ نومبر ۲۰۰۱:د طالبانو مخالفې شمالي ټلوالې، چې د نړیوالې پوځي ټلوالې لخوا یې ملاتړ کېده، پر افغان پلازمېنه کابل ولکه وکړه.
۷ فبروري ۲۰۰۹:د امریکا ولسمشر باراک اوباما افغانستان ته د لا ډېرو پوځیان استولو پرېکړه وکړه. یو مهال افغانستان کې یو لک او څلوېښت زره(۱۴۰۰۰۰) امریکايي پوځیان مېشت وو.
۲۸ دسمبر ۲۰۱۴:ناټو افغانستان کې خپل جنګي ماموریت پای ته ورسولو. پاتې بهرنیو ځواکونو د افغان پوځ روزنه او د سلا مشورې ماموریت پیل کړ.
۲۹ فبروري ۲۰۲۰:امریکا او طالبانو د دوحې تړون لاسلیک کړ. ۲۹ ناټو هېوادونو ژمنه وکړه چې که طالبان پر خپله خبره عمل وکړي دوی به په ۱۴ میاشتو کې خپل ټول پوځیان له افغانستان وباسي.
۱۳ اپرېل ۲۰۲۱:د امریکا ولسمشر جو بایډن اعلان وکړ چې د سپتمبر میاشتې تر ۱۱مې نېټې به خپل ټول پوځیان له افغانستان وباسي.
۱۵ اګست ۲۰۲۱:طالبانو د ګڼو ولسوالیو او ولایتونو له نیولو وروسته بلاخبره پر پلازمېنه کابل ولکه وکړه. افغان پوځ له حیرانوونکي سقوط سره مخ شو.
۳۱ اګست ۲۰۲۱:د امریکا دفاع وزارت اعلان وکړ چې له افغانستان یې خپل وروستي پوځیان ایستلي او له دې سره یې هغه هېواد کې شل کلن پوځي ماموریت پای ته رسولی.






# افغان جګړه امریکا ته په څه بیه تمامه شوه ؟ s،

د کابل په شمال کې افغان ځواکونو ته د باګرام پوځي اډې له سپارلو سره له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل حتمي شوه .د امریکا ولسمشر جوبایډن ویلي غواړي د روان کال د سپتمبر تر ۱۱ مې نیټې امریکايي پوځیان له افغانستانه ووځي.بي بي سي دې ته کتنه کړې چې امریکا په افغانستان کې د جګړې له پیل راهیسې څومره مالي او ځاني زیان ګاللی دی؟امریکا د ۲۰۰۱ کال په اکتوبر میاشت کې پر افغانستان یرغل وکړ چې د طالبانو واکمني نسکوره کړي ځکه چې ګومان یې کاوه چې د القاعده شبکې مشر اسامه بن لادن او نورو غړو ته یې چې پر امریکا د سپتمبر د یولسمې نیټې د بریدونو مسوول ګڼل کېدل پناه ورکړې وه.د امریکا د دولتي شمېرو له مخې له ۲۰۱۰ کال نه تر ۲۰۱۲ کال پورې موده کې چې امریکا په افغانستان کې ( ۱۴۰۰۰۰) یو لک او څلویښت زره پوځیان لرل هر کال د جګړې لګښت تقریباً ۱۰۰ ملیاردو ډالرو ته رسېده.

د تېر ۲۰۲۰ کال ډسمبر میاشتې پورې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شمېر ۷۸۰۰ته ټیټه شوی و او سږکال (۲۰۲۱) دا شمېر ۴۰۰۰ پورې کم شوی و.
کله چې امریکایي پوځ له جګړییزو عملیاتو نه خپل پام د افغان ځواکونو روزنې ته ډېر کړ نو ورسره لګښتونه هم کم شول.




خو په روان ۲۰۲۱ کال کې د امریکا دفاع وزارت لوړ پوړو چارواکو د امریکا کانګرس ته ووېل له هغه وروسته تر ۲۰۱۸ کال پورې په افغانستان کې د امریکا له خوا لګښتونه هرکال شاخوا ۴۵ ملیارده ډالر وو.
د امریکا د دفاع وزارت د شمېرو له مخې د ۲۰۰۱ کال اکتوبر میاشتې نه د ۲۰۱۹ کال تر سپتمبر میاشتې پورې په افغانستان کې د امریکا له خوا ټول شوی پوځي لګښت ۷۷۸ ملیارده ډالر و.
دغه راز د امریکا بهرنیو چارو وزارت او د امریکا پراختیایي ادارې (یوایس اې ډي) ۴۴ ملیارده ډالر د بیارغونې پر پروژو لګولي چې له دې سره له ۲۰۰۱ کال نه تر ۲۰۱۹ میلادي کال پورې د امریکا له خوا افغانستان کې د ټولو لګول شویو پیسو اندازه ۸۲۲ ملیاردو ډالرو ته رسېږي.
په دې پیسو کې هغه شامل نه دي چې امریکا پاکستان کې لګولي دي ځکه چې له پاکستانه یې په افغانستان کې د عملیاتو په خاطر د یوې اډې په توګه کار اخیستی دی.
په ۲۰۱۹ کال کې برا ون پوهنتون په افغانستان او پاکستان کې د امریکا د لګښتونو په اړه یوه څېړنه وکړه او ویې ویل چې امریکا په دواړو هیوادونو کې ۹۷۸ ملیارده ډالر لګولي دي (البته په دې کې هغه پېسې هم شاملې وې چې د ۲۰۲۰ کال بودیجې لپاره ځانګړې شوې وې.)
د اسوشیټېډ پرس خبري اژانس د رپوټ له مخې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو له بشپړېدو وروسته هم تمه ده چې ۶۵۰ تنه امریکایي پوځیان په افغانستان کې د امریکا د سفارت د امنیت ساتنې په موخه پاتې شي.
چې بیا دوتلو وخت کې دومره ډار پرې زیات شو چې دسفارت ټول غړي یې هم ویستل فوجیان خو لا څه کوې د یادونې ده چې په افغانستان کې د پام وړ شمېر شخصي امنیتي کمپنۍ هم د امریکا لپاره کار کولو.

## دومره ډېرې پیسې پر څه لګول شوې دي؟ S‹

امریکا په افغانستان کې د بیارغونې په چارو هم لګښت کړی دی.
په افغانستان کې د لګول شویو پېسو ډېره برخه د اورپکی پرضد عملیاتو، دامریکایي ځواکونو لپاره پر خوړو، جامو، روغتیایي او نورو ځانګړو خدماتو لګول شوي دي.
دغه راز رسمي شمېرې ښیي چې امریکا له ۲۰۰۲ کال راهیسې په افغانستان کې د بیاروغونې پر چارو۱۳۴،۲۷ یوسل او دریځلویښت اعشاریه ۲۷ ملیارده ډالر لګولي دي.
چې څه باندې ۸۸،۳۲ اتاتیا اعشاریه ۳۲ ملیارده ډالر د افغانستان د ملي اردو او ملي پولیسو په ګډون د افغان امنیتي ځواکونو پر جوړولو لګول شوي.نژدې ۳۶ ملیارده ډالر د حکومتولۍ او

پراختیایي چارو لپاره ځانګړې شوې وې او همدومره نورې پیسې د نشه یي توکو ضد چارو او بشري مرستو په خاطر ځانګړې شوې وې.
په تېرو څو کلونو کې یو اندازه پیسې ورکې شوې دي، فساد په کې شوی او ناوړه ګټه هم ترې اخیستل شوې.
هغې څار ډلې چې په افغانستان کې یې د بیارغونې چارې څارلې د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر کې د امریکا کانګرس ته په یوه رپوټ کې وویل شاخوا ۱۹نولس ملیارده ډالر د ۲۰۰۹ کال له مئ میاشتې نه تر ۲۰۱۹ کال ډسمبر ۳۱مې پورې ورکې شوې دي.

## افغانستان کې د جګړې ځاني زیان څومره و؟





د افغانستان په جګړه کې افغان امنیتي ځواکونو درنه بیه پرې کړې ده.

له هغه مهال راهیسې چې امریکایي ځواکونو په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو پرضد جګړه پیل کړه څه باندې ۲۳۰۰ امریکایي پوځیان وژل شوي او ۲۰ زره، ۶۶۰ تنه نور ټپیان شوي دي.
دغه راز ولسمشر اشرف غني په ۲۰۱۹ کال کې ویلي وو چې څه باندې ۴۵ زره افغان پوځیان له هغه مهال راهیسې وژل شوي چې دی ولسمشر شوی دی.




په ۲۰۱۹ کال کې د براون پوهنتون له خوا ترسره شوې څېړنې کې هم ویل شوی وو چې د ۲۰۰۱ کال اکتوبر میاشتې راهیسې ۶۴۱۰۰څلورشپېته زره او سل تنه افغان امنیتي ځواکونه چې پولیس هم په کې شامل دي په جګړه کې وژل شوي وو.په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د استازولۍ دفتر یوناما د شمېر له مخې له هغه مهال راهیسې چې ملګرو ملتونو په ۲۰۰۹ کال کې د تلفاتو په اړه د شمېرو ثبتول پیل کړي نږدې (۱۱۱۰۰۰)یولک یولس زره ملکي وګړي هم د افغانستان په جګړه کې وژل شوي دي.




دامریکا رئیس جمهور جوبایدن په ۱۴۰۰هـ ش کال دسرطان په میاشت کې یوه مطبوعاتي کنفرانس کې چې پلاس کې یې ورقه وه وینا کوله داشنا تلویزون پښتو ترجمه کړې داسې یې وویل : یوشی چې زه ویل غواړم هغه داچې مونږ نور باید په افغانستان کې پاته نشواو ددی نه وروسته زه ځم په النګتن کې داتلانو هدیرې ته هلته به زه دخلکو سره وګورم او دهغو اتلانو قبرونه هلته دي چې خپلې وینې یې په افغانستان کې قرباني کړي دا اسانه کار نه دی ، مونږ ټول په غم او سوچ کې یو ددی امریکایانو غم یو زړه بوګنونکی غم دی داهغه دقیق لست او شمیردی چې ماته راکړل شوی زمونږ سرتیري په عراق او افغانستان کې وژل شوي داهغه اتلان دي چې کورنی یې تر شا پاته دی او ټولو ته باید درناوی وشي چې تراوسه ۲۴۰۰۸۸ دوه لکه څلویښت زره اتاتیا سرتیري دافغانستان اوعراق په ماموریت کې وژل شوي او له شل زره زیات ټپي شوی دي

دامریکا درئیس جمهورجو بایډن له خولې چې کوم پورته ذکر شوی شمیر دامریکایي فوجیانودتلفاتو ښودل شوی دا هم غلط دی ځکه امریکایان دخپلو عسکرو دتلفاتو دقیق شمیر نه ښیئ خو که احیاناً همدا شمیر ونیسو نو تاسو قضاوت وکړی چې په افغانستان کې ۲۴۰۰ دوه زره څلور سوه امریکایان مړه دي او په عراق ۲۳۸۰۰۰دوه لکه اته دیرش زره مړه شوي په داسې حال کې چې ترافغانستانه په عراق کې کم وخت پاته وه او بل دعراق او افغانستان جنګي موقعیت ته په کتویو لیونی او ماشوم به هم ووایي چې افغانستان کې یې تلفات زیات دي که زیات نه نیسواو له انصافه کار واخلو نودغه شمیره به نیمایي کړو چې په دی حساب دامریکایانو تلفات په افغانستان کې ۱۲۰۰۴۴یو لک او شل زره څلور څلویښت کسانو ته به ورسیږي او لا هم تر دی زیات دی






**ینه،GETTY IMAGES**

# د امریکا د شل کلن اشغال پای

د امریکا وروستۍ پوځي الوتکه د دوشنبې پر شپه د وږي پر اتمه ۱۴۰۰هـ ش کال د کابل له هوايي ډګره ووتله او په افغانستان کې د امریکا شل کلنه جګړه او حضور پای ته ورسېد. د افغانستان اسلامي امارت د امریکا وروستي سرتېري له وتلو سره هم مهاله د خوشالۍ ډزې وکړې او دا ورځ يې تاريخي ياده کړه.له دې سره سم د امریکا دفاع وزارت ويلي، چې د تخليې عمليات هم پای ته ورسېدل. په دغه بهير کې ۱۲۳ زره بهرني وګړي، هغه افغانان چې له امریکايانو سره يې دنده درلوده او د دوی په اند چې آسيب‌پذيره و، له افغانستانه ايستل شوي دي.تر دې مخکې د امریکا ولسمشر جو بايډن په افغانستان کې د امریکا د حضور د پای نېټه د اګست ۳۱ اعلان کړې وه، خو امریکايي ځواکونه يو ورځ مخکې له کابله ووتلC- .۱۷د امریکا وروستۍ نظامي الوتکه وه، چې افغانستان کې د امریکا سفارت سرپرست راس ويلسون او يو نظامي قوماندان يې له کابله وويستل د امریکا تر ملاتړ لاندې د محمداشرف غني حکومت د زمري پر ۲۴يعني دامريکايانو دمکملې وتنې څخه ۱۴ورځې مخکې سقوط وکړ. له دغه سقوط وروسته امریکايي ځواکونو او متحدانو يې د کابل هوايي ډګر کنټرول واخيست او د تخليې عمليات يې پيل کړل.

په زرګونه دامريکا او ناتو سره دشپې چاپه ماران او جاسوسان چې په لکونه افغانان يې وژلي وه د وتلو په موخه پر هوايي ډګر ورمات شول ان تر دې چې دامريکايي طيارو دوزرو پورې ونښتل او بيا په لاره کې ترې يو يو غورځيده.




د وږي پر څلورمه هوايي ډګر کې د خلکو په منځ مرګوني چاودنې وشوې، چې په پايله کې ۱۷۰ تنه د ۱۳ امریکايي سرتېرو په شمول ووژل شول. د دغه برید مسوولیت داعش ومانه.د امریکا د مرکزي قوماندانۍ ریيس کنت مکنزي چې افغانستان کې د امریکايي سرتېرو مسوولیت يې هم درلود ويلي، د تخليې بهير سره سم په افغانستان کې د امریکا ۲۰ کلن ماموريت، چې د يوولسم سپټمبر څخه يو څه مخکې ده، پای ته ورسېد.

د کنت مکنزي په خبره، په دغه ماموريت کې له ۸۰۰ زرو زياتو امریکايي سرتيرو او ۲۵ زره ملکي کسانو په افغانستان کې کار کړی دی. نوموړي په تيرو شلو کالو کې په افغانستان کې د امریکا د ملکي او نظامي تلفاتو شمير ۲۴۶۱۲څلور زره او ۶۱۲ تنه ياد کړ.




همدارنګه نوموړي ویلي، چې په دغه ماموریت کې ۲۰ زره نور تېپیان شوي دي.د امریکا ولسمشر جو بایډن هم ویلي، چې تېرو ۱۷ ورځو کې امریکایي سرتېرو د لېږد ستر هوایي عملیات وکړل. بایډن هم ویلي، چې په افغانستان کې د امریکا ۲۰ کلن پوځي ماموریت پای ته ورسېد. په کابل او په نورو ګنو ولایتونو کې افغانانو د امریکا د ماتې او شل کلن اشغال د پای ورځ په شاندارو مراسمو سره ولمانځله او یاده ورځ یې د افغانستان په تاریخ کې یو له مهمو او د ویاړ نه ډکه ورځ یاده کړه او په افغنستان کې یې د امریکا ماتې د وخت د شوروي اتحاد له ماتې سره یو شان وبلله او نړۍ یې د امریکا له شر نه خلاصه یاده کړله او د اسلامي امارت له مشرانو څخه یې غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د اسلامي، او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان لپاره دې خپلې هڅې وکړي او یو ټولمنلی حکومت دې رامنځته کړي.

**پایله :**د سپټمبر یوولسمې بریدونو د امریکا له پولو هاخوا، پر نړۍ او ځانګړي ډول پر افغانستان، داسې ناوړه اغیزې لرلې دي، چې د دغو بریدونو له امله د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې د امریکا او ځینو نورو پوځي قدرتونو لاسوهنو ته ښه پلمه برابره شوه، چې له امله یې په افغانستان، عراق، سوریه، لیبیا... کې سلګونه زره انسانان د جګړې په اور کې لولپه شول.په افغانستان کې د امریکا له جګړې د شلو کلونو په تېرېدو او له امریکا څخه د اخستلو وروسته اوسمهال ډېری شنونکي په دې باور دي، چې امریکا افغانستان ته د خپلو ستراتیژیکو او اوږدمهالو سیمه‌ییزو ګټو ترلاسه کولو لپاره راغلې وه او د سپټمبر ۱۱ مې پېښه هم تر ډېره له همدې موخو سره تړاو درلود خو د اسلامي امارت د سرسپارلو مجاهدینو نه هېرېدونکو قربانیو په پایله کې دوی اړ شول چې دوي خپلو شومو موخو د تر لاسه کولو کې ناکام او له افغانستان نه یې ایستلو ته اړل کړل.

په ټوله کې د سپټمبر ۱۱مې له پېښې وروسته، پر افغانستان د امریکا برید د دغه هېواد د تر ټولو اوږدې بهرنۍ جګړې پیلامه شوه. د شلو کلونو په تېرېدو او د اسلامي امارت د مجاهدینو سخت مقاومت په پایله کې امریکایان دې ته اړل کړل چې د خپلې ماتې د پټولو لپاره له اسلامي امارت سره خبرې وکړي او د افغانستان اشغال ته د پای ټکی کېږدي چې دا چاره د افغانستان اسلامي امارت شل کاله وړاندې د خبرو اترو وړاندیز امریکایانو ته کړی ؤو خو دوی د خپل تکبر له امله د خبرو پر ځای د جګړې لاره غوره کړه چې د شلو کلونو سختو جګړو وروسته دوی خپله ماتې ومنله او د افغانستان اسلامي امارت سره یې د خبرو اترو وړاندیز وکړ او د یو کال خبرو اتر وروسته د ۲۰۲۱ م کال د اګست میاشتې په ۳۱مه نېټه له افغانستان څخه ووتل. او افغانستان په تېرو څه باندې سلو کلونو کې دا درېیم ځل دی چې د نړۍ د وخت ابر قدرت ته په خپله خاوره کې ماته ورکوي او آزادي تر لاسه کوي.

دا درېیم ځل دی چې افغانان یې د نړۍ زبر ځواکونو ته ښیي چې د نړۍ هېڅ قدرت نشي کولای افغانستان په زور ونیسي او د خپلې خوښې حکومت یا هم قانون چې دوی غواړي هغه پرې پلی کړي نو افغانان په بار بار د نړۍ له هېوادونو سره د ښو اړیکو او په افغانستان کې د خپلو افغانانو په خوښه د نظام پلوي دي نو له نړۍ مو هیله ده چې د افغانانو ارادې ته درناوی ولري او افغانان پرېږدي چې خپل نظام خپله جوړ کړي او افغانان تل د سیمې او نړۍ له هېوادونو د ډیپلوماسۍ، د اقتصادي همکارۍ باندې ټینګار کړی اوس بیا هم زمونږ غوښتنه د سیمې او د نړۍ له هېوادونو دا ده چې مونږ سره د افغانستان په رغونه او آبادۍ کې همکاري وکړي په ملکي برخه کې دې مونږ د ته همکارۍ لاس راکړي او دا غوښتنه مو له امریکا هم ده په ټوله کې افغانان هغه نظامونه چې د دوی له دین او مذهب سره په ټکر کې وي هېڅ وخت نه مني چې په تېرو سلو کلونو کې دا درېیم ځل دی چې د دوی د داسې نظامونو سره مخالفت کوي او په پایله کې یې له منځه وړي.

افغانانو دالله سبحانه وتعالی په فضل او کرم دادی په یوه پیړۍ کې درې ځله خپلواکي له نړیوال اشغالګرو او زبرځواکونو څخه ترلاسه کړه او افغانستان ورته په هدیره بدل شو چې اوله یې له انګریزانو څخه په ۱۲۹۸هـ ش کال چې تر دې دمه یوسل او دوه کاله کیږي دوهمه ازادي یې له مغرور ځناور صفته سره کمونستي بښکیلاک شوروي اتحاد څخه په ۲۸ثور /۱۳۷۱هـ ش واخسته کله چې شوري ماته وخوړه او امپراطوري یې دړې وړې شوه؛ نو ویې ویل: موږ باید د انګریزانو څخه درس اخیستی وای، موږ باید پر افغانستان یرغل نه وی کړی...

د شوروي د ماتې شل کاله پوره نه وو چې امریکې په ډېر کبر، غرور، له ستر زبرځواک سره د نورو ۵۱ هېوادونو په ملتیا په ۲۰۰۱م کال کی د افغانستان په مظلوم ولس یرغل راوړ

**د امریکا د هماغه وخت ولسمشر(بوش) په مطبوعاتي کنفرانس کې وویل:»دصلیب او اسلام جګړه پیل شوه... طالبان نور په نړۍ کې د ژوند کولو حق نه لري... سل متره لاندې په زمکه کې به یې په نښه کوو... او خپل صلیب به په نړۍ کې پورته کوو...!!**

بل لور ته افغانستان چې د امریکې له امپراطورۍ سره سیال څه چې د امریکې په پرتله سلمه برخه تجهیزات او ځواک یې هم نه درلود، خو یوازې یې د دین او د هېواد د ساتنې په خاطر د قربانۍ میدان ته ورودانګل، د بې پیلوټه، جیټ، بې ۵۲، دوه څرخکو او نورو ډول، ډول الوتکو بمبارد ونه یې په ځانو وزغمل، تر دې دمه ۱۲۰۰۰ فدایانو په نازکو وجودونو پورې بارود وتړل، خپل وجودونه یې په اور لولپه کړل، غوښې او هډوکي یې له خاورو سره خاورې او ایرې شول، زندانونو او شکنجو ته یې لبیک ووایه، لوږه، تنده، مسافري یې برداشت کړه، خلاصه دا چې په ځانو یې هرډول سختۍ او ستونزې وګاللې؛ خو یرغلګر یې آرام کولو ته پرېنښودل، صلیب یې پر اسلام برلاسی نه کړ...

پوره شل کاله یې په تش لاس مبارزه وکړه، د خلکو په اصطلاح له غره سره یې سر وجنګاوه... آخر وتوانېدل چې د ۵۲ هېوادو په شمول د نړۍ دریمه امپراطوري امریکا هم ماته کړي، د دې عصر امپراطوري یې دېته مجبوره کړه چې خپله ماتې ومني او په ټیټو سترګو له هېواده ووځي.

چې دا دریمه ازادیده چې نن دسی شنبې شپه ۱۲ بجې ۹ /سنبلې /۱۴۰۰هـ ش له امریکایي کمپیوترایزاو دنړۍ په سطحه دبی۵۲ ډوله الوتکو او اتومي بم لرونکي امپراطورۍ امریکا څخه واخستل شوه الحمدلله وشکر لله -






**دامریکا اخرنی وتونکی فوجي** د امریکایي پوځ د مرکزي قومندانۍ مشر جنرال فرانک مېکنزي تائید کړې چې وروستي امریکایي پوځیان د اګست په دېرشمه له افغانستان ووتل او له دې سره په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ شل کلن پوځي ماموریت پای ته ورسېد.




د امریکا ولسمشر جو بایډن هم په یوه اعلامیه کې د خپل تاریخ د تر ټولو اوږدې جګړې د پای اعلان کړی او د هغو امریکایي پوځیانو او افسرانو مننه یې کړې چې په تېرو دوو اوونیو کې یې له افغانستان د لسګونو زرو کسانو ایستلو کې مرسته کړې.


ذبیح الله مجاهد

د امریکایي چارواکو له دې اعلان څو شېبې وړاندې د افغان پلازمېنې کابل د هوایي ډزو غږ او رسام مرمیو په رڼا وپوښل شو او طالب وسلوالو د خپلې بریا اعلان وکړ.

**د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد پر خپله ټوېټر پاڼه لیکلي، دامریکا وروستي پوځیان د شپې پر دولس بجو (د اګست دېرشمې او یو دېرشمې ترمنځ شپه = دسی شنبې شپه ۱۲ بجې ۹ /سنبلې / ۱۴۰۰هـ ش) له افغانستان ووتل "او په دې توګه افغانستان په بشپړه توګه ازاد او خپلواک شو ".**

جنرال فرانک مېکنزي دوشنبه ماسخوتن د دفاع وزارت (پنټاګون) کې ورټولو خبریالانو ته وویل، کابل کې د امریکا شازدافیر راس وېلسن هم په دې وروستۍ الوتکه کې له افغانستان ووتلو.

نوموړي همدا راز زیاته کړه چې افغانستان کې د پاتې امریکایي وګړو او نورو اړمنو کسانو را ایستلو لپاره به یې دیپلوماتیکې هلې ځلې روانې وي.


دامریکا سفیر
راس ویلسن

امریکایي جنرال وویل، طالبانو ته یې د خپلې وتنې کره وخت نه و ښودلی، خو د دې ډلې ستاینه یې وکړه چې د امریکایانو د وتلو لپاره یې له څو ساعتونو راهیسې د کابل هوایي ډګر چارچاپېره ټینګه امنیتي کړۍ تاو کړې وه او عام خلک یې نه پرېښودل چې هوایي ډګر خوا ته ورشي.

جنرال مېکنزي وویل، باور کوي چې هغه پنځه سوه افغان سرتېري او د هغوی کورنۍ یې هم را ایستلي چې له تېرو دوو اونیو راهیسې یې د کابل هوایي ډګر امنیت ساتنه کې مرسته کوله.

د افغانستان په شل کلنه جګړه کې دامریکایانو په اند نږدې دوه نیم زره امریکایي پوځیان او ملکي مامورین وژل شوي او شاوخوا شل زره نور ټپیان شوي‌دي کنه تر یو لک او شل زرو ډیر امریکایان وژل شوي.

# دکتاب دمؤلف توصیه

زه ددی کتاب (افغانان او نړیوال اشغالګر) لیکونکی ستاسو مجاهد ورور نجیب الله عابد ټول مجاهد ملت او بالخصوص دافغانستان داسلامي امارت فدایانو او سرښندونکو مجاهدو طالبانو ته مبارکي وایم او هغو مجاهدینو ته چې په دغو درې واړو جهادي انقلابونو کې داسلام او خپل وطن دازادۍ لپاره نه ستړې کیدونکي قربانۍ ورکړې هم مبارکي وایم اوځینې یې دشهادت لوړ مقام ته رسیدلي هغوی ته دلوي الله تعالی له درباره دجنت الفردوس غوښتنه کوم او بیا مې دا وصیت او نصیحت دی چې کامیابي دالله پاک له طرفه لویې نعمت وګڼو او قدر یې وکړو کبر او غرور ونکړو په جزوي او کمو اختلافاتو پسې ونګرځو ټول افغانان او مسلمانان خپل وګڼو ژبني او قومي او مذهبي تعصب ته لمن ونه وهو دوطن دابادۍ لپاره په ګډه کار وکړو الحمدلله افغانستان مونږ ته الله پاک یوه لویه خزانه هیواد راکړی په ګډه یې جوړ کړو هریوه ته پکار ده دنفس دخواهشاتو تابع نشي اود اسلامي امارت له چارواکو مې هیله ده چې د طالبانو د مشرتابه امیر المؤ منین ملا هبت الله اخوند زاده له خوا د پخواني رژیم ټولو کارمندانو ته عمومي عفوه کول، ډېر پر ځای اقدام او مناسبه فیصله وه. د نبوي سیرت او عموماً د اسلام په تاریخ کې د عمومي عفوې ډېرې زیاتې بیلګې شته نبي علیه السلام دخپل تره حمزه رضی الله عنه قاتلین هنده او وحشي معاف کړه او له معافۍ وروسته دچاسره غرض کول نه دي پکار تر دی چې بیا جرم ونکړي

د اسلام په مبارک دین کې ښنه ځانګړی مقام لري، ښنه د مسلمانو فاتحینو ځانګړی صفت دی او د ښنې پر مټ د ډېرو فتنو د راپورته کیدو مخنیوی کیږي.

ځوک چې مجرم دی هغه ته په لوړه چوکۍ دنده ورکول نه دي پکار تاریخونه ګواه دي، هر کله چې مجرمینو ته ښنه شوې او دوهم ځل بیا باور پرې شوی او مسؤلیتونه ورسپارل شوي، نو بیا بیا یې خیانت کړی. سلطان صلاح الدین ایوبي رحمت الله علیه د خپلې واکمنۍ په لومړیو کې ډېرو مجرمینو او غدارانو ته ښنه وکړه او بیرته یې پر خپلو دندو او مقامونو پرېښودل، خو غدارانو بیا بیا خیانتونه وکړل، نو ځکه خو وروسته ایوبي رحمه الله هیڅ غدار او خاین ته ښنه نه کوله.

هغه مجرمین چې په خپل عقل او فکر خپلو جنایتونو ته متوجه شي او د زړه له تله توبه وباسي، نو پر هغوی بیا څه نا څه باور کیدلای شي، ځکه چې دوی په خپله خوښه او خپل فکر، د بل چا له فشار او جبر پرته حقیقت او هدایت درک کړی او توبه ګار شوي دي.

مګر هغه مجرمین چې تر وروستۍ شیبې یې خپلو خیانتونو او جنایتونو ته دوام ورکړی، بیا ژوندي نیول شوي یا تسلیمي ته مجبور شوي، نو دوی حقیقت نه دی درک کړی، دوی اوس هم پر خپلو ناوړه افکارو معتقد دي، خو د وخت جبر یې لاس نیولی. نو هر کله چې بیا موقع ومومي حتماً به غدر او خیانت کوي.

ځکه خو لازمه ده چې په هیڅ صورت پر پخوانیو مجرمینو، غدارانو او خائنانو باور ونه شي، کنه خدای مه کړه ډېر غټ مشکلات به رامنځ ته کړي.

خصوصاً په نظامي برخه کې خو باید هیڅ داسې شخص ته ځای ورنکړل شي، چې هغه په سپیڅلې اسلامي عقیده نه وي سمبال. هغه اشخاص چې یا خو ځان غوښتونکي وي او یا پردی فکر او عقیده لري، هره شیبه امکان لري چې بغاوت او کودتا وکړي

نو د اسلامي امارت ټول چارواکي او مسؤلین باید خپل صف ته خاصه توجه وکړي، تر څو داسې افراد پکې ځای ونه نیسي چې هغه هم د اسلامي امارت نوم بدنام کړي او هم بیرته زموږ لپاره درد سر وګرځي.

په ملکي او نظامي دواړو برخو کې باید داسې اشخاصو ته ځای ورکړل شي، چې هغوی د زړه له تله د اسلام او هیواد ګټو او ارزښتونو ته ژمن وي.

کله چې په مصر کې داخوان المسلمين ډلې محمد مرسي د عامو انتخاباتو له لارې د ولسمشرۍ رياست وګاټه، خو هماغه پخواني بې دينه پوځ پر ځای پاتې وُ، نو ومو ليدل چې کودتا يې پرې وکړه، مرسي يې بندي او بيا شهيد کړ، د نظام واک يې پوځ په لاس کې واخيست او تر اوسه لا سرې سترګې لګيا دي هره ورځ د اخوان المسلمين ګوند اشخاص نيسي او په شهادت يې رسوي.
نو د نظام تر ټولو مهمه برخه پوځ دی، بايد چې پوځ له خائنو، غدارو او مجرمو اشخاصو پاک او يوازې هغو خلکو ته پکې ځای ورکړل شي چې د ژوند تر ټولو لوړ ارمان يې د اسلام خدمت او په پياوړې جهادي روحيه سمبال وي. نو په دې صورت کې بيا که په ملکي حکومت کې څه فساد رامنځ ته کيږي، پوځ يې په ډېره اسانۍ مخه نيولای شي الله تعالی دې زموږ پوځ تل تر تله پياوړی، په اسلامي او جهادي روحيه سمبال او له مفسدينو پاک ولري!
يو کتاب په نامه د «جنګ فلزات نادر» ليکونکی ګيلام پيترون وايي افغانستان د معدنياتو په يوه لويه ذخيره پروت دی . دامريکا (يو اس جي اس) زمکې پيژندنې يا جيو لوژي دسروې په اساس افغانستان کې مس ، سره زر ، يورانيم، ليتيم ، نيوديميم، پراسيوديميم ، ديسپروزيم ، اوسپنه او قيمتي ډبرې لکه زمرد، ياقوت ، تورمالين ، لاجورد ، تالک يا شوکانی ، ذغال سنګ او دمرمرو ډبرو ددری تريليون يا دری ۳ زره مليارده ډالرو په ارزښت ذخاير لري علاوه له دی سرشاره سيندونه چې په هره يوه يې په لسګونه دبرق بندونه جوړيږي هم لري
زما هيله داده چې په عوض دسياسي کشمکش حکومت دی ته ډيره توجه وکړي او خپل ځان پخپله خود کفا کړي او نور مظلوم ملت له دی فقر څخه راوباسي
تاريخ ګواه دی چې کله په ۱۳۵۸ کال کې د غوايي کودتا پيښه شوه، کرار کرار مقاومت پراخيده، خلقي-پرچمي نوکيانو دا ځل اعلان کړی وو چې (سر مو په ټولو!) دوئ دې ته نه کتل چې څوک د اسلامي حرکت غړی دی که نه خو د دينډار، زمين دار، او مالدارپه تورونو يې پر خلکو د هغه مهال نوی جوړ شوی د څرخي پله زندان ډک کړ، د مسلمانو هيوادوالو له شخصي ملکيتونو نيولې تر مذهبي ازاديو پورې هرڅه محدود شوي وو، هر ديندار ته به د اخواني لقب ورکول کيده، او په همدې نوم يې په زرګونو خلک په کتلوي شکل سره شهيدان کړل، په هيواد کې پراخو تعذيبونو، ټول وژنو، او کتلوي شړنو ولس د دولت پر ضد د وسله وال پراخه مقاومت په بريد ودراوه، ډيری هيوادوال پاکستان ته مهاجر شول، دا مهال د اسلامي حرکت مشران او فعالين چې په تبعيد کې يې د خلقي رژيم پر ضد وسله واله مبارزه تنظيمولە، په مختلفو تنظيمونو ويشل شوي وو، دوی په خپلو تنظيمونو کې مهاجر افغانان منظم او جذب کړل، او په دې ډول اسلامي تنظيمونو د خلقي دولت پر ضد پراخه مقاومت د مهاجرو افغانانو په مټ ولسي او ملي کاوه، او د پايلې په توګه يې د امين رژيم نزدی وه چې د مجاهدينو په لاس سقوط وکړي، همدغه مهال وو چې شوروي اتحاد لښکرو په ګران هيواد يرغل وکړ، او ببرک کارمل دغه د افغانستان د بدمرغئ او غلامئ معاصر بنسټګر د کی، جي، بي د الفا ګروپ په ساتنې ته کابل ته ورسول شو، په پيل کې يې ټول سياسي بنديان خوشې کړل، او مهاجرينو ته يې د عفوې په اعلانولو سره د بيرته راستنيدلو بلنه ورکړه، خو نور د اسلامي خاورې نه په دفاع کې افغاني ملاترونو او ننګو د اسلامي حرکت په ليکو کې د ملي مقاومت او جهاد بنسټونه دومره پاخه کړي وو، چې د ذلت ستنيدنه او د جوړ جاړي منافقت نه په کې ځاييده، د افغانستان نه په دفاع کې د اسلامي حرکت شعوري، ائيډيالوژيکې او ملي کړنلارې د هيواد مختلفې پرګنې او قومونه پر ځان راټول کړل، او مقاومت ته يې پراخه ولسي ملاتړ ورکړ، نور نو شورويان د چينايانو، پاکستانيانو، ايرانيانو او امريکايانو! سره نه جنګيدل، دوی له يوه مسلمان ملت سره په جګړه کې غورځيدلي وو، او کله چې څوک د ملت پر ضد جنګيږي راپرځيږي( ددی کتاب ۱۱۸ ص)
مقصد داچې ملت په ټوټو ويشل نه دي پکار چې يو په يوبل دکفر ټاپې ووهو او مرګ يې ځان ته روا وګڼو دا اختلاف چې هره ډله غواړي بله له منځه يوسي دا ناممکنه ده او دواړه به له منځه ځي لکه په څلورم صنف کتابونو کې دي چې ـ دوه مرغې شوی پاس په ونه کې په جنګ ـ بيا دواړه راپريوتې په دارنګ ـ پيشوټوپ کړل دواړه يې ونيولې ـ او ښه په مزه يې وخوړلې ـ لکه ځمونږ اوه اسلامي جهادي تنظيمونه چې نر غونډې وخواړه داسې به په راتلونکې کې هم تاريخ تکرار شي علاج يې مفاهمه او نه ټکردی

# مأخذونه



| | |
|---|---|
| ۱ | غبار میر غلام محمد ، افغانستان در مسیر تاریخ ( اول ـ دوهم جلد( |
| ۲ | رشتیا سید قاسم ،ژباړه غزنیوال دادخان ، افغانستان په نولسمي پیړۍ کې |
| ۳ | کاکړ محمد حسن ، دافغان شوروي جګړه |
| ۴ | اقبال افضل ، دلومړي افغان ـ انګلیس جنګ مقدمه |
| ۵ | حق شناس ډاکترش،ن ،دسایس وجنایات روس در افغانستان |
| ۶ | عطایي محمد ابراهیم ،دافغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنده کتنه |
| ۷ | تاریخ عمومي معاصر افغانستان |
| ۸ | منځنی حکیم الدین ، امریکا او شوروي دسړې جګړې پر مهال |
| ۹ | حبیبي ګل نبي ، دروس جنایات په افغانستان کې |
| ۱۰ | دانشیار امیراعتماد،جنګ افغانستان وشوروي عامل فروپاشي جهاني کمونیزم ج اول |
| ۱۱ | پکتیاوال عبدالوکیل، پیښې خاطرې اودسترګو لیدلی حال (لومړی برخه( |
| ۱۲ | ع ل ، دمرګ په شیبو کې |
| ۱۳ | نیازی پوهندوی مستعلي خان ، دسردار محمد داود خان دواکمنی سیاسي ستونځې |
| ۱۴ | )ډاکټر وحیدالله مصلحdrwahidm@gmail.comدسمبر ۲۷, ۲۰۱۹( |
| ۱۵ | ۱ ـ سخاروف اندري، د افغانستان جګړه او ګورکي ته زما تبعید ۱۴ مخ |
| ۱۶ | ۲-جنرال ګروموف بوریس، سرې لښکرې په افغانستان کې، ۵۰۰ مخ |
| ۱۷ | ۳-طرزی محمود، د یوې دورې لنډ تاریخ، ۱۴ مخ |
| ۱۸ | ۴-ستر جنرال الکساندر مایاروف، په افغانستان کې ریښتیا څه تیریدل، ۳۸۲ مخ |
| ۱۹ | ۵-جنرال و.ا. کریوچکوف، افغانستان، له شخصي دوسیې څخه، ۵۲-۵۴ پورې مخونه |
| ۲۰ | ۶-دستګیر پنجشېری،ظهور وزوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان، لومړی جلد، ۱۵۱ مخ. |
| ۲۱ | ۷-ارغنداوی عبدالعلي، ژوندئ خاطرې، ۱۴۸ مخ |
| ۲۲ | ۸-برادشر هنري، افغانستان، تجاوز شوروي ومقاومت مجاهدین، ۵۲ مخ |
| ۲۳ | ۹-دکتورتنویر حلیم، د افغانستان تاریخ او خپروني، ۳۰۶ مخ |
| ۲۴ | ۱۰-الف هارون، داودخان دکی جي بي په لومو کې، ۱۸۱ مخ |
| ۲۵ | ۱۱ -ګاریيف احمدوویچ محمود، افغانستان زما وروستئ جګړه، ۲۵ مخ |
| ۲۶ | ۱۲-جنرال و.ا. کریوچکوف، افغانستان، له شخصي دوسیې څخه، ۴۰ مه او ۴۴ مه صفحه |
| | ۱۳-جنرال ګروموف بوریس، سرې لښکرې په افغانستان کې، ۲۵ مخ |
| ۲۷ | ۱۴-برادشر هنري، افغانستان، تجاوز شوروي، ومقاومت مجاهدین، ۱۶۱ مخ |
| ۲۸ | ۱۵-زرملوال غلام محمد، افغانستان تر وروستي افغانه، دویم ټوک، ۶۴ مخ |
| ۳۰ | ۱۷-ګروموف بوریس، سرې لښکرې په افغانستان کې، ۵۲ مخ |
| ۳۱ | ۱۸-تورنجنرال لیاخوفسکي اناتولیویچ الکساندر، د افغان مېرانه او غمیزه، ۷۰ مخ |
| ۳۲ | ۱۹-ګروموف بوریس، سرې لښکرې په افغانستان کې، ۵۳ مخ |
| ۳۳ | ۲۰-جنرال و.ا. کریوچکوف، افغانستان، له شخصي دوسیې څخه، ۵۶ مخ |
| ۳۴ | ۲۱ -برادشر هنري، افغانستان، تجاوز شوروي، ومقاومت مجاهدین، ۱۶۸ مخ |
| ۳۵ | ۲۲-جنرال لیونید ولادیمیرویچ شیبارشین، د مسکو لاس، ۱۵۰ مخ |
| ۳۶ | ۲۳-ارغنداوی عبدالعلي، ژوندئ خاطرې، ۳۰۹ مخ |
| ۳۷ | ۲۴-دکتورتنویر حلیم، د افغانستان تاریخ او خپروني، ۳۰۹ مخ |
| ۳۸ | ۲۵-برادشر هنري، افغانستان، تجاوز شوروي، ومقاومت مجاهدین، ۱۹۶ مخ |
| ۳۹ | ۲۶-جنرال ګروموف بوریس، سرې لښکرې په افغانستان کې، ۱۲۳ مخ |
| ۴۰ | ۲۷ -سخاروف اندري، د افغانستان جګړه او ګورکي ته زما تبعید ۲۳ مخ |
| ۴۴ | ۳۱-تورنجنرال لیاخوفسکي اناتولیویچ الکساندر،د افغان مېرانه او غمیزه، ۱۶۴-۱۶۵ |
| ۴۵ | ۳۱-جنرال شیبارشین لیونید ولادیمیرویچ، د مسکو لاس، ۱۰۸ مخ |
| ۴۶ | ۳۲-ګروموف بوریس، سرې لښکرې په افغانستان کې، ۵۷ مخ |
| ۴۷ | ۳۳-دکتورکامګارجمیل الرحمن، کرونولوژي، حوادث تاریخي افغانستان، صفحه ۹۸ |

# مأخذونه


| | |
|---|---|
| ۴۸ | ۳۴ -ستر جنرال الکساندر مایاروف، په افغانستان کې ریښتیا څه تیریدل، ۳۳۵ مخ |
| ۴۹ | ۳۵-ستر جنرال محمد احمد ویچ ګارییف، افغانستان زما وروستۍ جګړه، ۵۸۷ مخ |
| ۵۰ | ۳۶-هماغه اثر، ۵۸۱ او ۵۸۲ مخونه |
| ۵۱ | ۳۷-دکتور کامګار جمیل الرحمن،کرونولوژي،حوادث تاریخي افغانستان،صفحه ۷۸ و۸۹مخونه |
| ۵۲ | ۳۸-برادشر هنري، افغانستان، تجاوز شوروي ومقاومت مجاهدین، ۲۳۳ مخ |
| ۵۳ | ۳۹-جنرال ګروموف بوریس، سرې لښکرې په افغانستان کې، ۳۴۱ مخ |
| ۵۴ | ۴۰-ستر جنرال الکساندر مایاروف، په افغانستان کې ریښتیا څه تیریدل، ک، ۹۶، ۱۲۶، ، ۱۹۹، ۹، ۲۱۴، او ۲۳۰، مخونه |
| ۵۵ | ۴۱-جنرال و.ا. کریوچکوف، افغانستان، له شخصي دوسیې څخه، ۴۰-۴۱ مخونه |
| ۵۶ | ۴۲-جنرال ګروموف بوریس، سرې لښکرې په افغانستان کې، ۳۲۰ مخ |
| ۵۷ | ۴۳-دکتورتنویر حلیم، د افغانستان تاریخ او خپروني، ۳۲۶ مخ |
| ۵۸ | ۴۴-ډاکتر یوسفزی شیرشاه، تاریخ مسخ نمی شود، صفحات ۱۹۶ و ۱۹۷ |
| ۵۹ | ۴۵-تورنجنرال لیاخوفسکي اناتولیویچ الکساندر، د افغان مېرانه او غمیزه، ۴۳۹ مخ |
| ۶۰ | ۴۶-ستر جنرال الکساندر مایاروف، په افغانستان کې ریښتیا څه تیریدل، ۳۹۶ مخ |
| ۶۱ | ۴۷ ـ حفیظ الدین پیرزادېد اکتوبر ۲۴/ ۲۰۲۰ ملندن |
| ۶۲ | ویلیم بیلم ،ژباړه هلال فرید احمد ، بدمعاشه امریکا |
| ۶۳ | ۱۶ ـ دمقالوټولګه لیکوالان بیلا بیل،لس کلنه امریکایي دیموکراسي او افغاني سیاسي بیوسي |
| ۶۴ | ۳ ـ جریمي سکاهل ، بلیک واتر |
| ۶۵ | ۶ ـ احمد رشید ، په کړکیچ کې ښکیل |
| ۶۶ | ۴۸ ـ نن ټکی اسیا ازاده او خپلواکه پاڼه |
| ۶۷ | ـ نن ټکی کابل ازاده او خپلواکه پاڼه |
| ۶۸ | ۵۰ ـ دافغانستان اسلامي امارت ازاده او خپلواکه پاڼه |
| ۶۹ | ۵۱ ـ بي بي سي کور پاڼه |
| ۷۰ | ۵۲ ـ کابل ټکی کام ځارګر احمدزیجولای ٤, ۲۰۲۱ |
| ۷۱ | ۵۳ ـ سپتمبر ٤, ۲۰۲۱ = ۱۴/ سنبله / ۱۴۰۰هـ ش کابل ټکی کام سعید غلجی لیکنه |
| ۷۲ | ۱ـ تاج التواریخ ۱۲۰ مخ اول ج ، ژباړن : عبدالقیوم ذاهد مشوانی ، دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۷۹ هـ ش حوت میاشت |
| ۷۳ | ۲ ـ دافغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه ۱۴۴ مخ محمد ابراهیم عطایي ، میوند خپرندویه ټولنه ۱۳۸۳ هـ ش کال. |
| ۷۴ | ۳ ـ افغانستان درقرن بیست ، ۲۵ مخ ، امین الله دریځ انجمن نشراتي دانش ۱۳۷۹هـ ش جدي میاشت. |
| ۷۵ | ۴ ـ افغانستان در مسیر تاریخ . میر غلام محمد غبار اول ټوک ، ۱۳۶۶هـ ش کال چاپ |
| ۷۶ | ۵ ـ افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر ۳۲۰ مخ ، علامه عبدالحق مجددی او داکتر فضل الله مجددي ، میوند ۱۳۸۷هـ ش . |
| ۷۷ | ۶ :افغاني، سید جمال الدین. العروته الوثقی. کابل پښتو ټولنه ۱۳۵۵ |
| ۷۸ | ۷ :افغاني، سید جمال الدین. تتمت البیان في تاریخ افغان. ترجمه محمدامین خوګیاني. کابل |
| ۷۹ | ۸ :افغاني سید جمال الدین. تمت البیان في تاریخ افغان ( عربی). الطبعته الاولي بمطبعته الموسوعات باب الخلق بمصر ۱۳۰۸ ه ق ۱۹۰۱ |
| ۸۰ | ۹ :مخزومي، محمدباشاه. د افغاني سید جمال الدین خاطرات او په هغو کي په د ده افکار او آراء. د محمدشاه ارشاد ترجمه کابل ۱۳۵۲ |
| ۸۱ | ۱۰ :طرزي، محمود. خاطرات محمود طرزي. ګرد آورنده ډاکتر روان فرهادي، نشرات وزارت خارجه. ۱۳۸۹ |
| ۸۲ | ۱۱ :ډاکتر یاورسکي، جې. ایل. سفارت روسیه تزاري به دربار امیر شېرعلي خان. مترجم ازلسان جرمني، عبدالغفورکابل ۱۸۸۰ |
| ۸۳ | ۱۲ :ګزیده آثار سید جمال الدین افغانی. ګرد آورنده دوکتور سید مخدوم رهین. کابل ۱۳۵۵ |
| ۸۴ | ۱۳ :محمود محمود، تاریخ روابط سیاسی ایران وانګلیس درقرن ۱۹ چاپ چهارم ۱۳۵۳ |
| ۸۵ | ۱۴ :کهزاد، احمدعلي. بالاحصار کابل و پیش آمد های تاریخي. چاپ دوم ۱۳۷۸، مرکز نشراتي میوند کابل. |
| ۸۶ | ۱۵ :امیر عبدالرحمن خان، تاج التواریخ. مرکز نشراتي میوند. مېزان سال ۱۳۷۵ |


**تمت بالخیر ۵ / ۱۱ / ۱۳۹۷ شروع ـ ۱۴۰۲/۱/۷ هـ ش= پایې ۱۴۴۴هـ ق=۲۰۲۳م کال**






د مأخذونو لیکوالان